# ربښتيا ربښتيادي



Ketabton.com

خان عبدالولي خان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رښتيا
# رښتيا دي

خان عبدالولي خان

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ټول حقونه د باچاخان ټرسټ په حق کښې محفوظ دي

BKTRC2018/Pro-43

خان عبدالولي خان

# رښتیا رښتیا دي


| | |
|---|---|
| لمنلیکونه | فیصل فاران |
| څیړکتنه | طلال بهدار اصلزی |
| چاپ | جنوري 2019ز |
| چاپخانې | امن پرنټنګ پریس، پېښور |
| کتابت او ټچپانه | باچاخان مرکز ګرافیکس ډیزائن ډسک |
| شمېر | 1,200 |
| مرسته | 150 روپۍ |


باچاخان ټرسټ ریسرچ سنټر
BAACHA KHAN TRUST RESEARCH CENTRE
Pajaggi Road, Peshawar
Ph: 091-2246851-3, Fax: 091-2246225

## ترون

## د شهیدِ ننګ و وفا قاضي عطاء الله په نامه

(الف)

چا چې استعماري دور کښې په وړومبي ځل د پښتون قامي تشخص په ځاے کولو کښې باچا خان سره اوږه په اوږه مبارزه وکړه ـ نه یواځې د پښتون تاریخ ئې له نوي سره ولیکلو، ولې د صوبه 'سرحد' د وړومبي وزیر تعلیم په حېث ئې پښتو ژبه دفتري، عدالتي او د ابتدائي تعلیم ژبه هم وګرځوله. د قوم سره د مینې سزا ورته داسې ملاو شوه چې وېش نه پس بندیوان شو او د لاهور جېل نه مړګوني راووتهٔ، وفات شو.

بنا کردند خوش رسمی به خاک و خون غلطیدن
خدا رحمت کند این عاشقانِ پاک طینت را

مرزا مظهر جانِ جانان

(ب)

'یو بل د ذکر ور مشر قاضي عطاء الله د تعلیم پخوانے وزیر دے چې دا وخت هري پور جېل کښې دے، د خان عبدالغفار خان منوونکے او ښي لاس دے ـ د وزیر تعلیم په حېثیت هغهٔ لرې لوري سیمو کښې هم د علم رڼا خپرولو د پاره ډېر څهٔ کړي دي. په پښتو ژبه ئې زښت یقین دے، ځکه ئې کلیوالو سکولونو کښې دا د زدکړې ابتدائي ژبه جوړه کړې ده. د سرخپوس غورځنګ برکت دے چې پښتو ژبه نهٔ یواځې سمه شوه بلکې په خوربدو ده. د غورځنګ خط و کتابت او دستاوېزات هر څهٔ پښتو کښې لیکلے کېږي. هم د دې اغېزې د لاندې افغانستان کښې هم پښتو تحریک پېل شوے دے چې د هغې لهٔ کبله اوس افغان افسرانو د پاره حکومت د پښتو لیکلو لوستلو احکامات کړي دي او دا د فارسی ځاے نیسي.'

پهٔ حواله د 'ګولډ اېنډ ګنز آن پټهان فرنټئیر'
خان عبدالقیوم خان، سابقه وزیر اعلي' مسلم لیګ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لیکلړ


- دا 'رښتیا رښتیا دي'. حیات روغانے 2
- څو یادونې. جمعه خان صوفي 4
- یو څو خبرې. اجمل ختیک 6
- د پېرنګیانو خفیه دستاوېزونه 10

فرقه وارانه سیاست او پېرنګے 19. د یورپ دوېم جنګ 45. پېرنګے سیاسي بازیګر 59. د پاکستان منصوبه 63. د پاکستان مختلف تاویلونه 70. د پېرنګي پاکستان 72. مسلم لیګ د پېرنګي ډله 72. خاکسار 77 . صوبائي وزراتونه او جناح صاحب 79. کرپس مشن 91. کانګرس سره د جنګ تیاري 97 . هندو سکهستان 101 . مهاسبها 103. د ګاندهي جي د وفاقي حکومت تجویز 106. مسلمانان وزیران 108. جناح صاحب او د پاکستان تشریح 111. د ګاندهي جي خط جناح صاحب ته 114. د جناح صاحب مقام او حېثیت د پېرنګي په نظر کښې 118. صوبه سرحد او پېرنګے 123. خانان او ملیان 118. د سر جارج کننګهم ډائرۍ 134. ملیان خانان او مسلم لیګ او وزارت جوړول 152. د 1946 کال انتخابات 160. د وېول نوې منصوبه (د پاکستان ضرورت پېرنګي ته) 167. کېبنټ مشن او د شملې دوېم کانفرنس 175. مسلم لیګ ته بنیادي مشکل 178. مسلم لیګ د پاکستان د مطالبې نه لاس اخلي 180. عبوري دور 183. د مسلم لیګ راست اقدام 189. عبوري حکومت 192. د لارډ وېول برطرفي او لارډ ماونټ بېټن تقرري 207. د ماونټ بېټن په وړاندې د تقسیم په حقله مختلف تجویزونه 220. د صوبه سرحد لانجه 228. ډومېنین سټېټس او دولت مشترکه 237. د جون د درېمې د منصوبې اعلان 240. رېفرنډم 244. د دواړو ګورنر جنرالانو تقرري 253. د فرقه وارانه نفرت اور 260. د صوبو تقسم او تالان 265. مسلم لیګ او ریاستونه 271. فرقه وارانه سیاست او د مسلم لیګ نظریه 274. فرقه وارانه فسادات او کانګرس 274. د دوه قومي نظریې نه د مسلم لیګ انکار 290. د اګست څوارلسمه 302. د پاکستان د حکومت رغونه 305. توضیحات 319




ترون

## د شهیدِ ننګ و وفا قاضي عطاء الله په نامه

(الف)

چا چې استعماري دور کښې په وړومبي خل د پښتون قامي تشخص په خاطر کولو کښې باچا خان سره اوږه په اوږه مبارزه وکړه ــ نه یواځې د پښتون تاریخ ئې لهٔ نوي سره ولیکلو. ولې د صوبه 'سرحد' د وړومبي وزیر تعلیم په حېث ئې پښتو ژبه دفتري، عدالتي او د ابتدائي تعلیم ژبه هم وګرځوله د قوم سره د مینې سزا ورته داسې ملاو شوه چې وېش نه پس بندیوان شو او د لاهور جېل نه مرګوني راووتهٔ. وفات شو

بنا کردند خوش رسمی به خاک و خون غلطیدن
خدا رحمت کند این عاشقانِ پاک طینت را

مرزا مظهر جان جانان

(ب)

'یو بل د ذکر ور مشر قاضي عطاء الله د تعلیم پخوانے وزیر دے چې دا وخت هري پور جېل کښې دے. د خان عبدالغفار خان منوونکے او ښې لاس دے ــ د وزیر تعلیم په حېثیت هغهٔ لږې لوري سیمو کښې هم د علم رڼا خپرولو د پاره ډېر څهٔ کړي دي په پښتو ژبه ئې زښت یقین دے، څکه ئې کلیوالو سکولونو کښې دا د زدکړې ابتدائي ژبه جوړه کړې ده. د سرخپوس غورځنګ برکت دے چې پښتو ژبه نهٔ یواځې سمه شوه بلکې په خورېدو ده. د غورځنګ خط و کتابت او دستاوېزات هر څهٔ پښتو کښې لیکلے کېږي. هم د دې اغېزې د لاندې افغانستان کښې هم پښتو تحریک پېل شوے دے چې د هغې لهٔ کبله اوس افغان افسرانو د پاره حکومت د پښتو لیکلو لوستلو احکامات کړي دي او دا د فارسۍ ځاے نیسي'

په حواله د 'ګولډ اینډ ګنز آن پټهان فرنټیئر'
خان عبدالقیوم خان، سابقه وزیر اعلي مسلم لیګ



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دا 'رښتیا رښتیا دي'

'رښتیا رښتیا دي' د رهبرِ تحریک خان عبد الولي خان منلے شوے څېړنیز تاریخي اثر دے چې اردو او انګرېزۍ ژبو کښې هم خپور شوے دے. د دې کتاب څېړنه هغه مستند دستاوېزاتو باندې اډانه ده چې دېرش کاله تېرېدو نه پس ئې برطانوي حکومت ستر مات کړي.

رهبرِ تحریک دې کتاب کښې د دغه دستاوېزاتو په بنیاد د متحده هند د وېش د وړومبۍ تلوسې نه د وېش پورې او بیا دغه پس منظر کښې داسې نکتې اوچتې کړې دي چې د نن په سیاست کښې هم د لارښودنې حق ادا کوي. دا کتاب په 'خیبر' د پېرنګي د نظر نه د 'اسلام اباد' ذهن او د 'پېنډۍ' معدې پورې د هر څۀ علت او پس منظر ښائي.

د رهبرِ تحریک دا کتاب د هاغه وژلې شوې شهید شوې زندګۍ د وحشت خېزه داستان یو دستاوېزي ثبوت دے چې ظهیر کاشمیري ئې په شا ولاړه سفاکي او بې ترسي داسې بیان کړې ده:

سنا هے آج کے دن زندگي شهید هوئي
اسي خوشي مین هر اک سمت دیپ مالا هے

د دې کتاب مندرجات هم د رهبر تحریک په څلور ټوکونو اډانه کتاب 'باچا خان او خدائي خدمتګاري' کښې زیات بشپړ کړے شوي دي او د ما بعد صورت حال د رهبرِ تحریک د رسا نتیجه اخذۍ ثبوت ورکوي.

د 'رښتیا رښتیا دي' اغېز منځ نه وړلو د پاره په وړومبي ځل د دې اینټي تهیسز د مطالعه پاکستان په رڼا کښې دوېم نړیوال جنګ د پاره د پاکستان. د قومي ترانې د لیکونکي حفیظ جالندهري د جنګي سرود لهجه کښې ولیکل شول ـ تکو شنو مؤرخانو او 'جنرل'ستانو' انډوخر جوړ کړو؛ تر دې





چې په جعلي نومونو ئې داسې کتابونه هم ولیکل چې د رهبرِ تحریک لمن توره کړي خو خوند ئې ونۀ کړو ـ اخر چې نور څۀ ونۀ شول نو قومي اسمبلۍ کښې ئې یو بِل 1991-123-8 منظور کړو چې د دې بِل لۀ رویه د هندوستان وېش ته غلط ویونکي د پاره د لس کاله قېد بامشقت او جرمانې وړاندیز شوے ؤ.

د غدار، کافر، اېجنټ تهمتونو باندې تهمتي خان عبدالولي خان کۀ هم 'رښتیا' نۀ وئیل نو چا به وئیل؟ دا رښتیا رښتیا دي او په حوالو سره ئې د قوم اصل غداران، دلالان او برېسان په ګوته کړي دي. هاغه خلق چې پرون د مذهب او ملک په نوم د انګرېز سترګو ته ولاړ وو، نن ئې هم د مذهب او ملک په نامه په ځانونو د پلاټ برائے فروخت تختې لګولې دي. هاغه زوړ جنګ په هاغه زړه خبره نن هم روان دے. د رهبرِ تحریک رښتیا پرون هم رښتیا وو، نن هم رښتیا دي او سبا به هم رښتیا وي. رهبرِ تحریک رېکارډ رون، نېغ او ډاګیز ساتلے او تر مونږ رارسولے دے.

ښاغلي فېصل فاران نه قربان. د دروغو په زور د جوړې شوې فتنې مخ څرګندولو د پاره ئې نور کتابونه هم چڼ کړي چې زیار به ئې تاسو لمنلیکونو کښې ولولئ. ارمان دې نۀ مري. فاران دې نۀ مري او تل دې وي پښتون ولي!

دغه تاسو یئ او دغه 'رښتیا رښتیا دي'ــــ

حیات روغانے
چیف ایډیټر 'پښتون' پېښور



Scanned by CamScanner

## څو یادونې

زما د پاره ډېر د ویاړ او فخر ځاے دے چې د خپل ګران مشر او لیډر عبدالولي خان کتاب چې بې د شکه د هغهٔ د زیات زیار او محنت نتیجه ده. اډیټ، مرتب او چاپ ته تیار کړم 'ربښتیا ربښتیا دي نومې کتاب لکه چې د عنوان نه نې څرګنده ده. تاریخي مقام او ربښتنوالي خو به پهٔ سرسري نظر لوستو سره هر یو لوستونکي ته جوت شي او زهٔ لازمه نهٔ بولم چې دلته پرې تبصره وکړم. ولې چې لکه مصنف موجوده کتاب لیکلو سره پهٔ دې موضوع باندې تاریخ کنبلو ته یوه نوې لورې وربخښلې ده نو پکار ده چې حقیقت لیدونکي تاریخ پوهان پرې تبصره ولیکي او یا پرې ښشپړې څېړنې وکړي چې د لیکوال کار او زیار نورو تازه مستندو موادو سره لا غني کړي [1]

ما کوشش کړے دے چې ترممکنه حده پورې د انګریزي استعماري سیاسي نظام زېږنده ضروري اصلاحات او ځینې لغتونه چې پهٔ هند او پاکستان کښې رواج لري، د مخ پهٔ اخېر پهٔ حاشیه (لمن لیک) کښې د برنی ژبني او سیاسي پوهې او علم سره سم پهٔ معادلو او هم معني د اصطلاحاتو او لغاتو ور وپیژنم. کوم اصطلاحات.لغات. نومونه او مفاهم چې تشریح ته اړتیا لري. د کتاب پهٔ پاې کښې د نوټونو او توضیحاتو پهٔ دود تشریح شوي دي. ځني ځایونو کښې مولف ضروري ګڼلي نه وه چې انګریزي متنونه ترجمه کړي. مګر ما د لوستونکو د ضرورت پهٔ اساس لازمه وبلله چې هغه وژباړم. د دې هرڅهٔ یادګیرنه د دې د پاره ضروري بولم چې سبا پرې څوک مصنف ته ګوته ونهٔ نیسي

[1] د املاء او لیکدود پهٔ اړه خبرې ترې اوس د غېر ضروري کېدو پهٔ وجه وویستې شوې فاران





پهٔ پاې کښې د خطاط پوهه او زیار د دې کتاب پهٔ خطاطۍ او ترتیبولو کښې د یادونې وړدي پهٔ زیات درناوي

جمعه خان صوفي. کابل

د 1987 زېږدیز کال. د جنورۍ یوولسمه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يو څو خبرې

زهٔ د ولي خان سره ډېر نژدې پاتې شوے يم. هم پهٔ جېلونو کښې، هم د سياسي جدوجهد (مبارزې) لړ کښې پهٔ سفرونو کښې، هم پهٔ لويو لويو اولسي جلسو او مظاهرو کښې هم د کلي کور پهٔ حجرو او باغيچو کښې، هم د مکار او متشدد دښمن سره مخامخ د مقابلې پهٔ سختو لمحو کښې، هم د ارام او تفريح پهٔ وخت د شاهي باغ او سوات د ګلالی فضا پهٔ وړمو کښې. زهٔ پهٔ صداقت او يقين سره وئيلے شم چې ما پهٔ دې ټولو ترخو او خوږو وختونو کښې د سياسي جبر او تسلط د مقابلې، د خپل سياسي تنظيم د مشهورو بحثونو او غرزو پرزو پهٔ هجوم کښې هر وخت دا محسوس کړي دي چې ولي خان د ژور فکر، نکته رس نظر، يو زړور او اثر انداز ملي رهبر سره سره د پښتني تاريخ، کلتور، ادب او فن يو لېوال طالب علم هم دے او کهٔ يو خوا ئې ټول ژوند پهٔ يو مخې ډېر اوږد او زوريدونکے سياسي جدوجهد کړے دے چې خپل خلق د داخلي او خارجي استعمار، استثمار او رجعت د خونړي پنجو نه خلاص کړي، نو بل خوا ئې ورسره پرله پسې دا تلاش او مطالعه هم کړې ده چې د خپل ملي کلتور ځليدونکي ملغلرې د وخت د طوفانونو او استعماري او نوي استعماري نظام د تورو پردو لاندې پټې او ورکې پاتې نهٔ شي، هغه رادوڅار شي. محفوظ شي او وده وکړي. دې شوق او ولولې دے پهٔ کتابونو، اثارو او رواياتو پسې ګوم ګوم ځاے وګرځولو. هغه خانله بحث دے. خو دا يوه خبره يقيني او د يادولو ده چې دې لړ کښې دې د زړو او نوو کتابونو تر جزيرو ورسيدو نو د ولي غوندې د تيز نظر، دردمن، زړهٔ او کلکې ارادې خاوند ترې نهٔ تش لاس واپس نهٔ شو





راواپس کيدے او راواپس نهٔ شو

ولې د کتاب دنيا کښې هم د خپل سياسي ژوند، فکر، مبارزې او پټ سره ورننوتو او هلته ئې قلم پهٔ لاس هم د هغه محبوب تلاش کولو د کومې د پاره چې دے کفن پهٔ سر د قومي ازادۍ د جنګ ميدان کښې ولاړ و. ځکه چې دے پوهېدو چې د قومونو د ازادۍ، ابادۍ، سوکالۍ او خوشحالۍ منزل ته رسيدو د پاره کهٔ يو لاس کښې توره پکار ده، نو بل لاس کښې قلم، کهٔ د تن وينې تونيول غوارې نو د ذهن ډيوه هم بله ساتل پکار دي. دغه مينه، شوق او تلاش کښې دهٔ ډېر کتابونه ولوستل او د سياست د ميدان ډېر مدبر قهرمانان ئې وليدل.

دې لړ کښې دے پهٔ سنه 1957از. کښې د (لندن انډيا افس لائبريرۍ) ته ورسيدلو او دلته ورته د پښتنو پهٔ ژوند، سياست، تاريخ، کلتور، ادب او روحياتو (نفسياتو) هغه کتابونه، تحريرونه او دستاويزونه پهٔ ګوتو راغلل چې بل ځاے موندلے نهٔ شول او دهٔ د مطالعې او شوق سره ئې ښخې سمون خوړلو، ځکه چې دا هغه انګريزانو عالمانو، افسرانو او ليکوالو ليکلي وو چې د هغوي پهٔ ټوله دنيا کښې د پښتنو سره تر ټولو سخته او اوږده مقابله او معامله راغلې وه او د خپلې وظيفې (ډيوټۍ) پهٔ دوران کښې ئې د ضرورت د مخه يا د شوق لهٔ کبله د دې قوم او خاورې تاريخ، ژوند ژواک، روحيات، روايات، دود دستور او دوستي دښمني د نژدې نه ژور مطالعه کړې وو او هغه ئې بيا پوره پهٔ وضاحت او تفصيل سره د ملي تحليل او خپلې شخصي رائې پهٔ رڼا کښې او د سرکاري نظر پهٔ چوکاټ کښې قلم بند کړي وو. دغه شان دهٔ ته د زرګونو کالو د پس منظر سره د ژوړ تاريخ پهٔ لمن کښې خپل قوم او اولس د لوړو ژورو اسبابو او عصري (لوي) تاريخ کښې د ازادۍ پهٔ مينه جنګېدو مختلف اړخونه، نفسيات، عادات، علل او وجوهات مطالعه کولو موقع پهٔ ګوتو ورغله.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېرې مودې راهسې ولې په دې تلاش کښې ؤ چې دا را معلومه کړي زمونږ د تاريخي او غښتلي قوم د دې اهمې جغرافيې، څربې خاورې. ژوند بخښونکي اب و هوا او ډېرو طبعي پټو خزانو باوجود د تاريخ د روان بهير نه څنګه. چا او ولې بهر وويستو او بيا په تيره تيره برطانوي استعمار ولې دا داسې قوم او د دهٔ خاوره د مخصوصې ستېرټيجيک پاليسۍ د لاندې داسې ونيوله چې د دهٔ قومي وجود. د دهٔ د تشخص ټول څلاند او حياتي ارخونه. حتي د ملي روهيې د ختمولو د پاره د دهٔ په وهلو. څپلو او د دهٔ خلاف يو ډېر بې رحمانه انسانيت سوز عمل جاري ساتلو کښې د هېڅ بشري اصولو. عاطفې او قانون لحاظ ئې نهٔ کولو. ولې ته چې د دهٔ د تلاش او مطالعې د پاره خپله هم د هغه برطانوي استعمار د پاليسۍ جوړونکو او چلوونکو کتابونو او اسنادو ته لاز پېدا شوه. نو بيا دے تقريباً هر کال چې د جېل نه به بهر ؤ. دې پسې به لندن ته تلو او دغه لائبريرۍ کښې به دغه سرکاري مصدقه اسنادو او کتابونو سره مشغول ؤ - دلته دهٔ د خپل کار او هدف (مقصد) د پاره ډېر مواد پېدا کړل. د هغه نه ئې سوونو صفحې ياداشتونه په خپل قلم رانقل کړل او بيا چې کور کلي يا جيل خانه کښې مرتب کول دغه کتاب هم اوس تقريباً تيار دے ولې د دې مطالعې په دوران کښې دهٔ ته يو بل اهم سوال پېدا شو هغه دا چې، هغه سازش کشف شي چې په کومه طريقه د شوروي اتحاد د انقلاب د مخنيوي د پاره د اسلام په نامه دلته کار شوے دے او د دې مقصد د پاره د هند په نيمه وچه کښې چا او څنګه په ازادي غوښتونکې تحريک کښې تفرقيه واچوله.

ولې دا کتاب (رښتيا، رښتيا دي)، د دغه سوال ځواب ورکولو د پاره ليکې او ښهٔ خبره دا ده چې دا ځواب په کومو اسنادو (داکومنټ) ورکوي هغه د دې پاليسۍ د دوو ټولو نه مهمو مسئولينو په قلم ليکلي شوي او په امضا (دستخط) ثبت شوي دي، لکه د برطانوي سلطنت وزير هند يا د دغه





سلطنت په هندوستان کښې د دې سيمې د ټولو چارو تر ټولو ستر حکمران وائسرائے هند د دې سوال تر دې مستند او قاطع ځواب بل نهٔ شي کېدے او په دغه کښې د دې کتاب اهميت او ګټورتوب پروت دے

دا کتاب (رښتيا، رښتيا دي) اوس زمونږ او ستاسو په لاسو کښې دے. هر هغه څوک چې دا کتاب لولي، هغه به دا خبره ومني چې مونږ پښتنو او د دې سيمې اوسيدونکو ټولو خلقو ته د دې حقائقو نه خبرېدل او په دې غور کول څومره ګټور کېدے شي خصوصاً زمونږ د تاريخ په تنګۍ مرحله او نوي موړ کښې د دې څومره ضرورت دے

بې ځايه به نه وي کهٔ دلته د افغانستان د انقلابي حکومت مننه وشي څکه چې مونږ د دې کتاب متن پېدا کړو. نو بيا مو غوښتل چې دا زر تر زره چاپ شي او د هر چا لاسوته ورسولے شي. نو په دې لړ کښې دې ورور حکومت زمونږ ډېر کومک وکړو او دا کتاب ئې په تادۍ رانه په لړ وخت کښې جوړ کړلو

دا کتاب د چاپ د پاره تيارولو ټول زيار زمونږ ملګري جمعه خان صوفي ويستي دي، څکه بايد دے دلته ياد شي

د دې مختصرو الفاظو سره زهٔ د ولي خان دا کتاب (رښتيا، رښتيا دي) د خپل هيواد په ازادۍ، اباديۍ، سوکالۍ او امن مينو او د انسانيت خوږمنو ته په وياړ سره وړاندې کوم

اجمل خټک

111.1987



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پېرنګیانو خفیه دستاویزونه

د خپلو دوارو ځلو جیلونو په جریان کښې -یو ځل د فیلډ مارشل ایوب خان په دور کښې او بل ځل د ذوالفقار علي بهټو په دور کښې - په داسې حالاتو کښې دا کتاب لیکلو چې په جیل کښې دننه زما د مطلب کتابونه نهٔ شو موندلے. بیا د بهټو په دور کښې خو رانه کافي وخت په دې کښې لاړ چې هغه کښې به زهٔ اکثر په تنهایۍ کښې وم. د لیکلو د پاره به ډېر وزګار وخت وُ. خو د هغه په باچاهۍ کښې کتاب خو پرېږده چې قلم او کاغذ هم نهٔ وُ.

خېر هغه څهٔ لږ ډېر کتابونه چې ما لهٔ په ګوتو راغلل، د هغې نه ما کوشش وکړو چې د تصویر دا دویم اړخ قام ته وړاندې کړم. دا څومره بدبختي وي د یو قام چې د هغې مشران صرف خپله قام ته وړاندې کوي او د خپلې غېر د بل هغه اوریدوته نهٔ پرېږدي، دلته د پاکستان واکداران لګیا وو د خپل نقطه نظر د څرګندولو او د خپلو سیاسي فېصلو د جواز په حق کښې ئې تاریخي واقعات هم بدلول او حقیقت ئې قام نه د پټولو کوشش کولو، یعني تاریخ ئې لیکلو نه، تاریخ ئې د ځان سره جوړولو.

ما ته دا بیخي داسې ښکاریدله او ښکاري لکه چې په یو عدالت کښې مقدمه د قاضي د وړاندې پېش وي، خو صرف استغاثې ته اجازه وي چې په ملزم لګیدلي الزامونه او د هغې په حق کښې دلیلونه پېش کړي ملزم ته د خپل ځان د صفایۍ د شهادت تیرولو او ثبوت پېش کولو اجازه نهٔ وي، ملزم لاس تړلي پښې تړلي ولاړ وي. خولهٔ ئې بنده او قلم ئې ترې نه اخستے وي. نهٔ پوهیږم چې دې ته به څوک عدالت او انصاف ووائي

نو ما ځکه کوشش وکړو چې کهٔ قام ته نه وي، نو چې کم از کم دا تاریخي





حقیقتونه خو پهٔ لیکلو کښې پاتې شي. چې تاریخ مسخ نهٔ شي او کهٔ دا موجوده کول نه وي، نو چې راتلونکي نسلونه خو د حقیقت نه خبروي. نو ما کوشش کولو چې د خپلې سیاسي مفکورې د اصلي روح ښکاره کولو کوشش وکړم. د سیاسي کاروان د یو غړي پهٔ حېثیت د باچا خان د خدائي خدمتګارۍ د تحریک او جدوجهد هغه اصلي روح قام ته پېش کړم

د پېرنګي د طرفه د هغهٔ د مختلفو پالیسیو پهٔ سلسله کښې ما هم د پېرنګیانو د ذمه وارو خلقو د کتابونو او یاد داشتونو (ډائرۍ) نه مدد اخستے وُ او هغه د پښتنو خبره چې د عقل پهٔ زور او د خپل سیاسي تربیت پهٔ رڼا کښې مو ثابته کړې وه چې غونډ دي. زېړ دي او تریو دي چې عاقلان پهٔ خپله پوهه شي چې تاریخ دے.

خو د بهټو د قید نه د خلاصېدو نه پس زهٔ لندن ته لاړم او چې کله د علاج نه لږ فارغ شوم، نو زهٔ خبر شوم چې پېرنګیانو خپل بعضې ډېر خفیه او د راز د ستاویزونه او کاغذونه پهٔ خپله سرکاري لائبریرۍ کښې ایښي دي او هر چا ته ئې د لوستو اجازه ده او د لوستو نه بغېر کهٔ څوک د دغې اهم راز د کاغذونو نقل غواړي نو هم ئې دغه د لائبریرۍ غړي سرکاري طور ورکوي. ولې چې د پېرنګیانو دا قانون دے چې پهٔ کومو خفیه کاغذونو دېرش کاله واوړي، نو هغه بیا دوي بیرته وباسي

پهٔ حقیقت کښې زهٔ پهٔ دې تکل کښې وم چې د دې کتاب د اصلي غرض پهٔ سلسله کښې څهٔ مواد بیا موم. چا چې دا کتاب لوستلے وي. نو هغوي به دې نتیجې ته رسیدلي وي چې ما د دې ثابتولو کوشش کړے دے چې د باچا خان سیاست او د خدائي خدمتګارۍ تحریک د پېرنګي د سترګو ازغے پهٔ دوه وجو وُ. د پېرنګي کوشش لازمي طور دا وُ چې پهٔ هندوستان خپل حکومت قائم وساتي او د هغه اندروني تحریکونو مخ نیوے وکړي کوم چې هندوستان د ازادۍ ګټلو د پاره چلولے شي او دویم دا چې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندوستان د بیروني خطرو نه د سالم ساتلو د پاره ئې د دفاع انتظام وکړي دا هم څرګنده وه چې د ملک دننه د ازادۍ تحریک انډین نیشنل کانګرس چلولو چې هغه د هندوستان د ټولو فرقو او مذهبي ډلو نمائندګي کوله هندوان، سکهان، مسلمانان، پارسیان هر څوک د هغۀ ممبران کیدے شو خو د پېرنګي پالیسي د کانګرس کمزوري کول او د هغۀ د مقابلې د پاره د نورو تحریکونو مرسته او د هغوي مضبوطول وو. پۀ دې بل اړخ دا هم مونږ لیدلي دي چې هندوستان قدرت داسې جوړ کړے دے چې درې طرفو ته ئې سمندر او یو اړخ ته ئې د غرونو یوه عظیم الشانه کلا ده چې پکښې یو څو درې قطب نمر خاتۀ ته دي او هم پۀ دغه اړخ هندوستان ته واحده بیروني خطره پېښه وه، چې هغه د پېرنګیانو پۀ قول د روس د اړخه وه.

مونږ دا هم لیدل چې خدائي خدمتګارو څکه وهل خوړل چې هغوي دپېرنګي پۀ دې دواړو پالیسیو کښې نه ځائیدل. نو زۀ چې دغه لائبیریرۍ ته لاړم نو ما د دې خپل کتاب د دغه خارجي حصې د پاره د دستاویزونو تکل وکړو چې د پېرنګي او د روس د مقابلې پۀ سلسله کښې هغه بنیادي تبدیلي راغلې ده ولې چې کله پۀ 1917ز کښې روس کښې انقلاب راغے او یو نظریاتي مملکت پۀ اول ځل د دنیا پۀ نقشه راڅرګند شو نو چې د هغې د مخنیوي د پاره پېرنګي څۀ تابیا کړې وه. د پېرنګیانو دا قاعده وه چې د هندوستان د حکومت سربراه یعني وائسرائے هند به هفته وار رپورټ حکومت برطانیه ته د وزیر هند پۀ نامه لیکلو او دغه شان به حکومت برطانیه خپله پالیسي د هفته وار پۀ ذریعه د وزیر هند پۀ لاس وائسرائے ته رالیږله، زما خپل خیال دا ؤ چې کۀ زۀ دغه خطونو مطالعه وکړم نو دا به زما مسئله حل کړي، چنانچه ما وغوښتل چې د شوروي د ستر مشر لینن د مرګ نه پس هغه خط وکتاب ولولم، نو د هغې پۀ ذریعه به زۀ د پېرنګي او شوروي د مقابلې د پالیسۍ د تبدیلۍ پۀ تکل کښې ورسم او هم هغسې





وشوله.

زۀ خو پۀ اصلیت کښې د پېرنګیانو د خارجه پالیسۍ پۀ لټون کښې وم خو چې هغه خطونه ما لوستل نو هغه کښې د خارجه پالیسۍ سره سره د هندوستان د اندروني حالاتو جائزې هم وې. دا خو پکښې هسې جونګه وه ما چې هلته څۀ ولېدل او ومې لوستل. پۀ حقیقت کښې دا زما پۀ خواب و خیال کښې هم نۀ وه. مونږ چې د خپلو مشرانو نه څۀ اوریدلي وو او هغه څۀ بدګمانۍ څۀ چې کوم شکوک او شبهات هغوي بیانول، پۀ خصوصیت سره د پېرنګي هغه عمل چې کوم هغوي د خپلو دغو پالیسیو پۀ مخ کښې بوتلو کښې ئې قام او ملک سره کړي دي. هغه د نۀ منلو ؤ. ما به دا محسوسوله چې باچا خان چونکې خپل ټول ژوند د پېرنګي سره پۀ مقابله کښې تیر کړے دے، ډېر تکلیفونه او مصیبتونه ئې نۀ یواځې پۀ خپل ځان زغملي دي. بلکې دوه ننګیالو ملګرو سره چې کوم سلوک د پېرنګي د لاسه شوے دے، نو هغې باچا خان دومره سخت بدګمانه کړے دے چې هغه پۀ هره مسئله کښې پېرنګے ګناه ګار ګڼي او بلا جوازه پۀ پېرنګي داسې الزامونه لګوي چې هغه شاید چې دومره حقیقت نۀ لري. بیا پۀ خصوصیت سره د کانګرس دا الزام پۀ پېرنګي چې هغه د خپل نو ابادیاتي او سامراجي. سرمایدارانه سیاست د پاره د هندوستان د غلام ساتلو پۀ سلسله کښې هندوستان کښې دومره فرقه وارانه نفرت پېدا کړلو چې هغه د نمک حرامۍ حد پورې رسي. ولې چې هندوستان ده قابو سل کاله خوړلے ؤ او بنۀ پۀ مړه خېټه ئې بلا شرکت غېري خوړلے ؤ نو د هغې هغه دې قام لۀ دا سزا ورکوله چې هغوي ئې د یو بل وینو څښلو ته کښېنول او داسې اور ئې ولګولو چې د انساني فطرت دے چې هغه خپلې کمزورۍ او نیمګړتیاګانې نۀ ویني او اکثر دا کوشش وي چې هغه د داسې کمزورو د پټولو د پاره پۀ نورو خلقو الزامونه لګوي.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کښې شک نشته چې کانګرس څۀ وې او باچا خان څۀ وې، ما ته پۀ هغه کښې تر ډېره حقیقت ښکاریده، خو دا مې چرته تصورهم نۀ شو کولے چې هغه باچا خان څۀ وائي هغه کم دي او حقیقت د هغې نه ډېر زیات دے او کانګرس چې کوم الزامونه پۀ پېرنګي لګوي پۀ حقیقت کښې پېرنګي د دغې نه څۀ ډېر زیات کړي دي. د شک ګنجائش کۀ پکښې اول ؤ، نو هغه هم ورک شو. ولې چې د پېرنګي د خپل لاس لیکونه پۀ خپل دستخط د پېرنګي پۀ خپل کور کښې د هغه پۀ سرکاري او حکومتي لائبریرۍ کښې پراتۀ دي او خطونه هم د چا غېر ذمه وار او وړوکي افسر نۀ دي بلکې د ټول هندوستان د ستر مشر او د تاج برطانیه د نمائنده وائسراے او حکومت برطانیه د وزیر هند تر منځه دي نو دې کښې به څوک څۀ شک وکړے شي؟

ما چې دا د ستاویزونه لوستل نو یقین وکړئ چې بعضې واقعه به مې ولوستله نو مازغو به مې چکر وخوړ، چشمې به مې کېښودې، سر به مې پۀ دواړه لاسه ټینګ ونیوو چې یا خدایه دا څۀ وینم او څۀ لولم. د مخکښې لوستلو تاب به مې نۀ لرلو. نو کاغذونه به مې سمبال کړل او ښکته به یوې پیالۍ کافي څښلو لۀ لاړم څو میاشتې زۀ پۀ دغه کاغذونو کښې داسې بوخت وم چې عقل مې بیخي منله نۀ. ولې افرین شه د پېرنګي پۀ خیانت چې د خپل قام د ښېګړې د پاره هغه کومه ناروا ده چې دۀ کړې نۀ ده. دې تعلیم یافته او مهذب پېرنګي هغه څۀ کړي دي چې بنیادم ئې منلے نۀ شي. ولې بیا افرین شه هم پۀ دې پېرنګي چې دا هر څۀ ئې داسې پۀ بې باکۍ لیکلي دي چې دغلته ورته بیا سړے هک حیران شي. نه ئې د ځان سره منافقت کړے دے او نۀ ئې پۀ نورو بونه دوړولې ده. هر څوک ئې داسې پۀ ډاګه بربنډ کړي دي. دوستان او د لارې ملګري او پۀ سازش کښې شامل غړي ئې یو پۀ یو پۀ ګوته کړي دي او هره ګنده ګي او پلیتي چې ئې پۀ هغوي کړې ده. پۀ سپین کاغذ ئې پۀ خپل لاس لیکلې ده. نۀ ئې د چا مخ





کړے دے او نۀ ئې لحاظ. او نۀ ئې دا فکر کړے دے چې کۀ د هندوستان اوسیدونکي د دغې خپلو وطنیانو د دې بې ننګو، بې غېرتو، بد دیانتو نه خبر شي نو هغوي به څنګه دا ومني چې دې مشرانو د زړۀ نه د خپل ملک او وطن خیال غوښتلو کۀ نۀ. دوي د پېرنګي د حکومت د منو مضبوطولو د پاره خپل قام او وطن خرخ کړے دے او پۀ حقیقت کښې خوا خوږي قامي مشران نۀ. بلکې پۀ پېرنګي خرڅ د هغۀ ایجنټان او د قام دښمنان او د ملک غداران وو کۀ ریښتیا مې پوښتې. نو ما چې د 1922ز. نه راواخله تر 1924ز -یعني د شلو کالو دا د وائسراے او وزیر هند تر منځه خط وکتابت ولوستلو نو ما دا محسوس کړله چې د دې کتاب پۀ لیکلو کښې څومره ځان کړولے ؤ او د مختلفو کتابونو او وائسرائیګانو د ډائرونه مې څۀ راټول کړي وو هغه هغسې بې ځایه شو. ولې چې دې خفیه او د راز کاغذونو خو زما هغه ټول شکونه رفع کړل - د روس او بیا شوروي اتحاد پۀ خلاف د پېرنګي د حکومت هند پالیسي پۀ زور زیر لیکلي پرتۀ ده او د هیڅ قسمه ګنجائش پکښې د شک پاتې نۀ شو - ما چې څۀ د ثابتولو کوشش کولو. د هغې واضحه څرګند ثبوت د پېرنګي پۀ خپل لاس لیکلے پروت دے د دې خو زما توقع وه چې هم داسې به وي

ولې ما ته چې کومه ډېره د حیرت خبره د دې خطونو نه راڅرګنده شوله هغه د هندوستان د بعضې سیاسي مشرانو هغه کردار دے چې کوم د دې دستاویزونو نه راڅرګندیږي، او بیا پۀ تېره تېره د مسلمانانو د دغه وخت د سیاسي مشرانو هغه ټول عمل چې دے پېرنګیانو بیان کړے دے - نو هغه عمل خو پۀ ځاے پرېږده - ایماني خبره دا ده چې زۀ به ئې پۀ لوستلو شرمیدلم. هغه چې کوم الزامونه د کانګرس مشرانو او باچا خان د مسلمانانو پۀ دغه لیډرانو لګولي هغه پۀ اوږو کښې حالکه هم نۀ ده پۀ نسبت د هغې چې څۀ دې پېرنګي دغلته بیان کړي دي چې سړے ورته هک



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیران پاتې شي
حقیقت دادے چې زۀ ئې پۀ هغه خپل کړي کړاو ستومانه کړم چې د تاریخ د
ثابتولو د پاره یو یو دلیل راټولو چې غونډ دي، زېر دي، تریو دي. او دا ما
پۀ سوونو صفحې ولیکلې او څۀ کتابونه مې ورپسې لټ پۀ لټ کړل او دلته
دا دے دغه هر څۀ خواري عبث شوله. ولې چې مالک پۀ خپله وائي چې سر
مۀ خوږوئ -- د ثبوت ضرورت نۀ شته. منطق. دلیل او سیاسي شعور څۀ
کوئ؟ خو زۀ پۀ خپله وایم چې نارنج دي. زما بس دي
نو یو وارې خو ما دا اراده وکړله چې دا خپل کتاب پرېږدم او صرف د دغې
لائبریرۍ دا خط وکتابت د یوې کتابچې پۀ شکل کښې چاپ کړم چې د
تصویر دا بل اړخ قام ته وړاندې شي او بیا هغوي رښتوني فېصله وکړے
شي چې چا د قام خېر غوښتلو او څوک د پېرنګي د پاره د خپل قام پۀ
غلامولو پسې وتي وو.
د ډېر سوچ او فکر نه پس مې دا فېصله وکړله چې زما د کتاب مقصد خود
باچا خان د سیاسي جدوجهد او د خدائي خدمتګارۍ د تحریک هغه اصلي
اړخ قام ته پېش کول دي دغه دستاویزونه خو پۀ صرف باچا خان مخالفین
بربنډ کړي او پۀ خصوصیت سره هغه مسلمانان لیډران چا چې د اسلام
مقدس او سپېڅلي نوم د پېرنګي د نوابادیاتي سامراجي او سرمایه دارانه
نظام د ټینګولو او د خپل قام او ملک د غلام ساتلو د پاره استعمال کړي
دي. دا بې شکه چې د باچا خان مخ ووینځي او د هغۀ د خلاص. مینې.
خواخوږۍ او د یو اخلاقي او روحاني تحریک د مخالفینو مخونه به پۀ تبی
تور کړي، خو مقصد خو د چا مخ تورول. شرمول او بربنډول نۀ دي. مقصد
خو د خپل سیاست او جدوجهد څرګندول او د تصویر هغه دویم اړخ قام ته
وړاندې کېښودل دي. د هغه پلیت او ناپاکه سیاست مخه نیول دي چې د
کومې پۀ ذریعه د ساده او سوچه مسلمانانو د ذهنونو پلیتولو کوشش





شوے دے او د بهتان او الزامونو پۀ زور او شور کښې د قام نه عموماً او
مسلمانانو نه خصوصاً هغه تاریخي حقیقتونه پټ کړے شوي دي کوم چې
پۀ خاے تاریخي حقیقتونه دي، او کۀ نن نه دے سبا، او کۀ سبا نۀ دے نو
بل سبا خو راڅرګندیږي به -- او ارومرو به راڅرګندیږي - کۀ هرڅو پرې
څوک د ډېران خځلې وغورځوي - لعل پۀ ایرو کښې نۀ پټیږي، لکه هرڅوک
پرې دا دي څرګند شو لکه چې ما مخکښې ووې. د دې لیکلو غرض د چا
بربنډول او شرمول قطعاً نۀ دي - البته دا ضروري ده چې حقیقت دې څرګند
شي -او چې حقیقت هم یو تاریخي حقیقت وي نو د هغې پټول خو یو قامي
خیانت دے. ما خو د خپل زړۀ خبره کړې ده چې دې کښې اکثر داسې
واقعات راغلي دي چې زما پرې خپل زړۀ دردیدلے دے او سترګې مې د
شرمه ټیټې شوي دي - نو زۀ دا محسوسوم چې د هغې سپین نیتو او
مخلصو کارکنانو پۀ زړۀ به څۀ تیریږي - چا چې پۀ اسلامي جذبه او قامي
خواخوږۍ خپله یوه مذهبي فریضه د مسلمانانو د ښېګړې پۀ غرض پوره
کوله او پۀ ایماندارۍ ئې د مسلمانانو خېر پۀ دغې کښې ګڼلو دې بل اړخ
ته د اسلام پۀ نامه راپورته شوو مشرانو ځانونه د اسلام ټېکېداران کړي وو
د خپل ځان او خپلو پېروکارانو او تابعدارانو نه بغېر ئې نور څوک نۀ
مسلمانان ګڼل او نۀ د مسلمانانو خېر خواهان. ولې پۀ حقیقت کښې هغوي
د پېرنګي سره ملګري او د هغه د سلطنت د مضبوطولو د پاره لګیا وو -
زما غوندې سړے به پۀ دې هم څۀ خاص اعتراض نۀ وکړي - کۀ چا د
پېرنګي حکومت خوښ ؤ. نو پکار وو چې پۀ ډاګه دومره ودریدلے وے -
زما اعتراض پۀ دې کښې ؤ چې ولې دې د اسلام د پاک. سپېڅلي او سوچه
نوم د یو غاصب، جابر او پۀ خصوصیت سره د کافر حاکم ته امداد او مرسته
کښې استعمال شي
دا تاریخي حقیقتونه باید چې بیان شي چې د دې حقیقتونو پۀ رڼا کښې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا له مسلمانان نور هم ډېر فکر کوي او خپل سیاسي او دیني مشران پوره تنګوي چې هغوي خوچرته بیا ساده او په دین مئین قام د چا بل چا د سیاسي غرض سر کولو د پاره خو نه استعمالوي. وائي چې ریښتیا تراخه وي. ولې دا زه چې کوم ریښتیا دلته بیانوم. دا ریښتیا ډېر تراخه دي. منم چې د ډېرو خلقو به زړونه وردېږي. ولې د ډېرو به سترګې پرانستې شي. هغه د پېرنګیانو خبره:

It is Just to put the record straight

ترجمه بهتره ده چې ریکارډ هم ثبت شي.

زه د دې خبرې څه خاص ضرورت نه ګنړم چې هر یو لوستونکي ته دا رایادم کړم چې زما خپله نظریه او سیاسي مفکوره هر څه چې وه او ده. خو دا به ووایم چې دا هر څه چې زه دلته رانقل کوم. د دې اصل د حکومت برطانیه په سرکاري لائبریرۍ کښې پروت دي زه به کوشش کوم چې د هر یو خط سره تاریخ او پوره حوصله ورکړم:

Comment is free, but facts sacred

ترجمه حقائق خپل تقدس لري. البته د رائې زنی حق هرچانه حاصل دے





## فرقه وارانه سیاست او پېرنګے

چې کله شلمه صدی نوې کیدله نو پېرنګي ځان کافي مضبوط کړے ؤ. افغانستان ئې د امیر عبدالرحمان خان په ذریعه قلار کښېنولے ؤ او د روس مخ نیوي ته ئې لارې نیولې وې (دلته د 1857م) د جنګ ازادی نه پس ئې مسلمانان چقولي وو او هېڅ داسې قوت اوس د هغه فوځي مقابلې ته نه ؤ پاتې سکهانو هم وهل خوړلي وو او د هندوستان نقشه اوس حکومتي طرز څه دا شان وه چې څه قابو شپږه سوه ریاستونه د والیان ریاست په ذریعه د پېرنګي تابعدار وو او نور هندوستان هغه د خپلې خپتې لاندې کړے ؤ

پېرنګي ډېر پوهه. تجربه کار او د نوې زمانې حکومتي ډاکه مار ؤ. هغه چې کښیناست. دا فکر ئې وکړلو چې د هندوستان دا دومره لوے غزیدلي ملک او دا بې شمیره انسانان به هغه څنګه قابو کوي جنګونه خو هغه وکړل او په هره روا ناروا لاره ئې ملک فتح کړلو. ولې اوس خو د هر یو سړي په سر هغه فوځي نه شي کښینولے. څه داسې لارې چارې ضرور لټول غواړي چې د هندوستان خلق هغه ته چرته یو موټے او یوه ډبلی نه شي. ولې چې که دوي ورته اتفاق وکړي نو هغه د یو هندو سیاسي توقي خبره که د هندوستان نر و ښځو په یو ځل موتیازې هم راپریښوې. نو هم به دا موتې پېرنګیان پکښې ډوب او لاهو کړي

پېرنګي خو د هندوستان حکومت د مسلمان نه اخستے ؤ او هغه د باچاهی کوم باد چې د هغوي په غوږونو کښې لګیدۀ هغه ئې ترې نه ایستے ؤ هغه وکتل چې اګر چې مسلمان د څو سووکالونه په هندوستان حکومت کړے دے. خو مسلمان اوس هم په هندوستان کښې په شمیر کم دي او غیر مسلم



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې زیات دي، نو کۀ پېرنګي اول غېرمسلموسره مرسته کوله او پره ئې هغوي سره وه. نو مسلمان ئې پرې وهل او د دغې بې اتفاقۍ نه ئې ځان لۀ فائده پورته کوله نو چې دې بل خوا د بنیادمو شمېر ته ئې وکتل نو هندوان پرې ډېر وو او مسلمانان کم. ولې یو بل مشکل دا پېښ ؤ چې د هندوستان پۀ خواوشا نوره دنیا کښې چرته هندوان نۀ وو او مسلمانان خو چاپېره خوارۀ پراتۀ وو. د شمالي افریقې نه ئې را واخله او پورې د بلقان د ریاستونو نه ئې راونیسه داسې د ترکو نه تر افغانستانه پورې دا یوه خطه د مسلمانانو وه او لا پرې د پاسه د ترکو خلافت عثمانیه د منظم. مضبوط حکومتي قوت پۀ شکل کښې موجود ؤ.
ولې دلته هندوستان کښې هغه چې کله د پلاسي پۀ جنګ (1757از) کښې برے وموند نو بنګال کښې مشرقي هندوستان ئې د مسلمانانو د لاسه واخستو.
جنوبي هندوستان ئې هله قابو کړلو چې کله ئې ټیپو سلطان لۀ پۀ 1799از کښې شکست ورکړلو.
وسطي هندوستان د (1857از) د جنګ نه پس راکښې ایست.
شمالي هندوستان کښې کۀ څۀ خاورې ایرې قوت ؤ. نو هغه د بالاکوټ د شهیدانو پۀ وجه پۀ (1831از) کښې ختم شو.
خوا کښې بره. افغانستان بله د مسلمانانو مضبوطه مورچه وه، نو د 1893از د معاهدې نه پس هغه هم قابو شوې وه.
پېرنګي اوس بلا شرکت غېري د هندوستان حاکم ؤ. د هر قسمه یره ترهه کۀ اندروني وه او کۀ بیروني. هغه ختمه وه. تر دې چې کله ئې 1907از – کښې روسانو سره لوظنامه دستخط کړله او پۀ هغوي ومنله چې خپلو سرحداتو نه به ورته پۀ افغانستان کښې ګوتې نۀ وهو. نو بیا خو بیخي بې غمه شو او ټوله مخه او توجه ئې د ګټلي هندوستان سمبالۍ ته کړله.





د مسلمانانو د غورځونو نه د باچاهۍ د باد ویستلو پۀ غرض هغۀ مسلمانان یوخوا ته ودیکل او خپله ټوله توجه ئې هندو ته کړله. پۀ هغو ئې پې راپرېښودل. پۀ دفترونو کښې د کاغذي کارروائۍ د پاره بابوګان او دفتري عمله ټوله د هندوانو وه. تجارت کښې ئې هندوان مخکښې کړل ټېکې او سرکاري سرپرستي د هغوي وه. هندوان تعلیم یافته او وکیلانو لۀ ئې اثر او رسوخ پېدا کړلو. کله چې هندو ورو ورو راغونډېدو نو پېرنګے پوهه شو چې دے راته چرته رانیغ نۀ شي. ولې چې اکثریت د غېر مسلمو ؤ. دې خوا پېرنګي دا هم ولیدل چې هغه د پېرنګي پۀ خلاف د مسلمانانو ټول قوت زیر و زبر کړلو او پۀ دوي کښې داسې د سر سړي پېرنګي پرې نه ښود (پۀ خصوصیت سره د (1857از) دانقلاب نه پس) چې هغه پېرنګي ته د ودرېدو او هغۀ لۀ د مخې وهلو جرات وکړے شي او کۀ نن ځوک د مسلمانانو مشران دي نو هغوي د یو بل سره پۀ دې سیالۍ کښې دي چې ځوک به د سرکار دولتمدار ډېره تابعداري او وفاداري پۀ پېرنګي ځرګنده کړي
نو پېرنګي بیا مخه دې خوا مسلمان ته وګرځوله شروع د بنګال نه وشوله. پۀ 1905از کښې ئې بنګالي صوبه پۀ منځ دوه کړله او مشرقي حصه ئې د مسلمانانو د اکثریت ترې نه جدا کړله او پۀ دا شان ئې د مسلمانانو د خوشحالولو او رضا ساتلو کوشش وکړلو. چې ځومره وخت تېرېدلو. نو دې لوے پېرنګي لۀ خوند ورکولو. هغۀ ولیدل چې پۀ سرکاري نوکریو او نورو حکومتي ښېګړو کښې کله د هندو او کله د مسلمان شا ټپول د هغۀ پۀ خبر تمامېږي.
اخوا چې ځومره ځومره تعلیم لۀ پېرنګي زور ورکولو نو کله هم نۀ خرابېدلو. ولې چې تعلیم ئې نه ورکولے نو سرکار لۀ به دفتري کار چا چلولو؟ او چې تعلیم ئې ورکوو. نو هغې سره رڼا راتلله. د تعلیم یافته سړي سترګې رڼا کېدې بیا چې د تعلیم د مخکښې حاصلولو پۀ غرض زلمي بهر دنیا او



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



قام څنګه حکومت سره پهٔ برطانيې ته تلل. نو هلته ئې هم ليدل چې ورو ورو ګونګوسې شروع شوې چې اختيارکښې شريک دے. نو دلته هم هندوستانيانو لهٔ هم څهٔ نه څهٔ شراکت پکار دے. چونکې هندوان ډېر هم وو او تعليم کښې هم مخکښې وو تاجران او شته من هم وو، د بهر دنيا تعليم ئې هم د وسه کيدو. وکيلان. بيرستران هم وو نو دا مطالبې د هغوي د اړخه ورو ورو شروع شولې

کهٔ لږ پهٔ تحقيق ورته وکتل شي نو د هغه وخت د مسلمانانو مشرانو هم د 1857از د واقعاتو نه سبق زده کړے ؤ او کوشش ئې دا ؤ چې مسلمانان د هندوستان د نورو فرقو سره پهٔ ملګرتيا او تعاون خپل ځان د پېرنګي د زياتي او جبر نه بچ کړي او د هندو، مسلم پهٔ اتحاد ئې دومره زور اچولو چې اوس هم بنيادم ورته حيران شي. پهٔ مثال کښې به زه صرف ديو مسلمان مشر خيالات بيان کړم. سر سيداحمد خان چې زمونږ بعضې سياسي ليډران هغهٔ ته د دوه قومي نظرئې باني وائي. پهٔ خپل يو تقرير کښې چې د 1884از کال د جنورۍ پهٔ (27) ئې پهٔ ګورداس پور کښې کړے دے. داسې ګويانه دے:

We (i.e. Hindus and Mohammadans) should try to become one hearth and soul, and act in unison ...... in old historical books and and tradition you will have read and heard, and we see it even now, that all the people inhabiting one country are designated by the nation ...... the different tribes of Afghanistan are termed one nation, and so the miscellaneous hordes peopling iron, distinguished by the terns Persians, though abounding in variety of thoughts and religions, are still known as members of one nation. ....... Remember that the words Hindu and Mohammadan are only meant for religious distinctions – otherwise all persons whether Hindu





and Mohammadan, even the Christian who reside in the country, are all in this particular belong to one and the same nation.

*(A Nation is Bron by Syed Hassan Mahmmod, page 339)*

ترجمه: مونږ ( يعني هندو او مسلمان) لهٔ کوشش پکار دے چې يو زړهٔ يو روح شو او پهٔ يووالي کښې عمل وکړو ... پهٔ زړو تاريخي کتابونو او رواياتو کښې به تاسو لوستي او اوريدلي وي او مونږ حتي نن هم وينو چې هغه ټول خلق چې پهٔ يو ملک کښې اوسيږي، د يو قام پهٔ اصطلاح باندې پيژندلے شي ... د افغانستان مختلفو قبيلو ته يو قام وئيلے شي او دغه شان پهٔ ايران کښې اوسيدونکي متفرق قبائل فارسيانو باندې پيژندلے شي. اګرچه هغوي مختلف فکرونه او مذهبونه لري. ليکن بيا هم د يو قام د غړو پهٔ نامه ياديږي

...

ياد وساتئ چې د هندو او مسلمان پهٔ نومو الفاظ. مذهبي فرقو د پاره استعماليږي. ګنې نو ټول افراد کهٔ هندوان دي کهٔ مسلمانان او حتي کهٔ عيسايان. خو چې پهٔ دې ملک کښې ژوند کوي. پهٔ دې خاص مورد کښې يو قام سره تعلق لري.

سر سيداحمد خان پهٔ دې هم لکه چې پوره تسله نه وه شوې. هم پهٔ دغه کال 1854از ئې پهٔ لاهور کښې انډين اېسوسي اېشن ته پهٔ خپل مفصل تقرير کښې ترديې لاړ:

I heartily wished to serve my country and my nation faithfully. In the word Nation I include both Hindus and mohammadans, because that is that is the only meaning I can attach to it ......

ترجمه: ما د زړهٔ نه غوښتل چې د خپل ملک او خپل قام



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت پهٔ وفادارۍ سره وکړم. د قام پهٔ کلمه کښې هندوان او
مسلمانان دواړه شاملوم. ځکه چې دغه يوازينۍ معني ده
چې دې ته ئې ورکولے شم

ولې دا هم واورئ؛

These are the different grounds upon which I call both those races inhabit India by one word i.e. Hindus meaning tosay that they the inhabitants of Hindustan.

ترجمه: دا هغه مختلف وجوهات دي چې زهٔ هغه ټول نسلونه
چې پهٔ هندوستان کښې اوسيږي، پهٔ يوه لففظ باندې يادوم.
يعني هندو، د وئيلو مطلب دا شو چې هغوي ټول د
هندوستان اوسيدونکي دي

يعني سرسيداحمد خان وائي چې هر هغه څوک چې پهٔ هندوستان کښې اوسي کهٔ د هرې عقيدې خاوند وي خو چې پهٔ دې خاوره د هندوستان اوسي، هغه ته هندي وئيلے شي پهٔ دې سلسله کښې د اقبال اولني وخت شعرونه هم د دغه مطلب گويانه دي؛

سارے جهان سے اچها هندوستان همارا
هم بلبلين هين اس کي يه گلستان همارا

ترجمه: زمونږ هندوستان د ټول جهان نه ښهٔ دے، مونږ د دهٔ بلبلان يو او دے مو گلستان دے.

مذهب نهين سکهاتا آپس مين بير رکهنا
هندي هين هم وطن هے هندوستان همارا

ترجمه: مذهب پهٔ خپلو کښې د دښمنۍ درس نهٔ ورکوي هندوان يو: هم وطنه يو: هندوستان زمونږ دے

دانه سبح به زنار کشيدن اموز





نگاه تو دوبين است نه ديدن اموز
(پيام مشرق)

ترجمه: د تسپو دانې د زنار پهٔ تار وپئيه او کهٔ چرې دا دواړه تا ته جدا ښکاري نو بيا بايد چې ړوند شې.

دې شعرته لږ ښهٔ غور پکار دے بعضې خلقو خود سياست پهٔ بنا د مختلفو فرقو تر منځه د تعاون خبره کړې ده، يعني مذهب پهٔ سياسي نکته نگاه د ملک د مختلفو فرقو تر منځه د بيلتون ذريعه نهٔ ده گرځول پکار، ولې علامه اقبال خو پهٔ دې شعر کښې د سياست د ميدان نه وتلے دے، مذهبي ترون غواړي، د مسلمان د تسپو دانې د هندوانو د زنار پهٔ تار پېيي او پهٔ دا رنگې مذهبي وحدت د پاره لار ازادوي. د دې نه زيات به پهٔ دې لږ کښې څهٔ ووئيلے شي؟ عام طور خو سياست کښې د (دوه قومي نظرئې) پهٔ بنياد هندو او مسلمان دوه قومونه شميرلے شي، دوه داسې قومونه چې پهٔ ملک دننه يو ځاے اوسي او مذهبي عقيدې د هغوي د ملک پهٔ حقوقو څهٔ اثر نهٔ پرېباسي، ولې علامه اقبال خو د دوه قومي نظرئې د پاوړۍ نه بهره وختو او پهٔ دې شعر کښې خو دا ثابتوي چې سياسي ترون نه اوچت مذهبي رواداري څهٔ کوې چې بره د ترون او کلک ترون پهٔ مقام دې ودروي.

مطلب دادے چې چونکې پېرنگيانو د هندوانو مرسته کوله. هغوي ته سرکاري نوکرۍ او مراعات حاصل وو. د نوکرو د پاره ورله د تعليم انتظام او بندوبست کيدلو.

مسلمان د پېرنگي زير عقاب ؤ. نو د هغه وخت مسلمانانو د خپلې خلاصۍ لاره هم صرف دا ليدله چې د هندو مسلم د اتحاد پهٔ برکت د پېرنگي غصې نه ځان بچ کړي.

پېرنگے هم د باتۍ پهٔ بوئي پوهه شو چې کهٔ دا هندوان او مسلمانان راته يوه ډله شي. نو د دوي مقابله خو د کيدو نهٔ ده دې وجې نه هغه چې کله اولني



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاحات کول۔او پۀ لوکل باډیز او میونسیپلټیو کښې ئې اختیار هندوستان لۀ ورکولو نو هغې کښې ئې ورله فرقه وارانه طریقه د انتخاب کېښودله دا اولنۍ قسط د ،مارلي منټو /Morley Minto Reforms، د دې ریفورمونو پۀ نامه پۀ 1909از کښې دا وکړے شو چې مسلمان به صرف مسلمان او هندو به هندو لۀ ووټ ورکوي. پۀ دې طریقه پېرنګي د مذهبي عقیدې پۀ بناء د جمهوري ادارو د بنیاد اولنۍ رده کېښوده. دا د پېرنګي د اړخه اولنے ګوزار ؤ پۀ هغه نظریه. کومه چې سر سید احمد خان دوي پۀ هندوستان کښې خورول غوښتل. یعني د ،یوقومي نظرئې، پۀ مقابله کښې د ،دوه قومي نظرئې، پۀ بنیاد پېرنګي کېښوده چې مسلمانانو او هندوانو ته دا څرګنده کړي چې کۀ کمېټو او میونیسپلټیو او بره ادارو لۀ راځي نو د مذهبي عقیدې پۀ بنیاد به ځان ځان لۀ ډلې جوړوي چې هغه قامي تصور چرته جرړه ونۀ نیسي.

پېرنګي لۀ دې پالیسۍ ډېر خوند ورکړلو چې پۀ مختلفو وختونو کښې ئې مختلفو مذهبي فرقوسره معاشقې جاري وساتلې: چنانچه پۀ 1912از کښې بیا د بنګال تقسیم مات کړے شو او د مشرقي او مغربي بنګال دواړې صوبې بیا یو ځاے کړې شوې. پېرنګے پوهه شو چې اګر چې پۀ هندوستان کښې د هندوانو اکثریت دے خود هغوي توله ابادي پۀ هندوستان دننه محدوده ده بهر نورڅوک هم مذهبه نۀ لري: ولې مسلمان خو چاپېره خور وور پروت دے. د افغانستان نه واخله تر ترکیې پورې. اخوا د بلقان ریاستونه او لاندې شمالي افریقه نو دا دومره غزېدلے قوت او پۀ دې کښې بیا د پان اسلامیزم د تحریک موجودګۍ پېرنګي بیا د مسلمان د اړخه ووېر ؤ او چې ځنګه اولنے جنګ عظیم شروع کېدلو نو د ترکانو بر خلاف د سلطنت عثمانیه پۀ تباهۍ پسې وتلے پېرنګے به ځنګه د هندوستان مسلمان سره مرسته کوله؟ نو پېرنګي یو وارې بیا د مسلمان د سرپرستۍ نه لاس





واخستو

پۀ دې دوران یو دویم قسط د اصلاحاتو د مونټیګو چمسفورډ ، Montagu Chelmsford Reform، پۀ نامه ورکړے شو خو پۀ هغې کښې هم فرقه وارانه طریقه د انتخاب جاري وساتلې شوله. دې خوا چې کله پېرنګیانو پۀ اولني جنګ عظیم کښې د ترکانو پۀ خلافت حمله وکړه نو دې د هندوستان پۀ مسلمانانو کښې یو ژوند پیدا کړلو او هغوي د پېرنګي برخلاف پۀ ډاګه ودریدل ولې پېرنګي وار خطا بل څۀ کړلو. چې کله ګاندهي او کانګرس د مولانا محمد علي او شوکت علي سره مورچې ته راودانګل. نو پېرنګے پوهه شو چې دا خو بیا د پېرنګي هغه د ،دوو قومونو، لوبه خوره شوله خلافت کمېټۍ څلور تجویزونه مسلمانانو ته وړاندې کړي وو:

۱، د سرکاري لقبونو واپسي. ۲، مسلمانانو له د سرکاري نوکرو نه استعفي. ۳، مسلمانانو لۀ د فوځ او پولیس نه استعفي او ۴، د سرکاري ټکسونو نه انکار

پېرنګي خپله توجه دویم او دریم تجویز ته کړله. ولې چې پۀ دې طریقه د هغه خپل حکومت ته نقصان ؤ او بدنامي ئې وه خو رنګ ئې ورله دا ورکړلو چې دا د هندوانو یوسازش دے او پۀ دې طریقه هغوي مسلمانان د حکومتي چوکو او ادارو نه وباسي او پۀ دا شان ئې تباهۍ سره مخامخ کوي. دا رنګې ئې کوشش وکړو چې د خپلو ګوډاګیانو پۀ ذریعه دې اتحاد او قامي تړون تړون نه فرقه وارانه رنګ ورکړي

د پېرنګي لوبه دا وه چې دا اتحاد او تړون پۀ مسلمانانو مات کړي او چونکه د خلافت تحریک خو خالص د مسلمانانو تحریک ؤ. هندوان خو ورسره د غېرت نه راپاڅېدلي وو نو کۀ مسلمانان دا اتحاد مات کړي نو لازماً به هندوان زړۀ بدې او مایوسه شي. چنانچه د تحریک بر خلاف اولنے اعلان نظام حیدراباد وکړو هغه پۀ 1920از کښې د مۍ پۀ دوه ویشتمه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمان جاري کړلو چې د خلافت تحريک چونکه د مسلمانانو د مفاداتو برخلاف دے پۀ دې وجه ئې پۀ دغه تحريک پابندي ولګوله.

د خلافت تحريک پۀ دوران کښې ګاندهي او علي برادران پۀ کډه علي ګړه مسلم يونيورستۍ ته تللي وو. د هغې اثر د خورولو د پاره پېرنګي اخوا خپله توجوه وګرځوله او عليګړه ئې د مسلمانانو د حقوقو د تحفظ او د هندوانو سره دښمنۍ ته تيارول شروع کړل.

هم دا رنګې د وائسرائے هند د ايګزيکټيو کونسل يو ممبر محمد شفيع پۀ خپل يو ياد داشت کښې پۀ 2/11/1921 دا تجويز پېش کړو:

1. يو دا چې د هندوستان د متحده تحريک د کمزوري کولو د پاره دا ضروري ده چې مسلمانان د دې تحريک نه را جدا شي او هغه به داسې کېږي چې پېرنګيان د ترکو سره څۀ مناسب صلح نامه وکړي.
2. دويم تجويز د يو تنظيم جوړول وو. د انګريز او مسلمان د اتحاد د داسې تنظيم جوړول چې هغه د برطانوي سلطنت پۀ ګټه وي يا Anglo Mohammadan Union in the British Empire د دې پۀ نتيجه کښې لارډ ريډنګ وائسرائے هند پۀ 21/9/1922 وزير هند ته ليکي چې؛

> I have just sent you a telegram which will show you how near we have been to a complete break between the Muslims and Hindus. I have been giving the greatest attention to this possibility, and I had the greatest assistance from Shafi in my council, who is a highly respected Mohammadan.

ترجمه: ما اوس تا ته يو تار درلېږلے دے چې هغې نه به تاته دا خبره واضحه شي چې مونږ څنګه د هندو او مسلمان تر منځه د جدايۍ راويستلو پۀ مقصد کښې تر ډېره حده پورې کامياب شوي يو ما پۀ خپله دې مسئلې ته ډېره توجه کړې ده او پۀ دې سلسله کښې زما





امداد شفيع کړے دے، څوک چې د کونسل ممبر دے او ډېر باعزته مسلمان دے.[2]

څومره چې وخت تيرېږي نو پېرنګے مجبوراً دې نتيجې ته رسيږي چې د مسلمانانو پۀ ذريعه هغه دغه مقصد ضرور تر ګوتو کولے شي هغه ته ډېره اسانه وه چې ځان پۀ دې خلاص کړي چې پېرنګي خو اختيار پرېښودو ته تيار دے خو چې مسلمان او هندو پۀ خپل کور کښې روغه نه شي کولے نو دا خو د دوي خپله بدبختي ده، د دواړو روغه ئې ورته شرط ايښے ؤ. دې خوا ئې د خپلو ګوډاګيانو پۀ ذريعه دا کوشش ؤ چې د روغې جوړې هېڅ رو ګودر معلوم نۀ شي چې دواړه ډلې پېرنګي ته ناستې وي، د دوي پۀ حقله وزير هند لارډ برکن هيډ Lord Birkenhead پۀ 22/1/1925 داسې ليکي:

> The more it is made obvious that these antagonisms are profound and affect immense and irreconcilable section of the population, the more conspicuously is the fact illustrated that we and we alone can play the part of the composers.

ترجمه: څومره چې مونږ د دې ثابتولو کښې کامياب شو چې دا اختلافات دومره مونډيز او بنيادي دي چې دواړه فرقې يو بل سره يو ځاے کيدو ته نۀ پرېږدي نو دومره به دا حقيقت پۀ ډاګه کړي.

[2] سر اقبال هم د شفيع مسلم ليګ غړے ؤ. د سر شفيع پۀ سپارښتنه/ شفارس ورله د نائټ هُډ يعني 'سر' خطاب ملاو شوے ؤ. د شفيع ليګ او جناح ليګ اختلاف پۀ جداګانه انتخاب ؤ. هغه وخت جناح صاحب هندوستاني قوم پرست ؤ او جداګانه انتخاب ئې نۀ غوښتو. او شفيع ليګ او مسلک قاديان جداګانه انتخاب غوښتو د کومې مطالبه چې اغا خان 1906 کښې کړې وه د قادياني مسلک مشر خليفه بشير الدين 1927 يو کتابګوټے 'هندو مسلم پرابلم' پۀ دې مسئله ليکلے ؤ. شفيع ليګ او قادياني مسلک همنوا وو کله چې هندوستان د سائمن کمېشن بائيکاټ وکړو نو خليفه بشير الدين د قادياني رسالې 'الفضل' کښې يو ليک 'مسلمانان هند کے امتحان کا وقت' وليکلو او دتعاوف خبره ئې وکړه سر اقبال هم د شفيع ليګ د سېکټر پۀ حېث کمېشن سره د مرستې اعلان وکړو



Scanned by CamScanner

زمونږ دا حیثیت مجبوراً قبلوي چې مونږ. صرف مونږ د دې جوګه یو چې دغه دواړه ډلې یو ځاے وساتو.[3]

او چې د مقصد نشاندهي وشوله نو اوس پېرنګي ته د دې مقصد د حاصلولو د پاره د ذریعو او وسیلو ټولو کار پهٔ غاړه شو. اخېر پهٔ ډېرو کوششونو او سازشونو دغه کار تر سره شو او وائسراے ریډنګ پهٔ وزیر هند زېرے وکړو.

لکه چې پهٔ 1/1/1925 لیکي:

The bridge Gandhi had built to span the gulf between the Hindu and Mohammadan has not only broken down, but I think it has completely disappeared.

ترجمه: هغه کوم پُل چې د هندو او مسلمان. ترون د پاره جوړ کړے ؤ. هغه دا نه چې ګنې مات شو. بلکې هغه - فکر کوم - چې بېخي لهٔ منځه یو وړے شو.

ولې پېرنګي ته د ټولونه لوے تکلیف دا ؤ چې مسلمانان تس نس وو ځوک پهٔ یو جماعت کښې وو ځوک بل کښې د پرې او جمبې وې. د پېرنګي تابعداري خو ټولو قبلوله هغه د یو بل مشري ئې نهٔ منله هم پهٔ دغه خط کښې وائسراے لیکي چې حالات سازګار نهٔ دي او مسلمانان اوس پهٔ کلکه حکومت سره پهٔ ملګرتیا کښې تړلي دي، خو:

[3] د هندو مسلم تر منځه منافرت او کرکې د پاره وړومبے پهٔ 1906از کښې د مسلم لیګ بنیاد کېښودے شو ـ دا ځکه 1905از کښې لیبر پارټي واکمنه شوې وه چې هغې د منشور لهٔ رویه هندوستان کښې پارلېماني اداري جوړول غوښتل او دې سره د مسلمان اشرافیه چې د انګرېز تالي څټه وه، اثر کمېدو نو د ډاکټر مېکنزي پهٔ ډاډ سر اغا خان د تالي څټو مشرانو یوه ډله جوړه کړه، وائسراے سره ئې ولیدل، د جداګانه انتخاب غوښتنه ئې وکړه ـ د جداګانه انتخاب دا مطالبه د استعماري مدبرینو پهٔ اشاره وه ځکه لارډ لمنګټن بیا جان مورلے ته خط کښې لیکي چې هندوستان کښې زمونږ واکمني پهٔ دې کښې ده چې مختلفو قومونه یو کېدو ته پرې نهٔ ږدو. دا خط د میر بوس کتاب 'آغا خان' کښې دے





There is no great outstanding man to compose the differences and to lead them.

ترجمه: پهٔ مسلمانانو کښې داسې مشر نهٔ شته چې پهٔ چا دوی راغونډ شي او هغه د دوی لارښوونه وکړي

دغه وخت کښې د مسلمانانو دا حال ؤ چې هغه کوم د نورو ډلو او تحریکونو سره ؤ هغه خو پهٔ ځاے پرېږده پهٔ خپله مسلم لیګ پهٔ دوه ځایه تقسیم ؤ: یوه ډله د سر محمد شفیع. بله د جناح صاحب ډله وه. جناح صاحب نه پېرنګیان پهٔ دې خوابدي وو چې هغهٔ د ,مخلوط انتخابات، پهٔ حق کښې ؤ. نو کوشش دا شروع شو چې کهٔ دے د مخلوط پهٔ ځاے جداګانه طریقه د انتخاب ومني نو کار به اسان شي. هم پهٔ دې سلسله کښې وائسراے پهٔ 30/5/1929 کښې لیکي:

I had a long talk to Jinnah a few days ago which made it very clear to my mind that he and all the Bombay people, who are not disposed to love congress, are disposed to swing in our direction it we can give.

ترجمه: ما د جناح سره اوږده مرکه وکړله هغې نه دا خبره پهٔ ډاګه څرګندېږي چې هغه او د هغهٔ سره نور د بمبۍ ملګري ئې د کانګرس سره مینه نهٔ لري زمونږ پرې ته را اوړویدو د پاره تیار دي. خو کهٔ مونږ هغوی سره د وروستو امداد وعده وکړو

نو چې کله د وائسراے او جناح صاحب د ملاقات نه پس دوی پهٔ دې نتیجه ورسېدل چې جناح صاحب به د سرکارغاړې ته ور واوړي نو اوس پېرنګي ته اسانه شوله چې د مسلم لیګ دا ډلې یو کړي. لکه چې وائسراے پېشنګوئي کړې ده (21/3/1929ز):

The two wings of the Muslim League are to meet in Delhi at the end of this month with a rapprochement between sirs Mohd. Shafi and Jinnah ...... Jinnah may be expected to



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



regain before lone his former commanding influence in the Muslim League.

ترجمه د مسلم ليګ دواړه ډلي به د دې مياشتې په اخېره کښې په ډيلي کښې راغونډيږي چې د سر محمد شفيع او جناح تر منځه روغه وکړي

د دې خبرې توقع ده چې جناح بيا هغه خپل زوړ اثر او رسوخ په مسلم ليګ کښې تر ګوتو کړي

فکر کوئ غونډه نه ده شوې. ولې وائسراے خبر دے چې روغه به کېږي او روغه هم داسې چې سر محمد شفيع به جناح صاحب ته مخه ازاده کړي. دغه کار خو تر سره شو اوس ورله ډله پکار ده او د ډلې نه علاوه ورله د رقم انتظام هم کول غواړي. وائسراے په 26/11/1929ز کښې ليکي:

I hear that suggestion are being put out that Govt. should in some way towards raising funds in order to organize proper Muslim representations and of course we should like them to have the best advocacy they can find

ترجمه داسې اورو چې دا تجويزونه وړاندې کېږي چې سرکار دې په دې مسئله غور وکړي چې د مسلمانانو د باقاعده نمائندګۍ د پاره د رقم مناسب انتظام وکړي. يقيناً مونږ دا غواړو چې د مسلمانانو دې باقاعده ښه منظمه نمائندګي وشي

پېرنګي لکه چې دا ذمه اخستې وي چې د پارټۍ د تنظيم په سلسله کښې به د ټولو د يو کولو هم کوشش وشي. د څندې غور به هم وشي. خو يوه مضبوطه او منظمه پارټي ضروري ده وائسراے غريب لګيا دے لکه چې د خپل ملاقات حال د سرفضل حسين سره په 2/2/1931ز ليکي:

He (Fazal Hussein) developed the view that the only chance of sure progress was that a strong party should come in to being which should devote itself to fighting





congress.

ترجمه هغه (يعني سرفضل حسين) د دې نظرئې په حق کښې دے چې د پېشرفت د پاره صرف يوه لاره ده چې يوه مضبوطه پارټۍ منظمه کړے شي او کار ئې صرف د کانګرس سره مقابله وي

د کانګرس سره د مقابلې او جنګ د پاره ډله پکار ده او د مسلمانانو پکار ده. پېرنګے استاد شا ته ناست دے خپلو ملګرو ته داسې هدايات جاري کوي ته به وائې دے د مسلم ليګ صدر دے. لکه لارډ ايروين Lord Irwin چې په 9/2/1931ز کښې د خپلې پارټۍ کارکنانو ته خطاب کوي:

I told him (sir Mohd. Shafi) that I thought they would all have to right hard and that it was no good supposing that a few packed meeting. of newspaper articles would meet the situation . They must be prepared to go out as whole time missionaries and carry the flaming torch throughout the length and breadth of India. They must be prepared to build up a greet organization which might focuss all constructive efforts to fight congress.

ترجمه: ما سر محمد شفيع ته ووې چې تاسو ته ښه مضبوط جنګ در په غاړے دے. په دې نه خلاصيږئ چې چرته په کمرو کښې په دغو غونډو سره يا د اخبارونو په مضمونونو به ستاسو مقصد ترسره شي. تاسو له پکار دي چې ټول وختي کار وکړئ. خانونه دې کار ته وقف کړئ او د حرکت دا شمع د هندوستان ګټ ګټ ته ورسوئ او د يو داسې قوي تنظيم بنياد کېږدئ چې هغه د کانګرس په خلاف يو تعميري تحريک وي

وائسراے دا هدايات ورکړل. بيا ليکي چې وعده وعيد وشول:

...... and they propose to get to work vigorously and comprehensively. This is encouraging and I only hope this good resolution do not fade away.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه هغوي اراده لري چې ډېر زر به باقاعده او مکمل کار شروع کړي. دا ما ته ډېره د زړهٔ غتباوي خبره ښکاري او امید لرم چې دا نېک تجویزونه به نیمګړي نه پاتې کېږي

وائي چې مونږ پوره منصوبه تیاره کړې ده. رقم به والیان ریاست ورکوي. پېرنګیانو لوبه داوه چې دلته پهٔ هندوستان کښې مونږه مسلمانان راغونډ کړو د هغوي نه یوه ډله جوړه کړو چې هلته پهٔ لندن کښې پېرنیګان نورې دنیا ته دا لانجه داسې رامخکښې کړي چې هندوستانیان پرېې پهٔ خپل کورکښې نهٔ جوړېږي.

چنانچه د اول غونډمېزي کانفرنس د رابللو پهٔ دوران کښې پېرنګي د دغه فرقه وارانه اختلافاتو نه پوره فائده واخسته بیا ئې دا کوشش نور هم پهٔ زور شور شروع کړلو چې مسلمانان پهٔ شا وټېوي او د کانګرس مقابلې ته ئې ښهٔ پهٔ کلکه ودروي او چې بیا کله دویم غونډ مېزي کانفرنس پهٔ لندن کښې را وبللے شي. نو اګرچه ګاندهي جي هم پهٔ دغه کانفرنس کښې شریک شو. مګر چونګې هغهٔ خپله لوبه جاري وساتله. نو د دې پهٔ حقله وزیر هند سر ماموېل هور Sir Samuel Hoare پهٔ 10/2/1931ز لیکي:

> The delegates are mush further off with each other then they ware last year. and I don't believe there is the least chance of a communal settlement in the minorities committee.

ترجمه: د دواړو ډلو نمائندګان پروسږ کال پهٔ نسبت سږ کال نور هم د یو بل نه لري دي او دا مې یقین دے چې د اقلیتي کمېټۍ پهٔ غونډه کښې د فرقه وارانه مسئلې د حل کولو څهٔ هم امکان نهٔ دے پاتې

پېرنګي کهٔ یو خوا مسلمانان د کانګرس پهٔ مرۍ کښې اچول نو پهٔ دغه بل اړخ ئې دا کوشش ؤ چې کهٔ دا اچهوت یا هریجن Depressed classes.





untouchables د ذات پات د هندوانو نه را اوشوکوي. نو پهٔ دې طریقه به د هندوانو پره کمزوري شي. ښهٔ پر امید دي چې د والیان ریاست نه علاوه ورله د هریجنومشر امبیډکر Ambedka پهٔ ګوتو ورغے. وزیر هند پهٔ 27/12/1932ع لیکي:

> Ambedka has behaved very well at the Conference and I am most anxious to strengthen his hands in every reasonable way.

ترجمه پهٔ کانفرنس کښې د امبېډکر رویه ډېره ښه وه زهٔ پهٔ دې کښې ډېر سخت غرضي یم چې پهٔ هره معقوله طریقه دې زهٔ د هغهٔ متې مضبوطې کړم

خو دغه درک هم ورله ګاندهي جي ورک کړ. ګاندهي جي د هریجنو د حقوقو د تحفظ د پاره او هغوي لهٔ د هندوانو پهٔ مذهبي معاشره کښې د یو باعزته مقام ورکولو د پاره د مرګ روژه ونیوله امبیډکر پهٔ دوه ؤ کښې ګېر ؤ، کهٔ د هریجنو پهٔ نامه پېرنګي سره ودرېږي نو هلته د ګاندهي د روژې پهٔ نتیجه کښې د مرګ ذمه واري پرې راځي او کهٔ د ګاندهي جي سره څهٔ دروغې جوړې لار وباسي نو د پېرنګي د ملګرتیا او امداد نه به لاس وینځي. خو اخېر د ګاندهي جي روژې رنګ راوړلو. امبیډکر د ټول هندوستان رائې عامه پهٔ دې مجبوره کړلو چې کهٔ ته د هریجنو د حقوقو تحفظ غواړې. نو بیا خو ستا پره د ګاندهي جي سره ده اخېر پونا یکټ Poona Pact پهٔ نامه د هریجنو او ګاندهي جي تر منځه یوه لوظنامه وشوله او امبیډکر پرې دستخط وکړلو. نو د پېرنګي دغه غوز خو متاک وخوت نو اوس خو ورته صرف او صرف مسلمان پاتې شو. ولې د مسلمانانو پهٔ سلسله کښې پېرنګي ته یو بل مشکل پېښ شو چې د کله نه لارډ ولنګډن د ایروین پهٔ ځاے وائسراے مقرر شو نو جناح صاحب پهٔ کډه د هندوستان نه انګلستان ته لاړ. داسې وئیلے کیدل چې د جناح صاحب د ولنګډن سره هغه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت څهٔ نا چاقي او زړهٔ بداوے راغلے وُ چې کله ولنګډن د بمبی ګورنر وُ. چې ولنګډن کله د هندوستان د ټول واکه وائسرا ے پهٔ حیثیت کښې ډیلي ته راغے. نو جناح صاحب خبر پهٔ دې کښې ولیدې چې ملک پرېږدي. چنانچه کله دریم غونډ مېزي کانفرنس د پاره وائسرا ے د مسلمانانو نومونه لیکل. پهٔ هغې کښې د جناح صاحب نوم نهٔ وُ. بلکې هغه شپږ د مسلمانانو نمائندګان دا وو. هیز هائنس اغا خان. انربیل چوهدري ظفر الله. ډاکټر شفاعت احمد خان. سر عبدالرحیم. سر محمد یعقوب او سر محمد اقبال. خو پېرنګے مطمئن وُ. هغه د خپله جانبه د فرقه وارانه بیلتون د پاره دومره خواري کړې وه چې وائسرا ے دا تسله وزیر هند لهٔ پهٔ 31/10/1932 ورکوي:[4]

The Hindus, Sikhs and Muslim are to meet no Nov.3 at Allahabad to Endeavour to arrive at an agreement which will do away with the communal Award. I am assured by those who know that no agreement will ever be reached.

ترجمه هندوان. سکهان او مسلمانان به پهٔ دریمه د نومبر پهٔ اله اباد کښې راغونډیږي چې د کیونل ایوارډ پهٔ خلاف فیصله وکړي. ما لهٔ با خبره خلقو دا تسله راکړې ده چې د متفقه فیصلې هېڅ امکان نشته

پېرنګي د دې خپلې پالیسی نه بیخي مطمئن ؤ او دا ئي پوخ یقین ؤ چې کهٔ د نورو اصلاحاتو پهٔ رڼا کښې اوس پهٔ هندوستان کښې انتخابات وشي. نو

---

[4] سر محمد اقبال د سر ظفر الله خان سخت خلاف پهٔ دې ؤ چې کله سر فضل حسین د پنجاب وزیر اعلي شو او د هغهٔ پهٔ ځا ے سر ظفرالله د وائسرا ے کونسل غړے شو چې سر اقبال ئې امیدوار ؤ نو د ے د هغهٔ لهٔ کبله د مسلک قادیانیت خلاف شو او اخبارونو کښې ئې ورپسې لیکل پېل کړل؛ البته جناح صاحب سر ظفر الله قادیاني خپل زو ے بللو لکه د اوویشتم مارچ 1939 از اسمبلی وینا کومه چې عاشق حسین بټالوي خپل کتاب کښې درکړې ده وروستو ئې سر ظفرالله خان د پاکستان د بهرنیو چارو وروم‌بنے وزیر وټاکلو





هغه فرقه وارانه جذبات پېرنګي داسې راپارولي وو چې هغه کښې د دوارو فرقو تر منځه د ملګرتیا او اتحاد هډو سوال د منځه نه وتے ؤ او لکه څنګه چې پېرنګیانو دا مبارکي اخستې چې پهٔ دویم ګول مېز کانفرنس کښې اختلافات د اولنې نه زیات وو نو هم بیخي پهٔ دا رنګه ئې ولیدل چې پهٔ دریم کانفرنس کښې دا اختلافات د دویم نه هم نور زیات شوي وو او معلومېده داسې چې پېرنګي پهٔ دې لوبه ډېر خوشحاله ؤ چې د دې ځا ے نه د هندوستان د مختلفو فرقو او ډلو مشران لندن ته بوځي. هلته ئې لکه د مرزانو وجنګوي او چې څهٔ د روغې جوړې لار ونهٔ وځي نو پېرنګے به ټولې دنیا ته مخ کړي وائي به چې مونږ څهٔ وکړو؟ مونږ خو کهٔ هر څومره کړاو. تاوان او خواري کوو. خو چې هندوستانیان یرې پهٔ خپل منځ کښې نهٔ جوړېږي. نو زمونږ لاره څهٔ ؟

پېرنګي د لارډ ایروین د وخت نه دا پهٔ څرګنده لیدل چې کله پهٔ فرقه وارانه طریقه انتخابات کېږي. نو هغه کښې به لازماً مذهبي جذبات را لړزېږي او پهٔ مسلمانانو کښې به هغه ډلې قوي کېږي کومې چې د مذهب پهٔ نامه ووټ غواړي او دې کښې ئې دوه ښېګړې لیدلې: یو خو دا چې د کانګرس مقابلې داره به پهٔ مذهبي عقیده منتخب شوي مسلمانان ممبران ودریږي او دویمه دا چې د قام پرسته مسلمانانو د مقابلې د پاره د اسلام نوم استعمال شي نو پهٔ دا شان به د قامي خلقو پهٔ ځا ے فرقه وارانه نمائندګي تسلیم کړے شي او مخکښې به د اتحاد او ملګرتیا د پاره د کانګرس سره چرې هم یوځا ے نهٔ شي.

اوس هم اګر چې وزیر هند بار بار دا خطونه لیکل چې وائسرا ے ولنګډن د دې نه منع کړي چې انتخابات وکړي. ولې ولنګډن پهٔ دې ټینګ ؤ چې کانګرس بیخي کمزورے شوے دے ولې چې د هغوي د سول نافرمانۍ تحریک ناکامیابه شو تر دې چې وائسرا ے ویل چې ګاندهي جي ختم دے



Scanned by CamScanner

د هغه خپلو افسرانو، رپورټونو او ډائرو بېخي په دې يقيني کړے ؤ چې د اليکشن په نتيجه کښې به فرقه وارانه جذبات دومره راوپارېږي او ترمنځو به نفرت او کرکه دومره زيانه شي چې دې کښې د کانګرس د ګټې هډو د هيڅ قسمه ګنجائش نشته. البته په دې خبره پوهه دي چې د کانګرس په مقابله کښې څه تکړه او زړؤوره ډله نشته لکه چې ليکي (9/9/1934ز):

But alas Our backers are flabby crowds without any courage whiles the congress. However stupid their actions, are not afraid of fighting.

ترجمه بلکې افسوس دا دے چې زمونږ ملګري پرسمن دي او جرات پکښې نشته د دې په مقابله کښې کۀ کانګرس هرڅومره بې وقوفي لري خو بياهم د مقابلې نه غاړه نه غروي.

خوخېر. د دغه کمي او نيمګړتيا د پوره کولو د پاره هم وائسراے انتظام کړے ؤ او کۀ سياسي ډله نه وه نو سرکاري ډله خو وه کنه. لکه چې په 24/9/1934ز ليکي:

I have written to Governors asking them to give a hint to their ministers to help pro.govt. candidates and also asking them. if opportunity offers. to see that good candidates are selected ......... we have to sit quite still up here and say nothing except in private ........ on publicity we are doing the best we cop.

ترجمه ما صوبائي ګورنرانو ته ليکلي دي چې خپلو وزيرانو ته اشاره وکړي چې د سرکار د ډلې اميدواران کامياب کړي او دې ته هم فکر وکړي چې ښۀ اميدواران وټاکي خاني به مونږ دلته غلي ناست يو او بې د ذاتي مجلسونو به د زړۀ خبره په ډاګه نۀ کړو۔ د پروپيګنډې په سلسله کښې مونږ خپل پوره وس کوو.





## د صوبائي انتخاباتو تيارے

د لارډ ولنګډن د وائسراے توب خاتمه په 1936ز کښې وشوله د دۀ په ځاے نوے وائسراے لارډ لينلتهګو Lord Linlithgow راغلے هلته لندن کښې د وزير هند سر ساموېل مور په ځاے زېټلېنډ Zetland نوے وزير هند مقرر شو دې دواړو په شريکه او په خصوصيت سره وائسراے لينلتهګو په دې خپل دور کښې د هندوستان د مختلفو فرقو يعني هندو او مسلمان تر منځه د نفاق او بيلتون دا مسئله دومره په استازي او صفائي مخکښې بوتلله چې د هغوي يو ځاے کيدو د پاره پکښې د هيڅ قسمه ګنجائش پاتې نۀ شو د دۀ هم لکه د مخکښې وائسراے لارډ ايروين هسې دا نسله وه چې دلته کښې کله انتخابات کېږي او په جدا ګانه طريقه انتخاب کېږي يعني چې هندو په هندو لۀ او مسلمان به مسلمان لۀ ووټ ورکوي، نو د دې انتخاباتو په نتيجه کښې به اورمرو فرقه وارانه جذبات پاروله امېدواران به د مختلفو فرقو د مذهبي جذباتو او خواهشاتو په بنا نه ووټ غواړي او نتيجه ئې څرګنده ده چې په اسمبلي کښې به هندوستاني ذهن ممبران نه وي. بلکې هندوان او مسلمان به عقيدې په بنياد هرې مسئلې ته ګوري او د خپل سياسي مستقبل ئې هميشه په دې نظر وي چې څۀ داسې پاليسي اختيار نه کړي ووټران ترې نه خفه او مايوسه شي نو لازمي خبره ده چې په داسې سياست قامي مفادات نه بلکې فرقه وارانه مفادات سواره وي

د دغه وخت په حقله وائسراے ليکي چې موجوده وخت کښې. کانګرس کښې اختلافات دي د ګاندهي جي او موجوده صدر جواهر لال نهرو تعلقات هم ښۀ نۀ دي او ګاندهي جي د دې خاطره د کانګرس سالانه غونډه په دسمبر کښې رابللې ده ،اګر چې معياد ئې تر مخکې کال اپريل پورې



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے، چې نوے صدر منتخب شي وائسرا ے ليکي چې په صدرات کښې هم اختلاف دے ولې چې گاندهي جي غواړي چې اراج گوپال اچاريه صدر شي او جواهرلال کوشش کوي چې عبدالغفار خان د خان نه پس صدر کړي

خبر چې پېرنگي صوبائي انتخابات وکړل نو د هغې په نتيجه کښې کانگرس د هندوستان د يوولسو صوبونه په اتو کښې اکثريتي ډله وه. نو اوس خو پېرنگے په بل رنځ اخته شو. اوس خو د هندوستان اولس خپله فېصله واوروله او د دې خبرې هېڅ قسمه گنجائش پاتې نۀ شو چې کۀ سبا لۀ د 1935 از ايکټ د لاندې هغه دويمه مرحله د مرکزي اسمبلۍ د انتخاباتو راځي نو اختيار به په مرکز کښې هم د کانگرس ډلې ته ځي

نو اوس پېرنگے په دې مجبور دے چې د انتخاباتو د نتيجو په رڼا کښې د پېدا شوي حالاتو سر دوباره جاج واخلي او د کانگرس د مقابلې د پاره نور قوتونه راټول کړي

پېرنگي چې چاپېره وکتل نو د هغۀ په نظر کښې درې قوتونه وو چې د کانگرس مقابله پرې وکړے شي. د ټولو نه لوے او وفادار قوت د هندوستان د څۀ د پاسه شپږ سوو (600) رياستونو د واليانو ؤ چې هلته نۀ انتخابات کېدل او نۀ د قامي او اولسي حکومتونو د قائمولو څۀ امکان ؤ. د چرچل د وېنا مطابق د دغو رياستونو ابادي نهه (9) کروړه ده. دويم طاقت چې هغه پرې کانگرس ته نقصان رسولے شو هغه اچهوت (هريجن) Scheduled Castes وو چې پېرنگي دا اواز وکړو چې کانگرس خو د برهمنانو او ذاتي هندوانو تنظيم دے دا هريجن ځانله جدا قوم دے او د چرچل په وېنا قابو څلور کروړه ابادي لري. دريم قوت د مسلمانانو دے چې هغه هم څۀ لسو کروړو ته قابو دي واليان رياست په مقابله کښې جواهرلال نهرو د يو تنظم بنياد کېښودو چې هغې ته ئې (د رياستونو د خلقو کانگرس) States People`s Congress وايۀ. واليان رياست وليدل چې د ملک





حقيقي حاکم پېرنگے د کانگرس مقابله ونۀ کړې شوه ، نو دغه غريبانان به ئې څۀ وکړې شي بله دا چې د هغوي نه هم پېرنگي لشه ويستلې وه او پکښې دومره ئې چرته د سر سرے پرېښے نۀ ؤ چې چا کښې به لږه هم څه خود داري وه. لا عزت نفس ؤ. پېرنگيانو ډېر کوشش وکړو. خو خوند ئې ونۀ کړو. اخېر وزير هند ايمري Amery دومره مايوسه او په قار شو چې د دې نوابانو. شهزادگانو او راجگانو په حقله په دې ليکلو مجبور شو:

> It has been real mistake of ours in the past not to encourage Indian princes to marry English wives for a succession of generations and so breed a more virile of a native ruler ……
>
> (Documents 1.10.194)

ترجمه: په ماضي کښې زمونږ نه دا سخته غلطي شوې ده مونږ بايد د هندوستاني شهزادگانو حوصله افزائي کړې وے چې د نسلونو نسلونو په تېرېدو سره ئې انگرېزې ښځې کولې چې په دې توگه د ملکي حکمرانانو په سپړه طرز منځ ته راغلے وے.

مطلب دا دے چې د ايمري مطابق خو د دوي دا نسل د وروکولو دے. دوي کښې خو هډو د سره څۀ نازينتوب نۀ شته. علاج ئې دا ښويدلے دے چې پکار وو چې مونږ وخت د سره نه دا کوشش کړے وے چې دا واليان رياست پېرنگي ښځې کړے وے چې څۀ نارينه اولاد ئې راوړے وے او نن زمونږ پکار راغلے وے

د هريجنو مسئله ورله گاندهي جي حل کړله. هغه د هريجنو د حېثيت د پاره او هغوي لۀ د مساوي حق گټلو د پاره روژه ونيوه او روژه هم د مرګ پورې. د هريجنو مشر امبيډکر خو حکومت په خپل لاس کښې اخستے ؤ او پېرنگے ښۀ مطمئن ناست ؤ. ولې دې خوا ورته دا لانجه گاندهي جي پېښه کړله چې هندوانو امبيډکر ته مخ وگرځوه (چې کۀ تۀ په رښتيا د هريجنو د پاره



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیثیت او حق غواړي. نو بیا خو پکار دي چې ته ګاندهي جي سره په شریکه ملا وتړې ولې چې ستاسو د دواړو خو یو مقصد دے ،

امبیډکرمجبور ؤ. بله لار ورته ګاندهي جي نهٔ وه پرېښې اخېر ګاندهي جي هله روژه ما ته کړله چې امبیډکرد (پونا پکټ) په نامه د ګاندهي جي سره دستخط وکړو او په دا شان دغه دویم قوت د انګریز هم د هغه د لاسه ووت نو اوس خو ورته صرف او صرف مسلمانان پاتې شو چې په هغوي کښې کاروکړي او هغوي د کانګرس سره سره مقابلې ته تیار کړي د لارډ.ولنګډن د تللو سره جناح صاحب بیا وطن ته واپس راغے وائسرائے هند هغه ملاقات لهٔ وغوښتلو د دې ملاقات په حقله هغهٔ چې کوم خط وزیر هند ته په 9/9/1937ز کال لیکلے دے. هغې کښې ئې دا خبره کړې ده:

He took very strongly the view that we didn't pay sufficient attention to the Muslim. That there was the real risk of the Muslims being driven into the arms of the congress.

ترجمه: هغهٔ دا خبره په شدت سره محسوس کړې ده چې مونږ مسلمانانو ته څهٔ خاطرخواه توجه نهٔ ده کړې شوي او د دې په نتیجه کښې دا خطره قائمه ده چې مسلمانان دې کانګرس کښې پریوځي.

او د دې په دلیل کښې مخکښې وائي چې جناح صاحب زما ګاندهي جي سره په ملاقات هم ګیله من ؤ:

He (Jinnah) suggested that the interview (with Gandhi) was largely responsible for the lifting of the ban on Abdul Ghaffer's retune to the Frontier province & the tall of Abdul Qayyum's ministry (Sahibzada).

ترجمه: هغهٔ ووې چې د ګاندهي جي سره د ملاقات په نتیجه کښې د عبدالغفارخان نه پابندي لرې شوه او هغه خپلې صوبې نه ازاد شو او هم په دا شان د (صاحب زاده) عبدالقیوم وزارت شکست وخوړو.





یعني جناح صاحب پېرنګي ته وائي چې زهٔ د کانګرس دومره پورې خلاف یم چې کهٔ زما خپل هم مذهبه مسلمان وروړ هم د کانګرس سره ملګرتیا کوي نو زهٔ د هغې بر خلاف هم پېرنګي سره پره کښې ودریدو ته تیار یم او تماشه خو دا ده چې سر صاحب زاده عبدالقیوم خو په مسلم لیګ کښې نهٔ ؤ. ولې حقیقت دا دے چې تر دغه وخته پورې خو په صوبه سرحد کښې دومره د مسلم لیګ تنظیم هم نهٔ ؤ څکه خو په اسمبلۍ کښې یو ممبر هم د مسلم لیګ نهٔ ؤ. ولې چونګې صاحب زاده صاحب د سرکار سړے ؤ نو د دې وجې نه جناح صاحب د هغهٔ د وزارت په ماتیدو خفه ؤ او دې خوا هم لږ فکر پکار دے چې د صاحب زاده صاحب وزارت خو د عدم اعتماد د ووټ په ذریعه مات شوے ؤ نو جناح صاحب لکه چې د جمهوري ادارو هم څهٔ خاص ضرورت نهٔ محسوسولو

خبرې اترې لکه چې رواني وې د وائسرائے سره په بل ملاقات کښې خبره لږه نوره هم څرګنده شوله. وائسرائے لیکي (19/8/1938ز):

He (Jinnah) I ended up with the suggestion that we should keep the centre as it is now. That we should make friends with the Muslims by protecting in the Congress provinces and that if we did that, the muslin would protect us at the Centre.

ترجمه: هغهٔ (جناح صاحب) په اخېر کښې دا تجویز پېش کړو چې مونږ دې مرکز هم داسې پرېږدو او مونږ لهٔ پکار دي چې د مسلمانانو سره دوستي وکړو او د کانګرس د حکومتونو په صوبو کښې کهٔ مونږ د مسلمانانو حفاظت وکړو. نو مسلمانان به په مرکزکښې زمونږ امداد وکړي [5]

---

[5] خبرنګاره ډاکتر عائشه جلال خپل کتاب The sole Spokesman کښې په مخ 45 لیکي چې اګست 1938ز کښې جناح صاحب قائم مقام وائسرائے لارډ برابورن سره دا سودا بازي کوله چې کهٔ



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه داسې سودا بازي به وشي پېرنګې پوهه دے چې کۀ زۀ پۀ مرکز کښې انتخابات کوم نو دلته مرکز کښې. د مرکزي حکومت اختيار د کانګرس لاس ته ورځي نو د هغۀ دا کوشش وو چې پۀ هره طريقه وي چې د 1935 از ايکټ د لاندې د مرکز د انتخاباتو نه پۀ څۀ چل ځان خلاص کړي. نو جناح صاحب ورسره پۀ دې سودا ته تيار دے. مطلب دا جناح صاحب پۀ واضحه ټکو کښې وائي چې اختيار دې هم پېرنګي سره پاتې شي پۀ مسئله کښې هم لکه چې د پېرنګي او مسلم ليګ پاليسی سره پوهه وي. لکه چې وائسراے پۀ 29/1/1939 کال ليکي:

I gathered further that a resolution was actually passed at Patna to the effect that the All India Muslim League aside if Congress intervention in the affair of the states continued.

ترجمه زۀ داسې خبر شوے يم چې پۀ پټنه کښې يو تجويز دا هم پاس شوے دے چې کۀ کانګرس پۀ رياستونو کښې خپل مداخلت بند نۀ کړو، نو بيا به مسلم ليګ هم مجبوراً دغه کار ته ملا وتړي.

يعنې مطلب دا چې مسلم ليګ د رياستونو د اولس حقوقو هم خلاف دے او عجيبه خبره دا وه چې پۀ دې څۀ د پاسه شپږو سوو (600) رياستونو کښې به پۀ مشکله لس هم د مسلمانانو نه وو او د ټولو نه لويه خبره دا وه چې پۀ کشمير کښې مسلمانان د خپل هندو مهاراجه پۀ خلاف د خپلو حقوقو د پاره راپاڅيدلي وو، د مسلم ليګ نه هغه هم هېر وو او نن ئې د هندوانو واليان رياست د حق د پاره د کانګرس ګريوان ته لاس اچوو.

وائسراے د جناح صاحب سره د يو بل ملاقات پۀ حقله 28/3/1939 کال

---

انګرېز د کانګرس حکومت واله صوبو کښې د مسلم ليګ مرسته وکړي نو مسلم ليګ به مرکز کښې د انګرېز استعمار مرسته کوي: اګر کۀ مسلم ليګ لۀ سره د انګرېز ډله وه خو جناح صاحب سودا بازي د يو هوښيار وکيل غوندې هم وخت پۀ خت کوله





کښې ليکي:

But he (Jinnah) was satisfied now, he thought that the present system would not work, and that a mistake had been committed is going so far.

ترجمه: خو هغه (جناح صاحب) پۀ دې مطمئن ؤ چې دا موجوده اصلاحات د چلېدو نۀ دي او دا دومره ډېر اختيارات ورکول هم يوه غلطي ده

مطلب دا دے چې صوبو لۀ هم پۀ حق ور کولو خفه دي وائسراے ليکي چې جناح صاحب پۀ دې بيخي ټينګ ؤ چې اصلاحات هندوستاني لۀ قطعي نۀ وو ورکول پکار، او چا چې دغه مطالبه کوله هغوي د حالاتونه نا خبره وو جمهوريت دلته چلېدو نه دے. بلکې غلطي شوې ده چې پۀ صوبو کښې مو انتخابات کړي دي او اختيار د قام منتخبو نمائندګانو ته سپارلے شوے وے. پښتانۀ متل کوي چې ړوند د خدايه څۀ غواړي؟ دوه سترګې نو پېرنګي څۀ غوښتل د خدايه چې داسې يوه ډله راله پۀ ګوتو راشي چې هغه د پېرنګي نه هم زيات پۀ جمهوريت بد ګڼي او هره يوه پاليسي چې د پېرنګي پۀ خېر تمامېږي. هغې سره نۀ صرف پوره اتفاق بلکې د هغې د مخالفينو سره د پېرنګي د پاره مقابلې ته هم تيار دي.

## د يورپ دويم جنګ

دا خبره ياد ساتل پکاردي چې پېرنګے پۀ دغه وخت کښې د دنيا پۀ ګټ ګټ کښې خور ؤ او ډېر پۀ فخر به ئې دا خبره کوله چې د پېرنګي پۀ سلطنت کښې نمر نۀ پرېوځي چې دا يو حقيقت ؤ. هغۀ د ټولې دنيا نه پښې راچاپېره کړې وې، پۀ کروړونو بنيادمان ئې غلامان کړي وو. د هغه ملکونو دولت د دۀ د بچو خوراک ؤ. د هغوي متې دوه فوجونه وو. نو د دې وجې نه چې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه د هغهٔ سلطنت بین الاقوامي ؤ دغه شان د هغهٔ پالیسي هم د بین الاقوامي حالاتو تابع او ماتحت وې. پهٔ هندوستان کښې د انتخاباتو نه پس پهٔ صوبو کښې د کانګرس پهٔ وزارتونو دے ډېر خوا بدے او پرېشانه ؤ، ولې اخوا نور خو پرېږده چې د دهٔ پهٔ خپل ګاونډ کښې هټلر یورپ را پهٔ مخه کړے ؤ او هغه د چا سوګړ خبره چې جغرافیه ئې اسانوله: وارهٔ وارهٔ ملکونه ئې د ستونې ښکته کول. د اټلي مسولیني هم ورسره کلک تړلي ولاړ ؤ. څهٔ لږه ډېره ماره داړه هغهٔ هم کوله. پېرنګي خپلې ډېرې استادۍ وکړې نو هغه د پښتنو خبره چې زوړ راشي نو چل نهٔ تېنګېږي اخېر پېرنګے مجبور شو او د 1939ز کال ستمبر پهٔ دریمه ئې د جرمني خلاف اعلان جنګ وکړو. اوس خو پېرنګے پهٔ خپل کور دننه پهٔ خپل غم اخته شو. ولې چې جرمني ته مخې ته څوک ودریدے نهٔ شو. د ملک پهٔ اخستو ئې ګټې لګیدلې. پېرنګي پهٔ دې بختور ؤ چې د هغهٔ او یورپ تر منځه د کاروبار د سمندر ؤ. ګنې نو د دهٔ هم خبر نهٔ ؤ.

حکومت برطانیه چې کله د جرمني بر خلاف اعلان جنګ کوو نو د هندوستان د اړخ نه ئې هم پکښې اعلان وکړو کانګرس پهٔ دې اعتراض وکړو چې د هندوستاني د تپوس نه بغیر څنګه زمونږ د طرف نه د جرمني پهٔ خلاف اعلان وشو؟ ولې چې اوس خو کانګرس دا دعوي پهٔ ځائے کولې شوه چې د تیرو انتخاباتو پهٔ رڼا کښې. هغه پهٔ حقیقت کښې د هندوستان د اولس نمائندګي کوي. پېرنګي خو اول پهٔ دې ډېر حیران شو بیا ئې تپوس وکړو چې یوفسطائي (Fascist) قوت راپورته شوے دے. د ملکونو ازادي غصب کوي او هغوي غلامان کوي نو د کانګرس نه دا تپوس کوو چې دوي به پهٔ پره کښې د دغه قوت سره ودرېږي او کهٔ نه؟ د هغه طاقتونو ملګرے به وي کوم چې د ازادۍ، امن او سولې د پاره جنګېږي؟ کانګرس ورته پهٔ ځواب کښې ووې چې اصولاً خو مونږ ببخي د ازادۍ، سوله او د امن د





قوتونو ملګري یو او د فاشیستي نظام اصولاً مخالف یو، ولې ترکومې پورې چې د هندوستاني تعلق دے نو هغه خو پهٔ خپله ډېرې د پهٔ خوا نه غلام دے، نو لازمي ده چې مونږ به د هغه قامونو سره ملګرتیا کوو چې څوک د خپلې ازادۍ د پاره جدوجهد کوي، ولې کومې پورې چې د بادار تعلق دے نو نن چې پېرنګے د جرمني سره د جنګ میدان نه وتے دے نو پېرنګے خو دلته زمونږ حاکم دے او مونږ پهٔ خپله د هغهٔ غلامان یو او کهٔ پېرنګے پهٔ ایمانداری او روغ نیت د قامونو د غلامولوخلاف وي نو پکاردي چې دلته هم دغه اصول قائم کړي او د خپل ځانه شروع وکړي. کانګرس دا مطالبه وکړه چې هندوستان به هله پهٔ دې جنګ کښې حصه اخلي چې کله پېرنګے د جنګ د مقاصدو War aims اعلان وکړي. نو کهٔ دا جنګ پهٔ دنیا کښې د ازادۍ، صلح او امن دپاره وي نو بیا دې پېرنګے دومره وکړي چې پهٔ دې مقاصدو کښې دې دا اعلان وکړي چې کله اتحادیان جنګ وګټي نو هندوستان لهٔ به ازادي ورکړي کانګرس دا خبره پهٔ ګوته کړه چې مونږ د پېرنګي د مصیبت نه فائدې اخستلو کوشش نه کوو اوس ترې نه نور هېڅ نهٔ غواړو. ماسوا لهٔ دې اعلان نه او دا اعلان ضروري پهٔ دې دے چې د دې اعلان پهٔ رڼا کښې به بیا هندوستان د زړهٔ د اخلاصه او پهٔ پوره زور او قوت حصه اخلي ولې چې پهٔ دا شان به دا جنګ د هندوستان د خپلې ازادۍ جنګ شي. ولې پېرنګے دې ته کله تیاریدو. هغه د پېرنګي وزیراعظم چرچل خبره چې (زهٔ د دې د پاره د تاج برطانیه وزیراعظم شوے نهٔ یم چې د هغهٔ د سلطنت حصې دې دوړه کړم) نو بیا کانګرس پهٔ دې خبره ښهٔ کلک ودریدو چې کهٔ دا جنګ د یورپ د ملکونو د ازادۍ جنګ وي. وي به ولې د هندوستان د ازادۍ خو قطعي نه دے نو د دې وجې نه پهٔ دې جنګ کښې حصه اخستل او دې سره امداد کول خو د خپلې غلامۍ زنځیرونه نور هم مضبوطول دي. زهٔ پهٔ خپله د ال انډیا کانګرس کمېټي (AICC) پهٔ هغه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډه کښې موجود وم چې د کانګرس صدر جواهر لال نهرو د دې وضاحت
په دې الفاظو وکړو چې (که انګریز د خپل جنګ په مقاصدو کښې دا اعلان
وکړي چې کله اتحادیان جنګ وګټي نو هندوستان له به ازادي ورکړي نو په
دغه شان به:

We shall be fighting for the liberation of our own country: otherwise we shall be fighting to defend our chains.

ترجمه په دا شان به دا زمونږ د ازادۍ جنګ شي. ګني نو بیا خو مونږ
د غلامۍ زنځیرونه ټینګوو

نو دومره بدبخته او په سترګو ړوند به څوک وي چې هغه دې جنګ له هم
خي. قربانۍ دې هم ورکوي او جنګ دې د دې د پاره کوي چې هغه دې د
پردے غلام شي. دغه د کانګرس فېصلې د پېرنګي هغه اخري صبر تمام
کړو پېرنګي خو اوسه پورې په هندوستان کښې دننه په دې خفه ؤ چې ولې
ئې په دې ملک کښې انتخابات وکړل او د هغې نتیجه دا شوله چې بادار
پېرنګي ئې نن د هندوستاني د حکم تابع کړه او نور ئې کوشش دا ؤ چې د
مرکز انتخابات ونه شي ولې چې پېرنګي دا کله زغملے شو چې د برطانوي
شهنشاهیت او د شاهي تاج Imperial Crown نمائنده وائسراے دې لکه د
صوبو د انګریزانو ګورنرانو د خپلو منتخبو وزیرانو د مشورې تابع وي.
ولې دا اوس خو لا کانګرس دې ته خوښه کړله چې نن پېرنګے د خپل مرګ
او ژوند په جنګ کښې ننښتے دے وطن. ملک او سر ته ئې خطره پېښه ده
او د کانګرس دا دومره جرات چې هغه په دې کښې هم پېرنګي له د دوستۍ
او د مرستې لاس نه ورکوي پېرنګے په دې ښه پوهه ؤ چې که د هندوستان
فوځ. وسائل او دولت د هغه سره نه وے. نو هغه به دا دومره عظیم الشان
سلطنت په څه راټینګوي لازمي خبره وه چې پېرنګي به هر څه زغملي وو.
دائې قطعاً نه شو زغملے او دې پېرنګے نور هم مجبور کړلو چې د کانګرس





د مقابلې د پاره نور هم په ډاګه مېدان ته را ووخي او په هره ذریعه چې وي
داسې لارې چارې راوباسي چې د کانګرس مقابله ئې وکړي
د دې خاطر د انګریز په پالیسۍ کښې ډېره لويه تبديلي راغله د يورپ
جنګ د هندوستان د سیاست ټوله نقشه بدله کړله تر دغه وخته پورې
پېرنګیان په کلکه د هندوستان د یو وفاق (فیډریشن) په حق کښې وو او
ټول کوشش او خواري ئې هم د دې د پاره کوله وائسراے د جناح صاحب
سره د خپل ملاقات په حقله لیکي (28/2/1939ز):

He did not reject the federal idea.

ترجمه هغه (جناح صاحب) وفاقي نظریه نامنظوره نه کړله

د هغوي نه په مسلمان څه کار ؤ او نه ئې جناح صاحب له دومره اهمیت
ورکولو البته دومره غرض ئې پکښې ضرور ؤ چې مسلمانان په شا وټیوي
چې د کانګرس مقابلې ته ئې جوتې کړي او په دا شان په کانګرس زور راشي
چې د پېرنګي سره څه د اشتراک اقتدار لاره را وباسي ولې خو کانګرس
ېېخي داسې لار ونیوه چې په دې کښې یواځې دا نه چې هندوستان کښې
اختیار خپلول غواړي. ولې اوس خو هغه پېرنګے دومره کمزورے کوي چې
د هغه د خپلې غلامۍ ګنجائش هم پکښې پیدا کېږي دې مسئلې کانګرس
او انګریز بلکل په مختلفو مقاماتو ودرول. کانګرس او انګریز دواړو د
پاره دا د مرګ او ژوند سوال ؤ. ولې زه خو به تردې لاړ شم چې د هندوستان
او برطانیې دواړو د پاره دا د مرګ او ژوند سوال شو
کانګرس حکم وکړو او د حکومت هند د دې پالیسۍ په خلاف ئې احتجاجاً
د صوبو د وزارتونو نه استعفې ورکړله او په دا شان ئې دا خبره نه یواځې د
هندوستان واکدارانو ته. بلکې ټولې دنیا ته څرګنده کړه چې د هندوستان د
ټولسو صوبونه اتو صوبو خپل وزارتونه په دې وجه پرېښودل چې انګریز
دا وعده نه کوي چې د جنګ په خاتمه به هندوستان ازاد کړے شي. دې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېرنګي نور هم پهٔ قار کړو د دې نه پس د پېرنګي رویه بدله شوله. پالیسي ئې بدله شوله. سترګې ئې بدلې شولې. ژبه ئې بدله شوله

دې خوا چې کله پهٔ یورپ د جنګ ګورې وریځې راخورې شولې. نو پېرنګي هم دلته د ځان راغونډولو کوشش شروع کړے ؤ. د کانګرس نه خو خوا بدې ؤ او د هغې د پاره ئې سترګې پهٔ جناح صاحب خوږېدې. ولې حقیقت دا ؤ چې جناح صاحب د مسلم لیګ مشر ؤ او مسلم لیګ د هندوستان پهٔ یوه صوبه کښې هم وزارت نهٔ ؤ. صوبه سرحد د کانګرس سره ؤ. سندھ کښې د اله بخش سومرو مخلوط وزارت ؤ. هغه هم د مسلم لیګ خلاف ؤ وائسرا ے د پنجاب د وزیراعلي سر سکندر حیات خان سره او د بنګال د وزیراعلي مولوي فضل الحق سره خپل تعلقات پهٔ خپله ساتل او وخت پهٔ وخت ئې ورسره سیاسي مصلحتونه او مشورې هم کولې بل د جنګ د راتلونکو خطرو پهٔ رڼا کښې خو د پنجاب نور هم اهمیت زیات شوے ؤ نو هغه سکندر حیات خبره چې وائسرا ے ته ئې وې چې جناح ډېر پهٔ سر مهٔ خېژوه ولې بنګال او پنجاب خو هسې هم تاسره دي هغوي د جناح نهٔ مني.

نو:

Nothing should be done to inflate him (Jinnah).

ترجمه: ما له داسې کار چرې هم نهٔ دي کول پکار چې پهٔ هغې کښې جناح صاحب نور قوت بیا مومي

او خبره تردې رسیدلې وه چې وائسرا ے پهٔ 31/8/1940 کښې لیکي:

Sikandar`s admirable statement on Saturday last seems fairly effectively to have spiked the guns of Jinnah and Muslim League .... It seems to be pretty clear that relations between the Muslim League and the Punjab, Bengal and other important Muslim centre`s are becoming definitely rather strained and that the chances of a breakaway are considers able.





ترجمه سکندر (سکندرحیات خان) قابل تعریف بیان د جناح او مسلم لیګ لاره بنده کړه ... دا خبره پهٔ ډاګه څرګنده ښکاري چې د مسلم لیګ او پنجاب او بنګال او نورو مسلمانانو ډلو ته تر منځه تعلقات خرابیږي او داسې معلومیږي چې دغه تړون هډو د سره وشلیږي.

وائسرا ے ورته پهٔ قار دے. ځکه خو ورته دا نور ټول مسلمانان مشران پهٔ قار دي نو مخکښې وائسرا ے لیکي چې ما هم پرې ځان نا غرضه کړے دے او:

I do not propose to make any move to him until there is an outbreak of war of some other development necessitating immediate contact with all party leaders.

ترجمه: زهٔ هم د جناح صاحب د لیدو اراده نهٔ لرم. تر هغې وخته پورې کهٔ عالمي جنګ شروع شو یا څهٔ نوره څهٔ داسې اهمه واقعه پېښه نهٔ شوله دا د یو دیرشم اګست خط دے: ولې چې کله پهٔ درې ورځې پس اعلان جنګ وشو. نو پهٔ 5/9/1939 وائسرا ے وزیر هند ته لیکي چې:

I felt it wiser to be patient with Jinnah and endeavor to lead him in to the direction which we desire. And indeed if I can get more together than they are at the moment I shall do so.

ترجمه: ما داسې محسوسه کړله چې د عقل دلته تقاضا دا ده چې زهٔ د جناح سره لږ د صبر نه کار واخلم او پهٔ دا شان زهٔ هغه پهٔ داسې لاړ روان کړم کومه چې مونږ غواړو. حقیقت کښې زما کوشش دا دے چې دا مسلمانان څومره حده پورې کېدے شي چې زهٔ ئې را یو ځاے کړم.

پینځهٔ ورځې وړاندې وائسرا ے پهٔ دې خوشحاله ؤ چې سکندرحیات خان جناح صاحب ته نیغ شوے دے او یو اځې پنجاب او بنګال نه بلکې نور اهم



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلم مرکزونه هم ترې نه خفه شوي دي او داسې معلومېږي چې د مسلم لیګ نه جدا کېږي ولې نن د یورپ د جنګ اعلان په دې مجبور کړو چې پوره سیاسي بازیګره واروي او اعلان کوي چې زما به دا کوشش وي چې هر څنګه چې وي دا مسلمانان لیډران سره یو بل ته رانژدې کړم. صرف د دې د پاره چې په داسې لاره ئې روان کړم چې هغه زمونږ په خبر تمامېږي د دې نه بربنډ او واضحه ثبوت به بل څه وي چې پېرنګي د مسلمانانو مختلفې ډلې د دې د پاره را غونډوي او په داسې روانوي چې د پېرنګي په خپل خبر تمام شي: نو اوس به ګورو چې لوبغاړي پېرنګي څه څه کارنامې کوي او خپل غرض په چا سر کوي او څنګه ئې پرې کوي؟

لکه څنګه چې مخکښې ذکر شوے دے چې پېرنګي په هېڅ قیمت هم دې ته غاړه نه کېښوده په مرکز کښې دې انتخابات وکړي او اوس خو چې لا په یورپ کښې جنګ ونښتو او پکښې هندوستان هم اعلان جنګ وکړو. نو اوس خو پرې د پېرنګي هډو د سره سمے نه راتلو. ولې پېرنګي لۀ د مسلم لیګ مشران څۀ مشوره ورکوي؟ نواب اسماعیل د یو پي د مسلم لیګ صدر ؤ د هغۀ د مشورې په حقله وانسرا ے په 8/10/1939 کښې لیکي:

The nawab repeated that it was essential that any declaration should make it clear that a democratic system at the Centre was not acceptable to the Muslim community and went on to urge that the Congress claim to speak for India and to control defenses was perfectly inadmissible.

ترجمه نواب اسماعیل، دا خبره تکرار کړله چې سرکار دې دا اعلان وکړي چې دا موجوده نظام مسلمانانو ته قطعي قبول نۀ دے او وروسته ئې زیاته کړه چې کانګرس د دې خبرې هېڅ حق نۀ لري چې د هندوستان د اولس نمائندګي دعوې ولري نو د دې وجې نه د دفاع انتظام هغه ته د سپارلو اجازه ورکول جائز نۀ دي





د یو پي د مسلم لیګ صدر صاحب اعلان کوي چې په مرکز کښې جمهوري عمل مسلمانانو ته نه دے قبول او په کانګرس اعتراض کوي چې هغه د هندوستان د اولس د اړخه د هغوی د نمائندګۍ دعوې غلطه کوي. کانګرس په اتو صوبو کښې وزارتونه لري: هغه خو نمائنده نه دے او د مسلم لیګ سره یوه صوبه هم نۀ شته. هغه نمائنده دے هغه ښېښانۀ مثال کوي: د غلبیل راپاڅي. کوزې ته وائي تا کښې دوه سورې دي ،

د مسلم لیګ بل مشر عبدالله هارون په 31/10/1939 کښې وانسرا ے ته تار وهي:

Sir Abdullah Haroon took the view that democratic development in the West did not suit India ....... the Muslim have no differences with Great Britain except over federation, which should be dropped. The wanted the British to stay and they are now growing popular whit the Muslim Community

ترجمه: سر عبدالله هارون د دې نظرئې دے چې مغربي طرز جمهوریت د دې ملک د مزاج مخالف دے د مسلمانانو د انګریزانو سره څۀ نور اختلاف رائې نشته. ما سېواء وفاق نه. نو پکار دي چې سرکار دغه د وفاق منصوبه پرېږدي مسلمانان غواړي چې پېرنګیان دې دلته موجود وي او اوس خو پېرنګے نور هم په مسلمانانو کښې هر دل عزیزه کېږي.

د نواب اسماعیل خان خو پۀ وفاق دا اعتراض دے چې مسلمانان ئې نۀ قبلوي د سر عبدالله هارون دا دلیل دے چې جمهوریت سره د هندوستان د خلقو مزاج موافق نۀ دے. نو وفاق ته لا څۀ ضرورت دے او یو قدم مخکښې ځي او وائي چې مسلمانان خو غواړي چې پېرنګیان دې هم دلته وي او نه دې ځي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو اوس دې هرسړے فکر وکړي چې کوم وائسراے ته په داسې حالاتو کښې د مسلم لیګ مشران د دې قسمه مشورې او تسلی ورکوي. نو هغه به د هغه په زړه ټکور نه لګي. نو څه به وي؟ او چې د دې په مقابله کښې بیا د کانګرس د مشرانو روئې ته ګوري. نو د هغه وائسراے به کانګرس ته په زړه څه تیریږي ولې د مسلم لیګ د مشرانو د ځان ځاني بیانولو نه علاوه د ال انډیا مسلم لیګ مرکزي ورکنګ کمېټۍ د جناح صاحب په صدارت کښې تجویز پاس کړو چې:

Muslim League ....... Is irrevocably opposed to may "federal objective" which must necessarily result in a majority community rule under the guise of democracy and parliament system of Govt. Such a constitution is totally unsuited to the genius of the people of the country which is composed of various nationalities and does not constitute a national state.

*(G. Allnan. Pakistan Movement. P.218)*

ترجمه: مسلم لیګ په ټینګه د وفاقي نظام مخالفت کوي ولې چې د هغې په ذریعه به د اکثریتي ډلې حکومت قائم شي او نوم به ئې جمهوریت او پارلیماني نظام وي. داسې ائین د دې ملک د مزاج مخالف دے: ولې چې دلته مختلف قومیتونه اباد دي او دا په هېڅ شان هم یو قوم نه شي منلے کیدے.

دلته هم دلیل دا ورکیدے شي چې جمهوریت د هندوستان د اولس د مزاج سره برابري نه کوي. دلته مسلم لیګ یواځې د مسلمانانو د جذباتو ترجماني نه کوي. بلکې د ټول هندوستان اولس د طرفه لګیا دے او دا بل دلیل چې د هغې نه هم خطرناک دے چې دلته چونکه (قومیتونه) اباد دي او چې کوم ملک کښې مختلف قومیتونه اباد وي نو هلته یو (قامي ریاست) نه شي جوړیدے. هم دا کمېټي مخکښې وائي:





....... the committee further urges upon His Majesty's Govt. and ask for an assurance that no declaration regarding the question of Constitutional advance for India should be made without the consent and approval of A. I.M League nor any constitution be famed and finally adopted by H.M.'s Govt and the British parliament without such consent and approval

*(G. Allana. Pakistan Movement, P.219)*

ترجمه: ..... کمېټي برطانوي حکومت باندې زور اچوي او د یقین دهانۍ غوښتنه کوي چې بغېر د ال انډیا مسلم لیګ د رضا او منظورۍ نه دې د هندوستان د پاره د ائیني پېشرفت د پاره هېڅ اعلان ونه شي او بغېر د دهٔ د رضا او منظورۍ نه دې هېڅ داسې ائین جوړېږي نه او برطانوي حکومت او برطانوي پارلیمنټ له خوا دې نه تصوېبېږي

نو مسلم لیګ اوس تر دې مطالبې پورې لاړ چې حکومت برطانیه دې مسلم لیګ له دا تسلي ورکړي چې د مسلم لیګ د مرضۍ او تسلۍ نه بغېر به هېڅ قسمه ائین د دې ملک د پاره نه جوړېږي او دا خواست ئې برطانوي پارلیمنټ ته هم کړیدے او بیا چې کله وائسراے هند اعلان وکړو چې ورکز د پاره به انتخابات نه کېږي نو د مسلم لیګ ورکنګ کمېټۍ په هغې د خپلې رائې اظهار په دې الفاظو کښې وکړو:

The Working Committee appreciates the declaration of H.E Viceroy which is in the interest of India and particularly the Musalmans that the federal scheme, embodied in the G. of India Act 1935, has been suspended. They wish that instead of its being suspended it had been abandoned completely.

*(G. Allana. Pakistan Movement, P.217)*

ترجمه: ورکنګ کمېټۍ د عزت ماب وائسراے د اعلان ستائنه کوي کوم چې د هندوستان او خصوصاً د مسلمانانو په ګټه وي او دا چې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حکومت هند (1935ز ایکټ (قانون) کښې پروت وفاقي سکیم ملتوي شوے دے. هغوي غواړي چې په ځاے د التوا. پکار دي چې وفد سکیم د سره پرېښودلے شي

مطلب دا چې مسلم لیګ د پېرنګي نه هم یو قدم وړاندې روان دے کۀ پېرنګے وائي چې زۀ د هندوستان د خلقو دا حق تسلیموم چې هغوي لۀ دې حکومت ورکړم، خو زۀ د مرکز انتخابات پۀ ډېره مجبورۍ ملتوي کوم. ولې چې جنګ دے، نو د هغې قام د اثاثر اخستے شو چې کله حالات سازګار شي. جنګ خلاص شي، نو بیا به انتخابات کېږي او قام ته به د خپلو منتخبو نمائندګانو پۀ ذریعه پۀ ملک د حکمرانۍ اختیار حاصل شي. ولې د مسلم لیګ ډله پۀ دې خفه ده چې دا وائسراے د التوا تکي ولې استعمال کړي دي. پکار خو دا وه چې وائسراے دا اعلان کړے وے چې دا منصوبه مونږ بیخي وغورځوله. هغه پښتانۀ چې متل کوي چې (د سورنه ئې تیلیا بددي)؛ هغه داسې واقعات وي او بدبختي دا ده چې دا ټولې مطالبې د مسلمانانو د طرف نه پورته کېږي چې هغوي قابو لس کروړه ابادي لري او پۀ څو صوبو کښې ئې اکثریت دے. وزارتونه ئې جوړ دي د بمبۍ او یو پي او نورو داسې صوبو مشران چې هلته د هندوانو اکثریت دے لګیا دي او صرف پۀ دې خاطر چې پېرنګے دې اختیار د هغه صوبو د اکثریت نمائندګانو ته ونۀ سپاري، پۀ دې بل اړخ ئې د خپلو هغه مسلمانانو د ګټو نه هم سترګې پټې کړي دي څوک چې پۀ اکثریتي صوبو کښې اوسي. لکه بنګال، پنجاب، سندھ، سرحد او څۀ حده پورې اسام او نور خو پرېږده. بیا جناح صاحب د مسلم لیګ د کلني اجلاس پۀ تقریر کښې پۀ خپله ووې:

We felt we could never accept the dangerous scheme of
the Central federal Govt. embodied in the G. of India Act
1935. I am sure that we have made no small contribution
towards persuading the British Govt. to abandon the





scheme of Central Federal Govt.

*(G. Allana. Pakistan Movement, P.230)*

ترجمه مونږ محسوسوله چې د 1935 ګورنمنټ آف انډیا ایکټ کښې پروت د مرکزي وفاقي حکومت خطرناک سکیم هیچرې نۀ شو منلے زما یقین دے چې مونږه برطانوي حکومت ته پۀ دې ترغیب ورکولو کښې چې د مرکزي وفاقي سکیم نه لاس واخلي. ډېر څۀ کړي دي

یعنې جناح صاحب ډېر پۀ فخر دا خبره کوي. بلکې دا خپله کارنامه ګڼي چې مونږ پېرنګے پۀ دې رضا کړو چې هغه دې د مرکزي وفاقي حکومت دا منصوبه پرېږدي. دلته سوال دا پېدا کېږي چې دا پۀ مرکز کښې د انتخاباتو نه کولو فېصله د پېرنګي ده کۀ د مسلم لیګ؟ او چې دا منصوبه د مسلم لیګ مشرانو پۀ پېرنګي پاتې کړله. نو د دې ښېګړه چا ته ورسیده؟ حکومت د چا ؤ او چا ته پاتې شو؟ دې ته استاذي وائي. پېرنګي مطلب خپل کوي خو ټوپک ئې د مسلم لیګ ډلې پۀ اوږه ایښے دے. د دې نه لویه بدبختي به د یو قام څۀ وي چې هغې کښې یو داسې سیاسي تنظیم پېدا شي چې هغه پۀ خپله غلامۍ فخر کوي؟ او دا خپله کامیابي ګڼي چې قام ته د انتقال اقتدار مو به کامیابه کړي او حکومت هم خپل اقا او بادار ته وسپاري.

داسې معلومېږي چې حالات اوس دې اړخ ته روان دي چې پېرنګے او مسلم لیګ د مشترکو مفادو د پاره یو بل سره مکمل تعاون کوي او کۀ دې خوا مسلم لیګ د پېرنګي د پالیسۍ د پاره خپل ځان پېش کړو، نو اخوا پېرنګے هم هسې نۀ ؤ ناست. هغۀ هم د خپله جانبه کوشش کولو چې څومره کېدے شي مسلمانان د مسلم لیګ د تنظیم لاندې راولي. جناح صاحب سره بیا ملاقاتونه شروع شول لکه څنګه چې د یو ملاقات پۀ حقله وائسراے پۀ



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



5/10/1939کز کښې لیکي:

He (Jinnah) thanked me with much gracious. Ness for what I had done to assist him in keeping his party together and expressed great gratitude for this.

ترجمه: هغهٔ (جناح) پهٔ ډېره مهربانۍ سره زما شکریه ادا کړه چې ما د هغهٔ د پارټۍ پهٔ یو ځاے ساتلو کښې امداد کړے ؤ او د دې د پاره ئې د زیاتې شکرې اظهار وکړو

پارټي د جناح صاحب ده، خو سره یو ځاے ساتلو کښې ئې وائسراے یواځې دا نهٔ چې غرضي دے بلکې پوره کوشش پکښې د خپلې غاړې کوي او ځکه خو جناح صاحب د وائسراے بیا بیا شکریه ادا کوي

یوه بله مسئله چې د هغې ذکر وائسراے پهٔ دې خط کښې کړے دے. هغه هم ډېره دلچسپه ده. وائسراے وائي چې جناح صاحب ډېر شکایات وکړل چې د کانګرس وزارتونو مسلمانانو سره زیاتے کړے دے. وائسراے وائي چې ما ورته ووې چې ما تحقیق کړے دے. د کانګرس وزارتونو هېڅ زیاتے نهٔ ؤ کړے بلکې دا یو نفسیاتي کیفیت دے مسلمانان دا د احساس کمترۍ د وجې نه (ځځه) کوي، نو د دې پهٔ ځواب کښې جناح صاحب وائسراے ته وائي چې د صوبه سرحد حکومت دا حکم کړے دے چې هندي به پهٔ ټولو سکولونو کښې لازمي مضمون وي.

یعنې کانګرس د وزارتونو نورې خبرې خو به شاید چې دروغ او زیاتے وي ولې جناح صاحب ته پکښې دا خبره خو سل پهٔ سل ریښتیا ښکاریده. نو ځکه ئې وائسراے ته دا مثال پېش کړو. ښهٔ نو. اوس دې سپینو دروغو لهٔ څهٔ پرتوګ جوړوې. یوه بله وجه دا هم کیدے شي چې د صوبه سرحد حکومت پهٔ سکولونو کښې د پښتنو هلکانو. جینکو د پاره پهٔ پښتو ژبه تعلیم ضروري ګڼلو او پښتو ژبه ئې لازمي تعلیمي ژبه کړې وه لکه چې





جناح صاحب ته پښتو هم هندي ښکارېده [6]

## پېرنګے سیاسي بازیګر

اوس د لوبغاړي پېرنګي استاذۍ ته ګوره چې څنګه د هندوستان د ازادۍ پهٔ لاره کښې هغه خنډونه اچوي او د خپل سامراجي او نو ابادیاتي پالیسۍ د پاره کومه حده پورې تللو ته تیارېږي. وائسراے پهٔ 4/12/1939 کښې وزیر هند ته پهٔ صفا ټکو کښې لیکي:

I am fully alive. As my letter to you about Jinnah's questions will have shown, to the objection of allowing the Muslim minority to turn itself into a majority with the right of veto & that does seem to appear to be a position that we can accept.

ترجمه: زهٔ د دې اعتراض نه پوره خبر یم لکه چې د جناح د سوالاتو پهٔ حقله به تا ته زما د خط نه څرګنده شوي وي چې ګنې مونږ کوشش کړے دے چې د مسلمانانو اقلیت پهٔ اکثریت بدل کړو چې د ویټو حق لري او دا هغه پوزېشن ښکاري چې مونږ ئې قبلولے شو

د مسلم لیګ د ورکنګ کمېټۍ د هغه تجویز پهٔ حقله وائسراے صاحب د خپلې پالیسۍ وضاحت کوي چې کوم کښې مسلم لیګ دا مطالبه کړې ده چې مونږ لهٔ دې حکومت برطانیه دا ډاډ راکړي چې:

.......no declaration of constitutional advance for India should be made without the consent and approval of the All India Muslim League.

---

1937 ؑز صوبه کښې د وزارت اعلي جوړېدو سره چې کوم سمدستي اصلاحات شوي وو. هغې کښې صوبې نه د ایف سي ار ختمول. د اعزازي مجسټرېټ ختمول، د زنانو د وراثت حقوق بل منظوري، ملاکنډ الیکټرېستي پراجیکټ سکیم کول. د مردان شوګر مل جوړول، د نوبتي چوکۍ ختمول او دې سره سره پښتو ژبه تاریخ کښې پهٔ ورومبني خل دفتري، عدالتي او ابتدائي تعلیم ژبه ګرځول وو ـ جناح صاحب د غوښتنه چې هندي دې ختمه شي، هم دې ته اشاره ده



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: د ال انډیا مسلم لیګ د رضا او منظورۍ نه بغیر به د هندوستان د پاره دائیني پېشرفت اعلان نهٔ کېږي

وائسرا ے ښهٔ پوهه د ے چې د دې مطلب خو پهٔ واضحه ټکو کښې دا د ے چې د مسلمانانو اقلیت مونږ پهٔ اکثریت بدل کړو. تر دې چې د ویټو حق هم دغه اقلیت ته وسپارو نو دلته بیا چونکې د تاج برطانیه د مفاداتو تحفظ ضروري د ے. نو تهذیب او شائسته پېرنګي بیا نهٔ د بنیادي انساني حقوقو. نه د جمهوریت او نهٔ د انتخاباتو خبرې ته غوږ ږدي بلکې ډېر پهٔ کلکو سترګو اعلان کوي چې دغه پوزیشن مونږ قبلوو. پېرنګي سترګې بدلې کړې. نهٔ پټې کړې دي خپله پالیسي مخکښې بیائي. خوځان ئې ترې نه یو خوا ته کړے د ے او مسلم لیګ ئې را وړاندې کړے د ے. خپلې پالیسۍ پهٔ هغه چلوي وائسرا ے د دې نه پس بیا وزیر هند سره پهٔ خپلو خطونو کښې دې طرف ته اشاره کړې ده چې کهٔ مونږ د مسلمانانو د اکثریتي صوبې پهٔ شمال غرب کښې را جدا کړو. نو پهٔ دا شان به مونږ ته زیات سهولت وي. وزیر هند خو چونکې لندن کښې ناست ؤ او پهٔ بین الاقوامي حالاتو ئې نظر ؤ نو هغهٔ وائسرا ے ته ولیکل چې کهٔ تهٔ فکر وکړې. نو هندوان خو صرف د هندوستان پهٔ خاوره پراتهٔ دي ولې مسلمانان خو دلته د چین د سرحد نه واخله داسې پهٔ مشرق وسطي تر ترکي پورې غزیدلي دي او دې بل خوا تولهٔ شمالي افریقه ده نو چې دا دومره لویه علاقه د مسلمانانو راغونډه شي نو دا به ګنې د مسلمانانو څخه یو وارې بیا هغه د جمال الدین افغاني Pan Islamism ته ونهٔ ګرځي؟ سوال داسې ؤ چې کهٔ چرې سبا لهٔ دا مسلمانان راپاځي او د پېرنګي بر خلاف د شوروي سره ساز باز وکړي نو دا به ګنې سلطنت برطانیه د پاره خطرناکه مسئله نهٔ وي؟[7]

[7] پان اسلام ازم د یهودي مدبر او سفارت کار ډرمنډ وولف د رسا ذهن کارنامه ده د دې مفکورې بنیاد پهٔ 'قضیهٔ شرقي' (Eastren Question) باندې د ے چې مطلب ئې د اسلامي بلاک جوړولو پهٔ



رښتیا رښتیا دي

پهٔ دې مسئله کښې ئې وائسرا ے ته ونیلي دي چې سوچ وکړي وائسرا ے هند د دې غرض د پاره د ټول هندوستان د مرکزي سي ائي ډي C.I.D یا مرکزي استخباراتي اداري Central Intelligence Dept نه پوره رپورټ وغوښتو دغه رپورټ کښې وائسرا ے پهٔ خپل خط کښې پهٔ 17/11/1939ز وزیر هند لهٔ لیږلے د ے چې پهٔ هغې کښې راغلي دي:

زما د مسلمانانو مختلفو ډلو لکه مسلم لیګ. وهابیانو. خاکسار. احرارو او نورو هغو ماهرینو سره چې د افغانستان او قبائلو پهٔ مسئلو کښې دلچسپي لري. پهٔ تفصیل سره خبرې وکړې زهٔ پهٔ دې نتیجه رسیدلے یم چې د هندوانو او مسلمانانو پهٔ منځ کښې اختلافات دومره زیات شوي دي چې اوس خبره شلون ته جوړه شوې ده.

Thus shortly a nation of Muslim India must be established.

ترجمه: دغه شان د مسلمان هندوستان یو قام قائمول پکار دي

پاتې شوه خبره د شوروي اتحاد پهٔ امداد د پېرنګیانو بر خلاف د محاذ جوړولو نو:

........Such aid is out of question. As once Bolshevik aid is accepted Islamic principles will be submerged, and if an opportunity is given to Russian influence to be felt south of Oxus, all Muslim nations will degenerate to the level of the soviet Central Asiatic Muslim states.

ترجمه: د دغسې امداد سوال نهٔ پېدا کېږي. ځکه کهٔ یو وارې بالشویک امداد قبول شو. نو اسلامي اصول به ډوب شي او کهٔ چرې د امونه جنوب خوا ته د روسي اثر خوریدو موقع ورکړے شوه. نو ټول مسلمانان قامونه به لکه د شوروي اتحاد مرکزي ایشیائي (مسلمان

ذریعه د زار روس لاره نیول وو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریاستونو غونډې خراب شي.

خبره لږه مخکښې نوره هم واضحه کوي چې:

Muslims will not ask favors from the anti.God Bolshevik Russia.

ترجمه: مسلمانان به د خداے دښمنه بالشویک روس نه د مهربانۍ غوښتنه کړي.

دا حال خو د هندوستان د مسلمانانو ؤ او د Pan Islamism په مسئله هم وائسراے صفا وائي چې:

In the Turkish Treaties are seen the barring of Bolshevism from the Islamic world and a rapid development of the line up of Muslim against soviet expansionist policy.

ترجمه: په ترکي معاهدو کښې بالشویزم د اسلامي دنیا نه خارج کړے شوي او د شوروي اتحاد نو هغه طلب پالیسۍ خلاف د مسلمانانو قامونو د محاذ نیولو طرف ته یو ګړندے پیشرفت معلومېږي.

وائسراے د خپلې منصوبې خوبۍ بیانوي نو ورته دا خبره په ډاګه څرګندوي چې د دې منصوبې په کامیابولو سره به لکه د ترکي د معاهدې د شوروي اتحاد بر خلاف د مسلمانانو قومونو یوه مورچه مکمله شي او دا د اسلام قلعه به لکه د تیزندۍ د شوروي اتحاد د غاړې نه چاپېره شي.

د پېرنګي د اکامیابي وه چې هغه ځان له په مسلمانانو کښې داسې ملګري پیدا کړل چې هغوي د پېرنګي په دواړو پالیسیو (یعنې داخلي او خارجي) کښې د حکومت برطانیې سره کلک په پره کښې ودریدو ته تیار وو. هم دغه یو اسلام دے چې د هندوستان دننه ئې د پېرنګي د مفادو د تحفظ د پاره او د هغهٔ د حکومت د ساتلو د پاره د کانګرس بر خلاف استعمالوي او هم ئې د پېرنګي د بین الاقوامي مفاداتو د تحفظ د پاره د شوروي اتحاد بر





خلاف استعمالوي نو اوس پېرنګي ته هم اسانه شوله. ولې چې خو صرف یو مسلم لیګ دې را تینګ کړي. نو نور کار به بیا هم دا مسلم لیګ د دهٔ په ښوونه کوي دغه د شوروي اتحاد دا په کښې صرف یوه اخېري مسئله وه او چې د وائسراے دا تسله ده. نو بیا پرې ناراستي ده پکار

د دې انټلیجنس Intelligence یا استخباراتي رپورټ نه دا هم څرګنده شوه چې پېرنګے به په کومو طریقو د شوروي اتحاد په خلاف اسلام استعمالوي ولې چې دلته خو حکومت د پېرنګي ؤ او پېرنګے خو هم مسلمان نهٔ ؤ دلته مسلمان اوس هم د یو کافر غلام ؤ. نو دلته ورته پېرنګي یوه بله نسخه را وویستله چې شوروي اتحاد خو ملحد Anti God دے او د خداے د ذات نه منکر دے او هم دا نسخه او مجربه نسخه پېرنګي ډېره په کامیابۍ سره استعمال کړې ده لکه څنګه چې به مخکښې نورهم څرګنده شي [8]

## د پاکستان منصوبه

وائسراے پهٔ بار بار دا خبره د مسلمانانو مشرانو لکه سر سکندر حیات او مولوي فضل حق او نورو ته کړې ده چې مسلمانان دا چغې وهي چې اختیار

---

[8] دې ټوله لوبه کښې یو خوا کهٔ د دیوبند عالمانو د خپلواکۍ جنګ تود ساتلے ؤ نو بل خوا پکښې ځینې بد دیانته ملیانو د انګریز په اشاره د مسلم لیګ مرسته کوله د دې بد دیانته ډلې مشر قاري طیب، مولانا شبیر احمد عثماني کوله او د مولانا اشرف علي تهانوي نازږهٔ غونډې مرسته ورته هم حاصله وه دې ډلې دیوبند نه مولانا عبیدالله سندهي وباستلے ؤ او د شیخ الهند خلاف ئې کار کولو وروستو د شیخ الهند ډلې د شیخ مدني په مشر کښې بیا ځان منظم کړو مولانا تهانوي چې یو لوے عالم ؤ. یو خوا ئې خوجه اسماعیلي فرقه په 'بوادر النوادر' کښې د مسلمانیة نه وباسلې نو بل خوا ئې د مسټر جناح مرسته کوله اوس چې د مولانا شبیر احمد عثماني د تقریرونو ټولګه د 'مکالمة الصدرین' په نامه خپره شوې ده. نو معلومه شوه چې مولانا تهانوي بیا ولې د مسلم لیګ مرسته کوله ـ دا ځکه چې شبیر احمد عثماي د دې کتاب لهٔ رویه هغهٔ ته انګریزانو شپږ سوه روپۍ میاشت ورکوله



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانګرس لۀ مۀ ورکوئ. لا پۀ مرکز کښې انتخابات مۀ کوئ. نو دا يوه منفي
Negative خبره ده او دې کښې وائسرائے او وزير هند ته دا مشکل پېښ
دے چې هغه هلته پۀ انګليند کښې د پارليمنټ ممبران پۀ دې نۀ شي
مطمئن کولے چې کله کانګرس انتخابات ګټلي دي. نو ولې دې هغوي لۀ
اختيار ورنۀ کړے شي نو وائسرائے پۀ کراتو دا خبره دې مسلمانانو ته کوي
چې تاسو لۀ پکار دي چې څۀ مثبت (Positive) او تعميري (Constructive)
تجويز پېش کړئ. ولې چې د جمهوريت د مخنيوي د پاره يو اقليت لۀ دا
اختيار ورکول چې د اکثريت مخه ووهي او د هغوي هغه جمهوري. قانوني
او ائيني مطالبه مسترد کړي. دا پۀ مهذبه دنيا کښې نۀ قبليږي. هم داسې
خبره ئې د سر سکندر حيات خان سره کړې وه نو د هغې پۀ حقله وزير هند ته
ليکي. هغۀ وے چې زۀ به ستا دا تجويز د مسلم ليګ ورکنګ کمېټۍ پۀ
مخکښې پېش کړم.

He (Sikandar Hayat) thoroughly understood the necessity and importance of getting on to a constructive line and having a scheme of his own on which to stand before attempting any propaganda in England ……
He would let me know confidentially how matters went in the meeting of the Muslim League working Committee on 3rd Feb.

ترجمه: هغه (سکندرحيات) پۀ يو تعميري لاين باندې.د تللو پۀ
ضرورت او اهميت ښۀ پوهيدو او مخکښې د دې چې پۀ
انګلستان کښې د پروپېګنډې څۀ کوشش وکړي. د ودريدو د
پاره ئې خپل سکيم لرلو
هغه به ما ته پۀ رازدارانه طور ووائي چې پۀ دريمه فرورۍ باندې د
مسلم ليګ پۀ ورکنګ کمېټۍ کښې څنګه بحث او فېصلې
وشوې





وائسرائے لۀ تسله ورکوي چې مسلم ليګ پۀ دې حقله څه
فېصله وکړي نو زۀ به ترې ته نا بيا پۀ رازدارانه توګه Confidentially خبر
کړم. چنانچه د مسلم ليګ د ورکنګ کمېټۍ د دغې غونډې نه پس سر
سکندر حيات او مولوي حق دواړه پۀ شريکه د وائسرائے سره ملاقات لۀ
تللي دي ولې چې سر سکندر ما ته ووې چې:

……that I should be interested to hear that the W.C of the M.L. has now instructed a sub.committee to draft a constructive program me. I said I was delighted to hear it and that I should await its terms with the greatest interest.

ترجمه: زۀ به پۀ دې اوريدو کښې دلچسپي لرم چې د مسلم ليګ
ورکنګ کمېټۍ اوس يوې سب کمېټۍ ته هدايت کړے دے چې يو
تعميري پروګرام جوړ کړي ما ووې چې زۀ به دې اوريدو باندې ډېر
خوشحاله شوم او زۀ به پۀ ډېره دلچسپۍ د دۀ د الفاظو انتظار وکړم
او دا زيرے ئې پرې کړے دے چې ستا د تجويز مطابق مسلم ليګ يوه سب
کمېټي جوړه کړې ده چې دغه تعميري منصوبه جوړه کړي وائسرائے ورته
وائي چې زۀ به دلچسپي ولرم. زۀ خو د خوشحالۍ نه جامو کښې نۀ ځائيږم
خو خپله دلچسپي ئې دغلته ختمه نۀ کړله. بلکې ورته وائي چې د دغې
رپورټ به هم انتظار کښې يم.
د دغه مسلم ليګ د ورکنګ کمېټۍ د غونډې نه پس پۀ 2/6/1940 جناح
صاحب د وائسرائے ملاقات لۀ پۀ خپله راغلے دے. وائسرائے وائي چې:

…… After the usual compliments he (Jinnah) opened the proceedings by asking me what we were to do. Assuming that we meant the Muslim League.

ترجمه: د معمول ستړي مشي نه پس هغۀ (جناح) خبرې اترې د دې
تپوس سره شروع کړې چې مونږ څۀ وکړو؟ مطلب ئې دا ؤ چې زمونږ
ترې نه مسلم ليګ مراد دے



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډېر اوږد ملاقات دے او د وائسرائے او جناح صاحب په منځ کښې ډېرې مطلبي خبرې شوي دي؛ ولې چې وائسرائے وائي چې جناح صاحب په خپله په ما سوال وکړو چې اوس به مونږ (مسلم ليګ) څه کوو؟ نو مطلب ئې بل څه کيدے شي چې مسلم ليګ صدر په خپله راغلے دے او د وائسرائے نه خان پوهول غواړي چې اوس مونږ له څه کول پکاردي. وائسرائے هغه ته دا خبره بيا کړې ده او په خپله وائي چې زه خو د دې خبرې په تکرارولو ستړے شوم

At the risk of wearing his I was bound to repeat that it was quite useless to appeal for support in Great Britain for a party whose policy was one of sheer negation.

ترجمه د هغۀ د سترې کولو د خطرو قبلولو سره سره. زه مجبوروم تکرار کړم چې د يوې داسې پارټۍ د پاره بيخي بې فائدې خبره ده چې د هغې پاليسۍ بلکل نفي وي هغه دې په برطانيه کښې د حمايت د پاره اپيل وکړي

دا يو ډېر عجيبه ملاقات دے وائسرائے د جمهوريت او د منتخبو وزارتونو خبرې کوي او جناح صاحب ورته وائي چې کانګرس له سم کلک ځواب ورکوه لکه د لارډ ولنګډن. وائسرائے ورته وائي چې دا د ولنګډن زمانه نۀ ده. نن کانګرس سره د اتو صوبو وزارتونه دي کۀ سبا و غواړي نو دغه وزارتونه په بيرته اخستي شي نو بيا به مونږ څۀ کوو؛ ولې جناح صاحب په دې ټينګ دے چې تر څو تاسو د کانګرس سره غوټه خبره نه وي کړې او لانجه مو بيخي نه وي غوڅه کړې نو زمونږ په تاسو اعتبار نۀ کېږي. ولې کانګرس د نورو وزارتونو کار به کېږي. نو وائسرائے په يو وزارت کښې ضرور دلچسپي لرله او هغه د صوبه سرحد وزارت ؤ. په يو تير ملاقات کښې وائسرائے جناح صاحب ته وئيلي وو چې کۀ تۀ کوشش وکړې نو په





صوبه سرحد کښې به وزارت جوړنه کړے شي. جناح صاحب ورسره لوظ کړے ؤ چې زۀ د خپلو ملګرو سره مصلحت وکړم نو بيا به دې خبر کړم اوس د هغې خبرې په حقله وائي چې ما خپلو ملګرو سره صلاح وکړله. هغوی وائي چې مونږ خان له د وزارت جوړولو جوګه نۀ يو خو کۀ ګورنر سر جاج کننګم هغوي سره مرسته کوي نو بيا کار کېږي. بيا ورته جناح صاحب د دغه وزارت جوړولو خوبۍ او فائدې بيان کړې چې وائسرائے ضرور کننګم ته ووائي:

Mr. Jinnah added that he was most anxious, if possible, to put this through, as he was convinced that there could be no more salutary lesson for Congress and no better advertisement of the real position in India whether before country of throughout the world, than that a non.Congress ministry should be established in the N.W.F.P He was therefore most anxious to bring this matter to a successful issue.

ترجمه ښاغلي جناح زياته کړه چې هغه زيات تشويش لري. کۀ ممکنه وي نو بايد داسې وشي لکه د هغۀ چې يقين دے چې د دې نه به د کانګرس د پاره په ملک کښې دننه او په ټوله دنيا کښې زيات ښۀ سبق نۀ وي او په هندوستان کښې به د اصلي حالت بل ښۀ تشهيرنه وي چې په صوبه سرحد کښې يو غېر کانګرسي حکومت قائم شي: نو ځکه هغه زيات مشوش ؤ چې دا مسئله يوې کاميابې نتيجې باندې بدله کړي.

حقيقت هم دا دے چې د پېرنګي او مسلم ليګ په شريکه پاليسۍ او منصوبه کښې د ټولو نه لوے خنډ صوبه سرحد ؤ ولې چې دغه صوبه کښې د ټول هندوستان د ټولو صوبو نه د مسلمانانو د ابادۍ تناسب زيات ؤ. يعني په سلو کښې درې نوي او دغه صوبه شوروي اتحاد طرف ته په سرحد



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پرنه وه نو چې کله دغلته د مسلم لیګ نه غیر د خدائي خدمتګارو وزارت وي نو دا نه د پېرنګي په داخلي پالیسئ کښې او نه په خارجي پالیسي کښې خائیږي یعني نه ئې د کانګرس په خلاف او د پېرنګي د حکومت د قائم ساتلو په مرسته کښې او نه ئې د شوروي اتحاد بر خلاف استعمالولے شي نو جناح صاحب هم دې طرف ته اشاره کوي چې دغه صوبه کښې بوغیر کانګرسي وزارت قائمول په دې ضروري دي چې د دې اثر به د ملک دننه او په بهر دنیا د سرکار په حق کښې ښهٔ پریوځي نو ځکه کننګم لهٔ پکار دي چې د مسلم لیګ وزارت قائم کړي حالانکې حال دا ؤ چې دغلته په تیرو انتخاباتو کښې د مسلم لیګ په نامه هم هلته په اسمبلۍ کښې نهٔ ؤ وائسراے ورته تسله ورکړې ده چې:

..... I would commune ate his views to the Governor. He and his friends would in due course and by one beans of other. Be put in possession of the Governor`s views.

ترجمه زهٔ به د هغهٔ نظریات ګورنر ته ولیږم او هغه (جناح) او د هغهٔ دوستان به په مناسب وخت. په یوه یا بله وسیله. د ګورنر د نظریاتو نه خبر کړي

دا صرف یوه خبره څرګنده وي چې دغه وخت کښې مسلم لیګ او پېرنګے بلکل په یو مقام ولاړ وو او چې ځنګه جناح صاحب ډېر په بې باکۍ دا سوال کړے ؤ چې اوس به مونږ څهٔ کوو؟ نو هومره په بې باکۍ وائسراے ورسره تولې خبرې په ډاډه زړهٔ کوي: ولې جناح صاحب هم په دې پوهه ؤ چې اوس د پېرنګي د خپلو مفاداتو دا تقاضا ده چې خپله ډله مضبوطه کړي. خو نور خو پرېږده هغه وائسراے ته دا هم تجویز پیش کړے ؤ چې د سندهـ د اله بخش سومرو وزارت مات کړي[9] جناح صاحب وائسراے ته وائي

[9] الله بخش سومرو د سندهـ قوم دوست سیاست دان د باچا خان ملګرے ؤ چې هغهٔ د مسلمانانو بېل





(وائسراے د جمهوریت خبره کړې ده):

.....but the chief minister had made speeches recently, copies of which he would send me. This made the position in Sind impossible if the Chief Minister remained in power. I said I would wait to see the text of them.

ترجمه لیکن وزیر اعلي اوس اوس داسې تقریرونه کړي دي چې د هغې نقلونه به هغهٔ (جناح) ما ته راولیږي چې هغه په سندهـ کښې حالت. کهٔ چرې وزیر اعلي په اقتدار کښې وي. ناممکن کړے وے ما ورته ووې چې زهٔ به د دغه تقریرونو د متن انتظار کوم.

د پېرنګیانو دا کوشش ؤ چې هغه د هندوستان ټول مسلمانان په دې خبره پوهه کړي چې کهٔ هغوي د پېرنګي نه د څهٔ ښېګړې طمع کوي. نو پکار دي چې په مسلم لیګ کښې شامل شي وائسراے په دې خبره کښې نهٔ پاک کړے دے او نهٔ ناراسته تر دې چې هغه محسوسوي چې هغه تر دې خو راغے: حالات ئې دې ځاے لهٔ ورسول لکه چې په 21/2/1940 کښې په وزیر هند زېرے کوي چې نهٔ بلکل وار خطا نهٔ کړې کهٔ کانګرس مونږ سره مقابلې ته راووځي نو:

All I can say is that if Congress are set having a fight here, they are going to have a fight not only with us, but with the Muslims (I am glad that Jinnah has made the statement).

ترجمه: دومره وئیلے شم کهٔ چرې کانګرس غواړي چې جنګ وکړي نو هغوي به نهٔ صرف مونږ سره جنګ کوي. بلکې مسلمانانو سره به ئې هم کوي (زهٔ خوشحاله یم چې جناح بیان ورکړے دے)

پېرنګیان وائي چې کانګرس مقابلې ته راووځي نو:

هواد د پنجاب نه بغیر د سندهـ. بلوچستان. پښتونخوا او کشمیر په ساخت غوښتلو د هغهٔ په سندهـ لوے اثر ؤ انګرېز ته پنجاب نه بغیر پاکستان منظور نهٔ ؤ ځکه ئې هغه په سیاسي حریف ایوب کهوړو باندې ووژلو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



(زهٔ یواځې نهٔ یم محبوبا هم را سره ده)

وائسرا ے وائي چې ما د مسلمانانو سره خپله ډله پخه کړې ده او دې ځل لهٔ د کانګرس جنګ به یواځې پېرنګي سره نهٔ وي بلکې د مسلمانانو سره به وي خبره مادر ته ترديږ را ورسوله نور څهٔ غواړئ؟

پهٔ دغه وخت د مسلم لیګ د ډلې حیثیت د شګو د بوجۍ وُ چې پېرنګیانو د ځان نه مخ کښې د دې د پاره کړي وو چې د کانګرس د طرفه ډز او غوزار به دې خوري. کهٔ بوجۍ سوري شي. نو د پېرنګي پرې څهٔ؟ د هغهٔ غرض خو صرف د کانګرس د غوزار نه بچ کول دي او کهٔ مسلمان نن دې ته غاړه ږدي. د سامراج پېرنګي د غلامۍ دا جغ یواځې پهٔ خپله نهٔ بلکې پهٔ ټول هندوستان قائم ساتل غواړي نو د دې نه نبکه به پېرنګي کوم ځا ے پیدا کوله؟

## د پاکستان مختلف تاویلونه

چونکې پېرنګیانو عموماً او وائسرا ے لارډ لنلیتګو خصوصاً هر یو د مسلم لیګ لیډر ته وئیلي وو چې پهٔ منفي سیاست د برطانیې حاکمان نهٔ رضاکېږي. هغوي لهٔ پکار دي چې څهٔ مثبت او (ټهوس) منصوبه پیش کړي او هم داسې مطالبه ئې د سر سکندر حیات خان پهٔ ذریعه د مسلم لیګ د مرکزي مجلس عاملې نه هم کړې وه نو هر څوک ځان ځان لهٔ لګیا وو او پهٔ مختلفو طریقو ئې دغه اړخ ته منصوبې پیش کړي دي. وزیر هند ته وائسرا ے لیکلي دي چې چوهدري خلیل الزمان د بمبۍ ګورنر ته وئیلي وو چې پکار دي چې هندوستان پهٔ دریو ډومینیونو کښې تقسیم شي. داسې معلومېږي چې چوهدري صاحب د هندو او مسلمان نه علاوه یو دریم ډومینین د والیان ریاست هم قائمولو ته تیار وُ دې بل اړخ ته د سرحد ګورنر





سر جارج کننګم وائسرا ے ته لیکي چې کله سردار اورنګ زیب د مسلم لیګ د مرکزي مجلس عاملې د غونډې نه راغے او ما لهٔ ئې خپل رپورټ راوړو. نو هغه وې چې:

The scheme which they (Muslim League) were now contemplating would involve the creation of six of seven Indian dominions ……… and that this novel scheme now holds the field in preference to the original Pakistan proposal.

ترجمه: مسلم لیګ اوس پهٔ کوم سکیم باندې غور کوي. هغه به پهٔ شپږو یا اوؤ ډومینینونو باندې مشتمل وي … او دا چې دا عجیبه سکیم اوس، پاکستان د اصل تجویز نه وړاندې ځا ے نیسي

د دې نه کافي وړاندې وزیر هند لارډ زیټلینډ د سر فېروز خان نون سره د خپل یو ملاقات حال لیکي چې ما هغه سره تفصیلي خبرې وکړې او هغه وائي چې شمال غربي حصه د هندوستان به لکه د برما بېخي د هندوستان نه جدا یو مملکت د پاکستان پهٔ نامه جدا شي وزیر هند وائي چې:

I told him that I saw almost insuperable difficulties in the way of our acceptance of such a policy.

ترجمه: ما هغهٔ (نون) ته ووې چې د داسې پالیسۍ د قبلولو پهٔ لاره کښې زهٔ تقریباً نا قابل حل مشکلات وینم.

دې فېروز خان نون پهٔ ځواب کښې وې: 'ښهٔ ده چې خبر دې کړم.'[10]

---

[10] چوهدري رحمت علي خپل کتاب The father land of Pakistan (ژباړن اقبال الدین احمد) کښې لیکلي دي، سر شیخ محمد اقبال خطبه اله باد کښې د بېل ریاست غوښتنه نهٔ وه. ولې هندوستان کښې دننه د یو مسلم یونټ غوښتنه وه. د پاکستان غوښتنه هغهٔ تر ټولو مخکښې Now or Never پمفلټ کښې کړې وه او درې کسانو اسلم خټک د اکسفورډ طالب علم، صاحبزاده طارق ډلاء طالب علم، عنایت الله خان د وټرنري طالب علم پرې دستخط کړے وُ سر اقبال هم اېډورډ تهامسن ته خط کښې دغه غوښتنه رد کوي دا خط جاوېد اقبال 'زنده رود' کښې رانقل کړے دے خپله چوهدري رحمت علي دا تجویز د سردار اسلم خان ملغاني نه اورېدلے وُ هغه وخت دے د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



……and he said, if that was so he would not himself encourage it when he returned to India.

(دا خط د 13/12/1938 کال دے)

ترجمه: .... او هغهٔ ووې چې کهٔ چرې داسې وي نو کله چې هغه هندوستان ته واپس لاړ شي، هغه به د دې حوصله افزائي ونهٔ کړي.

دا خو مختلفې منصوبې وې د کېمبرج د طالب علم چوهدري رحمت علي د پاکستان متعلق خپله نظریه ده، سر محمد اقبال خپل تجویز پېش کړے ؤ ولې ګورو چې مشر استاد پېرنګے پهٔ خپله څهٔ وائي.

## د پېرنګي پاکستان

دا خو د مسلمانانو خوارانو خپل تجویزونه وو اختیار خو دپېرنګي ؤ د مسلمانانو د لیډرانو خو دا حال ؤ چې لکه سر فیروز خان نون چې پهٔ 1938ز کښې د وزیر هند پهٔ رائې پوهه شو چې هغوي د هندوستان تقسیم نهٔ مني نو سمدستي نون صاحب ووې؛ (بنه ده چې خبردې کړم چې بیا داسې څهٔ خبره د خولې نه نهٔ وباسم) نو کتل دا پکار دي چې د پېرنګي پهٔ څهٔ سمي راځي او پهٔ څهٔ ئې خپل غرض سرکېږي اخېر چې د سر سکندر حیات خان او د مسلم لیګ د خپلې کمېټۍ نه پوره نهٔ شوه، نو پېرنګي د مسلمانانو دغه ټولې منصوبې نامنظوره کړلې او د وائسرا ے د ایګزیکټیو کونسل یو ممبر چوهدري ظفرالله ته ووئیل شو چې تهٔ د دوؤ ډومینیونو یوه نقشه پېش کړه، د دې پهٔ حقله وائسرا ے لنلتګو پهٔ 12/2/1940 کښې وزیر هند ته لیکي چې زما پهٔ وېنا ظفرالله د ډومینین سټېټس پهٔ حقله یو یادداشت لیکلے ؤ چې

---

مزاري قبیلې اتالیق ؤ چوهدري رحمت علي موجوده پاکستان منلو باندې د جناح صاحب خلاف The great Betrayal کتاب لیکلے او ورته ئې 'غدار اعظم' (Quizling Azam) وئیلي دي





هغه ما مخکښې درلیږلے دے. وائي چې څهٔ نور وضاحتونه ترې نه ما غوښتلي دي. هغه وائي چې تفصیلات به زهٔ بیا وروستو پېش کړم: خو د هغهٔ (ظفرالله) دا خواهش دے چې دا خبره دې چرې هم څرګنده نهٔ شي چې دا خاکه هغه پېش کړې ده. هغه البته دا اختیار راکړے دے چې څنګه زهٔ مناسب ګڼم، داسې دا دستاویز استعمال کړم؛

I may do what I like with it including sending a copy to your thirdly that copies been passed to Jinnah and I think to Hydri and fourthly that which, he, Safrullah, cannot of course admit its authorship, his document his been prepared for adoption by the Muslim League with a view to being given the fullest publicity.

ترجمه: زهٔ چې هر څهٔ وغواړم ورسره کولے شم. پهٔ شمول د دې چې تا ته یو نقل درولېږم. دریمه دا چې نقلونه ئې جناح او زما پهٔ خیال حېدري ته ورکړے شوي دي او څلورمه دا چې هغهٔ (ظفرالله) بې شکه د دې تالیف پهٔ خپله غاړه نهٔ شي قبلولے. د هند دستاوېزو زیات نه زیاتې پبلسټۍ پهٔ غرض د مسلم لیګ د منظورۍ د پاره تیار شوي دي.[11]

---

[11] چوهدري ظفرالله خان قادیاني وائسرا ے نه د دې د پټ ساتلو خواست کړے ؤ خکه تر اخره پورې چې تر څو دا انډیا افس لائبرېري انګلېنډ دستاوېزات برڅېره شوي نۀ وو. چا ته پته نۀ وه چې قرارداد چا لیکلے دے. چوهدري خلیق الزمان. چا چې د دې قرارداد تائید پۀ منټو پارک کښې کړے ؤ. خپل کتاب 'پېتهـ وے ټو پاکستان' مخ 297 باندې لیکلي دي چې ما ډېره هڅه وکړه چې دا خبره معلومه کړم چې د قرارداد مسوده چا لیکلې خو تر اوسه راته معلومه نۀ ده. عبدالرحمان صدیقي ما ته وئیلي وو چې هغۀ سکندر حیات نه پوښتنه وکړه نو هغۀ راته وې چې دا تپوس خپل صدر یا سېکټر نه وکړه ـ خو پۀ هر حال کښې دا خبره درسته ده چې دا مسوده د چا هندوستاني یا مسلمان نۀ ده. ځکه د مسلم لیګ ریزولېشن خو به ما، عبدالرحمان یا نواب اسماعیل جوړوۀ او مسلم کښې مونږ نه بنۀ ډرافت چا نۀ شو جوړولے



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائسرا ے وضاحت کوي چې مسوده خو زما په وېنا تیاره کړے شوې ده خو ظفر الله چونکې قادیانے دے نو کهٔ مسلمانانو ته پته ولګیده چې دا منصوبه د یو قادیاني د لاس جوړه ده نو هغوي به بیا شک کوي. وائسرا ے ځومره ډاډه ؤ او پهٔ ډاګه لګیا دے چې د دې یوه کاپي جناح ته ورکړے شوې ده چې مسلم لیګ دامنصوبه منظورکړي او د دې مشتهرې وکړي: یعني چې د جناح پالیسي او د مسلم لیګ سیاست شي. سر اکبر حیدري ته یوه کاپي پهٔ دې غرض ورکړے شوې ده چې د دې د پاره مالي امداد د هغوي پهٔ ذمه ؤ. دې تاریخونو لهٔ غور پهٔ کار دے. دا خط وائسرا ے پهٔ 12/3/1940 کښې لیکلے دے منصوبه خو ئې مخکښې لیږلې ده او مسلم لیګ هغه منصوبه پهٔ 23/3/1940 پهٔ لاهور کښې د قرارداد پاکستان پهٔ نامه پهٔ خپل سالانه اجلاس کښې تصویب کړه چې مشتهري ورله ورکړي (مارچ کښې د ظفرالله د ایګزیکټیو کونسل د ممبرۍ میعاد ختمیدو هغهٔ ته د دې خدمت پهٔ غرض کښې توسیع ورکړے شوله)

د مسلم لیګ د دې تجویز د پاس کولو نه درې ورځې پس وائسرا ے پهٔ 25/3/1940 کښې لیکي:

> As Congress are putting forward a preposterous claim which they know is incapable of accept.acne, he (Jinnah) equally will put forward just as extreme a claim, of the impracticability of realizing which he is probably just as will aware, but the existence of which will, while reaffirming the Muslim attitude of hostility to congress claims, take away some, at any rate, of the damaging charge which has bither to been leveled against them (Muslim League) that they have no constructive ideas of their own.

ترجمه: لکه چې کانګرس یوه احمقانه دعوي کوي چې هغوي ته پته ده قبلیدے نهٔ شي نو هغه (جناح) هم دغه شان یوه انتها





پسنده دعوي وکړي چې د هغې ناقابل عمل حیثیت نه به هغه هم ښهٔ خبر وي. مګر د هغې پهٔ وجه هغه نهٔ صرف د کانګرس د دعوو پهٔ حقله د مسلمانانو د دښمنۍ اماده وکړي بلکې د مسلم لیګ خلاف د دې الزام نه چې د هغوي خلاف تراوسه پورې لګیدو چې هغوي. هیڅ تعمیري نظریات نهٔ لري. به لږ څهٔ کم کړي

وائسرا ے غریب خو دا چغې وهلې چې څهٔ منصوبه وړاندې کړئ خو چې پهٔ ولالانو پوره نهٔ شوه، مجبوراً ئې خپله منصوبه وړاندې کړله دلته هم کهٔ ورته پهٔ غور وکتل شي. نو پهٔ مسلمانانو ئې څهٔ کار نه شته؛ د کامیابولو او کامیابیدو درک ئې نهٔ لګي وائي چې جناح هم پوهه دے چې کار د کیدو نهٔ دے؛ خو پېرنګے خو خپل غرض سرکوي. یو د کانګرس سره دښمنۍ ته مسلم لیګ راویستل او دویم مثبت او تعمیري تجویز. سړے چې ورته ګوري نو زهٔ وایم چې دا پېرنګیان به ځومره خوشحالیدل چې دا د ګلابو مانابو لوبه ئې جوړه کړې وه او ګوډاګي ئې ګډول [12]

## مسلم لیګ: د پېرنګي ډله

[12] نوموړي مسلم لیګي مشر چوهدري خلیق الزمان خپل کتاب کښې لیکي چې کله مولوي فضل الحق شیر بنګال د لاهور قرارداد پهٔ دریغ وړاندې کړو نو مستر جناح ئې ما ته د تائید کولو ووئیل رما زړهٔ نهٔ غوښتل خو پاڅېدم او تائید مې وکړو داسې ښکاري چې هغهٔ ته احساس ؤ چې هغه یو غیر فطري کار کوي، څکه هم د دغه کتاب (Path way to Pakistan) پهٔ مخ 792 لیکي چې نن سوچ کومه نو غوني راباندې خیږ خیږ شي چې دا مونږ څهٔ کول؟ زمونږ دعوي خو پهٔ ګرد پنجاب باندې وه او مونږ خپله عرضی کښې هډو پنځوستمه برخه خپله لهٔ سره لرې کړه دغه شبه پهٔ ما باندې ډېره ناقلاره ورته خو زهٔ څکه غلے پاتې شوم چې کهٔ دې وخت کښې ما اختلاف وکړو نو کهٔ زهٔ بر کېږم او کهٔ ور کېږم، خو د مسلم لیګ ماتې یقیني ده ـــ دې نه اندازه کېدے شي چې د مسلم لیګو سنجیده ولي او نسبتاً پوهه خلق د دې قرارداد پهٔ پایله وړاندې نه رسېدلي وو خو چونکې دا قرارداد د وائسرا ے لهٔ اړخه رالیږلے شوے ؤ نو منل ئې ګویا عین فرض ګرځولے شوي وو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو چې کله مسلم لیګ د وائسرا ے د طرفه د ظفر الله منصوبه د پاکستان په لاهور کښې قبوله کړه. نو بیا پېرنګے په دې پوهه شو چې هغه اوس په مسلم لیګ ملا تړلے شي چې دے به د پېرنګي پالیسي سل په سل چلوي او د کانګرس د مقابلې د پاره به خان په خپله تیاروي. نو بیا د پېرنګي د پاره دا فېصله لازمي او فطري وه چې هغه بې د مسلم لیګ نه د بل چا د هېڅ قسمه حېثیت تسلیمولو ته بیخي تیار نه ؤ [13]

هم په دغه ورځو کښې د قام پرسته مسلمانانو یوه ډېره درنه او نمائنده غونډه په ډیلي کښې وشوه چې صدارت ئې د سندهـ منتخب وزیراعلي الله بخش سومرو وکړو. وزیر هند لارډ زټلینډ د دې اهم کنونشن په حقله د وائسرا ے نه تپوس کړے دے. وائسرا ے ورته په 14/5/1940 کښې داسې لیکي:

I attach no particular importance to the Delhi Conference of the Muslim which took place a few days ago. it had been well organized and the congress press machine has written it up admirably. We both are. Of course, aware that there is not unimportant Muslim element outside the Muslim League ….. Indeed I am sure that Jinnah remains the man to deal with on Muslim side.

---

[13] د اردو ژبې نوموړے ادیب پروېز پروازي خپل کتاب "Sir Zafarullah: Contribution of the Freedom Movement" کښې لیکلي دي چې هغهٔ د سر ظفر الله خان به کار و زیار مرتب کړے دے چې سر ظفر الله خان خپله دا منلي وو چې 'قرارداد پاکستان' ډرافت هغهٔ د وائسرا ے په وېنا باندې جوړ کړے ؤ خو خپله نامه ئې ځکه پټه ساتله چې هغه قادیانے ؤ او بیا د پاکستان په حواله شکوک و شبهات پېدا کېدل؛ ځکه چې قادیانیت مسلک مسلمانانو د انګرېز کاشت بوټے ګڼلے ؤ خو بیا د جنرل ضیاء جالندهري دور کښې چې کله سر ظفر الله خان مرګون حاله په کټ پروت ؤ او قادیاني مسلک غېر مسلمه ګرځېدلے ؤ. د هغهٔ نه په زبردستۍ اخستے یو بیان په اخبارونو کښې خپور کړے شو چې قرارداد پاکستان ما نهٔ دے لیکلے او اوس دغه بیان حواله هر خاے درباري لیکوالان ورکوي





ترجمه: زهٔ د مسلمانانو ډیلي کانفرنس ته چې څو ورځې مخکښې وشو. هېڅ خاص اهمیت نهٔ ورکوم د دې ډېر ښهٔ انتظام شوے ؤ او د کانګرس پریس د دهٔ په باره کښې په قابل تعریفه توګه لیکل وکړل … مونږ دواړو ته یقیني معلومه ده چې د مسلم لیګ نه بهر اهم مسلمانان عنصر وجود نهٔ لري … زهٔ بلکل باور لرم چې صرف جناح هغه سړے دے چې مونږ ورسره د مسلمانانو په اړخ معامله کولے شو

د کانګرس سره ملګري هغه مسلمانان خو پېرنګي د سره منل نهٔ. چا چې د خپل ملک د ازادۍ د پاره کوشش کولو او د پېرنګي د غلامۍ نه ئې د خان خلاصولو د پاره په یو قامي تحریک کښې د کانګرس سره په شریکه ملا تړلې وه. ولې پېرنګے هغه مسلمانان هم نه مني. څوک چې د مسلم لیګ نه بهر خپل یو تنظیم جوړوي او دا د زرونه زیات د مسلمانانو نمائندګان چې د یو منتخب وزیراعلي په مشرۍ راغونډ شوي دي. داهم پېرنګے نه تسلیموي او وزیر هند ته په ډاګه لیکي چې زمونږ سړے جناح دے او هغه د ټولو مسلمانانو نمائنده شو.

د لارډ زیټلینډ میعاد پوره شو. هغهٔ اخېري الوداعي خط په 14/5/1940ع کښې لیکلي دي. نوے وزیر هند L.S Amery ایمري مقرر شو چې هغهٔ خپل اولنے خط په 16/5/1940 کښې لیکلے دے.

## خاکسار

د دې نه هم عجیبه پوزیشن د خاکسارو ؤ. په دې نورو مسلمانانو خو دا اعتراض ؤ چې دوي د پېرنګي سره مرسته نهٔ کوي ولې خاکسارو خو د امداد پېشکش هم کړے دے لکه چې وائسرا ے په 24/5/1940ع کښې لیکي:

Meanwhile the khaksars have formally renewed



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



their offer to me of 50,000 men to help in war.

ترجمه: په عين حال کښې خاکسارو په جنګ کښې د مدد کولو د پاره د پنځوسو زرو کسانو راکولو خپل پېښکش ما ته رسماً راتازه کړے دے

دوي عاجزانان خو د پېرنګي سره د جرمن بر خلاف جنګ ته هم ملا تړلې ده خو پېرنګے وائي: جناح بيان ډېر واضحه دے چې

......... formal statement by Jinnah that he accepts no responsibility for Khaksars of their activities and that they have declined to accept his advice.

ترجمه: د جناح له طرفه رسمي بيان دے چې هغه د خاکسارو يا د هغوي د سرګرميو هېڅ ذمه واري نه قبلوي او دا چې هغوي د هغه د مشورې قبلولو نه انکار کړے دے.

وائسرائے په خپل ذهن او پاليسۍ کښې بلکل واضحه دے چې خاکسار چونکې د جناح صاحب هدايات نه مني نو وائسرائے وائي چې:

......... that considering the present attitude of the khaksara in the Punjab it would not be advisable for me to enter into any correspondence with them of their leaders and I propose accordingly to leave the telegram unanswered.

ترجمه: په پنجاب کښې د خاکسارو د موجوده روئې په نظر کښې نيولو سره به دا زما لپاره مناسبه نه وي چې هغوي يا د هغوي ليډرانو سره د څه قسمه خط وکتابت باندې لاس پورې کړم او دغه شان زه بهتره ګنم چې د تار هېڅ ځواب ورنه کړم

پېرنګے په ډاګه لګيا دے دا کوشش کوي چې په هر يو هندوستاني مسلمان داخبره واضحه کړي چې پېرنګے ئې د جناح صاحب او مسلم ليګ نه بل څوک او نه بلې ولې تسليمولو ته تيار دي نو که څوک په پېرنګي ځان





تسليموي، نو پکار دي چې مسلم ليګ ته لاړ شي هسې خو پېرنګي کانګرس ته دا بانه تېنګه کړې وه چې چونکې هغه موږ سره په جنګ کښې امداد نه کوي، نو موږه ورسره څنګه تعاون وکړو؟ ولې دلته خو خاکسار د پېرنګ دا مداد د پاره پنځو سوزرو (50000) خاکسارو رضاکارانو خدمات هم پېش کړل، خو چونکې خاکسار د جناح صاحب د حکم تابع نه دي، نو وائسرائے هند دومره اخلاقي سپکاوي ته راپرېوځي چې د تار ځواب قدري هم قصداً او ارادتاً نه ورکوي.

## صوبائي وزارتونه او جناح صاحب

کله چې د هندوستان د اتو (8) صوبو د کانګرسي وزارتونو استعفي ګانې ورکړې، نو هلته په صوبو کښې د دفعه 93 د لاندې د ګورنر ذاتي حکومتونه قائم شول يعني ګورنر راج ولګيدو جناح صاحب وائسرائے له خواست وکړو چې په دغه صوبوکښې دې سياسي او غير سرکاري ايډوايزران (مشاوران، مشيران) مقرر کړے شي يعني مطلب دا چې د کومو صوبو وزارتونه کانګرس پرېښودل هغه دې د مسلم ليګ د طرفه مقرر شوو مشيرانو ته په حواله شي. چې سړے ورته ګوري نو دا څه عجيبه ناروا مطالبه ده، يعني د جناح صاحب په قول دې د کانګرس (يعنې د هندوانو د صوبو اختيار هم مسلم ليګ ته وسپارلے شي او دا په داسې حالاتو کښې چې مسلم ليګ نور خو پرېږده چې په دغه صوبو کښې ئې د سره څه حيثيت نه لرلو بلکې په يوه صوبه کښې هم د مسلم ليګ د ډلې حکومت نه ؤ، خو چې کله جناح صاحب د پېرنګي د مرضۍ خلاف د مطالبې کولو جرات وکړو، نو وائسرائے په 10/7/1940 کښې ليکي:

I hope that Jinnah will not continue to press his extravagant claims.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: زهٔ امید کوم چې جناح به خپلې نامعقولې دعوې جاري ونهٔ ساتي

خو کهٔ دې نه قلاریږي او پهٔ دې خپله نارامه پورې نښتي وي نو :

If he does I think myself that we may definitely have to consider whether we should continue the effort which I so far made to deep the Muslims together, whether we should not let the balance of the Muslim League as represented by Sikandar Fazlul Haq have their break with Jinnah. But I do not want to see such a break if we can reasonably avoid it.

ترجمه: کهٔ چرې هند خپل عمل جاري وساتي. نو زما پهٔ فکر مونږ لهٔ پکار دي چې پهٔ دې خبره حتمي غور وکړو چې ایا مونږ دغه کوشش جاري وساتو کوم چې تراوسه پورې ما د مسلمانانو د یو ساتلو د پاره کړے دے؟ ایا مونږ د مسلم لیګ دغه توازن چې سکندر فضل الحق ئې نمائندګي کوي. د جناح نه ونهٔ شلوو؟ مګر زهٔ دغه شان شلون لیدل نهٔ غواړم. کهٔ چرې مونږ ترې نه پهٔ معقوله طریقه بچ کیدے شو.

پیرنګي د مسلم لیګ او جناح صاحب د حیثیت پهٔ حقیقت پوهه وو لکه چې پهٔ 28/8/1940 کښې لیکي؛

I hope that Sikandar and Fazlul Haq will be able to bring pressure on Jinnah to make
him tee the line. If he does not, I shall go without him.

ترجمه: زهٔ امید کوم چې سکندر او فضل الحق به پهٔ جناح زور واچوي چې د پالیسی پیروي وکړي، کهٔ چرې ئې نهٔ کوي نو زهٔ به د هغهٔ نه بغیر کار وچلوم.

پیرنګے پهٔ دې پوهه ؤ چې مسلم لیګ خپل څهٔ مونډیز حیثیت نهٔ لري هغه د





پیرنګي پهٔ ډانګورو خان اوچت کړے دے سر ئې بره ښکاري او چې کله پیرنګے وغواړي چې خپلې ډانګورې ترې نه راوکاږي نو مسلم لیګ به پرمخې پهٔ مخکښې پروت وي، چرته به ئې درک هم نهٔ لګي، ولې پیرنګے پهٔ دې هم ډاډه ؤ چې پهٔ مسلمانانو کښې به هغه ته چرې هم د خپلو ګوډاګیانو کمے نهٔ وي، کهٔ یو خوا سکندرحیات خان او مولوي فضل حق پهٔ مسلمانانو کښې یو خپل مقام او حیثیت لرلو، ولې چې د مسلمانانو د اکثریتي صوبو منتخبو وزارتونو مشران وو نو بل خوا ته چې کله دې خبرې هوا وخوره چې پیرنګے د جناح صاحب نه خفه دے، نو هر مسلمان خپل خدمات پیش کول شروع کړل پهٔ دې سلسله کښې وائسرائے د سر اکبر حیدري پهٔ حقله پهٔ 29/8/1940 کښې لیکي؛

You may be amused to hear that Hydri, during our conversation a few days ago, coyly hinted to me that if there should be trouble with Jinnah and the Muslim League, there was, at any rate, a very prominent Muslim, who could steer the country through the troubled waters that may lie ahead.

ترجمه: د دې پهٔ اوریدو به خوشحاله شې چې حیدري څو ورځې مخکښې ما سره د خبرو اترو پهٔ دوران کښې پهٔ شرمیندوکه توګه ما ته اشاره راکړه چې کهٔ چرې جناح او مسلم لیګ سره څهٔ مشکل پیش شي. نو هیڅ باک نشته، یو بل وتلے مسلمان شته چې هغه د ائنده مشکلاتو نه ملک ویستے شي.

وائسرائے وائي چې ما ئې شکریه ادا کړله چې د نظام نمائندګي در لهٔ ښهٔ ده. وائسرائے پوهه ؤ چې دا د عاشق معشوق ناز نخرې د سیاسي لوبغاړو یوه مشغله ده پیرنګي قصداً او ارادتاً جناح صاحب او مسلم لیګ لهٔ دومره اهمیت ورکوي او دومره اختیارمن ئې تسلیموي چې کهٔ چرې سبا لهٔ د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانګرس او مسلم لیګ څۀ د روغې جوړې خبرې کېږي، نو چې جناح صاحب دوي دومره اوچت خېژولي وي چې د هغې ځاے نه راکوزیدل بیا جناح صاحب ته هم ګران وي؛ نو د دې وجې نه چې جناح صاحب هر څومره نارامې وائي او اوچت اوچت لګي، نو پېرنګے ورته ګوري یا ئې راښکلے وي؛ ولې چې هغه پوهه دے چې د مسلم لیګ د ډلې ټول قوت او حیثیت د پېرنګي په خپل لاس کښې دے، لکه چې وائسراے وائي چې یا به جناح صاحب زمونږ پالیسي چلوي، ګنې نو زۀ به بیا د هغه نه بغېر په خپله مخه ځم؛ خو کوشش ئې داده چې:

I still think it important to hold the Muslim League together we can do so, and in these circumstances there is nothing for it but to be patient with Jinnah, though one's patience is beginning definitely to run out.

ترجمه: زۀ اوس هم په دې فکر یم او اهمه خبره دا ده چې څومره زمونږ توان دے مسلم لیګ یو ځاے متحد وساتلے شي او په دې حالاتو کښې بله لاره نۀ شته بې لۀ دې چې جناح سره ګوزاره وکړو؛ اګر چې هغه سره د سړي صبر په حتمي توګه تمامېږي.

په وخت کښې جناح صاحب د حکومت هند نه دا مطالبه وکړه چې:

That the Muslim League should now be taken into full and equal partnership with H.M Govt. is the ruling of this country & authority share with them.

ترجمه: مسلم لیګ باید اوس د دې ملک په حکمرانۍ کښې د برطانوي حکومت سره یو شان برابر حصه دار کړے شي او هغوي سره اقتدار تقسیم شي.

یعني مطلب دا چې د هندوستان ټول هندوان. سکهان. عیسایان. پارسیان





او اچهوت به په ځاے پاتې شي او د ملک حکومت به پېرنګي او مسلم لیګ په برابر حیثیت سره چلوي؛ یعني اوس مسلم لیګ د ټول هندوستانیانو د نمائندګي واحد دعوي دار شو.

د وائسراے دا کوشش ؤ چې د کانګرس نه بغېر یو مشاورتي کونسل جوړ کړي د اچهوتو لیډر امبیډکر او د هندو مهاسبها ایني Anay سره خبره خلاصه کړې وه خو چونکې جناح صاحب لۀ مکمل اختیار نۀ شو ورکیدے. نو هغۀ د شاملیدونه انکار وکړو، په دې وجه دغه منصوبه په ځاے پاتې شوله او وائسراے په خپله د امبیډکر او ایني نه معافي وغوښته. دغه وخت وائسراے د دې خبرې ضرورت محسوس نۀ کړو چې د جناح صاحب نه تپوس وکړي چې د 1937 د انتخاباتو په نتیجه کښې د هغۀ څۀ نمائنده حیثیت دے؟ وائسراے ښۀ پوهه دے لکه چې په 19/9/1940 کښې لیکي:

He Jinnah is subjected to very considerable criticism from various sections of the community he has against him the prime Ministers of the two majority Muslim provinces the line he has been taking is unsympathetic to large numbers of Muslim of position even in Muslim minority provinces such as Bihar and U.P.

ترجمه: هغه (جناح) د خپلې فرقې د مختلفو حصو تر تنقید لاندې دي د دوارو مسلمان اکثریتي صوبو وزیراعظمان د هند خلاف دي کوم لاین چې هغه شړي. هغه د مسلمانانو د ګڼ تعداد او حتي د مسلمان اقلیتي صوبو لکه بهار او یو پي د مسلمانانو پوزیشن ته غېر همدردانه دي.[14]

---

[14] د دې وجه د جناح صاحب خوجه اسماعیلي اغا خاني مسلک واله ؤ چې علماء ئې مسلمانانو کښې نۀ شمېري لکه څنګه چې لوے عالم اشرف علي تهانوي خپل کتاب 'بوادر النوادر' کوم چې هغۀ خپل مرګ نه څو ورځې مخکښې لیکلے ؤ. کښې اسماعیلي اغا خاني فرقه بیخي کافره



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پنجاب او بنګال نه علاوه دې نورو دوارو د مسلمانانو اکثرتي صوبو یعني سندھ او سرحد کښې هم د جناح صاحب مخالفې سیاسي ډلې موجودې وې خو د دې هرڅۀ باجود هم وائسراے وائي چې:

Indeed I am Jinnah is the 'man' to deal with on Muslim side.

ترجمه: واقعاً زۀ یقین لرم چې د مسلمانانو پۀ اړخ جناح یوازینے سړے دے چې سره معامله کیدے شي

د مسلم لیګ د قائم ساتلو پۀ سلسله کښې کۀ هر څومره مشکلات راتلل، پېرنګي فېصله کړې وه چې هغه به ټول یو پۀ یو حل کوي د پنجاب مثال به واخل. پۀ پنجاب کښې د سر سکندر حیات خان پۀ مشرۍ کښې د یونینسټ ډلې حکومت ؤ چې هغې کښې هندوان او سکهان هم شامل وو دلته چې جناح صاحب او مسلم لیګ د تقسیم هند مسئلې لۀ څومره زور ورکړو. نو دغلته پۀ پنجاب کښې سکندر حیات خان ته مشکلات پېښېدل. ولې چې د هندوستان دننه غېرمسلمو دا حالات لیدل نو هغوي مطالبه شروع کوله چې د پاکستان د مطالبې او تجویز پۀ حقله دې پېرنګے د خپلې پالیسۍ واضحه اعلان وکړي وائسراے د دې اعلان کولو مخالفت کښې لیکي (1/3/1941ز):

It should not only be a mistake but it would be very near a breach of faith were we to do anything of the sort.

ترجمه: دا به نۀ صرف غلطي وي بلکې تقریباً به د اعتماد ماتول وي کۀ چرې مونږ دغه شان وکړو

---

ګرځولې ده

پۀ انسائیکلوپیډیا اسماعیلزم کښې کومه چې تاج الدین صادق علي او ممتاز علي راجوړه کړې ده، کښې لیکل شوي دي چې د جناح صاحب خپله نامه 'مامدالي جیناح' د سر اغا خان مور لېډي علیشا د خوجه روایت لۀ مخه خپله اېښې وه





وائسراے هم پۀ دې خط کښې لیکي چې سکندر حیات خان راغے او ما ته ئې ووې چې زما د مسلم لیګ د ورکنګ کمېټۍ سره د پاکستان پۀ مسئله اختلاف رائې ده او زۀ د دغه کمېټۍ نه استعفي ورکوم لیکي چې ما ورته پۀ خپله ونۀ وې خو دپنجاب ګورنر سر هنري کریک Sir Henry Caik ته مې ووې چې تۀ سکندر حیات منع کړه چې استعفي ور نۀ کړي او بیا وجه بیانوي؛

This is not the moment at which I want to see any spilt in the Muslim League which I think is very important (tiresome as the activities may be in some ways) to maintain as a solid political entity.

ترجمه: دا هغه خط نۀ ؤ چې زۀ پۀ مسلم لیګ کښې د درز مشاهده وغواړم کۀ څۀ هم ځینې فعالیتونه به ئې بنائي پۀ ځینو مواردوکښې ستومانه کوونکي وي فکر کوم دابه ډېره مهمه وي چې دغه ګوند یو مضبوط سیاسي ماهیت وساتي او د مسلم لیګ پۀ ډله کښې ئې دلچسپي څۀ ده؛

……. That is the more desirable since we are moving into the nest phase of Gandhi Muslim ranks, more particularly over this vital question of Pakistan …….. Would be a very great encouragement to the anti.war party and might well make our position in dealing with the Satyagraha more difficult.

ترجمه: ..... دغه قسم زیاته بهتره ده ځکه چې مونږ د ګاندهي ساتیاګراها د مهم بلې مرحلې ته ننو ځو او د مسلمانانو پۀ صفونوکښې بیا خصوصاً د پاکستان پۀ دې حیاتي سوال د څۀ قسمه درز به د جنګ مخالفت پارټي زیات زړۀ غتاوي وي او د ساتیا ګراها پۀ قابوکولوکښې به زمونږ پوزیشن نورهم



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکل کړي

د پېرنګي په مسلمان څهٔ کار نشته، بار بار لیکي چې پاکستان د منلوار چلیدو شے نهٔ دے خو پېرنګي خو خپل منډېزي دښمن کانګرس لهٔ مقابلې لهٔ څوک ګوري او ټوله توجه او مخه ئې مسلم لیګ ته ده چې پس د دې چې کهٔ چرې کانګرس د پېرنګي مقابلې ته پتون وواهو، نو مسلم لیګ به د پېرنګي سره پهٔ ډاګه پهٔ پره کښې ودرېږي

سکندر حیات خان خو د خپل یونینسټ ملګرو د تسلي د پاره یو بیان ورکړو چې هغې ته وزیر هند ایمرې پهٔ خپل 8/10/1941 نیټې پهٔ خط اشاره کړې وه. دغه بیان کښې سکندر حیات خان تجویز پېش کړے دے چې پېرنګیان دې یو سرکاري اعلان وکړي او یو میعاد دې وټاکي چې کهٔ دې دومره موده کښې د هندوستان مختلفو فرقو خپل کورکښې څهٔ مکمله فېصله ونهٔ کړے شوه او متفقه ائین ئې منظور نهٔ کړو، نو بیا به برطانوي حکومت بامر مجبوري د خپلې مخې ائین هندوستان لهٔ ورکوي. د دې خط د حاشیې د پاسه وائسراے هند پهٔ خپل لاس پهٔ نري خط لیکلي دي؛

And. Make it perfectly certain that the Muslims would refuse to play till the limit brought us.

ترجمه: او دا پهٔ مکمله توګه پخه کړه چې مسلمانان به تر هغې لوبې کولو نه انکار وکړي ترڅو چې یو حد راورسیږي او مونږ پکښې رادننه شو.

د دې نه پهٔ واضحه ټکو کښې وائسراے د خپلې پالیسۍ اعلان نهٔ شي کولے چې پېرنګے صرف دا کوشش کوي چې مسلمانان پهٔ هېڅ شان هم روغې جوړې او تصفیې ته رضا نهٔ شي چې اختیار پېرنګي ته وسپارلي شي او د دې غرض او مقصد د حاصلولو د پاره پېرنګي دومره پهٔ ډاګه او بربنډه لګیا ؤ او داسې ئې پکښې خپل پردي کولو چې د شک هېڅ قسمه ګنجائش





ئې نهٔ پرېښودو. پهٔ دې سلسله کښې د سنده د وزیراعلي اله بخش سومرو یو واضحه بیانول به خبره سپینه کړي دا خو مخکښې ذکر شوے دے چې هم د دې اله بخش د مشرۍ د لاندې د قام پرسته مسلمانانو یوه نمایندہ درنه غونډه ډیلي کښې شوې وه. لازمي خبره ده چې وائسراے پهٔ هغې خفه ؤ، چونکې د دهٔ د مسلم لیګ ډلې سره تعلق نهٔ ؤ خو د یوې صوبې د منتخبې اسمبلۍ نمائنده وزیراعلي ؤ او هم د دې وزیراعلي پهٔ حیثیت د وائسراے هند د ډیفنس کونسل ممبر هم ؤ خو د هغې باوجود هم د وائسراے لهجه او طریقه د خبرو اترو ورسره سخته څهٔ چې هتک امیزه ده. د وائسراے پهٔ تپوس هغه څهٔ تجویزونه پهٔ ډیفنس کونسل کښې پېش کړل چې د هغې پهٔ ذریعه به د دې فرقه وارانه اختلافاتو څهٔ قدرې مخنیوے وشي او دا تجویز ئې هم پېش کړو چې جواهر لال نهرو او مولانا ابوالکلام ازاد (دغه وخت قیدوو) هغوي دې پرېښودے شي. د تجویزونو پېش کولو نه پس ئې بیا د وائسراے نه تپوس وکړو. د هغې پهٔ حقله وائسراے د 11/10/1941 نېټې پهٔ خط کښې لیکي:

"When "he said, "Are I likely to hear from you what you have decided?" I replied "you"11 hear nothing – you are not one of my advisers, but the least intention of telling you how I propose to handle my business and I trust you understand that." He said," you are very frank." I said "I am bound to be frank, this is my business and responsibility.

ترجمه: هغهٔ ما ته ووې چې (کله زهٔ به تا نه واورم چې تا څهٔ فېصله کړې ده) ما ځواب ورکړو چې (تهٔ به زمانه هېڅ وانه وري، تهٔ زما د مشیرانو نه نهٔ ئې. بلکې د سنده وزیراعظم ئې .... زهٔ تا ته د دې وئیلو هېڅ اراده نهٔ لرم چې زهٔ څنګه خپل کاروبار پهٔ مخ بوځم او زما اعتماد وي چې تهٔ به دې خبره



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهيږي (هغه ووې ترڅو ډېر سپين ويونکے ئې) ما وې چې زۀ مجبوريم چې سپين ويونکے واوسم دغه زما کار او زما ذمه واري ده.

عجيبه ټوقه ده: اله بخش د يوې صوبې منتخب وزير اعلي او د وائسراے د خپل ډيفنس کونسل ممبر ؤ. هغه لۀ داحق نۀ ورکوي چې هغه دې د هغه د تجويزونو پۀ حقله رائې ورکړي او پۀ دې بل اړخ د مسلم ليګ مشرانو سره پۀ مسلکي او سياسي معاملو کښې مشورې، جرګې کوي او لارښودنې ورته کوي او دې لهجې او طريقې د خبرو ته خو ئې لږ فکر پکار دے چې څومره تکبر او فرعونيت دے پکښې؛ خو غرض او مقصد د پېرنګي صرف يو دے چې هر يو مسلمان پۀ دې پوهه شي چې پېرنګي د مسلم ليګ نه بهر او د جناح صاحب د تابعدار او وفادارۍ نه غېر د يو مسلمان حيثيت تسليمولو ته تيار نه دے؛ ان کۀ هغه د مسلمانانو د اکثريتي صوبې د منتخبې اسمبلۍ وزير اعلي هم وي او کۀ د وائسراے د خپل ډيفنس کونسل غړي وي هم.

پېرنګيانو دا هم کوشش کولو چې پۀ بين الاقوامي سطحه هم جناح صاحب او مسلم ليګ دنيا سره معرفي کړي پۀ دغه ورځو کښې د چين د حکومت سربراه چانک کاي شيک د حکومت برطانيه پۀ بلنه د هندوستان پۀ دوره راتلو. هغۀ خواهش ظاهر کړے ؤ چې هغه ګاندهي او جواهر لال نهرو سره ليدل غواړي وائسراے ليکي چې دا خو به ګرانه پۀ دې شي چې دغه ليډرانو سره خو زما خبرې اترې بندي دي. وائي چې؛ د دغې انتظام خو به وشي خو غم ورسره بل وي؛ لکه چې پۀ 26/1/1942 کښې ليکي؛

> I know you would at once .take the point of his seeing Jinnah as well as the other two and I shall have to coax him to receive the head of the Muslim League, whether he feels inclined of not.





ترجمه: زۀ پوهيږم چې تۀ به زر دا مسئله رابرسيره کړې چې هغه دې بايد جناح او هغه نور دوه تنه ووينې او کۀ هغه داسې غواړي يا نۀ، زۀ به هغه دې ته اماده کړم چې د مسلم ليګ مشر ومني.

چانګ کاي شيک پۀ دې خبره کښې ډېر پۀ ټينګه غرضي ؤ چې د هندوستان د مسئلې څۀ حل راوباسي هغۀ ليدل چې جاپانيانو پېرنګيان راپه مخه کړي دي سينګاپور ئې قبضه کړو برما فتح شوه او اوس د هندوستان دروازه ډبوي؛ نو چانګ کاي شيک پۀ ځان هم لګيا ؤ او دې خوا ئې د امريکې د اړخه پۀ پېرنګيانو زور اچولو چې پۀ هره لار چې وي د هندوستان د مسئلې څۀ حل ضرور راوباسئ امريکې ته دې خبرې کښې کافي زور ښکاريدو چې د پېرنګي د خپلو انتخاباتو پۀ نتيجه کښې کانګرس پۀ اتو صوبو کښې حکومتونه ګټلي دي او نن دغه اتۀ واړه صوبو کښې منتخب حکومتونه نۀ شته بلکې هلته ګورنر راج يعني انګريز ابغ پۀ نېغه حاکم دے. امريکې پۀ دې خبره زور اچولو چې د قام د مرستې نه بغېر د نن سبا جنګونه سرته نۀ رسي.

## کرپس مشن

## Cripps Mission

پېرنګے پۀ دې پوهه ؤ چې هلته يورپ کښې هر څۀ چې کيږي، دلته ايشيا کښې هغه ته کافي نقصان ورسيدو او هغۀ پۀ او ځل دا محسوسه کړله چې د دې خبرې هم امکان شته چې پېرنګے د هندوستان نه لاس وونيځي. نو د دې نوي حالاتو پۀ رڼا کښې پېرنګي پۀ خپلې پاليسۍ سر دوباره غور شروع کړو. پېرنګي اوسه پورې ښۀ پۀ کلکه د هندوستان د وفاق او وحدت پۀ حق



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې ؤ، جناح صاحب او مسلم لیګ هغهٔ صرف د دې د پاره پهٔ شا ټېول چې د کانګرس او مسلم لیګ روغه دې نه کېږي، نو اختیار به پهٔ خپله پېرنګي ته پاتې وي او نور خو پرېږده. هغه د اچهوتو امبیډکر پهٔ دې پوهه ؤ چې:

> He was perfectly content himself, he said, with that state of things and in favor of the Pakistan idea quite. Frankly, because it meant that the British would have to stay in India.

(د 19/11/1940ع- نیټې د وائسراے لیک)

ترجمه: هغهٔ (امبیډکر) ووې چې هند پهٔ خپله د دغه حالاتو او پاکستان د تصورپهٔ حق کښې پهٔ ریښتیا سره بیخي مطمئن دے، ځکه چې د دې مطلب به دا وي چې انګریزان به هندوستان کښې پاتې شي.

ولې اوس چې کله پېرنګي سره دا ویره پېدا شوله چې شاید چې هغه د هندوستان پهٔ پرېښودو مجبور شي نو هغهٔ د فډریشن او وفاق پهٔ مسئله اسرار او ټینګار پرېښود او هغهٔ د کانګرس د چیړلو او تنګولو د پاره چې ئې کومه د تقسیم منصوبه د سودا بازۍ پهٔ توګه پېش کړې وه اوس ئې هغه یو وارې ډېر پهٔ سنجیدګۍ سره د نوې پالیسۍ پهٔ لړ کښې د سر سټیفورډ کرپس پهٔ ذریعه هندوستان ته راولیږله. لږ دې خبرې ته فکر پکار دے چې دا 1942 کال دے. د پاکستان مطالبې نه څهٔ زور موندلے دے او نهٔ مسلم لیګ څهٔ تحریک چلولے دے، ولې د دغه وخت حالاتو تهٔ کهٔ پهٔ غور سره وکتل شي، نو پهٔ دې ټوله مسئله کښې د پېرنګي ټول وخت خپل او صرف خپل مفاد مد نظر دي او هم پهٔ دغه غرض هر اړخ او هر پلو ته ګوري. پېرنګي د امریکې نه مجبور ؤ. ګنې نو هغه خو پهٔ هېڅ شان هم د کانګرس مشرانو سره خبروته غاړه نهٔ کېښوده او بهانه ښه معقوله وه چې دلته عالمي جنګ روان دے خو چې د امریکې د لاسه مجبوره شو، کرپس خو ئې ولیږه،





خو د وائسراے دې غرض ته هم لږ غور پکار دے چې د پېرنګي نیت د اولې ورځې نه څهٔ دے؟ لکه چې پهٔ 24/3/1942 کښې لیکي:

> I now have considerable hopes that whether the scheme succeeds of fails, that is to say it is accepted of rejected, there may be looking to the propaganda value involved in face of American opinion a balance of credit to our side.

ترجمه: زهٔ اوس کافي اندازه امیدونه لرم چې کهٔ سکیم کامیابه کېږي، یا ناکامه کېږي، یعني سکیم منظورېږي یا مسترد کېږي د امریکنیانو د رائې پهٔ وړاندې به مونږ د دې پروپېګنډې اړخ ته ګورو چې هند به زمونږ پهٔ تله کښې کریډټ وي.

هلته وزیر هند ایمري ورته د بل اړخ نه ګوري او پهٔ دې سلسله کښې د خپلې پالیسۍ وضاحت ډېر پهٔ تفصیل سره کوي. د هغهٔ د 10/3/1942 کال د لیږلي خط خبره بلکل واضحه کوي؛

> Consequently the only way out and incidentally a way of gaining a little time was to send someone to discuss and negotiate.

ترجمه: پهٔ نتیجه کښې یوازینۍ لار او تصادفاً د لږ وخت د حاصلولو لار دا وه چې څوک ورولیږو چې خبرې اترې او مذاکرات وکړي.

اولنے غرض ئې دا دے چې پهٔ دې طریقه به وخت لهٔ دیکه ورکړي او بهر دنیا لهٔ به عموماً او امریکې لهٔ به خصوصاً دا تاثر ورکړي چې مونږ ډېر پهٔ سنجیدګۍ سره د دې مسئلې حل غواړو او ځکه خو مو یو ذمه وار وزیر د خبرو اترو او تصفیې د پاره لیږلے دے. ولې دا ورته د اولې ورځې نه لکه چې یقیناً معلومه ده چې د روغې جوړې هېڅ ګنجائش نشته. لکه چې پهٔ



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله وائي؛

After all once it is laid down that there must be agreement and no coercion of important minorities, then the only conclusion is that things must indefinitely.

ترجمه، چې یو ځل دا تسلیم شي چې روغه جوړه ضرور ده او په اهمو اقلیتونو باندې به زور زیاتے نهٔ وي، نو بیا یوه نتیجه رامخې ته کېږي چې هر څهٔ به د نامعلومې مودې پورې پاتې شي.

ولې وزیر هند ایمري د خپل مطلب اخبري خبره په ډاګه لیکي، د 24/3/1942 نیټې په خط کښې په خپله ګویانه دے؛

Jinnah. I should have thought will be content to realize that he has now got his Pakistan in essence, whether as something substantive of bargaining point.

ترجمه: زما په فکر جناح به د دې خبرې په احساس مطمئن وي چې هغه اوس په اصل کښې پاکستان حاصل کړے دے، کهٔ د بنیادي وجود په شکل وي یا د سودابازۍ په توګه.

لازمي خبره ده چې کله د جناح صاحب دا تسله وي چې پېرنګي هغه لهٔ پاکستان ورکوي نو د هغهٔ نه به څوک دا توقع وکړي چې هغه به د کانګرس سره روغې جوړې ته کښېني او چې لا پېرنګے پکښې دا شرط هم ښهٔ په کلکه کېږدي چې روغه جوړه ضرور پکارده او د اقلیتونو د حقوقو تحفظ ضروري دے، نو بیا خو ګټه یواځې د پېرنګي ده او د کانګرس نه به ګټلے حکومت واخستے شي او پېرنګے به با اختیاره باچا په باچا پاتې وي.

هم په دې خط کښې وزیر هند ایمري وائسراے لنلتګوله تسله ورکوي چې مونږ کوم تجویزونه د کرپس په لاس پېش کړي دي، هغه ټول زمونږ په خپل





خبر تمامېږي، یو په یو نې ورته شمېري؛

1: The viceroy will have to remain not merely as constitutional Governor General, but as representative of broader imperial aspects of Govt. for a good long time to come.

2: Supposing that Pakistan does come off, there will possibly be two Muslim India ( if that doesn't divide itself) and finally at least one important primitive hill tribal area.

ترجمه: ۱. وائسراے به نهٔ صرف یو انیني ګورنر جنرل پاتې وي، بلکې د ډېر راتلونکي وخت پورې به د حکومت د وسیع استعماري اړخونو نمائنده هم وي.

۲. فرض کړه چې پاکستان منځ ته راشي، نو بیا به ممکنه وه د مسلمانانو علاقې، ټول ریاستونه، د هندو برطانوي هندوستان ( کهٔ چرې وي بیا ځان تقسیم نه کړي) او په اخېر کښې تقریباً یوه اهمه عقب مانده غره ایزه قبائلي علاقه وجود ولري.

نو چې دا ټول هندوستان داسې وړې وړې ټوټې شي او یو مرکزي وفاقي حکومت نه وي نو بیا خو د دې مختلفو یونټونو د پاره خپل فوځ، بحریه او هوائي فوځ ساتل ممکن کېدے نهٔ شي، نو دوي به بیا پېرنګي ته محتاجه وي؛

There will, therefore, have be someone, in the absence of a Central self.governing federal scheme, to take control of these matters.

ترجمه: نو دغه وجه وه چې د یو مرکزي حکومت کوونکي د وفاقي سکیم په عدم موجودګۍ کښې به څوک لازماً داسې وي چې د چارو کنټرول په لاس کښې واخلي.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو پهٔ دې ئې ښهٔ پوهوي چې اول خو تجويزونه داسې دي چې د هغې د قبلولو څهٔ امکان هډو د سره شته نهٔ او چې کانګرس او مسلم ليګ کښې روغه جوړه نهٔ وي شوې، نو د اختيار د ورسپارلو هډو سوال نهٔ پېدا کېږي خوکهٔ هډو دا ناممکن ممکن شي، نو بيا هم دا هرڅهٔ د پېرنګي پهٔ ښېګړه کښې تمامېږي البته دا ورته هدايت کوي چې دا خبره واوره؛

So whatever you do or agree to, you had better keep in mind the desirability of retaining Delhi and a considerable area around it, as an ultimate federal territory of an eventually United India and not let it pass in to the hands of one of the "Dominions" that may temporarily emerge out of the first experiment id constitution making.

ترجمه: نو ځکه هر څهٔ چې تهٔ کوې يا پرې رضا کېږې، نو دا خبره پهٔ ذهن کښې وساته، مناسبه به دا وي چې ډيلي او د هغه خواوشا کافي زمکه د يو اخېري متحد هندوستان وفاقي علاقې پهٔ حيث ځان سره وساتي او مهٔ پرېږده چې د هېڅ يو ډومينين ( چې عارضي طور به د ائين جوړونې اوسنۍ تجربې نه پس منځته راشي) لاسونو ته ورشي.

دا د کرپس د مشن حقيقت دے. دا منصوبه وه، دا پاليسي وه، برطانوي حکومت دا خوبونه ويني چې کهٔ دا منصوبه منظوره او کاميابه هم شي، نو وائسرا ے ته دا هدايات دي چې تهٔ مرکز را ټينګ کړي ولې چې دا تقسيم به عارضي وي او اخېر به بيا هندوستان ټول پهٔ ټوله د پېرنګي د سامراجي نو ابادياتي سلطنت يوه حصه شي. وائسرا ے وزير هند لهٔ دا تسله ورکوي چې د کرپس مشن پهٔ دوران کښې ما خپله رابطه باقاعده جناح صاحب سره ساتلې ده لکه چې د 14/4/1942 نېټې پهٔ خط کښې ليکي؛

However I was set pains without delay and before





Cripps left, to sound Jinnah through Firoz Khan Noon, who has been a most use.ful intermediary with the result which I have already reported to you by telegram.

ترجمه: مګر پهٔ ډېر تلوار بغېر د څهٔ تاخيره مخکښې لهٔ دې چې کرپس بېرته لاړ شي، د ملک فيروزخان نون، چې ډېر زيات فائده مند منځګړے ثابت شوے دے، پهٔ ذريعه جناح د هغه نتيجې نهٔ چې مخکښې تا ته د تار پهٔ ذريعه رپوټ کړے ؤ خبر کړه.

نتيجه خو ظاهره وه چې پېرنګے د تقسيم اصول تسليم کړل، کانګرس ئې نهٔ مني، عجيبه حالت دي، تحريک کانګرس چلوي، د حکومت پهٔ خلاف قربانۍ کانګرس ورکوي، جيلخانو لهٔ ځي، ګولۍ خوري، وزارتونه پرېږدي داټولې قربانۍ کانګرس ورکوي او مطالبې د مسلم ليګ منلې شي، چې نهٔ تحريک شو، نهٔ د قربانۍ جذبه، نهٔ پهٔ انتخاباتو کښې کاميابي او نهٔ څهٔ سياسي قوت، سر سټيفورډ کرپس چې پهٔ کوم مقصد پېرنګي راليږلے ؤ د هغې لکه چې خاطر خواه نتيجه پوره شوې وي او ځکه وائسرا ے پهٔ وزير هند پهٔ 6/7/1942 کال دا زيرے کوي؛

Jinnah's statements in the last few days have brought emphatically the continued reluctance of the Muslim League to see any compromise reached except on their own terms

ترجمه: تيرو څو ورځو کښې د جناح بيانونه د مسلم ليګ پرله پسې عدم امادګي را پهٔ ډاګه کړې وه چې هغه د خپلو شرطونو نه علاوه هېڅ قسمه مصالحت کول نهٔ غواړي.

پېرنګي خپل ذاتي غرض داسې روند کړے ؤ چې هغه هېڅ څهٔ د اصولو او اخلاقي پرواه نهٔ کوله. کهٔ يو خوا ته د مسلم ليګ څهٔ سياسي حيثيت نهٔ ؤ



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هم د دې پېرنګي په کړو انتخاباتو کښې ئې هېڅ څۀ حيثيت نۀ ؤ پاتې او نور خو پرېږده چې د مسلمانانو په اکثريتي صوبو کښې ئې هم څۀ نمائنده حيثيت نۀ لرلو او د دې باوجود پېرنګي ور لۀ دا تسله ورکوله چې پېرنګي هغه د ټولو مسلمانانو ابادي قابو څلورمه برخه وه. يعني پۀ څلوېښتو کروړو کښې څۀ کم لس کروړه نو چې دا پېرنګے پۀ کوم حساب تسليم کړې ؤ چې دا اقليت دې پۀ اکثريت باندې خپلې مطالبې تسليموي او پۀ دې سوال هم پېرنګي ځان کوڼ کړے ؤ چې کۀ چرې د غېر مسلمو پۀ اکثريتي صوبو کښې جناح صاحب خپل حيثيت تسليمول غواړي او پېرنګے ئې دغه حيثيت مني او تسليموي

نو ايا جناح صاحب به کانګرس لۀ هم دغه هومره حقوق د مسلمانانو پۀ اکثريتي صوبو کښې ورکړي؟ او ايا پېرنګے به هم دغه اصول د مسلمانانو پۀ اکثريتي صوبو کښې تسليم کړي. کوم چې د غېر مسلمو پۀ صوبو کښې ئې تسليم کړے وي؟ ولې حقيقت دا دے چې د پېرنګي. نۀ پۀ مسلمان څۀ کار ؤ او نۀ پۀ هندو، هغۀ خپل غرض اخستے ؤ او هر څۀ کولو ته تيار ؤ چې هغه پکښې خپل او د خپل تاج او تخت خېر ليدو او دا څرګنده خبره وه چې کۀ د کانګرس او مسلم ليګ روغه نه کېږي، نو اقتدار به د پېرنګي سره وي نو د پېرنګي خېر هم پۀ دې کښې ؤ چې مسلم ليګ پۀ دې مجبور او اماده کړي چې د روغې جوړې هېڅ امکان پاتې نۀ شي عجيبه خو دا ده چې پۀ دې طريقه خو مسلم ليګ ته هم اقتدار نۀ پۀ حواله کيدو او د هغۀ د ټولې ناړامۍ فائده يواځې پېرنګي ته رسيده؟

د کانګرس د قامي تحريک د مخ نيوي دپاره پېرنګي پۀ هېڅ هم صرفه نۀ کوله. روا ناروا، حلال حرام. جائز ناجائز هر څۀ د پېرنګي پۀ بازار خرڅيدل. چونکې کانګرس پۀ خپل مقام ټينګ ولاړ ؤ او پۀ هېڅ قيمت ئې هم د هندوستان د ازادۍ او خود اراديت حق پېرنګي ته نۀ حواله کولو. نو نور





خو پرېږده چې پېرنګي خپل نظرياتي مخالفين او د سر دښمنان هم استعمالول شروع کړل او هر هغه سياسي قوت کوم چې د پېرنګي مرستې ته غاړه کېښوده يا ئې خپل سياست پۀ پېرنګي خرڅولو. نو سرکار ورته تيار ؤ.

## کانګرس سره د جنګ تياري

پېرنګے دغه وخت مطمئن ؤ چې ما ځان سره واليان رياست، اچهوت، مسلم ليګ، هندو مهاسبها او دوي سره ترلي تنظيمونه ملګري کړل، نو اوس ورته يواځې کانګرس پاتې ؤ چې هغۀ سره خپل حساب کتاب برابر کړي د کرپس د مشن پۀ وجه د امريکې هم لږه تسله وشوله چې پېرنګي څۀ لاره راوباسي او د کانګرس او مسلم ليګ مخالفت لۀ پېرنګي دومره اهميت ورکړو چې غوړه ئې د خپله سره واړوله او د هندوستانيانو پۀ سر ئې وروتپله نو بين الاقوامي طور هم مطمئن شو. وزير هند ايمري ډيمار وائسراے ته ليکي چې دا دې وخت دے ورځه پرې؛ (دليک نېټه 24/7/1942ز)

The sooner you pounce in them, the better.

ترجمه: څومره زر چې پۀ هغوي راغونډ شئ دومره به ښۀ وي.

ورته وائي (دا مشران ټول د افريقي يوګنډا ته جلا وطن کړه) وائسراے ليکي چې ګاندهي جوړ نۀ دے. ايمري ورته وائي (عدن ته ئې ولېږه، خو چې د هندوستان نه ئې ورک کړې) وائسراے د دغو ورځو پۀ خطونو کښې دا زېرے هم لېږل چې قام د ګاندهي نه مايوسه دي، کانګرس ډېر بدنام دے. د وزارتونو پۀ دوران کښې ترې نه صاحب رائې خلق خفه او مايوسه شوي دي او د تحريک چلولو توان بېخي نۀ لري. لنډه اوږده دا چې د ورلاندې وتو د پاره حالات بالکل سازګار دي. چنانچه کله د اګست پۀ مياشت کښې د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ال انډيا کانګرس کمېټي (AICC) غونډه په بمبۍ کښې وشوله او هغوي په انګريزغږ وکړو چې (هندوستان پرېږده) Quit India نو پېرنګي خو تيارناست ؤ، ناست څهٔ ؤ. هغهٔ خو د مودونه خپله تياري کړې وه. د کانګرس د ورکنګ کمېټۍ ټول مشران ګرفتارشول. سرکار په پوره زور د قامي حرکت د چقولو کوشش وکړو. تر دې چې په کلو او جلوسونو باندې د هوائي جهازونو نه هم بمبارۍ وشوې، ګولۍ وچليدې. جېلخانې ډکې شوې. د جهازونو د بمبارۍ په حقله وائسرا ے په خپله داسې ليکي (17/8/1942ز):

I am most grateful for your support even the use of air.power against saboteurs. I am certain that we ought not shirk from using any of the means at our disposal in dealing with a movement so dangerously revolutionary as the present one.

ترجمه: زهٔ ډېر شکر ګزاريم چې د تخريب کارو خلاف د هوائي طاقت استعمالولو کښې امداد وکړو. زهٔ پوخ يقين لرم چې مونږ بايد زمونږ په خپل وس کښې د هرې ذريعې استعمال نه ډډهٔ ونهٔ کړو، تر څو داسې تحريک لکه اوسنے چې دومره خطرناک حد پورې انقلابي دے، پرې وچقوو.

وائسرا ے دا خبره تسليموي چې کانګرس لا د څهٔ تحريک چلولو اراده نهٔ وه کړې. بلکې خبره ئې خنډوله او په ځور (ځار) کښې ؤ چې کله په پېرنګي نور هم سخت وخت راشي او څهٔ لوے شکست وخوري نو دلته به دوي هم تحريک شروع کړي او د موقع نه به فائده واخلي لکه چې هم په دې خط کښې وړاندې ليکي:

We have thus different and far mote Import.and reason to be thankful that we have brought on this business at a time when the war position is not such as to offer any immediate threat to India, whether from the west doubt that East, I have not the least





doubt that Gandhi's plan was to wait for bad war news before raising the standard of revolt.

ترجمه: مونږ په دې مختلف او زيات اهم سبب باندې شکر ګزار يو چې مونږ دا معامله په داسې وخت کښې عملي کړه چې د جنګ پوزيشن داسې نهٔ دے چې د مغرب يا مشرق دواړو خواوو نه هندوستان ته څهٔ فوري خطره پېښه کړي. زهٔ په دې خبره کښې هيڅ شک نهٔ لرم چې د ګاندهي پلان دا ؤ چې تر هغه وخته انتظار وکړي، تر څو چې د جنګ نه بد خبرونه واوري او بيا د بغاوت جنډه پورته کړي.

اګر چې کانګرس لا د تحريک چلولو اعلان نهٔ ؤ کړے او زياتے د پېرنګي د طرفه وشو خو قام دومره عظيمه قرباني ورکړله او په داسې جوش. جذبه او مېړانه ئې د پېرنګي مقابلې ته ملا وتړله او دومره بې کچه نرتوب زاړو. ځوانانو او په خصوصيت سره ښځو وښودو چې پېرنګے په خپله حېران ؤ. هغه ته خو خوشامندګرو او درباريانو دا تسله ورکړې وه چې قام د کانګرس نه وېزاره ناست دے ولې کله چې تحريک دومره زور ونيوؤ چې خبره د پوليس ملېشه او فوځ نه هم پوره نه شوله او نوبت تر هوائي جهازونو. بمبارۍ او ګوله بارۍ پورې ورسېدو نو وائسرا ے په خپله وائي (24/8/1946ز):

I continue to be rather puzzled that our intelligence should not have been able to give us rather mere warnings than it has of the way things were likely to go.

ترجمه: زهٔ حېران او پرېشان يم. زمونږ اينټليجنس بايد د دې قابل وي چې راته ئې مخکښې وارننګ راکړے وے چې حالات په کوم ډګر روانېدے شي

د بهار د ګورنر په حقله وائي چې:



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



He and his govt. were taken by surprise.

ترجمه: هغه او د هغهٔ حکومت ناڅاپي راګېر شول

وائسراے ګنې نهٔ ؤ خبر چې خوشامندګر درباریان او لاندې افسران خو تول عمر مشرانو ته هغه خبرې کوي چې هغوي پرې خوشحالېږي. پېرنګي خو پهٔ خپله جانبه کانګرس د تحریک چلولو میدان نه ویستے ؤ او پهٔ ډېرو خوارو نې دومره ډېر حساب تاب لګولے ؤ. دا معلومات د پېرنګیانو د وزیراعظم چرچل پهٔ خپل خط کښې دي قیصه داسې وه چې کله پهٔ هندوستان کښې قام د کانګرس د مشرۍ لاندې د خپلې ازادۍ د تحریک پهٔ سلسله کښې بې انتها قربانۍ ورکړې او پېرنګي ته د دغې جذبې پهٔ چقولو کښې مشکلات پېښ وو، نو د چین سربراه چانګ کاي شیک یو وارې بیا د امریکې صدر روزوېلټ ته خپل تشویش ښکاره کړو او پهٔ دې نې زور واچوو چې امریکې لهٔ پکاردي چې پېرنګے مجبوره کړي چې د بین الاقوامي عالمي جنګ پهٔ دوران کښې داسې زور زیاتے او ناروا د قام د منتخبو مشرانو سره نهٔ کوي صدر رون ویلټ د چانګ کاي شیک دغه خط چرچل لهٔ ولېږه. چرچل واپس روزوېلټ ته لیکي چې؛

The congress party in way represents India and is strongly opposed by over 90 million Mohammadans, 40 million untouchables and the Indian states comprising 90 million ……. The military classes on whom everything depends are thoroughly logal. in fact over a million have volunteered for the army.

ترجمه: کانګرس پهٔ هېڅ وجه د هندوستان نمائندګي نهٔ کوي او هغه د نهو(9) کروړه ابادي لري، سخت مخالف دے …..

پوځي طبقې چې د هر څهٔ انحصار پهٔ هغوي باندې دے ښېخي وفاداره دي، پهٔ حقیقت کښې څهٔ د پاسه یو ملیون د ارمي د





پاره رضا کار شوي دي

پېرنګي چې خپل غرض راشي، څنګه نې ځان روند کړے وي؟ وائي د هندوستان نمائندګي نهٔ کوي پېرنګي ته د خپلو کړو انتخاباتو علاج نهٔ ورته چې کانګرس د یوولسو صوبو نه پهٔ اتو (8) کښې وزارتونه ګټلي وو او پهٔ دې بل اړخ نې ټول د هندوستان مسلمانان د مسلم لیګ پهٔ کاته کښې جناح صاحب ته ورتللي وو

## سکهستان

پېرنګي د کانګرس دې قامي تحریک کافي وار خطا کړل او چاپېره نې لاس پښې وهل شروع کړل کوشش نې دا ؤ چې د هندوستان پهٔ قامي تړون او اتحاد کښې څهٔ نور درزونه پېدا کړي مسلمانان خو هغه ټول پهٔ ټوله پهٔ خپله جولۍ کښې شمېرل هندوانو کښې نې د اچهوتو پهٔ نامه د امبېدکر پهٔ ذریعه کافي کار کړے ؤ، اوس نې پهٔ اخېره کښې مخه سیکهانو ته شوله وزیر هند د دې خبرې تحقیق وکړي چې د سکهانو خپل څهٔ ریاست لکه د مسلم لیګ د پاکستان هسې جوړېدے شي کهٔ نهٔ؟ ایمري خو ورته پهٔ دې سترګه کوري چې کهٔ سکهان هم لکه د مسلم لیګ د خپل ریاست مطالبې ته تیار کړے شي نو دا به د کانګرس د پاره یو جدا سر درد وي او د هندوستان یو بله حصه به جدا کېدو د پاره ځان تیار کړي او د کانګرس د سیاسي قوت پهٔ کمزوري به تمامه شي. وزیر هند خو دې ته ډېر خوشحالېدو، ولې وائسراے چې پهٔ موقع ناست ؤ. هغه پهٔ یوه وجه پهٔ سکهانو کښې د دې قسمه تحریک حوصله افزائي کول به ابغ پهٔ نېغه پنجاب متاثره کړي چې هغه کښې د پېرنګي دوه تاوانه دي؛ اولنے دا چې د دې لانجې اصلي مشکل به پنجاب ته پېښېږي او هلته خو د کانګرس وزارت نه دي هلته خو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانان دي او بیا د حکومت تابعدار او وفادار یونینیسټ دي چې مشر ئې سر سکندر حیات خان دے، نو صوبائي حکومت ته د مشکلاتو پېدا کولو نه علاوه به دا لانجه د سکهانو او مسلمانانو تر منځه وي او کانګرس به پکښې دومره ښکېل نۀ وي. نو د پېرنګي مقصد خو صرف د کانګرس سره مقابله کښې دي. بله خبره دا ده چې پنجاب د پېرنګي د فوځ برتي کولو علاقه ده او پۀ دې موجوده وخت کښې هلته د دې قسمه نفاق اچول د پېرنګي پۀ خېر نۀ تمامېږي نو ځکه وائسرا ے د دغسې تجویز مخالفت وکړو لکه چې پۀ 7/9/1942 کښې لیکي؛

> I am certain that if we did show the very slightest sign of taking "sikhistan" seriously in the least degree. Not only shall we aggravate communal tension gravely in the Punjab, but we should never hear the end of it.

> ترجمه: زما باور دے کۀ مونږ (سکهستان) پۀ مسئله باندې د سنجیدګۍ د لږ ګوتې اشارې اظهار وکړه، نو پۀ دغه شان نۀ صرف پۀ پنجاب کښې فرقه وارانه کړکیچ خطرناک حده پورې شدید کړو، بلکې دغه کړکیچ هېڅ اختتام به ونۀ شي.

پۀ یو وخت کښې پېرنګیانو د هندوانو د اکثریت او قوت کمولو پۀ خاطر یو بل تجویز هم پېش کړے ؤ او هغه د اچهوتو جدا حېثیت، ولې هغه د وزیر هند خبره چې؛

> Protection of scheduled castes, of course, is impossible on any geographical basis, such as the right of non.accession gives the predominantly Muslim provinces.

> ترجمه: واقعیت کښې پۀ جغرافیائي بنیادونو د اچهوتو حفاظت ناممکن دے، لکه څنګه چې د مسلمانانو اکثریتي صوبو د نه شمول حق مسلمانان محفوظوي





وائي چې دا اچهوت داسې خوارۀ وارۀ او تس نس پۀ ټول هندوستان کښې پراتۀ دي، ګنې نو د یو بل (اچهوتستان) درک پکښې لګېده. البته یوه طریقه نې شته چې اېمري وائي چې دا اچهوت دې یا مسلمانان شي یا عیسایان. نو بیا ئې د حقوقو د تحفظ مناسب انتظام کېدے شي.

## هندو مهاسبها

د وزیر هند د دې تجویز مخالفت خو وائسرا ے وکړو خو هغۀ نورې لارې چارې لټولې چې دې فرقه وارانه سیاست باندې لږ نور تیل واچوي لکه څنګه چې ذکر شوي دي چې چین او امریکې دا کوشش کولو چې د کانګرس سره د روغې جوړې څۀ لاره را وویستے شي نو وائسرا ے دا لازمي وګڼل چې فرقه وارانه مخالفت لۀ لږه نوره هوا ورکړي. د کانګرس ټول مشران کشران د جېل پۀ تورو تمبو دننه وو او د جناح صاحب بیانونه څۀ عجیبه پۀ دې لګېدل چې د بل اړخ نه هډو چا ځواب نۀ ورکولو. بله لویه خبره دا وه چې کانګرس نن د ازادۍ د جنګ د میدان شاه زلمے ؤ. هغه نن خپل وارۀ، زاړۀ، نر، ښځې، ځوانان او پېغلې د ملک د ازادۍ د پاره قربیان کول، نو پۀ کوم یو هندوستاني کښې به دومره جرات وي چې هغه دې پۀ دې وخت کښې هم د پېرنګي سره پۀ پره کښې ودرېږي.

ولې پېرنګي خو پۀ خپله لوبه کوله، نو هغه اوس د هندو مهاسبها سره ساز باز شروع کړو چې هغه د مسلم لیګ د تقسیم هند پۀ مخالفت کښې میدان ته وباسي چې د هندو او مسلمان تر منځه د روغې جوړې امکانات ختم کړي او دنیا لۀ عموماً او امریکې لۀ خصوصاً دا تاثر ورکړي چې مسئله ډېره سنګینه ده. لانجه یواځې د کانګرس هم نۀ ده. بلکې نور قوتونه هم داسې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته چې هغه د مسلمانانو دې مطالبې سره بنیادي اختلاف لري، ولې چې دلته اوس په موجوده حالاتو کښې یواځې جناح صاحب لګیاو، خپله ئې ډنګوله (کۀ د پیرنګي هغه ئې ډنګوله) او د خواب څوک نۀ وو. واپسې خواب والا خو ټول د تورو تمبو شاته پراتۀ وو. سیاسي مباحثې به چا کولې؟ اېري به چا وهلې؟ پۀ یوه ډله خو نۀ کېږي مقابله کښې بل ټیم ضرور پکار وي، نو هم پۀ دې غرض وائسرائے پۀ 15/12/1942 کښې لیکي؛

I have endeavored to encourage the Mahsabha etc.by reverting to the topic of the unity of India though I trust in terms sufficiently guarded so far as the Muslims are concerned grievance. But I have also thought it well, for the point is most important one and to the centre of our position, to bring out that the difficulties of this country are not due to our reluct.ance to transfer power, but to the fact that we have offered to transfer power.

ترجمه: ما د مهاسبها وغېره حوصله افزائي کوشش کړے دے چې هغوي د هندوستان د وحدت موضوع ته وګرځي، او داسې مې دا پۀ احتیاط کړي دي چې مسلمانانو او پۀ تېره تېره جناح ته د جائز خفګان موقع پۀ لاس ورنۀ شي مګر ما دا هم لازمه ګڼلې وه او دا نکته ډېره اهمه او زمونږ د موقف د پاره مرکزي حېثیت لري چې داسې وښائم چې د دې ملک مشکلات پۀ دې کښې نۀ دي چې ګنې مونږ نه غواړو اقتدار منتقل کړو، بلکې پۀ حقیقت کښې پۀ دې کښې دے چې مونږ د اقتدار د انتقال پېکش کړے دے.

د پېرنګي استاذۍ ته ګوره چې څنګه دا مختلف او متضاد او د یو بل دښمن قوتونه پۀ خپل خپل ځاے د خپلو مفاداتو د پاره استعمالوي.





وائسرائے د هندو مهاسبها سره د هندوستان د وحدت د پاره تړون کوي او مسلم لیګ او جناح صاحب سره د تقسیم او پۀ دا شان به دا دواړه قوتونه یو بل سره ورلاندې باسي. جناح صاحب هغه ئې داسې مقام ته رسولے دے چې هغه د وائسرائے خبره چې؛

The Muslims will do no business except on their own terms.

ترجمه: مسلمانانو به د خپلو شرطونو نه غېرهېڅ معامله ونۀ کړي.

او د هغوي شرط هم د هندوستان تقسیم او د پاکستان قیام دے او دې خوا د هندو مهاسبها مشران وائي چې تقسیم هند خو د مقدسې غوا ټوټې کېدل دي. دا دواړه فرقه وارانه تنظیمونه پۀ خپل خپل مقام پۀ ټینګه ولاړ دي. خو د دوي دې ټول حرکت او کوشش نتیجه صرف دا خېژي چې پېرنګے دنیا ته وائي چې زۀ خو نن اقتدار حواله کولو ته تیاریم خو کۀ دوي پرې پۀ خپل کور کښې جوړشي. پۀ خپله وائسرائے وائي چې جناح صاحب اوس داسې مطالبې شروع کړي چې؛

That it is almost inconceivable that the Hindu majority could ever accept then.

ترجمه: تقریباً ناقابل تصور خبره ده چې هندو اکثریت به هغه تسلیم کړي.

او چې 1943 کال نوے کېدو نو وائسرائے هند، جناح صاحب د اندرپائې بل پاټکي ته خېژولے ؤ او پۀ داسې مقام ئې ودرولے ؤ چې پۀ وزیر هند زېرې کوي 26/1/2943 د جناح صاحب موجوده رویه داسې ده چې؛

......... attitude which might be summed up by naying that if the Congress accepts his terms in full, he be would rteat them friendly.

ترجمه: د هغۀ رویه پۀ دې کښې خلاصه کېږي چې کۀ چرې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانګرس زما شرطونه مکمل مني، نو زهٔ به هغوي سره د
مهرباني، سلوک وکړم.

د پېرنګي دې طنز ته لږ غور پکار دے هغه وزير هند ته وائي چې مني کهٔ نهٔ دا نن جناح صاحب دومره پهٔ بلې بلې سر شوے دے او داسې مقام ته مو را رسولے چې هغه اوس داسې رويه اختيار کړې ده چې کهٔ کانګرس د هغهٔ هغه مطالبې پوره پوره تسليم کړي نو شايد چې دے ورسره مهرباني وکړي. يعني دا ګنې د منلو خبره ده چې پېرنګے د جناح صاحب او د مسلم ليګ د اصلي قوت او طاقت نه ګنې نهٔ ؤ خبر، د 1937از د انتخاباتو نتيجې هغهٔ ته نهٔ دي معلومې او د مسلم ليګ موجوده تړون او اتحاد ګنې د واسرائے پهٔ کوشش پورې نهٔ ؤ تړلے؟

## د ګاندهي جي وفاقي حکومت تجويز

ګاندهي جي او د کانګرس ټول مشران دغو ورځو کښې جېل کښې وو ګاندهي جي روژه نيولې وه. هندوستان کښې د ګاندهي جي د رهايي، د پاره يو تحريک وچلېدو. ګاندهي د جېل نه يو خط کښې حکومت لهٔ دا مشوره ورکړله چې کانګرس پهٔ دې هېڅ قسمه اعتراض نهٔ لري چې حکومت برطانيه دې اختيار، خېردے، جناح صاحب ته حواله کړي او هغه دې يو قامي او نېشنل حکومت جوړکړي. دې پېرنګيان ډېر پرېشان کړل، خو وائسرائے خپل 16/2/1943 خط کښې حکومت برطانيه لهٔ تسله ورکوله چې جناح صاحب د دغه ليډرانو پهٔ غونډه کښې د شاملېدونه هم انکار وکړو. جناح صاحب او لياقت علي خان دواړو پهٔ شريکه د دې قسمه حکومت جوړولو نه انکار وکړو.

And his(Jinnah) statement and that of Nawabrada Litigate Ali khan, in the assembly, have dealt pretty





effectively with the suggestion that the Muslim are willing parties either to Gandhi's fast or to his suggestion that a national govt. can be framed by them. With his good will in a day.

ترجمه: پهٔ اسمبلۍ کښې د جناح او لياقت علي بيانونو د دې خيال پهٔ موثره توګه مخنيوے کړے وے چې ګنې مسلمانان د ګاندهي د روژې يا ګنې د دې تجويز چې د ګاندهي پهٔ مرسته د هغوي يو قامي حکومت پهٔ يوه ورځ کښې جوړيدے شي، طرفداري کوي.

[illegible] کانګرس د خاطره د روغې جوړې د شو؟ کولے څهٔ کانګرس زيات نه دې د ترکومه پورې لاړ؟ پېرنګي ته وائي چې اګر چې انتخابات مونږ ګټلي دي حق د حکومت زمونږ دے. خو تهٔ خېر دے اختيار جناح صاحب لهٔ ورکړه خو اقتدار هندوستان ته حواله کړه. ولې برګه تماشه ده چې پېرنګے غلے ناست دے. وفاقي حکومت جوړولو او د دغې مشري جناح صاحب لهٔ ورکولو مخالفت جناح صاحب او نواب زاده لياقت علي خان کوي. د ناړامۍ هم څهٔ حد وي، هغه د پېرنګي ټوله باداري، بدنامي، بد نېتي، بدديانتي،دوکه، فريب، ظلم زياتے، تجاوز او د باداري، شوق هر څهٔ ډېر پهٔ استاذۍ کښې هغه د جناح صاحب او مسلم ليګ پهٔ غاړه کښې واچول او د مسلم ليګ د دغه وخت مشرانو څومره پهٔ کلکو سترګو د پېرنګي دغه پاليسي پهٔ ډېره خوشحالۍ او فخر وړاندې بيائي. زهٔ وايم چې اسلام خو ډېر اوچت مقام لري د سرېتوب او انسانيت تقاضې هم پهٔ شاپاتې دي. کهٔ مسلم ليګ پهٔ حقيقت کښې مسلمان لهٔ حق غوښتو، نو نن ورته د ټول هندوستان حکومت ورسپارلے کېږي خو دوي ئې نهٔ قبلوي. د هندوستان د حکومت اخستو نه انکار پهٔ دې وجه خو نهٔ دے چې ګنې دا اقتدار به مسلم ليګ د پېرنګي نه اخلي او د هغهٔ جګړه خو د پېرنګي سره نه د کانګرس سره ده. څهٔ



Scanned by CamScanner

وشو کۀ دغه کانګرس نن د ملک د ازادۍ پۀ جدوجهد کښې پۀ جېلخان
کښې بندېوان پروت دي.
پېرنګیان هم عجیبه مخلوق دي. څنګه چې خپل منځ کښې پۀ خط او کتاب
کښې دوي ډېر پۀ بې باکۍ ریښتیا ریښتیا وائي او چې څنګه پۀ نورو خلق
بونه نه دوروي، خو داسې خان هم کله نه کله بادوي. د ګاندهي جي د د
پېشکش او د جناح صاحب د انکار نه پس نور خو پرېږده چې هغه شو
اېمري هم پوهه دے، لکه چې پۀ 8/2/1943 کال وائسرا ے ته لیکي؛

I don't believe that you will ever get Indian politicians settling down to a reasonable discussion of their own internal problems so long as they can shirk them by putting the blame on an alien govt. To that extent thers is really something in Gandhi's plea that Indians can only agree once we are out of their way.

ترجمه: زۀ باور نۀ کوم چې تۀ به کله هم هندوستانے سیاستدانان د خپلو مسئلو د حل د پاره یو معقول بحث، تمحیص ته تیار کړې. ترڅو چې کېدے شي هغوي به د دغه مسئلو د حل نه ډډه کوي او الزام به پۀ اجنبي حکومت اچوي. تر دغه اندازې د ګاندهي پۀ دې دعوي کښې وزن شته چې هندوستانیان هغه وخت پۀ خپلو کښې جوړېدے شي چې مونږ (انګریزان) د هغوي د لارې نه ووځو.

## مسلمانان وزیران

لکه څنګه چې مخکښې ذکر شوے دے. کله چې ګاندهي جي پۀ جېل کښې دننه روژه ونیوه او حکومت هند پۀ هغې غوږونه کاڼۀ کړل، نو د وائسرا ے د





خپل کونسل څو ممبرانو استعفي ګانې ورکړې. دا ټول غېر مسلم وو. وائسرا ے لکه چې د غېر مسلمو د دغه روئې نه مایوسه شو، نو د دې وجې نه ئې مسلمانانو ته مخه کړله ولې چې دا ئې لکه چې تسله وي چې دوي به د دومره خودداری او عزت نفس مظاهره نۀ کوي، او هم دغسې وشوه د هغۀ پۀ حقله وائسرا ے وزیر هند لۀ تسله ورکوي چې امید دے چې د دې وزیر نه به د دغه مخکښېنو هسې د شکایت موقع نه وي چې بیا پۀ دنیا کښې مونږ بدنام کړي، ولې چې دا د کونسل ممبران خو منتخب دي هم، دا خو وائسرا ے پۀ خپله خوښ کړي دي او نامزد دي. وائسرا ے د 2/5/1943 پۀ خط کښې وائي؛

I was him (Aziz u hiq) yesterday and gave him a kalking to. I told him I would own the food deptt. Myself, though not publicly, for the time being, and he readily accepts that public responsibility will, of course. Be entirely with him and he will bave to defend the action of the deptt. In public and of course keep in touch with what's going on inside. As regards commerce. Industries and civil Supplies I begged him not to make the mistake of immersing himself is a great deal of detail, that was properly to be handled or to slow down action by frequent interference from his high level …… He took all this very well and expressed himself ready to play.

ترجمه: ما پرون عزیزالحق ولیدو او ورته مې خبرې وکړې، ما هغۀ ته ووې چې د خوراک محکمه به د موجوده وخت د پاره اصلاً ماسره وي خو اعلانیه طور به د خلقو پۀ مخ کښې تاسره وي، او هغه پۀ ښېره دا ومنله چې بې شکه د دغه محکمې پبلک ذمه واري به د هغۀ وي او هغه به د عوامو پۀ وړاندې د



(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



> دغه محکمې د عمل دفاع کوي او ورسره به خان خبروي چې د محکمې دننه څۀ روان دي. ما ترې نه خواهش وکړو چې خان پۀ زیات تفصیل کښې د غرقولو غلطي ونۀ کړي، کومه چې به د سېکټریانو لۀ خوا سر ته رسي. خان باندې زیات بار وانۀ چوي یا د لوړې سطحې نه درکاري مداخلت پۀ ذریعه کار سست نۀ کړي. هغه پۀ دې هر څۀ اٰمنّا او صدّقنا ووې او لوبې لوبولو ته ئې امادګي ظاهره کړه.[15]

دا پرېکون او خلاصي ورسره وائسرا ے د مخکښې نه کړي دي. دې ته هم لږ غور پکار دے چې دغه غېر مسلم وزیران هم وائسرا ے خوښ کړي وو. او دا مسلمانان هم وائسرا ے خوښ کړي دي. د دواړو پۀ کردار، عمل او خودداری کښې دې واضحه فرق ته چې سړے ګوري نو ګنې پېرنګیان ګرم وو چې هغوي خپل ټول اعتماد صرف پۀ مسلمانانو کولو. کۀ هغه سرکاري افسران او وزیران وو او کۀ سیاست دانان. پۀ دغو ورځو کښې وزیر هند ایمري دا هدایات راولېږل چې د ګاندهي جي د روژې پۀ سلسله کښې چې کومو غېر مسلم سرکاري افسرانو استعفي ګانې ورکړې. هغه سمدستي

[15] سردار شوکت حیات د جناح صاحب نژدې باوري ملګرے خپل کتاب "ګم ګشته قوم" خپرونه 1995ز کښې د دې عزیز الحق پۀ حواله لیکلي دي چې د 1947ز پېل کښې جناح صاحب ما ته د سیاست پرېښودلو او د پېسې ګټلو مشوره راکړه. ما ورته څواب ورکړو چې نۀ د جنګ دوران زۀ ډګر پرېږدم او نۀ راته د ډېرو پېسو ګټلو چل راځي نو جناح صاحب خپل پرائیوېټ سېکرټري کے ایچ خورشید راوغوښتو چې د وائسرا ے کونسل ایګزېکټیو غړي عزیز الحق سره پۀ فون زما تماس ونیوه. هغۀ چې نمبر ملاو کړو نو خبرې ئې ورسره وکړې چې شوکت درلېږم او دے ئې ولېږلو عزیز الحق چې د خوراک محکمه ورسره وه، هغۀ د درامد کنټرولر مسټر مهته او د برامد چیف کنټرولر میا امین الدین راوغوښتل او سردار شوکت حیات ته ئې پرې د یو کروړ نه زیات پرمټونه جوړ کړل دې نه پس چې دے جناح صاحب ته راغلو نو هغۀ د ممبئ مشهور سېټهه احمد ته ولېږلو د چا چې پۀ یورپ تجارت ؤ و د هغۀ پۀ ذریعه ئې ورله یورپ کښې اردرونه بک کړل ـ یعني پۀ یوه پېره ئې ورله د لوے لاس وهلو سرکاري طریقه وښودله





منظورې کړې بلکې نور هم کوشش وکړې کۀ داسې غېر مسلم افسران وي چې پۀ هغوي لږ هم څۀ شک د دې جذبې کېدے شي چې دوي کانګرس سره همدردي لري، نو پۀ مخه ئې د نوکرۍ نه وباسئ

## جناح صاحب او د پاکستان تشریح

د سر سکندر حیات خان د مرګ نه پس سر خضرحیات ټوانه د پنجاب نوے وزیراعلي مقررشو. دغلته ده سره پۀ یونینسټ پارټۍ کښې هندوان او سکهان هم وو او وزیران هم، چونکې د مسلم لیګ د طرفه د پاکستان د مسئلې مختلف تاویلونه کېدل، نو دغه غېر مسلمو پنجابیانو پۀ خپل وزیراعلي زور واچولو چې حکومت لۀ پکار دي چې پۀ جناح صاحب زور اچوي چې هغه د پاکستان تشریح وکړي. ولې چې پۀ لاهور کښې پاس شوي قرارداد کښې د «یو ریاست» نۀ، بلکې د «ریاستونو» ذکر ؤ. اوس پکښې جناح صاحب دا شوشه هم پرېښې ده چې د مشرقي او مغربي پاکستان ترمنځه یوه ګزرګا (corridor) وي چې هغه به د مسلمانانو وي وغېره وغېره. نو پۀ دې سلسله کښې خضرحیات ټوانه د وائسرا ے هند نه نړوس وکړو چې جناح صاحب دا کوم تاویلونه بیانوي. د دې نه خو نوره ګډوډي پېدا کېږي. نو ښۀ به دا وي چې جناح صاحب پۀ دې مجبورکړے شي چې هغه د پاکستان د منصوبې پوره تشریح او وضاحت وکړي، ولې چې مونږ ته پۀ پنجاب کښې مشکلات پېښېږي. بله دا چې د دغې وضاحت پۀ رڼا کښې به مسلمانان هم خپله فېصله وکړے شي. وائسرا ے دا کله منله. هغه کله یوه بهانه او کله پۀ بله بهانه وخت لۀ دیکه ورکوله. د وائسرا ے دلچسپي خو د پاکستان پۀ وضاحت کښې نۀ وه، نۀ ئې پۀ مسلمانانو، هندوانو، سکهانو او نورو غېر مسلمو څۀ کار ؤ. هغۀ خو د



Scanned by CamScanner

پاکستان د منصوبې په جوړولو او مشتهري کولو کښې صرف یو غرض ؤ
چې د مسلم لیګ او کانګرس روغه جوړه په هېڅ شان ونۀ شي. د پېرنګي
خېر خو هم په دې کښې ؤ چې څومره دا شے مبهم وي، او چې څومره هم مبهم
وي نو دومره به خطرناک وي او د مخالفه ډله به ترې نۀ وېرېږي. خضر حیات
ټوانه کښې وائسرائے هر څۀ وې، ولې وزیر هند ته خو صفا لیکي:
(4/5/1943);

From his (Jinnah) I own point of view held the strength of his position is that he has refused to define it (Pakistan) this I have no doubt that the famous corridor by which he proposes to link North west Pakistan with North East Pakistan, a corridor which would presumably run via Delhi, Luck now, Allahabad and Patna, cutting off the area north of the corridor from the Hindu majorities in the South of it, would almost inevitably figure and he would be a fool if he did not sake all sorts of excessive demands in respect of tariffs, defence, the use of ports and the like.

ترجمه: د جناح د خپل نظر مطابق د هغۀ د موقف نیم زور په دې کښې پروت دے چې هغه د (پاکستان) د تعریف کولو نه انکار کړے دے ... دغه شان هېڅ شک نه لرم چې د کومې مشهورې ګزرګاه په ذریعه چې هغه غواړي شمال مغربي پاکستان او شمال مشرقي پاکستان سره وتړي او کومه به چې د ډیلي، لکهنو، اله اباد او پټنه نه تېرېږي. دغه د ګزرګاه شمالي علاقه به د جنوب هندو اکثریتي علاقونه جدا کوي، دغه د ګزرګاه مسئله به هغه (جناح) راپورته کړي او هغه به احمق وي کۀ چرې هغه دې سره نورې اضافي مطالبې چې





محصولاتو، دفاع او د بندرګاه استعمال وغېره پورې به تعلق ولري را اوچتې نۀ کړي

پېرنګے خو لا خوشحاله دے چې څومره دعوي جناح صاحب کوي، دومره به د روغې جوړې ګنجائش ختمېږي. د پېرنګي څۀ خو خته کښې نښتے دے چې هغه دې د پاکستان د منصوبې د وضاحت او تشریح زور په جناح صاحب واچوي ولې د دې حقیقت نه هم انکار نۀ شي کېدے چې تر دغه وخته پورې لا جناح صاحب او د مسلم لیګ نور مشران په خپله هم په خپل ذهن کښې واضحه نۀ وو چې مونږ څۀ غواړو. د مثال په طور دا د ګزرګاه مسئله به واخلو چې یواځې دې ته سړے وګوري نو حېرانه شي چې دا به څنګه وي چې د لاهورنه واخله تر دکلکتې پورې دا ګزرګاه، هندوستان په منځ وشلوي. دا به د مسلمانانو وي، په کوم حق؟ د دې دومره پنځلس سوه میله اوږدې ګزرګاه پلنوالے به څومره وي؟ د دې د حفاظت د پاره به څومره فوځ پکاروي؟ هم په شمال او هم په جنوب او داسې ورپسې. نو په سوونو سوالونه ذهن له راځي، نو دا صرف یوه خبره ثابتوي چې د مسلم لیګ د مشرانو په ذهن کښې قطعاً څۀ واضحه نقشه د پاکستان نۀ وۀ او پېرنګے ګنې په دې نۀ ؤ پوهه چې نور خو پرېږده دا د ګزرګاه دا تجویز څومره نامعقول څۀ چې د خندا او ټوقې دے. وزیر هند ایمري په خپله مني:

The practical case, indeed. Against Pakistan seems to me overwhelming.

(د 6/5/1943 خط)

ترجمه: دپاکستان خلاف عملي دعوي زما په خیال ډېره قوي ده.

نو ګنې د دې خبرې د ثابتولو د پاره څۀ ډېر زیات عقل او منطقي دلیل پکار دے چې بیا ولې پېرنګي داټوله لوبه جوړه کړې ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ګاندهي جي خط جناح صاحب ته

کله چې د ګاندهي جي د هغهٔ اولنے خط څهٔ خاطر خواه نتیجه را ونهٔ وته کړ چې هغه حکومت هند ته لیکلے ؤ چې اقتدار تاسو جناح صاحب ته حواله کړئ او د هغې ځواب حکومت هند نهٔ بلکې جناح صاحب او نواب زاده لیاقت علي خان ورکړو او دغه د قامي حکومت تجویز ئې نامنظور کړو نو بیا ګاندهي جي ابغ پهٔ نېغه جناح صاحب ته د جېل نه خط ولیکو چې هغه خط حکومت هند بندکړو. نور خو څهٔ کوې، چې د برطانیې وزیراعظم سرونسټن چرچل دغه ورځو کښې د امریکې پهٔ دوره ؤ چې د ګاندهي جي د خط نه خبر شو، نو دومره پرې سخته وه چې د هلته نه ئې سوال ځواب وکړو؛

Winston telegraphed from America urging that there should be no communiqué and the letter simply suppressed.
(25/4/1943)

ترجمه: وینسټن د امریکا نه تار وواهه چې هېڅ اعلان دې ونهٔ شي او خط دې منع کړي شي.

پهٔ لندن کښې پېرنګیان وېرېدل چې د ګاندهي جي د قامي حکومت د جناح صاحب پهٔ مشرۍ کښې انکار جناح صاحب کافي بدنام کړے دے، نو کهٔ د ګاندهي دا خط ور لهٔ ورکړے شي، نو شاید چې د روغې جوړې ګنجائش پیدا شي، ولې د وائسرا ے خپله رایه دا وه چې دا خط بندول نهٔ دي پکار. وائسرا ے پوهه ؤ چې جناح صاحب اوس پېرنګي دومره اوچت خېژولے دے چې د هغې ځا ے نه را کوزېدل به هغهٔ ته هم ګران وي. او دې خوا کانګرس هم څهٔ کمے نهٔ دے کړے ولې چې کهٔ د ټول هندوستان حکومت هغوي جناح صاحب ته پېش کړي دي نو د هغې نه نور زیات څهٔ کېدے شي چې ګاندهي





جي به ئې جناح صاحب لهٔ ورکړي نو د وائسرا ے دا یقین ؤ چې د روغې جوړې او مصالحت ګنجائش بېخي نهٔ دے پاتې نو خط دې بیا ولې پېرنګے اپال کړي او غوړه دې پهٔ خپل سر واخلي پېرنګي خو دنیا ته دا خبره کوله چې مونږ خو نن اقتدار حواله کولو ته تیاریو خو کهٔ د هندوستان مشران پرې پهٔ خپلو کښې رضا شي.

جناح صاحب پهٔ دې خبره بد وګڼل چې ولې د ګاندهي جي خط هغهٔ لهٔ ورنهٔ ورکړے شو. تر دې چې حکومت ئې چېلنج هم کړو. د خواجه ناظم الدین پهٔ حقله وائسرا ے لیکي چې هغهٔ دلته پهٔ ډیلي کښې پهٔ ډاګه ووې چې پهٔ دې مسئله کښې مونږ جناح صاحب سره ملګري یو او تر استعفي ورکولو پورې تللو ته تیار یو. د خط پهٔ بندولو خو جناح صاحب پېرنګي ته پهٔ قار ؤ او دړکې مړکې هم پکښې وشولې خو بیا ئې یو ډېر عجیبه شان بیان ورکړو چې د هغې پهٔ حقله وائسرا ے پهٔ 1/2/1943 کښې لیک؛

> Meanwhile he fact that Jinnah has wholly associated himself and in his public statement on Gandhi's letter, with the principal that there can be no communication with Gandhi so long as the Mahatma does not call off the policy of last August, is a very valuable advance.
>
> ترجمه: پهٔ دې دوران کښې جناح د ګاندهي جي پهٔ خط باندې پهٔ خپل مطبوعاتي بیان کښې ځان دې اصل سره تړلي دي چې تر هغه وخته پورې ګاندهي سره هېڅ رابطه نهٔ شي کېدے ترڅو چې مهاتما وتېر اګست پالیسي پرې نهٔ ږدي وایو زیات فائده مند پېشرفت وي.

یو خوا خو د خط پهٔ نهٔ ورکولو اعتراض ؤ او پهٔ دې خوا وائي چې ګاندهي سره د خط وکتابت خو تر هغې سوال نهٔ پېدا کېږي چې تر څو ګاندهي د تېر



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اګست د میاشتې خپله پالیسي بدله نهٔ کړي. د ګاندهي جي د اګست د میاشتې مطالبه دا وه چې پېرنګیان دې هندوستان ازاد کړي. تحریک د هندوستان د ازادۍ د پاره چلېږي. ګاندهي جي جناح صاحب لهٔ د خبرو اترو دعوت ورکړے دے چې عالمي جنګ شروع دے، ملک کښې اړے ګړے دے، جرمني او جاپان دنیا را پهٔ مخه کړې ده. چې مونږ هم سره کښېنو او د خپل مستقبل پهٔ حقله شریک سوچ وکړو. ګاندهي جي د ملاقات درخواست کوي. جناح صاحب د ملاقات درخواست پهٔ دې شرط قبلوي چې اول دې ګاندهي جي د (هندوستان پرېږدي) Quit India تحریک د واپس کېدو اعلان وکړي یعني ګاندهي جي دې دا اول ومني چې مونږ د ملک د ازادۍ مطالبه پرېښودله، د هغې د پاره مو خپل تحریک او خپل جدوجهد بند کړو، نو هغې نه پس ته به جناح صاحب هغه سره خبرو اترو ته کښېني. تپوس دا پکار دے چې دا تحریک خود نوابادیاتي او سامراجي بادار پېرنګي پهٔ خلاف د ملک د ازادۍ د پاره او د خپل حق خودارادیت د پاره چلوو. نو چې جناح صاحب او مسلم لیګ ته پهٔ دې کښې څهٔ تکلیف ؤ. دا کار خو د پېرنګي ؤ چې هغه ګاندهي جي ته دا شرط پېش کړي وي. دا څومره د زړهٔ چاودون خبره ده چې نن مسلم لیګ هم هغه ذمه واري پهٔ خپل سر اخستې ده کومه چې د پېرنګي وه. پهٔ دا شان جناح صاحب د حکومت هند فېصلې لهٔ هم جواز پېدا کړو چې هغوي ګاندهي جي خط بند کړے ؤ. دا خو هغه د مړه سپي خبره شوله، یو سړي خپل یو اشنا لهٔ لاړ. ورته ئې ووې چې د اوړي د فصل د سمبالۍ ورځې دي. زهٔ به څو ورځو لهٔ پهٔ مېره غنمو ته د‌بره یم نو کهٔ تا خپل سپي ما لهٔ څو ورځې راکړو چې هلته ماسره څوکۍ کوي. اشنا ورته ووې چې زما سپے خو مړ دے کهٔ دغلته ولاړ وي خو بیا هم خبر ؤ، بیا ئې ورته وې کهٔ ژوندے ؤ، نو هم مې تا لهٔ نهٔ درکولو خو زهٔ ئې څواب ورکوم او څواب هم د پېرنګي څواب. د وائسراے د خوشحالۍ هغه خو به





پرېږدو. ولې وزیر هند ایمري د جناح صاحب د دې بیان پهٔ حقله څهٔ لیکي؟ (2/6/1943):

I confess I admire the skill with which Jinnah has taken advantage of your deflation of Gandhi ovrer this business of deflating him once further, while at the same time adroitly saving his own face by making it clear that the only letter which would have satisfied him and which he dared you not to forward, was one abandoning the whole congress policy (i.e. to the extent making his condition identical with yours).

ترجمه: زهٔ اعتراف کوم او جناح مهارت ستایم، څنګه چې هغه ستا د ګاندهي جي د سپکولو نه پهٔ دې معامله کښې فائده واخسته او نور ئې سپک کړو او پهٔ عین وخت کښې پهٔ داسې ماهرانه رول خپل مخ بچ وساتو چې دا خبره ئې واضحه کړه چې صرف یو خط هغه مطمئن کولے شو او کوم چې هغه (ګاندهي) ونه کړے شو، تاسو ته راولېږئ، هغه دا ؤ چې د کانګرس ټوله پالیسي پرېږدي (تر دې پورې لاړ چې خپل شرط ئې تاسو (وائسراے) هغې سره مشابه کړو.)

مطلب د پېرنګي دا دے چې ګاندهي جي سپک deflate کړي او هلته پس ته به ورسره خبره کوي چې اول پرې دغه تحریک واپس واخلي، کومې چې د پېرنګي پهٔ خلاف د هندوستان د ازادۍ د پاره چلېږي، نو ایمري خو ځکه وائي چې جناح صاحب هم ګاندهي سپک کړو او دوهمه خبره هم جناح صاحب د پېرنګي وکړله او د پېرنګي او جناح صاحب یو شرط دے چې اول د ازادۍ تحریک واپس واخله نو هله پس ته به نورې خبرې کېږي چې دا قسمه واقعاتو ته سړے پهٔ غور ګوري، نو دا خبره ځان ته بیا بیا رایادول



Scanned by CamScanner

غواړي چې ایا ددغه وخت د مسلم لیګ لیډرانو پهٔ دې خپله رویه او
پالیسۍ چرې د دې اړخه هم سوچ کړے وُ چې زمونږ پهٔ دې رویه د مسلمان
پهٔ کور کښې کوم خبر پریوځي کهٔ نهٔ؟ هغوي هم پهٔ پټو سترګو پهٔ پېرنګي
پسې نیت تړلے وُ چې څهٔ هغهٔ کول غوښتل، هغه دوي ورله پهٔ خوشحالۍ او
فخر سرته رسول.

## د جناح صاحب مقام او حېثیت د پېرنګي پهٔ نظر کښې

چونکې تر دغه وخته پورې لا پېرنګي د هندوستان د پرېښېښودلو اراده نهٔ وه
کړې او هلته پهٔ لندن کښې ناست وزیر هند سره به کله کله دا وېره شوله چې
وائسراے کومه طریقه د جناح صاحب سره شړي ډېر امکان لري چې دا جناح
صاحب بیا دومره پهٔ سر وخېژي چې بیا سبا لهٔ د پېرنګي د پاره سر دردي
شي او بیا چې وقتاً فوقتاً وائسراے دا هم لیکي چې زما حتي الوسع دا
کوشش دے چې پهٔ مسلم لیګ کښې دې انتشار او نفاق پیدا نهٔ شي، نو
دې وزیر هند نور هم ووېراو چې ډېله ورله هم ته مضبوطه کړي او سړي هم
دومره ناحقه مطالبې کوي، نو سبا لهٔ به دې زمونږ د پاره د ګاندهي او
کانګرس نه هم لوے سر دردي شي. اخېر وائسراے هند لنلتګو دا فېصله
وکړه چې د وزیر هند ایمري تولې وېرې خورې کړي. د جناح صاحب د
سیاسي حېثیت تجزیه، د مسلم لیګ د قوت تول او بیا د دې موازونه د
کانګرس سره پهٔ تفصیل سره او پهٔ ډېر سپینه او بې باکه ژبه کښې وکړي -
پهٔ 10/6/1943 کښې د خپل یو رپورټ پهٔ ترڅ کښې لیکي؛

Your comment on Jinnah's sttitude .1 think he probably looks a little more alarming from London that he does here. I don't, however, think he wants a row with the govt. though on the other hand (like unfortunately all these leaders) he exists on being as





rude to govt.(& to his political opponents) as he thinks he dares. I doubt if anyone jakes it very seriously. his threats do not cause me any sleepness nights. As I have consistently felt and said both to Zetland and you, Jinnah would be quite as bad a master as Gandhi. But Jinnah is not as strong a position as to be in the near future, since he represents a minority and a minority that can effectively hold it's won with our assistance. Nor, of course, is his organization as deep.rooted as is that of the Congress. I would expect him to be likely to continue to be not merely non.constructive, but positively destructive, and to Endeavour to play his hand so as to get the maximum in the way of commitments favorable to his community and the maximum in the way of hurdles to be taken by the Hindus, but without cacing a showdown with the Govt.

ترجمه: د جناح د روئې پهٔ باب ستاسو تبصره پهٔ حقله باید
ووایم چې زما پهٔ خیال هغه د لندن نه ممکنه ده لږ زیات
ورونکي و ښکاري، پهٔ نسبت ددې ځاے. لیکن زهٔ فکر نه
کوم چې هغه حکومت سره شخړه کول غواړي اګر کهٔ بل طرف
ته (لکه د بدقسمتۍ نه د دې ټولو لیډرانوغوندې) د هغهٔ بقا
پهٔ دې کښې ده چې حکومت سره (او خپلو سیاسي مخالفینو
سره) دومره بدتمیزه اوسي څومره چې جرات نې ولري. زهٔ پهٔ
دې کښې شک لرم چې څوک هم دارو پهٔ سنجیدګۍ سره
اخلي او د هغه ګواښونه زما د پاره د بې خوبه شپو باعث نهٔ
ګرځي لکه چې ما همېشه محسوسه کړې ده او وزیر زیټلینډ
او تا ته مې وئیلي دي جناح به دومره بد بادار وي څومره چې



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ګاندهي وي. لیکن پهٔ دومره مضبوط پوزېشن کښې نه دے څومره کښې چې ګاندهي او کانګرس دي او امکان نهٔ لري چې هغه پهٔ نزدې مستقبل کښې مضبوط شي، ځکه چې هغه د اقلیت نمائندګي کوي او داسې اقلیت چې هغه زمونږ پهٔ مدد پهٔ خپلو پښو ودرېدے شي نهٔ پهٔ واقعیت کښې د هغه تنیم دومره ژورې جرړې لري څومره چې کانګرس لري، زهٔ به د هغه نه دا توقع و لرم چې خپل کار جاري وساتي، خو صرف غېر تعمیري نه بلکې تعمیري طور کار وکړي او کوشش وکړي داسې لوبه وکړي چې د خپلې برادرۍ د پاره زیات نه زیات وعدې ترلاسه کړي او زیات نه زیات رکاوټونه د هندوانو لاس ته ورشي، لیکن پهٔ څنګ کښې حکومت سره د ډغرې اخستونه ځان بچ کړي.

بس دے، وشوه، کهٔ نور څهٔ ګنجائش پکښې شته. پېرنګے تسلیموي چې جناح صاحب نهٔ څهٔ خپل قوت لري او نهٔ څهٔ قومي تنظیم. تر دې وائي چې پهٔ راتلونکي مستقبل کښې هم د هغهٔ د قوت د زیاتي هېڅ امکان نهٔ شته. هغه د اقلیتي فرقې لیډر دے او دغه اقلیتي فرقه صرف زمونږ پهٔ امداد خپل حېثیت قائم ساتلے شي. نو ځکه خو هغه وزیر هند لهٔ تسله ورکوي چې مهٔ وېرېږه هغه د حکومت سره د مقابلې نهٔ دي. ددې نه زیات پهٔ واضحه ټکو کښې وائسرا ے څهٔ ووائي؟ هغه برطانوي حکومت لهٔ تسله ورکوي چې جناح صاحب نه څهٔ حېثیت لري او نهٔ څهٔ قوت. هغه خو مونږ د دغه حېثیت خاوند کړے دے ولې سوال دلته دا پېدا کېږي چې د وائسرا ے هند د وینا مطابق جناح صاحب نهٔ څهٔ نمائنده حېثیت لري او نهٔ سیاسي قوت او قومي او منظمه ډله، نو دے به د مسلمانانو دحقوقو تحفظ څنګه وکړي؟ دے خو پهٔ خپله هم پوهه دے چې د دهٔ هر څهٔ طاقت او قوت د پېرنګي پهٔ لاس کښې





دے او کهٔ نن پېرنګے ووائي چې چونکې ما پهٔ دې هندوستان کښې پهٔ خپله انتخابات کړي دي نو خبره څرګنده ده چې هندوستانیانو پهٔ چا اعتماد کړے دے نو زهٔ به صرف د قام د منتخبو نمائندګانو او هغه سیاسي پارټو سره د هندوستان پهٔ مستقبل مشوره کوم کومې چې قام د دې د پاره منتخب کړي دي نو بیا به د مسلم لیګ او جناح صاحب حېثیت څهٔ وي؟ دا نه چې ګڼې یواځې وائسرا ے پهٔ دې پوهه ؤ چې جناح صاحب خپل څهٔ قوت او حېثیت نهٔ لري. جناح صاحب پهٔ خپله هم دا محسوسه کړې وه او نور خو پرېږده چې پهٔ لاهور کښې ئې پهٔ هغه اجلاس کښې د مسلم لیګ ملګرو ته وې چې کوم کښې د پاکستان تجویز پاس شوے ؤ. چې اوسه پورې خو وائسرا ے بې د ګاندهي نه بل څوک منل نهٔ خو بس ګاندهي، او ګاندهي ؤ لیکن چې کله پهٔ یورپ کښې جنګ ونښتو، نو وائسرا ے زهٔ هم وبللم. دا ئې الفاظ دي؛

After the war (began) I was treated on the same basis as Mr. Gandhi. I was wonderstruck why all of a sudden I was promoted and given a place side by side with Mr. Gandhi.

ترجمه: د جنګ د نښتونه پس ما سره د ګاندهي غونډې یو شان سلوک وشو، زهٔ حېران شوم چې ولې ناڅاپې زما ترقي وشوه او ګاندهي سره څنګ پهٔ څنګ ځاے راکړے شو.[16]

جناح صاحب پهٔ خپله حېران دے چې زما (ترقي) څنګه وشوله او ما لهٔ

---

[16] خپله جناح صاحب سره دا احساس ؤ چې پهٔ شخصي توګه باندې هغه څومره اوبو کښې دے. ځکه چې کله ورله د دوېم نړیوال لام نه پس ته انګرېزانو زیات ارزښت ورکړو نو یو دوه کښې حېران شو. پي کے مېنن پهٔ کتاب 'انتقال اقتدار' کښې د جناح صاحب خپله وینا لیکي چې 'کله ما سره د مسټر ګاندهي غونډې سلوک وشو نو حېران شومه چې دا ناڅاپه ولې زما رتبه دومره بره شوه چې د مسټر ګاندهي تر څنګه ئې ځاے راکړلو'



Scanned by CamScanner

وائسراے د ګاندهي سره د مساوي حېثيت څنګه راکه؟ نو لنډه او وړه ئې دا چې وائسراے هم د جناح صاحب په حقيقت. حېثيت او قوت خبر دے او جناح صاحب هم خبر دے چې نۀ ما انتخابات ګټلي دي. نۀ مې خپل سياسي تنظيم داسې قوي او محکم دے نو بيا پېرنګي ما لۀ دا دومره لوړ مقام ولې راکوي. نو د دې لازمي نتيجه يوه او صرف يوه کېدے شي چې د جناح صاحب دې همېشه دا کوشش وي چې د پېرنګي دغه ورکړے حېثيت او مقام د هغۀ د ګوتو نه وځي. جناح صاحب په دې هم پوهه ؤ چې د پېرنګي سره د کانګرس د مقابلې د پاره بې د هغۀ نه بل څۀ درک نۀ لګي نو هغۀ به هم هر وخت دا کوشش ؤ چې د دغې مجبورتيا نه د زياتې نه زياته فائده واخلي خو دا به ئې هم همېشه مد نظر ؤ چې چرې خبره دومره لرې لاړه نه شي چې پېرنګي سره ابغ په نېغه مقابلې ته نوبت ورسي ولې د وزير هند ايمري تسلي نۀ کېده، نو په بل خط کښې ورته وائسراے لنلتګو د مسلم ليګ په حقله مونډېزه خبره کړې ده. ورته ليکي چې د هغوي په اخباري بيانونو پسې تلل نۀ دي پکار لکه چې په 4/10/1943 کښې ليکي:

> But I believe as I have often said to you in these matters that the Muslim (Jinnah) though they are bound to abuse us in the interest of keeping their place in the public eye and so safeguarding their reputation as good nationalists, have nothing to gain from the disappearance of the British connection of from a further weakening of that connection, and do not want any such.

ترجمه: بلکې زما عقيده ده لکه چې ما همېشه تا ته د دې معاملو په حقله وئيلي دي چې مسلمان (جناح) مجبوره دے چې مونږ ته کنځلې وکړي او دغه شان خپل ځاے د خلقو په نظر کښې خوندي وساتي او د هغه قام پرستانو په شان د





خپل شهرت حفاظت وکړي البته هغوي ته د برطانوي رابطې د غيبېدو يا د دغې رابطې د نورې کمزورۍ کېدو نه څۀ په لاس نۀ ورځي او دغه رابطه کمزوري کول نۀ غواړي

وائسراے وائي چې جناح صاحب مونږ پسې بد رد ځکه وائي چې قام لۀ اثر ورکړي چې هغه قام پرسته ليډر دے او په دې طريقه هغه صرف اولس کښې خان لۀ اعتماد پېدا کوي، ګني نو حقيقت دا دے چې د مسلمانانو خېر په دې کښې دے چې انګرېزدې دلته د حاکم په حېثيت کښې موجود وي، دوي د پېرنګي سره خپل تعلق شلول نۀ غواړي او شلول خو پرېږده. هغوي د دغه تعلق کمزوري کول هم نۀ غواړي

## صوبه سرحد او پېرنګي

د پېرنګي دې ټولې پاليسۍ ته کۀ په غور وکتل شي، نو ده چې د فرقه وارانه سياست د رادوساره کولو او د مذهبي جذباتو د راپارولو او د مسلمان او غېر مسلمو په منځ کښې د نفاق او بې اعتمادۍ فضا پېدا کولو په ذريعه د کوم نفرت او بېلتون بنياد کېښودو په هغې کښې د صوبه سرحد خدائي خدمتګارو تحريک ډېر لوے خنډ ؤ. دغه تنظيم نۀ د پېرنګي په داخلي پاليسۍ کښې ځائېدو او نۀ ئې د پېرنګي د خارجه پاليسۍ سره مرسته کوله او پېرنګي ته لوے تکليف او مشکل دا ؤ چې په صوبه سرحد کښې د مسلمانانو ابادي قابو په سلو کښې دوه نوي وه چې هغه د ټول هندوستان په ټولو صوبو کښې د مسلمانانو د تناسب نه زياته وه او غټ مشکل دا ؤ چې دا صوبه په هغه مقام پرته وه کوم ته چې پېرنګي خپل سرحد وے، داسې خو د پېرنګي سلطنت په هغه وخت کښې دومره غزيدلے ؤ چې هغه د چا خبره چې د هغې نمر نۀ پرېوته ولې پېرنګي دې صوبې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



صوبه سرحد څکه وې چې دلته د پېرنګي خپل حقيقي دښمن يعنې شوروي اتحاد سره مخامخ کېدو او دا د سامراج او نو ابادياتي نظام د نمائنده تاج برطانيه داسې سرحد ؤ چې دلته ورته مخامخ شوروي اتحاد پروت ؤ چې اول پکښې زارشاهي وه او د هغه زارشاهۍ په دوران کښې خپل سرحد د افغانستان پورې د امو درياب غاړې ته رارسولے ؤ، ولې د 1917ز د روس د اشتراکي انقلاب نه پس خو پېرنګي سره ورو ورو نوره هم خطره پېدا شوله او امو درياب چې تر دغه وخته پورې يو جغرافيائي سرحد ؤ، د دغه انقلاب نه پس هغه د جغرافيائي سره سره يو نظرياتي سرحد هم شو او د دغه نظرياتي يلغارنه د بچ کېدو د پاره پېرنګي هم يو نظرياتي قوت پېدا کړو. مونږ وليدل چې په اولني عالمي جنګ کښې پېرنګي خپل قوت د مسلمان اتحاد او طاقت د ختمولو د پاره استعمال کړو پېرنګي د هندوستان حکومت د مسلمانانو نه اخستے ؤ. پېرنګے د سمندر په لاره هندوستان ته راغلے ؤ. پېرنګي وليدل چې د يورپ د بلقان د رياستونو نه راواخله تر د چين د سرحد پورې دا ټوله خطه د مسلمان وه او هلته د شمالي افريقې نه را واخله تر مشرق وسطي پورې دا يو ډېر لوے عظيم قوت د مسلمان ؤ او بيا په تېره د ترکي خلافت عثمانيه يو دروند او مضبوط حکومت ؤ. نو زۀ په هندوستان کښې په غزيدلو پښو خوب نۀ شم کولے او نۀ دا بې حسابه دولت هضمولے شم نو چې اولني جنګ عظيم خلاصېدو، پېرنګي د ترکو خلافت دړې وړې کړے ؤ او هغه لوے اتحاد او ترون ئې دړې وړې ټوټې کړے ؤ او د خپل لاس ګوډاګي ئې هلته کښېنولي وو.

چې جنګ خلاصېدو نو پېرنګي ايله ساه واخسته چې د مسلمان نه مې ځان بې غمه کړو او د اسلام دا بين المللي ترون مې د منځه يوړو، ولې چې د دغې جنګ په دوران کښې روس کښې يو اولسي انقلاب راغے. اول خو پېرنګي او نورو سامراجي قوتونو کوشش وکړو چې دغه انقلاب په کچه





کښې ووهي. د انقلاب ضد قوتونو سره ئې ساز باز او مرسته وکړه. نو خوند ئې ونۀ کړو. د ځوان شوروي اتحاد ناکه بندي ئې وکړه چې د بهر دنيا سره د هيڅ قسمه تجارتي لين دين ونۀ شي. دا ئې کوشش ؤ چې په دې طريقه به دا نوي نظام اقتصادي طور کمزورے او تباه کړي ولې دغه سازش هم کامياب نۀ شو او چې کله د دغه اولسي انقلاب لوے او ستر مشر لنين مړ شو او انقلاب بيا هم قائم پاتې شو، نو بيا پېرنګي سره په حقيقت کښې سخته وېره پېدا شوله او د دغه نظرياتي انقلاب د مخنيوي د پاره ئې سوچ او فکر شروع کړو، نو اخېر په دې نتيجه ورسېد چې پېرنګي د دغه نظرياتي قوت د پاره هر چرته کۀ لاس پښې وهي نو د هغې د وړاندې صرف او صرف يوه لاره وه چې هغه اسلام د خپل غرض د پاره استعمال کړي او دغه نظرياتي قوت د شوروي اتحاد د انقلابي او نظرياتي قوت د مخنيوي د پاره قوي کړي خو پېرنګے په دې ښۀ پوهه ؤ چې کۀ د حقيقي اسلام روح قائم پاتې کېږي نو دې کښې خو د کافر پېرنګي تاوان دے او ګرانه ورته په دې هم وه چې اوس اوس پېرنګے د مسلمانانو د عظيم خلافت بر خلاف په ډاګه جنګ کړے ؤ نو دغه اسلام د پېرنګي نۀ ؤ پکار، پېرنګي لۀ داسې اسلام پکار ؤ چې هغه د پېرنګي د سامراجي او نواباداياتي شهنشاهيت په مرسته ودرېږي او د انقلابي شوروي اتحاد د مقابلې د پاره يوې نظرئې په حېثيت د پېرنګي وسله شي نو د پېرنګي پاليسي بدله شوه، هغه د اسلام يوه داسې تيزندۍ غوښتنه چې هغه د ترکي نه را واخله د چين تر سرحده پورې د شوروي اتحاد په مرۍ کښې واچوي چې پېرنګيانو په خپله ژبه کښې Military Creacent يعنې (فوځي هلال) وې.

په هندوستان کښې د فرقه وارانه نفرت او دښمنۍ بنياد هم په دې غرض کېښودے شوے ؤ او هم د دې بين الاقوامي سامراجي مقصد د حاصلولو د پاره پېرنګي دا ضروري وګڼله چې دا تيزندۍ به هله پوره مضبوطه او



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکمله شي چې د اسلام په نامه يوه حصه د هندوستان قطب ته د شوروي اتحاد سرحد ته مخامخ راجدا شي چې د ترکي. ايران سره سره د چين تر سرحد پورې د اسلام په نامه يوه مضبوطه او محکمه کلا جوړه شي چې دا د شوروي اتحاد برخلاف د پېرنګي د سلطنت د بچ کولو او د هندوستان د غلام ساتلو د پاره يوه ذريعه او وسيله شي. پېرنګي ډېر هوښيار او چالاک ؤ. هغه ځان له داسې ملګري کتل چې هغه د پېرنګي دا مقصد ترسره کړي. نو چې دې ته ښهٔ په غور وکتل شي. نو باچا خان او د هغهٔ خدائي خدمتګاران د پېرنګي په دغه پاليسۍ کښې په هېڅ شان نهٔ ځائيدل اندروني پاليسي د پېرنګي دا ده چې هغوي د هندو او مسلمان په منځ کښې د نفرت، کرکې او دښمنۍ په حق کښې وو او خدائي خدمتګارد دغه شي مخالف وو. بله دا چې پېرنګي اسلام د خپل سامراجي او نو ابادياتي شهنشاهيت د بچ کولو د پاره استعمالول غوښتل او خدائي خدمتګاران دغې ته قطعاً تيار نهٔ وو. بلکې مطالبه، کوشش او جدوجهد ئې دا ؤ چې پېرنګے دې د هندوستان د ازادۍ اعلان وکړي او کډه دې په سر کړي چې هندوستان ازاد شي او د هندوستان واک اختيار دې اولس ته په حواله شي چې د دولت او وسائل د قام د وږو، تږو او بربنډو لغړو او بې وسه غريبانانو په ښېګړه راشي او هم د دې غرض د پاره ئې ځان په هندوستان کښې هغه قوتونو سره ملګرے او اتحادي کړے ؤ چا چې د ملک د ازادۍ د پاره ملا تړلې وه او هغه او انډين نېشنل کانګرس يعني هغه د ملک د ټولو اوسېدونکو يو قام پرسته تنظيم ؤ چې پکښې هندوان. مسلمانان، سکهان، عيسايان او پارسيان ټول شامل وو او هندوان پکښې ډېر وو. ولې چې هندوستان کښې اکثريت د هندوانو ؤ او د کانګرس بنيادي مقصد د ملک ازادي وه او د پېرنګي کډه بارول د کانګرس په هېڅ شان هم د پېرنګي د پاره شوروي اتحاد سره مقابلې ته غاړه نهٔ کېښوده. بلکې هغهٔ خو





کوشش دا ؤ چې پېرنګے دې هندوستان نه واپس خپل ملک ته لاړ شي نو پېرنګي چې پوره سوچ وکړو. هغه هم په دې نتيجه ورسيدو چې په هندوستان کښې دننه د هغهٔ دښمن کانګرس دے او د کانګرس نظريه د قوميت ده چې هغه د علامه اقبال خبره:

مذهب نهين سکهاتا آپس مين بير رکهنا

هندي هين، هم وطن هين. هندوستان همارا

ترجمه: مذهب په خپلوکښې د دښمنۍ ساتلو درس نهٔ ورکوي، هنديان يو هم وطنه يو . هندوستان زموږ دے

او د پېرنګي دښمن شوروي دے نو د پېرنګي نظر بازو او هوښيارو سترګو سمدستي داسې محسوسه کړه چې کهٔ يو خوا اسلام پېرنګے د خپل غرض د پاره د يوې نظرئې په توګه د شوروي اتحاد برخلاف استعمالولے شي. نو په بل اړخ هم دلته پېرنګے هم دغه اسلام د کانګرس په خلاف استعمالولے شي نو د هغهٔ مشکل اسان شو يعني چې يو اسلام راټينګ کړي. نو دلته په هندوستان کښې دننه به ئې د فرقه وارانه نفاق، نفرت او دښمنۍ د پاره په خپله ښېګړه راولي او په بين الاقوامي ميدان کښې ئې د يو نظرياتي قوت په توګه د شوروي اتحاد د انقلابي اشتراکي نظرئې بر خلاف استعمال کړي او هم دغه پاليسي وه چې پېرنګي راټينګه کړه. ولې په دې پاليسۍ کښې د ټولو نه لوے خنډ د صوبه سرحد خدائي خدمتګاران وو چې نهٔ د هندو مسلمان د نفاق او نفرت په خاطر هغوي د هندوستان د قامي او اولسي تحريک نه ځان جدا کړو او نهٔ د شوروي اتحاد برخلاف د پېرنګي د دغه نظرياتي مقابلې د پاره د اسلام نوم هغوي استعمالولو ته غاړه کېښوده. پېرنګي ته دا هم يو مشکل ؤ چې دې صوبه کښې مسلمانان په ډېر زيات اکثريت کښې وو، بله دا چې صوبه سرحد سره تړلې قبائلي علاقه وه او ور پورې افغانستان ؤ چې دا لر او بر پښتانهٔ پېرنګي د ډيورنډ د کرښې په



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



برکت د یو بل نه راشلولي وو او اګر چې ډېر جنګونه شوي وو. نو بیا هم پېرنګي د پښتنو د علاقو نه مجموعي طور مطمئن نهٔ ؤ نو پهٔ داسې حالاتو کښې د پېرنګي د خښتې لاندې صوبه سرحد کښې دا یو قامي تحریک راپورته کېدل د پېرنګي د پاره یوه خطره وه او د هغهٔ د مفادو د تحفظ پهٔ لاره کښې زبردست خنډ ؤ. نو پهٔ دې اړخ د دې قامي تحریک د هندوستان د قامي ډلې کانګرس سره تړون، واقعي چې د پېرنګي د ټولې پالیسۍ د پاره د ټولونه لویه خطره او د پېرنګیانو ټوله پالیسي دا وه چې دا تحریک د کانګرس نه وشلوي. دے وچقوي ختم ئې کړي. ولې چې دا صوبه یو خو ډېره حساسه منطقه وه بل د هندو او مسلمان د نفرت او بېلتون تحریک پکښې نهٔ ؤ بله لویه خبره دا وه چې دا خدائي خدمتګاران. دا پهٔ قام مئین او ننګیالي داسې وو چې د پېرنګي د بې پناه ظلمونو. تشدد. وهلو. ټکولو. کورونو تالا کولو. جېلخانو، د هغې تکلیفونو. جائیدادونو ضبطولو داسې د هر قسمه حربې چې پرې پېرنګي استعمال کړې دا تور زن او بهادران پېرنګي د خپلې وانهٔ ړول.

## خانان او مُلیان

ولې پېرنګي کهٔ یو خوا پهٔ وهلو او جبر و تشدد صرفه نهٔ وه کړې، نو پهٔ دې بل اړخ ئې د دې قامي تحریک پهٔ خلاف ټول خپل اثر او رسوخ، مال او دولت استعمال کړو او هغه ټولې حربې ئې استعمال کړې چې د هغهٔ پهٔ اختیار کښې وې حقیقت دا دے چې د پېرنګي خو اول دا خیال څهٔ چې یقین ؤ. چې زهٔ به حکومتي زور او تشدد دا تحریک وچقوم، بیا ئې خپل ټول قوتونه راټول کړل، سران، نوابان، خان بهادران، خان صاحبان، جاګېرداران، انرري مجسټریټان او خپل ټول ګوډاګیان راټول کړل پهٔ





زړګونو ځلمې پهٔ جېلونو کښې واچول شول. د خانانو زامنو د پېرنګي د پاره ډنډه ماران بهرتي کړل، د خدائي خدمتګارانو کورونه تالا شول. بچي ئې خوار شول. د هرې پور د جېلخانې نه بهر د غازیانو مقبره جوړه شوله خو قام دومره بې کچه نرتوب او د بهادرۍ مظاهره وکړه چې دنیا ورته حېرانه پاتې شوله ولې کله چې د خدائي خدمتګارو د دې عظیمو قربانو پهٔ نتیجه کښې پېرنګے مجبور شو او صوبه سرحد لهٔ ئې د هندوستان د نورو صوبو سره مساوي حیثیت ورکړو او چې بیا کله د 1935ز ایکټ د لاندې دلته پهٔ اول ځل انتخابات وشول، نو اګر چې دغه وخت کښې د ټول اولس بالغ رائې دهۍ ووټ نهٔ ؤ. اندازه دا وه چې د بالغ رائې دهندګانو پهٔ قول څهٔ (50.40) فیصده ووټران وو. مګر بیا هم پېرنګي ولیدل چې د هغهٔ ټول غټان یو پهٔ یو قام راځملول اګر چې خدائي خدمتګارو پهٔ دغه اولني انتخاباتو کښې قطعي اکثریت حاصل نهٔ کړو. بلکې د (50) ممبرانو پهٔ اسمبلۍ کښې ئې (19) سیټونه وګټل، خو دې الیکشن دوه خبرې واضحه کړې یو خو دا چې ئې د خدائي خدمتګارو د ډلې نه بل یو هم منظم تنظیم نهٔ ؤ چې پهٔ دې انتخاباتو کښې ئې جماعتي حیثیت باندې برخه اخستې وې او دویمه اهمه خبره دا ده چې خدائي خدمتګارو پهٔ دغه انتخاباتو کښې کومو کومو شخصیتونو لهٔ ماتې ورکړه، د پېرنګي د اړخه د ټولونه عبرتناک شکست د نواب سر صاحبزاده عبدالقیوم ؤ چې د زیدې کلي د یو خدائي خدمتګار عبدالعزیز خان نه ئې شکست وخوړ. دې بل اړخ د هوتي نواب سر محمداکبر خان د خپلې کورنۍ د یو خدائي خدمتګار امیر محمد خان (چې پهٔ خان لالا مشهور ؤ) د لاسه شکست وخوړ. داسې د تهکال د نوابۍ د کورنۍ ارباب شېر علي خان هم د خپلې کورنۍ پهٔ یو کشر خدائي خدمتګار ارباب عبدالغفور خان بایلله هم دا شان د کوهاټ پهٔ ضلعه کښې د پېرنګي یوه بله مضبوطه ستن خان بهادرقلي خان د یو خدائي خدمتګار د لتمبر



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د محمدافضل خان د لاسه راپورزيده. د خدائي خدمتګارو په مقابله کښې چې کوم ممبران کامياب شول، هغې کښې درې نوابان، دوه نواب زاده ګان، دوه خان بهادران او څلورخان صاحبان وو. داسې په هندوانو کښې په شپږو ممبرانو کښې څلور رائې بهادران او دوه رائي صاحبان وو تفصيل ئې داد ے:

- نواب سر صاحب زاده عبدالقيوم (دهٔ خپله حلقه کښې خوانتخاب بائيللو خو د ے لاړ او د هزارې د خان پور د راجګانو په حلقه کښې ودريدو او هلته ئې وګټله)
- نواب باز خان د ټيري (کوهاټ)
- نواب محمد ظفرخان (بنو)
- نواب زاده الله نواز خان (ډېره اسماعيل خان)
- نواب زاده محمد سعيد خان
- خان بهادر سعدالله خان (لنډې لارې)
- خان بهادر محمد زمان (هزاره)
- خان صاحب اسد الله خان (ډېره اسماعيل خان)
- خان صاحب عبد المجيد خان (هزاره)
- خان صاحب راجه عبد الرحمان (هزاره)
- خان صاحب محمدعطائي خان (هزاره)

د دې انتخاباتو نه پس سمدستي پېرنګي د صوبه سرحد په سياست نظر واچولو هغه پوهه شو چې دا نوابان، خان بهادران، جاګېرداران، ذيلداران که په خپلو خپلو خايونو هر څومره قوي او تکړه وي، خو چې ترڅو دلته يو مضبوط او منظم تنظيم او سياسي جماعت نه وي، نو پېرنګي د خدائي خدمتګارو سره مقابله نهٔ شي کولے دا ډېره د حېرانتيا خبره ده چې کهٔ څومره پېرنګي کوشش وکړو چې دا خپل ګوډاګيان په يو مزي راغونډ





کړي، خو خبره څهٔ ډېره مخکښې نهٔ تلله دې خبرې ته هم لږ فکر پکار د ے چې تر دغه وخته پورې په دې صوبه سرحد کښې د مسلم ليګ نوم قدرې نه ؤ او نهٔ ئې د دې وجې نه په اسمبلۍ کښې يو ممبر ؤ. دا ټول ممبران د خدائي خدمتګارو نه غېر ازاد ممبران وو او د هيڅ يوې سياسي ډلې غړي نهٔ وو پېرنګے په دې پوهه ؤ چې پښتون دوه مشران لري: يو ديني او بل دنياوي پېرنګي په د نياوي مشرانو ملا تړله هغهٔ د ډېر تکل او تراوسه پورې پېرنګي په دې نتيجه رسيدلے ؤ چې پښتون ډېر خودداره او تورزن قام د ے ولې دهٔ کښې د هغه وخت د معاشرې د قبائلي ژوندون د سردراى نظام د لاندې اجتماعيت تصور نهٔ شته، خان خاني او انفراديت لري. البته خپل خانان او ملکان، مشران او سپين ږيري لري، مګر فېصلې د سرداري نظام په شان سردار نهٔ کوي، بلکې قامي جرګه ئې کوي او چونکې دغه مشران او سپين ږيري د قام د رائې او مشورې تابع وو، خو په دې د پېرنګي سمې نهٔ راتلو نو پېرنګي ته دا ووئيل شو چې په پښتنو کښې دې دغه زړې د مشرې کورنۍ او قامي خانان يو طرف ته وديکي او خپلې خانۍ دې قائمې کړي. د هغوي په ژبه خپل بوټي دې نال کړي چې د دوي د لاسه کرلي وي د دوي د لاسه اوبهٔ خوري او هم پېرنګے ئې د سوري لاندې په ارام ناست وي او د دې خانانو. ملکانو او مشرانو په دا مجبور وي چې دوي ټول په ټوله په پېرنګي پورې تړلي وي. د دوي ټول دولت،قوت، اثر او رسوخ. عزت او درناوے به د سرکار په کرسۍ وي نو دوي به چرې هم دا جرات ونهٔ کړے شي چې د پېرنګي بر خلاف څهٔ قدم واخلي. ولې چې په داشان به د هغه همه مراعاتو، دولتونو اوسفارشونو نه محروم شي د کومو په ذريعه چې د معتبرۍ اوچت مقام ته پېرنګي خېژولي وو. دا خطاب يافته سران. بې رياسته نوابان، بې بهادرۍ خان بهادران، خان صاحبان، ذيلداران. جاګېرداران او د دوي دا کورنۍ چې د پېرنګي په شتو شته او د هغهٔ په



Scanned by CamScanner

انعامونو او منصبونو مړې وې او د دوي د بچو د پاره پهٔ فوځ او سول کښې نوکرۍ حاضري وې. دا یوه طبقه پېرنګي داسې جوړه کړې وه چې د دوي پهٔ دې قام کښې یو سرکاري حېثیت ؤ سفارشونه ئې منظورېدل. انرېري مجسټرېټان وو مقدمې به ئې پهٔ خپله فېصله کولې. د دفعه 40 سرحدي قانون د لاندې به هم دوي د جرګو ممبران وو چې د قتلونو فېصلې به ئې اوروليې تړل پرانستل به ئې کول. د پېرنګي د وړاندې هم دا مشران وو د دوي نه غېر هغوي نه دا درنې زړې کورنۍ تسلیمولې او نهٔ ئې د قام خوښې او غوره سپین ږېري.

د پېرنګے چونکې د دې پالیسۍ سره سره دا هم یوه قطعي فېصله وه چې څنګه هغه دا پښتون قام ټوټې ټوټې کړو. څهٔ پهٔ افغانستان. څهٔ پهٔ یاغیستان. څهٔ قبائلي علاقې. څهٔ ایجنسۍ او څهٔ ئې ریاستونه کړل او څهٔ ئې د خپلې خېټې د لاندې د صوبه سرحد پهٔ نامه رالاندې کړې. هم دغه شان یوه لویه برخه ئې د دې هر څهٔ نه جدا د بلوچستان سره ملګرې کړله نو دغه شان ئې بیا کوشش دا ؤ چې د پښتنو نه اجتماعي ژوند تصور بالکل ورک کړي او دې کښې پېرنګي دومره تکلي او غرضي ؤ چې هغه هم پهٔ دې خپلو جوړ کړو خانانو او نوابانو کښې هم یو قسمه اتفاق ته غاړه کېښوده. بلکې د پېرنګي غرض دا ؤ چې څومره د دې مختلفو کورنیو او قبیلو او د دې د مشرانو خپلو کښې ورانه وي. نو د یو بل د ضد نه به دوي د سرکار پهٔ تابعدارۍ کښې مخکښې کېږي او د هر یو به دا کوشش وي چې د هغه بل پهٔ مقابله کښې ځان د سرکار اصلي خدمتګار او تابعدار څهٔ چې مرلي ثابت کړي. دې څهٔ وخته پورې خو د پېرنګي کار ډېر ښهٔ وویستو. خو چې کله د خدائي خدمتګارۍ تحریک شروع شو. نو هغې کښې د قام محرومې حصې او پهٔ خصوصیت سره غریبانان شامل شول. نو اول خو سرکار هم د دې خانانو پهٔ مرسته د دې تحریک د چقولو انتظام وکړو. ولې د انتخاباتو نه





پس پېرنګے پوهه شو چې یو پهٔ یو یعني انفرادي طور کهٔ د دې د منظمې ولې پهٔ حیثیت یو ځاے پهٔ یو تنظیم کښې کار کولو ته غاړه کښېنهٔ ږدي. نو تر هغې د دوي د دې قامي تحریک مقابله نهٔ شي کولے او بیا پهٔ خصوصیت سره چې کله نواب د سر صاحب زاده عبدالقیوم غونډې سرکاري سړي او نواب سر محمد اکبرخان هوتي غونډې د یوسفزو د کورنۍ قامي سړي سره ونښتل. نو بیا خو پېرنګے پوهه شو چې د دې دواړو سرکاري نوابانو اختلاف د پېرنګي مفادو ته نقصان ورسولو.

پهٔ دې بل اړخ د نور هندوستان د تجربې نه پېرنګي دا زده کړه وکړه چې اوس د پېرنګي غرض صرف د اسلام پهٔ نامه پهٔ سیاست کښې ترسره کېږي نو دا هم د تعجب خبره ده چې د مسلم لیګ بنیاد پهٔ ستمبر 1937ز کښې پهٔ ایبټ اباد کښې د ملیانو د لاسه کېښودے شو. ډېره د حیرانتیا خبره دا ده چې د جمعیت العلماء د صدر مولانا شاکرالله د نوښار پهٔ مشرۍ کښې د مسلم لیګ بنیاد کېښودے شو او دا د جمعیت العلماء صدر ئې اولنے صدر او هم د دغه جمعیت العلماء سکرټري مولانا محمد شعیب د مردان ئې د صوبائي مسلم لیګ سکرټري شو. دې ته لږ فکر پکار دے چې پهٔ اپریل 1937ز کښې د سرصاحب زاده عبدالقیوم پهٔ مشرۍ کښې کوم وزارت جوړ شوے ؤ. هغه پهٔ ستمبر 1937ز کښې پهٔ اسمبلۍ کښې دعدم اعتماد د تحریک پهٔ وجه پرېوت.

وروسته چې بیا وزارت یو کال تېر شو او د خپلو محدودو اختیاراتو باوجود د صوبې وزارت د ډاکټر خان صاحب پهٔ مشرۍ کښې څهٔ انقلابي اصلاحات وکړل یعني؛

1. جاګیرونه ضبطول
2. انرېري مجسټرېټۍ ماتول
3. نوبتي څوکۍ بندول

دا داسې فېصلې وې چې د دې نبغ پهٔ نبغه اثر د پېرنګي پهٔ هغه ملاتړو پرېوت چا ته چې پېرنګي ټول قام مو تازه کېښنولے ؤ او پېرنګي دې سرانو، خان بهادرانو، خان صاحبانو، ذیلدارانو او د خپل لاس جوړ کړي خانانو ته پهٔ ډاګه ووې چې تر څو تاسو یو قوت نهٔ شئ او د یو منظم جماعت د جنډې لاندې راغونډ نهٔ شئ، نو تاسو د خدائي خدمتګارو مقابله نهٔ شئ کولے لکه چې تېرو انتخاباتو دا خبره څرګنده کړله، نن غریب خان د ملک حاکم ګنې. ولې چې حکومت د اولس د ووټ پهٔ ذریعه جوړ شو او غریبانان ډېر دي.

پهٔ هر حال، نوموړو اصلاحاتو پېرنګي او د هغهٔ ګوډاګیان ووېرول دې سرکاري خانانو سره د خپل مستقبل فکر شو او پېرنګي هم د دې موقع نه فائده واخسته چې پهٔ دواړو مورچو د قامي تحریک مقابله وکړي. نو چې د ستمبر 1938ز کښې خان بهادرسعد الله خان د مولانا شاکر الله د نوښار پهٔ ځاے د صوبه سرحد د مسلم لیګ صدر مقرر کړے شو، پهٔ دا شان مسلم لیګ د نوابانو، سرانو، خان بهادرانو، ذیلدارانو او انرېري مجسټرېټان پهٔ خپل اختیار کښې واخستو. دا د پېرنګي د پښتنو د پاره دنیاوي ډله شوله ولې د دې سره ئې د ملیانو یوه ډله منظمه کړله چې د هغې تفصیل د صوبې د هغه وخت ګورنر سرجارج کننګم پهٔ خپلو ذاتي ډائرو کښې ډېر پهٔ تفصیل سره موجود دے. یعني پېرنګي د خپله جانبه د پښتنو لکه د مغلو د اکبر باچا پهٔ دواړو دنیاوي او دیني مورچو خپلې ډلې منظمې کړلې.

## د سر جارج کننګم ډائرۍ

چونکې د پېرنګیانو د ټولې پالیسۍ دارومدار صرف پهٔ اسلام ؤ یو د دې وجې نه د سر جارج کننګم دا رپورټ زهٔ لږ پهٔ تفصیل سره رانقل کول ضروري ګنم چې قام ته پته ولګي چې کافر پېرنګي څنګه پهٔ مختلفو ذریعو





او ذریقو د مسلمانانو دیني مشران او پهٔ حقیقت کښې د رسول اکرم (ص) د مصلې (مصلا) وارثان او د هغهٔ د محراب او ممبر تابعداران د خپل کافرانه غرض د پاره استعمال کړي دي او څومره پهٔ ارزانه ئې استعمال کړي دي زهٔ افسوس کوم چې دې کښې بعضې نومونه داسې دي چې د هغې پهٔ ظاهرولو منم چې د دغه علماء دین نه وروستو پاتو ته به تکلیف رسي نو خبردار کړم. کوم چې یو کافر اقا او د نوابادیاني او سامراجي قوت علمبردار د خپل تاج او تخت د پاره استعمال کړي دي او چې څنګه د مسلمانانو دا دیني مشران هم دغه پېرنګي د خپل غرض د پاره استعمال کړي دي چې قام خبرداره شي او ویښ او بېدار اوسي، سترګې وغړوي سبا لهٔ بل یو قوت د قام حق د اسلام پهٔ پاک او سپېڅلي نوم غصب نهٔ کړي او دا دین خرڅي ملیان پهٔ ګوته کړي چې نور راتلونکي ترې نه عبرت واخلي.

د سر جاج کننګم دا د خپل لاس لیکلي ډایرۍ چې سړے لولي. نو حېران شي چې څومره څومره درانهٔ، خوش شکله، فرشته صورت، د دیني مدرسو فارغ التحصیل عالمان هم د پېرنګي د پاره لګیا.وو او د خدائے قران پهٔ لاس د رسول اکرم (ص) احادیث پهٔ غاړه د کافر پېرنګي د حکومت د پاره او د خپل ملک، وطن او مسلمانانو د غلامولو د پاره ئې خپل ایمان، ضمیر او سړیتوب پهٔ سرو سپینو خرڅ کړے دے.

د سر جاج کننګم دا ډایرۍ د هغهٔ پهٔ ذاتي کاغذونو کښې د پېرنګیانو د لندن پهٔ لائبریرۍ کښې موجودې دي څوک کهٔ ثبوت غواړي او لا پهٔ دې سلسله کښې نور لټون کول غواړي، نو هغوي ئې کتلے شئ. ما د دغه ډایرو مکمل نقل د لائبریرۍ نه سرکاري طور راوړے دے

هسې خو د پېرنګي د نمائندګانو د وخت د سره نه دا کوشش ؤ چې هغوي پهٔ هندوستان کښې د مختلفو فرقو ترمنځه نفاق پېدا کړي او دغه نفاق د خپلې فائدې د پاره استعمال کړي ولې پهٔ صوبه سرحد کښې پېرنګي ته دا

مشکل ؤ چې دلته مسلمان پهٔ دومره ډېر زیات اکثریت کښې ؤ چې هغه د غېر مسلمو د غلبې نه وېریدو. بله دا چې پښتون هسې هم پهٔ خپلو متو دومره باور لرلو چې هغه د چا بل د غلامۍ تصور هم نهٔ کولو او چې کوم قام د پېرنګي غوندې جابر، ظالم او قوي طاقت سره ډغرې ته تیار ؤ. نو هغهٔ به د نور چا نه چا ویرولے ؤ؟ ولې پهٔ دې علاقه کښې عموماً او پهٔ قبائلو او افغانستان کښې خصوصاً پېرنګي ملیان ځان سره ملګري کړي وو چې هغوي د روس او بیا شوروي اتحاد پهٔ خلاف د پېرنګي پهٔ حق کښې اواز پورته کوي او بیا چې کله پهٔ خصوصیت سره روس کښې پهٔ 1917ز کښې انقلاب راغے. نو پېرنګے پوهه شو چې اوس د زار روس د فوځي قوت سره سره د اشتراکي انقلاب یو نظریاتي قوت هم ملګرے شو چې د هغې تا بیا هم ضروري وه او د دغه نظریاتي قوت د مقابلې د پاره د پېرنګي نظر بازو سترګو اسلام غوره کړے ؤ، او د دغه پېرنګي پهٔ دغه سلسله کښې کافي خواري او سترړي کړې وه او بیا چې کله امیر امان الله خان د جانبه پېرنګي ته پهٔ حقیقت کښې خطره پېښه شوله. نو هلته پېرنګي هم دغه اسلام د یو اسلامي ملک افغانستان د مسلمان او پښتون باچا پهٔ خلاف څومره پهٔ کامیابۍ سره استعمال کړے ؤ ولې کله چې پهٔ یورپ باندې د هټلر د جرمني د اړخه د جنګ ګورې وریځې راخورې شوې، نو پېرنګي سره بیا د خپلو غزېدلو سرحداتو خطره پېدا شوله. دا خو مونږ وکتل چې څنګه اسلام پېرنګي د خپل غرض د پاره پهٔ هندوستان کښې پهٔ سیاسي میدان کښې پهٔ خپله ښېګړه راوستو او دا مو هم کتلي دي چې هم دغه اسلام د شوروي اتحاد د نظریاتي مقابلې د پاره د هغهٔ پکار راغے نو چې کله حالات هنګامي شول، نو پهٔ صوبه سرحد کښې هم پېرنګي خپله مخه بیا ټول پهٔ ټوله اسلام ته کړله. کهٔ یو خوا ئې نوابان او جاګیرداران د اسلام پهٔ نامه پهٔ مسلم لیګ کښې راغونډول، نو دې بل اړخ ته ئې مکمله توجه مُلیانو ته کړله چې دلته





پهٔ صوبه سرحد کښې او ور پورې قبائلي علاقه چې ان تر د افغانستان دننه پورې خپله دغه د اسلام مورچه راټینګه کړي.

Kuli Khan at once arranged secret meetings with tribal Mullahs and others who would not' come out into the open. With some Mullahs he had to establish relations through certain persons in Hyderabad stare.

ترجمه: قلي خان ډېر زر قبائلي ملیانو او نورو سره چې ځانونه ښکاره کول نهٔ غواړي رابطه قائمه کړه. ځینو سره هغهٔ د حیدراباد پهٔ ریاست کښې د بعضو افردو پهٔ ذریعه تعلقات جوړ کړل.

کنګم داسې ګویانه دے چې دا د ملیانو سره د رابطې کار مونږه خان بهادر قلي خان ته پهٔ حواله کړو چې هغه دې د دې قسمه ملیانو سره پهٔ پټه رابطه قائمه کړي. ځوک چې پهٔ ځرګنده د پېرنګي سره تعاون او ملګرتیا ته نهٔ راوځي، خبره بالکل واضحه ده چې مونږ خو دا هر څهٔ صرف د اسلام د خدمت د پاره کوو او صرف د اسلام د دښمنانو پهٔ خلاف یوه مورچه قائمول غواړو او د اسلام دښمن خو صرف یو ؤ یعني بالشویک. کنګم لیکي چې اولنے ملا چې قلي خان بهرتي کړو نو هغه ملا مروت ؤ چې هغهٔ اول د خاکسار تنظیم سره تعلق لرلو. اول ورته هغه د اسلام خدمت ښکارېدو. خو اوس قلي خان پهٔ دې مطمئن کړو چې د اسلام خدمت اوس صرف د (جهاد) پهٔ اعلان کېدے شي چې د اسلام د دښمنانو بر خلاف ئې پورته کړي

Through Mullah Marwat, Kuli Khan established relations with the office bearers of the jamiat.ul. Ulema Sarhed and their supporters in India. These Mullahs many of whom had consistently been anti.British, began to speak and write against the Russians and Germans on the, platform and in the



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

press. Subsidies were paid to all these Mullahs through Muslim Marwat.

ترجمه: د ملا مروت پۀ ذریعه قلي خان د جمعیت العلماء
سرحد عهدیدارانو او پۀ هندوستان کښې د هغوي حمایتیانو
سره تعلقات قائم کړل. دغه ملایانو چې زیات پکښې پېرنګي
دښمنه وو د ممبر د پاسه او پریس کښې روسانو او جرمنیانو
خلاف تقریرونه کول او لیکل شروع کړل. د ملا مروت پۀ لاس
دغه ټولو ملایانو ته پیسې ورکړې شوې.[17]

د ملا مروت پۀ ذریعه قلي خان د جمعیت العلماء سرحد سره رابطه قائمه کړله ،اګر چې دا هغه علماء وو چې ټول عمري د پېرنګي بر خلاف وو او پۀ قامي تحریکونو کښې وړاندې وو، کننګم وائي چې دې ملیانو لۀ پیسې هم قلي خان د ملا مروت پۀ لاس ورکولې. د دې ملیانو پۀ ذمه دا کار ؤ چې دوي قام ته ووائي چې پېرنګے چونکې اهل کتاب دے او نور خو پرېږده چې دۀ سره نکاح هم روا ده او پۀ دې بل اړخ روسي بالشویک دي چې هغوي خو اهل کتاب نۀ دي، بلکې د پېرنګي پۀ وېنا خو هغوي هډو د سره خدا ے نۀ مني، نو د دې وجې نه نن د پېرنګي او اسلام مقصد یو دے چې د دغه بې دینه نظام مقابله وکړي نو دوي مجبور دي چې قام ته پۀ مخه دا خبره رایاده

[17] یعني شاکر الله مولانا د نوښار، مفتي مدرار الله د مردان، شاد محمد مولانا د صوابی، خادم محمد اکبر مولانا د چارسدې، محمد شعېب مولانا د مردان۔مفتي مدرار الله د سمیع الحق ګروپ د اکرام الله شاهد تېر ډپټي سپیکر پلار ؤ. پۀ دې خدماتو ورله کوم چې ئې انګرېز د پاره کړي وو، وروستو د تحریک پاکستان د سرو زرو تمغه ورکړې شوه. مفتي مدرار الله د مسلک پۀ لحاظ 'رضا خانے برېلویه' ؤ. وروستو ئې بیا د باچا خان خلاف یو کتاب هم لیکلے ؤ. د کتاب نوم او مندرجات کښې شوي علمي خیانت نه یوې خوا ته، پۀ دې کتاب د مفتي مدرارالله برېلوي زوي هم 'اضافې' کول ضروري ګڼلي دي چې دې نه ئې د تاریخي واقعیت د کم ترینې درجې اندازه کېدې شي





کړي چې نور خو پرېږده چې د پېرنګي پۀ فوځ کښې بهرتي کېدل او د پېرنګي د پاره جنګ کول هم د اسلام خدمت دے.[18]

کننګم لیکي چې ما د جمعیت العلماء سرحد مشران پۀ دې راضي کړل چې هغوي وزیرستان ته پۀ فقیر ایپي پسې لاړ شي او دا ورته ووائي چې اوسه پورې خو هغه د پېرنګي بر خلاف جهاد کولو، ولې چې دا د اسلام خدمت ؤ ولې اوس خو پېرنګے د جرمن او اټلي سره پۀ جنګ دي، نو پۀ داسې وخت کښې خو فقیر ایپي لۀ پکار دي چې اوس خو دې پېرنګے نۀ تنګوي ولې چې پېرنګے د کفر پۀ خلاف جنګ کښې نښتے دے. نو دا هم پۀ یو رنګ د اسلام خدمت دے.

پېرنګي دا هر څۀ پۀ داسې پټه طریقه کول چې د پېرنګي مخالفین پۀ هیڅ رنګې هم خبر نۀ شي چې ګنې دا وفدونه لېږل او دا تقریرونه، وعظونه او پۀ خطبو کښې د پېرنګي مرسته هم د هغۀ پۀ ښودنه اشاره او امداد کېږي او ځکه کننګم خوشحاله دے. لیکي چې د فقیرایپي د نائب، محمد وارث خط جمعیت العلماء سرحد مشرانو لۀ راغے، نو د هغې نه دا څرګنده شوله چې لهجه ئې دوستانه وه یعني تسله پۀ دې وه چې د فقیرایپي او د هغه د ملګرو دا شک نۀ ؤ چې ګنې دا کار دې ملیانو د پېرنګي پۀ وېنا او خواهش کړي وي.

د یورپ د جنګ شروع کېدو نه پس دلته پۀ هندوستان کښې د کانګرس او پېرنګي تر منځه اختلاف راپورته شو. د کانګرس د اتو صوبو وزارتونو

[18] نو دا هم خو بیا ځکه مسلم لیګي شاعرانو به انګرېزانو د پاره جنګي ترانې هغه وخت لیکلې لکه د پاکستان ترانې جوړوونکي نوموړي شاعر حفیظ جالندهري دا سندره خو دوېم نړیوال لام کښې زیاته مشهوره وه چې رېډیو د پاره ئې کښلې وه 'مین تو چهورے کو بهرتي کر آئی رے' حفیظ جالندهري چې کله قومي ترانه لیکله نو د زېډ اے بخاري سره ئې شخړه هم راغلې وه. هغۀ غوښتل چې د هغۀ لیکلے بند دې هم د قومي ترانې سرنامه کړې ششي، دۀ نۀ منل بیا هغۀ دا وړاندیز کړے ؤ چې سورة الفاتحه دې ترانه کړې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعفي ګانې ورکړلې او حالات ورو پهٔ ورو محاذ آرایی طرف ته روان وو نو دلته د صوبې ګورنر دا ضروري وګڼله چې د قبائلي علاقو او افغانستان نه علاوه دلته پهٔ صوبه کښې دننه هم ملیان منظم کړي او خپله رابطه ورسره قائمه کړي

بله دا چې چونکې جنګ کښې اوس صرف جرمني او اټلي وو. نو بهرنګې دا بهتره وګڼله چې د شوروي اتحاد پهٔ حقله خپله مخالفه پروپیګنډه ځنې قدرې سسته کړي او زور جرمني او اټلي لهٔ ورکړي

کننګم د ملیانو درې ډلې ټاکلې وې. دا وړهٔ وړهٔ ملیان ئې د علاقو خانانو او اعتباري خان بهادرانو ته پهٔ حواله کړي وو. د هغوي نه چې کوم لږ اوچتې درجې وو، نو هغوي سره ئې رابطه د ډپټي کمشنرانو پهٔ ذریعه ودرار چې کوم ډېر کبرا وو. نو هغوي نېغ پهٔ نېغه ګورنر سره خپله سلسله برابره کړې وه. شروع به د وړو ملیانو نه وکړو؛

I have not been in touch with any of the smaller Mullahs myself. I have done it through the following agents with whom practically all my connections have been verbal: as little is put on paper as possible. Ghulam Haider of sherpao: He told me that he thought he could work through about 9 or 10 Mullahs including those of the following villages: Razzar, Kot, Tar nab, Tangi, Utmanzal and Umarzai (later prang and Charsadda).

ترجمه: زهٔ یو هم وړوکي ملا سره پهٔ رابطه کښې نهٔ یم، ما دغه رابطه د لاندې ایجنټانو پهٔ ذریعه ساتلې وه. هغوي سره زما رابطې عملاً ټولې زباني دي او پهٔ کاغذ باندې ډېرې کمې لیکل شوي دي





د شېرپاو غلام حیدر[19] هغهٔ ما ته ووې چې هغه د لاندینو کلیو پهٔ شرکت د نهو یا لسو ملیانو پهٔ ذریعه کارکولے شي:

رځړ، کوټ، ترناو، تنګي، اتمانزي. عمرزي (وروستو پړانګ او چارسده)

کننګم وائي چې ما د شېرپاو، خان ته ووې چې تهٔ به هر یو ملا بېل بېل او خان خان لهٔ راغواړې او د اسلام خدمت ته به ئې تیاروې خلوېښت 40 یا پنځوس 50 روپۍ به ورله ورکړې ورته به ووائي چې بیا به څلور 4 میاشتې پس راځي او خپله ټوله کارګزاري به بیانوي چې څهٔ څهٔ دې کړي دي بهرنګې خان بهادر صاحب ته وائي چې داسې ئې پهٔ اشارو کښې یوه کړه چې کهٔ کار دې تسلي بخش وکړو، نو نوره وظیفه به درته ملاو شي خان بهادر صاحب پهٔ ځواب کښې ګورنر ته وائي چې دا بعضې ملیان ډېر اعتباریان نهٔ دي. نو ښهٔ به دا وي چې زهٔ دوي میاشت پهٔ میاشت راغواړم دا خیال به البته ساتلے شي چې رقم هم مناسب ورکړے شي یعني مطلب دا کهٔ د څلورو 4 میاشتو د پاره څلوېښت 40 روپۍ وي نو څو لس 10 روپۍ میاشت شوه کنه کننګم وائي چې ما د شېرپاو خان لهٔ شپږ سوه 600روپۍ ورکړې دا شان د نوښار او پېښور تحصیل د ملیانو فهرست د ضلع ډپټي کمشنر سکندر میرزا ته پهٔ حواله ؤ چې د هغې فهرست موجود دے:

[19] غلام حیدر خان شېرپاو خان بهادر د تېر ګورنر حیات شېرپاو او د تېر وزیر اعلي او د جنرال مشرف پهٔ رژیم کښې د داخله چارو وزیر میجر (ریټائرډ) افتاب احمد خان شېرپاو، چې د 'نیشنلزم' داعي او د قومي وطن ګوند مشر دے، والد محترم ؤ. د وېش نه پس ئې د وزیر اعظم نوابزاده لیاقت علي خان پهٔ دربار کښې چارسده کښې غونډه جوړه کړې وه چې دې دوران کښې پهٔ دې دوره دوره راغله او هم دغه لې د منحرف خدائي خدمتګار ملا محمد اکبر خادم پهٔ خوا کښې ساه ورته

د خدائي خدمتګار غورځنګ پهٔ برخ ئې ؤ انګرېزانو د پاره ډېر ښهٔ خدمتونه لکه د غاني قلي خان، باچا ګل او شیخ محبوب نر سره کړي وو او د خان بهادري منصب باندې فائز ؤ



Scanned by CamScanner

....... The Wazir.i.Azam sent me a list of Mullahs through whom he is working he is paying them on an average about Rs.15/. P.m. each.

*(Sir George Cunningham's Diaries, Appendix B).*

ترجمه: وزيراعظم ما ته د مليانو يو لسټ راولېږه د چا په ذريعه چې هغه کار کوي. هغهٔ ورته اوسطاً د مياشتې پنځلس 15 روپۍ د سړي په سر ورکوي. (د B ضميمې نه)

د سوات، بونير، مردان او رانړي زي مليان د هغه وخت د سوات وزيراعظم حضرت علي ته په حواله وو. کننګم وائي چې وزيراعظم ما ته مکمل فهرست د مليانو رالېږلي دي چې هغوي لهٔ هغه سړي سر پنځلس روپۍ د مياشتې ورکوي، د کوهاټ دغه مليان د هغه ځاے ډپټي کمشنر شيخ محبوب علي ته په حواله وو.

د بنو د ضلع ډپټي کمشنر مليان دوو تنو ته په حواله کړي دي چې يو نواب ظفرخان او بل تاج علي خان (د خان بهادر غلام حيدرخان زوي) ؤ.

د ډېره اسماعيل خان ډپټي کمشنر محمد اسلم لهٔ کننګم شپږ سوه 600 روپۍ ورکړې چې هغه ئې درې ديني مشرانو لهٔ ورکړي؛ اماخېلو فقير، پير موسي زي او پير زکوړي يعني دوه سوه 200 روپۍ سړي سر. دا وعده ورسره وشوه چې کهٔ د هغوي کار تسلي بخش وي نو مال به نور هم ورکړے شي. د سيتانې د سيد عبدالجبار شاه په حقله کننګم ليکي چې د هغهٔ رابطه د حيدر اباد دکن سره وه. دهٔ لهٔ د دغه رياست وزيراعظم سراکبر حيدري رقم ورکړو. د کننګم دا خيال ؤ چې دا بچت به وکړي چې کار به په سيد صاحب د پېرنګي کوي او وظيفه به ورله حيدراباد نه راځي. کننګم وائي چې څو ورځې پس ما ته عبدالجبارشاه خبر وکړو چې ما په صوابۍ کښې انتظام برابر کړے دے او باجوړ ته مې هم خپل تربور ولېږلو.

د خيبر د اپريدو مليانو سره رابطه د پولټيکل ايجنټ بيکن Bacon په ذريعه





My arrangement uptil now with him (Maulana Barkatuccah. Of Samar) has been that he comes to see me once or twice a year. Barkutullah said he duuld also do a good deal through perhaps 10 sor 12Maulvis in different places throughout Bajaur and Mohmand country. I paid him Rs. 1000/

ترجمه: تراوسه پورې زما د هغهٔ (اسمار مولوي برکت الله) سره ترتيب داسې پاتې شوے دے چې هغه کال کښې يو يا دوه ځله زما د ليدو ته راځي. برکت الله ووې چې هغه د باجوړ او مومندو علاقې په مختلفو ځايونو کښې شايد د لسو 10 مليانو په واسطه ډېر څهٔ کولے شي. ما هغهٔ ته زر 1000 روپۍ ورکړې.[20]

(د اسمار) د مولوي برکت الله سره د کننګم رابطه لکه چې د کانې وخت نه وه. کننګم ليکي چې ما هغه ته ووے چې بيا ما دوه درې مياشتې پس خبر کړي

کننګم بيا د دې مليانو د کارګزارۍ او په خصوصيت سره د خان بهادر قلي خان د کار تفصيل بيان کړے دے. خان بهادر صاحب لکه چې خپل ټول کار په جمعيت العلماء سرحد ويستلے دے. کافي تفصيل دے چې هغوي څومره غونډې کړي دي تجويزونه ئې پاس کړي دي پمفلټونه ئې چاپ کړي

[20] دلته د کتابت تېروتنه (typo-mistake) شوې ده ـ د 'اسمار' په ځاے 'اسموس' ليکلے شوے ؤ خو دا اسمار دے. ځکه چې برکت الله ملا د اسمار په ماجت کښې ملائيتوب کولو نوميال اديب او مبارز کاکاجي صنوبر حسين مومند هم غلنی. ګنداو کښې د برکت الله ولي سره يو ځاے جهاد کولو. هم د دغه امير المجاهدين مولوي برکت الله په سرپرستۍ کښې به چمرکند نه د کاکاجي رساله 'شعله' وتله. دا خبره قمر راهي هم خپلې مقالې کښې زباد لې ده او د انور خان د يوانه کتاب کاکاجي کښې هم شته



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

دي دورې ئې کړي دي او په مختلفو علاقو کښې ئې رابطې قائمې کړې دي
د کننګم په دې دستاويز کښې په اول ځل د يورپ د جنګ نه علاوه د
کانګرس بر خلاف د تقريرونو ذکر هم راغلے دے.

Maulana Mohd.shuaib toured Mardan District condemning Satyagraha. Pamphlet by Maulana Madaullah 'war situation' anti.congress.

ترجمه: مولانا محمد شعيب د مردان ضلعې دوره وکړه او ساتياګراها ئې وغندله. د مولانا مداء الله (؟) جنګ حالت کانګرس مخالفه پمفلټ.

بل پکښې د مولانا مداء الله د پمفلټ ذکر دے چې د يورپ د جنګ په سلسله کښې ئې د کانګرس خلاف هم ليکلے دے.
پېرنګے خو ډېر وينس او بېدار ؤ کننګم سره دا فکر شو چې رقم خو مونږ چاپيره په سمه او غر خورکړو. ملک مو د مليانو په ذريعه ځان سره ملګرے کړل خو چې پته ولګوو چې دا مليان واقعي د پېرنګي د پاره پروپېګنډه کوي او که نه؟ نو کننګم وائي چې مونږ خپل جاسوسان په مليانو پسې جوماتونو ته ولېږل چې پته ولګوي چې مليان دغه خپله وظيفه حلالوي که هسې د سرکار پېسې خوري؟ چې رپورټونه راغلل نو کننګم مطمئن او خوشحاله شو چې مليان ډېر په ايمانداري او اخلاص لګيا دي، د پېرنګي خدمت د اسلام په جذبه او لس 10 پنځلس 15 روپۍ مياشت په عوض خرڅوي.

Hazrat Ali, Wazir.i.Azam of Swat, is doing excellently in Swat & Buner: he uses Pir Baba Ziarat – Also Ghulam Haider of sherpao in his area ……. Hazrat Ali now covers the whole of swat, Buner and Mardan border.

ترجمه: د سوات وزيراعظم حضرت علي په سوات او بونير





کښې ډېر ښه کارکوي - هغه د دې مقصد د پاره د پير بابا زيارت استعمالوي. د شيرپاو غلام حيدر هم په خپله علاقه کښې ښه کارکوي.... حضرت علي اوس ټول سوات، بونير او د مردان پوله کښې اړم دے.

د ډېره اسماعيل خان د اماخيلو د فقير او د موسي زو د پير نه کننګم خوشحاله دے او وائي چې دغه پير خو دغه پير خو زما ملاقات له په خپله پېښور ته تشريف راوړے ؤ. دوي سره رابطه د شېر علي وه. هغه لکه چې د تجوړي پير هم بهرتي کړے دے.
کننګم وائي چې شېرعلي د تونسې پير پورې هم ځان رسولے ؤ. خبره ئې خلاصه کړې وه خو بدبختي دا شوه چې دغه پير صاحب په اخلاقي مقدمه کښې ګېر دے.
معلومېږي چې کننګم لا هغه شان د فقير ايپي د لاسه په عذاب دے وائي چې مونږ د (شوې) د فقير، اما خېلو فقير، کربوغې ملا او حاجي اخوند زاده په ذريعه فقير ايپي ته خطونه وليکل چې هغه د پېرنګيانو نه قلار کړي. په خيبر کښې پولټيکل اېجنټ خپل ټول کار عبدالباقي ملا ته حواله کړے دے. وائي چې هغه ډېر زيات بې اعتباره دے. خو د کار سړے دے. وائي چې ملا صاحب له مو زر (1000) روپۍ ورکړې.
کله چې په يورپ کښې جنګ ونښتو او هټلر ټول يورپ را په مخه کړو او پېرنګے په هرې خوا ماتې خوړلې، نو پېرنګي سره دا فکر پېدا شو چې ممکنه ده شوروے اتحاد د دې موقع نه فائده واخلي او دې خوا د هندوستان طرف ته رامخه کړي.
روغې پېش بندۍ د پاره ئې نور خو پرېږده په جمعيت العلماء په خپل سالانه اجلاس يا غونډه کښې دا تجويز پاس کړو چې که چرې شوروي اتحاد په افغانستان راغے نو دا به د ټولو مسلمانانو فرض وي چې هغه د شوروي



(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتحاد خلاف په جهاد کښې شريک شي. خو چې کله د پېرنګي تسله وشوله چې د شوروي اتحاد د طرفه دغه خطره نهٔ شته نو بله فتوي کننګم صاحب جاري کړله

I advised kuli khan to moderate his anti Bolshevik propaganda and to concentrate more on propaganda against Germany and Italy.

ترجمه : قلي خان ته مشوره ورکړه چې بالشويک مخالفه پروپېګنډه اوس لږه غلې کړي او د جرمني او اټلي خلاف پروپېګنډه باندې زور واچوي

دا شان چې څنګه دلته د کانګرس او پېرنګي تعلقات خرابېدل خو هم دغه مليان بيا پېرنګي د کانګرس په خلاف استعمالول شروع کړل.

حقيقت دا دے چې مشکله خو دا وه چې څنګه به يو عالم دين يا عالم سوچه مسلمان په مذهبي جذبه د پېرنګي مرسته وکړے شي. پېرنګے د مسلمانانو ازلي دښمن ؤ. د سلطان ايوبي د وخت نه ئې راواخله تر سلطنت عثمانيه پورې د ترکيې د تباه کولو ذمه وار هم دا پېرنګے ؤ. په عربستان کښې څهٔ چې په خانه کعبه ډزې هم د دې پېرنګي هندوستاني فوځ وکړې. دلته په خپل ملک کښې دننه د هندوستان باچائي د مغلو د مسلمانانو بادشاهانو نه هم دې پېرنګي واخسته هم دې پېرنګي چې د ډيلي د اخېري تاجدار بهادرشاه ظفر سره او د هغهٔ د بچو سره څهٔ عمل وکړو، هغې نه هم دنيا خبره وه او بيا دلته د پښتنو د خپلو سترګو د وړاندې دې پېرنګي په افغانستان کښې د پښتنو مسلمانانو سره څهٔ سلوک وکړو؟ د امير دوست محمد خان نه راواخله. په امير شېر علي خان او اخېري سر ئې په امير امان الله خان ولګېدو. دا ټول مسلمانان د پېرنګي د لاسه تباه او برباد وو، کهٔ د شوروي اتحاد، جرمن يا اټلي د لاسه؟ او لرې به نهٔ ځو پرون چې دلته د (1930) کال نه راواخله. دا په کلونو پېرنګي په دې خدائي خدمتګارو کوم ظلمونه او





ناروا کړي وو. نو هغه ګڼې دې ملايانو ته نهٔ وو معلوم؟ يا چې کوم جنګونه او بمبارۍ د پېرنګي د لاسه په دې قبائلي مسلمانانو ورونو کيدلې. نو د هغې نه هم دا ملايان نهٔ وو خبر؟ په وزيرو، مسيتو، اپريدو او مومندو مسلمانانو دا لام بندي د پېرنګي د طرفه نه وه، کهٔ د شوروي اتحاد، جرمن او اټلي د طرفه؟ دا د حاجي صاحب د ترومزو او فقير ايپي غوندې مجاهدينو او حقيقي وارثانو د پيغمبر په خلاف جنګ هم دې پېرنګي کولو، خو د ملا نه په دين څهٔ کارؤ، نهٔ په مسلمانۍ. نهٔ په قران او نهٔ د رسول اکرم (ص) په مصلې (مصلا). دغه دين خرڅي خو د لسو او پنځلسو روپو د مياشتې په پېرنګي خرڅ وو. هغوي لهٔ به فتوي پېرنګي ورکوله. د هغوي مفتي او قاضي پېرنګے ؤ. هغه د پښتومتل دے چې "مونيا خو به هرڅه وائي، خو که ملا فاروق ئې هم ومني کنه" دغه مليانو خو د اسلام توره را اخستې وه، د پېرنګي سترګو ته ئې کتل. د هغهٔ د حکم تابع وو. کهٔ پېرنګي وې چې روس کافر دے ملا صاحب وې دے کهٔ پېرنګے وې چې نهٔ، اوس روسي ښهٔ شوي دي جرمن کافر دي. نو جرمن کافر دي. اګر چې هغه هم د پېرنګي په کتاب ايمان راوړے ؤ او "اهل کتاب" کښې داخل ؤ. نو ملا صاحب ته د پېرنګي فتوي منظوره وه. او چې بيا لا وار د اټلي د کفر راغے. نو اټلي خو د عيسايت مرکز ؤ او داسې مقام ئې لرلو لکه د مسلمانانو د پاره خانه کعبه. هلته خو لاټ پادري يا پاپاي روم په خپل خان وسېدو. ولې زمونږ د ملا خو اهل کتاب سره تعلق ؤ او نهٔ ئې په هغوي څهٔ کار ؤ هغهٔ خو د پېرنګي فتوي ته ناست ؤ او چې کله پېرنګي ته بيا د اسلام او د دغسې ملا ضرورت د خپل اندروني يعني ملکي سياست د پاره پېښ شو نو د اولسو پينځلسو روپو د مياشتې نوکران مليان هغه بيا د دغې خپل سياسي غرض د پاره استعمالول شروع کړل. ولې دلته په صوبه سرحد کښې خو د پېرنګي مخالف خدائي خدمتګار ؤ چې هغه خو قابو ټول په ټوله



Scanned by CamScanner

مسلمانان وو. مشر ئې باچا خان ؤ چې حاجي ؤ مونږ ګزاره ؤ اسلامي
مدرسې ئې جوړې کړې وې د مسلمانانو خدمت ئې کولو. ولې بده دا وه چې
د کافر پیرنګي نه ئې خپل ملک او خپله خاوره ازادوله نو هم دا دین خرڅې
ملا د کافر پیرنګي د پاره خدائي خدمتګارو مقابلې ته راووتو. ما ته خاني
په دې خبره څۀ بدې نۀ ښکارېدو کۀ دا عالم دین په سیاسي جامه کښې
مېدان ته راوتي دي. ولې چې دا د هر یو بنیادم انساني حق دے خو دلته
دغه ملا د کافر پیرنګي د پاره د ملک د ازادۍ د مجاهدینو او غازیانو په
خلاف د اسلام د پاک او سپیڅلي دین په نامه راپورته شو. لکه چې کتنګم
لیکي چې؛

Jamiat-ul-Ulema toured in Kohat District in June 1942 and in Peshawar and Mardan July. doing intensive propaganda:1. Ant.Axis, on the Islamic theme generally and, 2. Anti.congress, particularly on the Pakistan theme. Mullahs in Peshawar and mardan intensified their anti.congress propaganda, July.August 1942.

ترجمه: جمعیت العلماء په جون 1942ز کښې د کوهاټ ضلعې او جولائي کښې د مردان او پېښور دوره وکړه او شدیده پروپېګنډه ئې وکړه؛

الف: محوري طاقتونو مخالف. عموماً اسلامي موضوع باندې. ب: کانګرس مخالف. خصوصاً د پاکستان موضوع باندې. پېښور او مردان کښې ملیانو د کانګرس پروپېګنډه تېزه کړه (جولائي-اګست 1942ز)

یعني اوس پیرنګي دغه ملیان د مسلم لیګ د سیاسي کار د ملاتړ د پاره دیني مېدان ته راوویستل دې خوا لږ فکر پکار دے چې څنګه د عالمي جنګ حالات بدلېدل. نو دغه شان دلته د دې ملیانونه پیرنګي د وخت د





ضرورت مطابق خپل کار اخستو. دغه ملیان تر دغه وخته پورې بیا پیرنګي
داسې جوتې کړې وو. چې هر هغه څۀ پیرنګي غوښتل، دې ملیانو د هغې د
پاره په اسلام کښې جواز پیش کولے شو

Wazir.i. Azam of Swat is now employing is Mullahs in Mardan and 2 at pir Baba Ziarat paying Rs.30/. P.m. Each.

ترجمه: د سوات وزیراعظم اوس په مردان کښې اتلس (18) او پیر بابا زیارت کښې د وو (2) ملیانونه کار اخلي هر یو ته د میاشتې دېرش (30) روپۍ ورکوي

هو، کله چې د شوروي اتحاد د اړخه د حملې نه پیرنګے مطمئن او بې غمه شو نو هغه بیا دا ملیان ټول په ټوله د خدائي خدمتګارو مقابلې ته راوویستل یعني چې اګست 1942ز راتلو. نو کتنګم لیکي چې وزیراعظم د سوات په مردان کښې (18) ملیان نوکران کړي دي او (2) په پیر بابا زیارت کښې او (20) شل روپۍ میاشت ورله ورکوي

Maulana Mohd shuaib and Maulans Midrarullah came to see me at Nathigalli on 26th August, and produced a long draft in Urdu of their pamphlet which they propose to issue both in the districts and in T.T all gooey anti.Congress, anti.Japanese and axis stuff. They were extremely friendly.

ترجمه مولانا محمد شعیب او مولانا مدرارالله په (26) د اګست نتهیاګلۍ ته زما د لیدو لۀ پاره راغلل او د اردو د یو پمفلټ یوه اوږده مسوده ئې راوښوده کوم چې هغوي په ضلعو او قبائلو په علاقو کښې خورول غوښتل. دېر ښۀ د کانګرس خلاف، جاپانیانو خلاف او محوري طاقتونو خلاف مواد ئې لرل. هغوي ډېر خواږۀ وو



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

د دې نه نور واضحه ثبوت بل څۀ کېدے شي چې دا ملیان د اسلام خدمت کول غواړي او د کفر پۀ خلاف د قلم جهاد کوي او اسلامي فتوي جاري کوي خو دغه فتوي اول د منظورۍ د پاره پېرنګي لۀ وړي.

يره، پېرنګي د نر بچي خو دا يو خدمت د اسلام کړے دے چې د دغه ملیانو نومونه ئې سره د هغوي د پتو پوره پوره لیکلي دي. د پېښور تحصیل څلېرويشت (24) ملیان دي چې پکښې ښهر د پېښور ښار دي. دیارلس (13) د تحصیل چارسدې دي ، درې (3) د تحصیل نوښار دي، اتلس (18) د مردان او د صوابۍ دي. او دا سلسله هم داسې جاري ده چې (1946) پورې بیا کننګم چا، چا لۀ د چا پۀ لاس څومره رقم ورکړے دے د هغې ایجنټانو نومونه یو پۀ یو پۀ دغه دستاوېز کښې درج دي چې سړي ئې لولي. نو شرم ورځي چې څنګه زمونږ عالمانو او خانانو خپل دین، ایمان، غېرت او پښتو پۀ پېرنګي د کفر د غرض سرکولو د پاره پۀ سرو پېسو خرڅ کړي دي او څنګه دې ملیانو د پېرنګي د مفادو د تحفظ د پاره د ملک د ازادۍ پۀ غازیانو او مجاهدینو د کفر فتوې لګولي دي. دا شاباشے پېرنګي لۀ د ورکولو دے چې هغۀ د خپل سامراجي او نو ابادیاتي راج د قائم ساتلو د پاره پۀ مسلمانانو کښې داسې ډله پېدا او منظمه کړله چې هغوي نه د جنګ د ازادۍ د پاره د پېرنګي نه مطالبه قدرې نۀ کوله بلکې هغوي اپوټه د پېرنګي پۀ مرسته کښې ولاړ د ملک د ازادۍ د تحریک پۀ خلاف پۀ اسلامي جذبه او دنیاوي قوت کلک ټینګ ولاړ وو.

د پېرنګي کوشش دا ؤ چې هغه کورنیو کښې ځان لۀ ملګري پېدا کړي کومې چې د پېرنګي پۀ خلاف جنګیدې. د پېرنګي پۀ خلاف پۀ جهاد کښې د فقیر ایپي سره سره دوه ډېر نامتو دیني مشران وو چې یو د مسیدو ملا پاونده ؤ او دویم پۀ مومند کښې حاجي صاحب د تورمزو. او دا د پېرنګي کوشش ؤ چې هر څنګه چې وي دا دواړه مورچې فتح کړي او زما پۀ خیال د





هغۀ د ټولو نه لویه کامیابي هم دا وه چې د دغه شان غازیانو زامن د خان پۀ خوا ودروي.[21] د دغه ورځو حالاتو ته سړے چاپېره ګوري. نو پۀ ضلعو او قبائلي علاقو کښې به داسې کم کوز بااثره ملا، پیر، فقیر، اخوندزاده او د دارالعلوم مشر وي چې هغه پېرنګي ځان سره ملګرے کړے نۀ وي. د حاجي صاحب د تورمزو او د ملا پاونده د وفات نه پس خو بیا صرف یو فقیر ایپي داسې غازي او مجاهد پاتې ؤ چې هغۀ پۀ پېرنګي نۀ خرڅېدو. یوه دلچسپه واقعه پۀ دې سلسله کښې دا وشوه چې د یورپ د جنګ د شروع کېدو نه پس پېرنګیانو د افغانستان پۀ حکومت زور واچولو چې هغوي دې جرمنیان د خپل ملک نه وباسي. پۀ افغانستان د زور راوړلو پۀ خاطر یو شامي پیر پېرنګیانو راوست چې هغه پۀ قبائلي علاقه کښې د افغانستان حکمراني کورنۍ پۀ خلاف خلق راپورته کړي. پېرنګي چې کله د افغانستان د حکومت د طرفه مطمئن شو. نو هم دغه شامي پیر ئې پۀ وزیرستان کښې د وانې چاونۍ ته راوبللو او ورسره پۀ پنځویشت زره پونډه (25000) فیصله وشوه شامي پیر چې څنګه اول نۀ ؤ. داسې بیا غیب شو چې دا کاروشو نو پۀ لندن کښې وزیر هند لۀ ئې خوند ورکړو. وائسرائے لیکي چې کوشش

[21] د ملا پاونده زوے فضل دین او د حاجي صاحب ترمزو زوے باچا ګل هم لکه د قاسم نانوتوي د زوي قاري طیب غوندې د انګرېز د پاره کار کولو احمد کاکا خېل کتاب 'خدائي خدمتګار تحریک' کښې د مومندو د جنګونو ډېره ښه تجزیه کوي چې دا جنګونه پۀ حاجي صاحب باندې باچا ګل کول او مطلب ئې سړک جوړول وو چې ګنداو سړک جوړ شو او انګرېز د افغانستان پولې ته ورسېدو نو سپین توغ ئې پورته کړو چې تاسو وګټله
باچا ګل د وېش پۀ وخت هم خدائي خدمتګار تحریک بې اثره کولو د پاره لمړے د پښتونستان خبره کوله، بیا ئې وېش نه پس د علي قلي خان خټک او قیوم خان پۀ اشاره جهاد کشمیر مهم پیل کړو چې دې کښې ورسره خپل بالکي نعت خوان حاجي محمد امین او مولانا عبدالله ښۀ تشهیر وکړو



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

وکړه چې داسې یوه سودا د فقیر ایپي سره هم وشي. د هغې په خواب کښې وائسرا ے په خپل خط کښې لیکي (14/7/1937):

> There is, I fear, no possible chance of dealing with him (Faqir Api) I on the same lines as the Shami Pir. He is not only implacable but also completely uncorrupt able.... Who would rid me of this turbulent priest.
>
> Page 125

ترجمه: فقیر ایپي سره د شامي پیر رنګین سودا نهٔ کېږي، د هغه نه صرف زمونږ لارې لۀ نهٔ راځي، بلکې په هېڅ شان هم خرڅېږي نهٔ، ما به کله څوک د دې سرکش ملا نه خلاص کړي؟[22]

## ملیان، خانان او مسلم لیګ - او وزارت جوړول

دا خو مونږ لیدلي دي چې د مسلم لیګ بنیاد په دې صوبه کښې اول اول ملیانو کېښودو. د جمعیت العلماء سرحد صدر مولانا محمد شعیب د دغه مسلم لیګ صدر او د جمعیت العلماء سرحد سکرټري مولانا مدارار الله ئې سکرټري شو. دوي دواړو ملیانو براه راست تعلق د صوبې د ګورنر سرجارج کننګم سره وُ (څنګه چې هغهٔ د خپل لاس لیکلو ډائرو نه ثابته ده)، ولې بیا ورو ورو پېرنګي دا بهتره وګڼله چې دا دواړه مورچې جدا کړي. سیاسي او دنیاوي مورچه خان بهادرانو او جاګېردارانو ته حواله کړي او دیني و اسلامي مورچه ملیانو او پېرانو ته حواله شي. او که په غور ورته وکتل

[22] شامي پیر چې ورته 'بغدادي پیر' هم ونیلے کېږي، دا یو انګریز جاسوس ډېوډ جونز وُ. د پښتو فکشن نومیالي لیکوال نصیر احمد احمدي دغه کردار په تاریخي بنیاد کنګالولو نه پس یو شاندار ناول 'ډېوډ جونز' لیکلے دے چې لوستلو باندې ارزي





شي، نو هم دغه د کننګم 'ایجنټان' بیا دلته د مسلم لیګ مشران شول خان بهادر قلي خان، خان بهادر غلام حیدر خان د شېرپاو، نواب ظفر علي او تاج علي خان د بنو او دغه شان دا څۀ پېران او ملیان خو ابغ په نبغه مسلم لیګ نه راغلل لکه پیر صاحب د مانکي شریف او پیر صاحب د زکوړي او دا نور ملیان هم په هغه خپله طریقه د پېرنګي د هدایاتو د لاندې ئې د سرکار د پاره سیاسي لوبه د مذهبي مورچې نه کوله

د ملیانو په ذریعه کارکولو کښې پېرنګي ته لویه ښېګړه دا وه چې دوي په قبائلي علاقو کښې هم سرکار لۀ کارکولې شو. ولې چې نور سیاسي کارکنان خو دغه علاقو ته تللي هم نهٔ شول او نهٔ د اخبار وغېره په ذریعه هلته چا خپله خبره رسولې شوله.[23]

کننګم په دې خبره پوهه وُ چې دا ملیان اوس داسې مقام ته رسېدلي دي چې پېرنګي هرڅنګه، هر ځاے او په هره مورچه دوي استعمالول غواړي، نو ډېر په اسانه ئې استعمالولے شي نو څکه هغه اوس د دوي نه د خدائي خدمتګارو په خلاف د کارکولو کارواخستو او څکه خو په خپله لیکي:

> As a result of this propaganda the Yusufzai of Mardan, who used to be professionally anti-Govt became first anti-Russia and anti-German, then anti-Japanese and so by natural consequences anit-Hindu and anti-Congress, that the Muslim League successes in these byel-ections are generally accepted as being a victory for the British Govt over the subversive element in the country.
>
> (Governor's Report 24/8/1943).

[23] انګریز استعمار لۀ مخه قبائلي سیمه کښې په سیاسي هلوخلو باندې بندیز وُ. څکه هلته هم ملا د نۀ کار ایستلے شو او تر اوسه پورې دغه حال دے. د افغانستان د نوم تر حده جهاد کښې هم د دغه انګریز پاللي ملیانو درېم نسل خپل مقصد د پاره سرمایه داره نړۍ پکار راویستو او ښتنه سیمه ئې د وېږې ترهې نمونه جوړه کړه



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: د دې پروپېګنډې په نتیجه کښې مردان یوسف زي
چې همېشه به مسلکي طور د سرکار مخالف وو، اول روس
مخالفه او جرمن مخالفه شو او بیا د جاپان خلاف شو او دغه
شان قدرتي طور هندو مخالفه او کانګرس مخالفه شو په دې
ضمني انتخاباتو کښې د مسلم لیګ کامیابي عموماً په
ملک کښې په تخریب کارو عناصرو باندې د برطانوي
حکومت کامیابي ګڼل کېږي

پېرنګي ته چونکې دلته خدائي خدمتګارو نور مشکلات هم پېښ کړي وو
چې هغوي د سول نافرمانۍ د تحریک سره سره دلته د صوبې وزارت نه هم
استعفي ورکړې وه او دلته ګورنر راج ؤ. په دې پېرنګے خفه ؤ. ولې چې دا
صوبه د مسلمانانو د ټولو نه زیاته اکثریتي صوبه وه او دلته په تېرو
انتخاباتو کښې مسلم لیګ هډو سره موجود نه ؤ. نو ځکه ئې یو ممبر هم نه
ؤ. نو دا د پېرنګي ډېره لویه ناکامي وه. وائسرائے په خپل خط کښې په
16/1/1940 نېټه لیکي چې "جناح صاحب زما ملاقات له راغے، نو ما ورته
ووې چې په صوبه سرحد کښې د ډاکټرخان صاحب وزارت استعفي نه پس
د بل وزارت جوړېدو څۀ امکان شته؟" هغۀ ورته وې چې "زۀ خپلو
ملګرو سره به مشوره وکړم نو بیا به دې خبر کړم" خو بیا ورته جناح صاحب
وې چې ښۀ به دا وي چې ګورنر ته ووئیلي شي چې هم په دې سلسله کښې
څۀ دلچسپي واخلي.

قابو میاشت پس جناح صاحب د وائسرائے سره په ملاقات کښې هغه ته
ووې چې "ما خپل مسلم لیګ مشرانو سره خبره وکړه. هغوي وائي چې مونږ
ځان له په صوبه سرحد کښې د وزارت جوړولو جوګه نۀ یو. خو کۀ ګورنر
کننګم هغوي سره مرسته وکړي نو بیا به کار وشي" بیا ورته جناح صاحب د
وزارت جوړولو خوبۍ بیانوي وائي چې "زۀ په دې کښې ډېر غرضي یم ولې





چې بو واړي دا وزارت جوړشي، نو دا به د کانګرس په مخ څپېړه وي او بله
هم ګړه به دا وي چې په دا شان به دا خبره هم د ملک دننه او هم بهر ټولې
ښاته څرګنده شي کۀ د مسلمانانو د ټولو نه لویه اکثریتي صوبه کښې غېر
کانګرېسي وزارت جوړ شي، نو د دې اثر به دا وشي چې د هندوستان د
سیاسي حېثیت پته به څرګنده شي نو ځکه خو زۀ په دې کښې د حده په
اونه غرضي یم"

وګورئ د دې کتاب د (67) مخ انګرېزي متن او ترجمه ئې
ښاغلي جناح زیاته کړه چې هغه زیات

هندوستان د سیاسي حېثیت وضاحت خو صرف دا سې کېږي چې مسلم
لیګ او پېرنګے دواړه دا غواړي چې کانګرس یواځې د هندوانو تنظیم ؤ او
مسلم لیګ د ټول هندوستان د ټولو مسلمانانو واحد نمائنده جماعت دے
لازمي خبره وه چې د صوبه سرحد خدائي خدمتګار وزارت چې غېر مسلم
لیګي دے د پېرنګي او مسلم لیګ دواړو دغه بنیادي نکته ردوله او ځکه
دواړه په شریکه غرضیان دي چې په هره لار چې وي، صوبه سرحد د مسلم
لیګ په جولۍ کښې ورواچوي

وائسرائے جناح صاحب له تسله ورکړه چې زۀ اوس څۀ نۀ شم وئیلے او چې زۀ
ګورنر کننګم سره خبره وکړم، نو بیا به مو خبر کړم

په دې سلسله کښې نوره قیصه د سکندر میرزا وه چې هغه په دغه وخت
کښې د پېښور ډپټي کمشنر ؤ. هغه په خپله سوانح عمري کښې یوه واقعه
بیانوي چې زۀ نواب بهوپال د زمرو ښکار له مېلمه کړے وم واپسۍ کښې
زۀ د نواب زاده لیاقت علي خان لیدو له لاړم هغۀ زۀ قائداعظم له ولېږلم دا
د مارچ (1943) واقعه ده سکندر میرزا وائي چې زۀ ورغلم نو اول خو
قائداعظم زما د مور سره د پېژندګلوي وغېره تعلقات قائم کړل بیا ئې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمانه تپوس وکړو چې "تهٔ مسلمان ئې؟" ماوې چې "صاحب مونږ د رسول
کریم (صلي الله علیه وسلم) د زمانې مسلمانان یو." بیا جناح صاحب تپوس
وکړو چې "تهٔ ما د هندوستان د مسلمانانو سربراه منې؟" ماوې "او صاحب."
جناح وې چې "پهٔ هندوستان کښې پهٔ یوه صوبه کښې هم د مسلم لیګ
وزارت نهٔ شته، ولې ما ته وئیلي شوي دي چې کهٔ تهٔ کوشش وکړې نو پهٔ
صوبه سرحد کښې د مسلم لیګ وزارت جوړیدے شي." ما ورته ووې "زهٔ خو
یو ډپټي کمشنر یم او دا کار صرف یو د صوبې ګورنر کولے شي." سکندر
میرزا وائي چې دا مې هم ورته ووې چې "پهٔ هغه صوبه کښې مسلم لیګ د
سره شته نه، او بله دا چې پهٔ صوبه سرحد کښې د مسلم لیګ سربراه اورنګ
زیب خان دے چې هغه خو یو بې کاره او بددیانته سړے دے." جناح ما ته
ووې "د سردار اورنګ زیب خوبۍ او قباحتونه به پرېږدو او د مسلم لیګ
تنظیمي جالت چې هر څهٔ وي، هغه یوخوا، خو د هندوستان د مسلمانانو
خاطره زما فرض دي چې دغلته د مسلم لیګ وزارت جوړ شي." پهٔ دې سلسله
کښې بیا مخکښې لیکي چې "د صوبې ګورنر سر جارج کننګم د کابل پهٔ
دوره تللے ؤ او چې څنګه هغه واپس راغے نو ما پسې ئې سمدستي سوال
ځواب وکړو. زهٔ لا ناست هم نهٔ وم چې ګورنر ګویانه شو چې حکومت
هندوستان پهٔ ما زور راوړے دے چې سمدستي دې نوے وزارت جوړ شي
ولې چې حکومت دا ثابتول غواړي چې دا صوبه د کانګرس ډلې سره نهٔ ده."
دغه ورځو کښې زمونږ د صوبائي اسمبلۍ اکثر ممبران د "هندوستان
پرېږدئ" Quit India د تحریک پهٔ سلسله کښې پهٔ جېلونو کښې پراتهٔ وو.
بې مقدمې، بې عدالته، اووهٔ د اسمبلۍ خدائي خدمتګار ممبران پهٔ جېل
کښې وو او اووهٔ (7) نور ممبران لاړ وو او لا لرې کړے شوي وو، نو ګورنر ته
لاره ازاده وه. هغهٔ سردار اورنګزیب خان را وبللو او د صوبائي وزارت د
جوړولو بلنه ئې ورکړه. ولې سکندر میرزا وائي چې "زما پهٔ اورنګزیب خان





اعتماد نهٔ ؤ." وې ئې چې "زما نظر دغه وخت کښې صرف پهٔ یو سړي پرېوته
چې هغه د پېښور ښار سردار عبدالرب نشتر ؤ. خو هغه دغه وخت پهٔ
احرار تحریک کښې ؤ او احرار د مسلم لیګ سخت مخالف وو او پهٔ دا
شان کانګرس ته نزدې ؤ." سکندر میرزا وائي چې "د نشتر جناح صاحب څهٔ
ډېر خوښ نهٔ ؤ، بلکې کال مخکښې ئې پهٔ مهابت خان جومات کښې پهٔ
جناح صاحب پسې ډېر کنځل ویل کړي وو، خو ما نشتر را وغوښتو او د
اسلام پهٔ نامه مې هغهٔ ته اپیل وکړو او هغهٔ زما پهٔ وېنا د احرار تنظیم
پرېښودو او پهٔ مسلم لیګ کښې شامل شو او داسې د اورنګزیب وزارت
کښې وزیر واخستي شو." سکندر میرزا لیکي چې "دا اورنګزیب ؤ چې دے
به راغے، ما ته به پهٔ زمکه کښېناستو او هم زما د کوششونو پهٔ برکت
وزیراعلي شو." د اورنګزیب پهٔ حقله کننګم پهٔ خپلو ډایرو کښې لیکي چې
زهٔ د دهٔ نه دومره تنګ وم چې هره مسئله به پېښه شوله. نو دے به ما لهٔ پهٔ
منډه راغے او تپوس به ئې کولو چې د دې مسئلې پهٔ حقله ستا څهٔ رائې ده او
ما لهٔ څهٔ کول پکار دي؟

Aurangzeb is extremely amenable and anxious to do as I want. He seems to have forgotten that the function of a minister is to advise the Governor. Nearly every file comes from him with a note: "I solicit the advice of H.E. the Governor".

*(Cunningham's Diary 19.7.1943)*

ترجمه: اورنګزېب ډېر زیات اطاعت کوي او فکرمند وي چې
هغه څهٔ وکړي چې زهٔ ئې ووایم. معلومېږي هغهٔ دا هېر کړي
دي چې د وزیر کار دا وي چې ګورنر ته مشوره ورکړي. تقریباً
د هغهٔ نه هر قابل د دغه یادداښت سره ما ته راځي "زهٔ د جناب
ګورنر د مشورې درخواست کوم." (د کننګم ډائري 19/7/1943)

حقیقت هم دا ؤ چې اورنګزېب خان دې پهٔ دې پوهه ؤ چې دا وزارت هم د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېرنګي د لاسه جوړ دے. په داسې اسمبلۍ کښې چې يو ممبر هم مسلم ليګ په نامه نهٔ وي منتخب شوے د مسلم ليګ وزارت جوړول صرف د پېرنګي ګورنر او د هغهٔ د ډپټي کمشنر کار ؤ. په دغه ممبرانو کښې په خپله دومره ذاتيات او پرې جمبې وې او هم د دې وزارت په مشرۍ د اورنګزيب خان او د مسلم ليګ د صوبائي صدر خان بهادر سعد الله خان په خپل منځ کښې سخته ناچاقي وه. ګورنر چې د وزارت کار ګزارۍ ته وکتل نو په دې خبره مجبور شو چې که دا وزارت هم په دا شان پاتې شي. نو وزارت خو پرېږده. هغه بنيادي قوت يعني مسلم ليګ ډلې ته به نقصان رسېدے شي لکه څنګه چې کننګم په خپله ډائرۍ کښې په (27/5/1944) نښته ليکي:

> There is no doubt that the name of the Muslim League administration is sim mud nowadays owing. To the scandalous in which buy votes.

ترجمه: په دې کښې بېخو هيڅ قسمه شک ګنجائش نشته چې د مسلم ليګ حکومت په دې خبره ځان د کاسيري کړي چې ځان سره اسمبلۍ د ممبرانو ساتلو د پاره هغوي څومره په ناروا طريقه کاروبار شروع کړي دي.

دا د مسلم ليګ د وزارت قابو کال شوے ؤ. کننګم کوشش شروع کړو چې خدائي خدمتګار ممبران د اسمبلۍ وار په وار راپرېږدي.

په دې بل اړخ په مسلم ليګ دننه دومره سختې پرې جمبې شروع شولې چې مسلم ليګ په څرګنده دوه ډلې شو. يو د اورنګزيب خان حکومتي ډله او بله ډله د سعدالله خان چې د هغه سره هغه څوک ملګري وو چې هغوي ته په حکومت کښې څهٔ نه وو رسېدلي. خبره تردې ورسېدله چې په نومبر 1944 کښې سعدالله خان جناح صاحب ته خط وليکهٔ:

> These skirmishes continued. In November 1944 Saadullah Khan informed Jinnah that he could no longer support the ministry and that if a





> non.confidence motion was tabled. He would vote in favors of it.
>
> *(India. Pakistan or pukhtoonistan by Errand Jansen, p.12)*

ترجمه: دا نښتې جارې وې. نومبر 1944 کښې سعد الله خان جناح خبر کړو چې هغه نور وزارت حمايت نهٔ شي کولے او که چرې په وزارت د عدم اعتماد تحريک پيش شو نو هغه به ئې حمايت وکړي.

ګورنر د خپله جانبه کافي کوشش کولو چې وزارت ټينګ شي او د دې خاطره ئې د 1944ز د مني اجلاس په دې وجه را ونه بللو چې د اسمبلۍ د شلو پاره څهٔ کار نشته. د کانګرس پارليماني پارټۍ سکرټري ګورنر لهٔ د ممبرانو په دستخط ياد داشت ورولېږه چې اسمبلۍ دې را وغوارې چې د اورنګزيب وزارت په خلاف د عدم اعتماد په تجويز بحث وشي خو ګورنر دغه يادداشت نامنظور کړو. اخېر د 1945 په سپرلي کښې چې کله اسمبلي مجبوراً راوبللې شوله نود اورنګزيب وزارت په خلاف تحريک پاس شو خان بهادر سعدالله خان په خپله هم د مسلم ليګ د وزارت په خلاف ووټ ورکړو.

ګورنر کننګم او د هغهٔ د لاندې افسران په دې پوهه وو چې د اورنګزيب وزارت اثر د مسلم ليګ په تنظيم پرېوځي او دا سودا هغوي ته ډېره ګرانه پرېوتله. ولې چې د وزارت په وجه مسلم ليګ نور بدنامه شو او نورې ډلې پرې پکښې راپېدا شولې ولې حالات په داسې طرف روان وو چې پېرنګے په هيڅ شان هم دا تاثر ورکولو ته نهٔ شو تيارېدے چې دا صوبه دې د خدائي خدمتګارانو او د کانګرس په ملګرتيا کښې پاتې شي. د سرکار پاليسي واضحه وه اوس حکومت په خپله د خپلو سرکاري افسرانو په ذريعه هم په صوبه کښې او هم په قبائلي علاقه کښې کارشروع کړو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د 1946 کال انتخابات

پهٔ فروري 1946 از کښې پهٔ صوبه سرحد کښې صوبائي انتخابات وشول چې پهٔ هغې کښې کانګرس واضحه اکثریت وګټو. یوائې دا نه چې ګنې پهٔ اسمبلۍ کښې ئې هم قطعي اکثریت ؤ ولې پېرنګي زړهٔ پهٔ دې خوږ شو چې د مسلمانانو پهٔ سیټونو کښې هم کانګرس اکثریت وګټو. مسلم لیګ حسب معمول مکمل زور او قوت د یوې ضلعې هزارې نه ګټلے ؤ چې هلته پهٔ نهو سیټونو کښې اتهٔ مسلم لیګ ګټلي وو. پېرنګي اګر چې د هره جانبه زور لګولے ؤ او د خپلو افسرانو پهٔ ذریعه ئې دا کوشش ؤ چې مسلم لیګ وګټي بعضې افسران خو پهٔ ډاګه او ډېره بربنډه طریقه لګیا وو د مثال پهٔ طور د بنو د ضلعې انګریز ډپټي کمشنر د خپلې ښځې سره د ټولې ضلعې دوره وکړه چې چا به ورته د چائے ډوډۍ ست وکړو نو دهٔ به ورته وې چې زما ښځې لهٔ لوپټه ورکړئ او د لوپټې وضاحت به دا ؤ چې خپل ووټ مسلم لیګ لهٔ ورکړئ. د دې نه علاوه د هندوستان د ریاستونو د نوابانو دولت او د پېرنګي د ملیانو او خان بهادرانو شریک قوت هم ورسره شامل ؤ. خو دا د پېرنګي د پاره لوے شکست ؤ چې د ټول مردان د ضلعې نه یو ممبر د مسلم لیګ پهٔ ټکټ منتخب شو او هغه د هوتي نواب سر محمد اکبر خان ؤ. داسې د پېښور د ټولې ضلعې نه صرف یو سیټ مسلم لیګ وګټهٔ صرف پهٔ بنو کښې مسلم لیګ دوه سیټه (د دغه ډپټي کمشنر پهٔ برکت) وګټل کوهاټ کښې ئې ټول سیټونه بایلل. پهٔ دې انتخاباتو کښې مسلم لیګ ته او ورسره پېرنګي ته لویه پرېشاني دا پېښه شوله چې دا انتخابات خو تش د پاکستان پهٔ نامه شوي وو او خبره د کفر او اسلام ترحده پورې رسېدلې وه ولې چې د سرکار همه ملګري پېران او ملیان لګیا وو او د اسلام پهٔ نامه ئې د





پاکستان د مطالبې د پاره کوشش کولو. پېرنګے چې کله پوهه شو چې پهٔ آئیني او قانوني، سیاسي او جمهوري طریقه خو مسلم لیګ کامیابه نهٔ شو او دا صوبه حسب دستور د خدائي خدمتګارو سره پاتې شوله نو بیا هغوي پهٔ نورو لارو چارو غور شروع کړو.

د پېره اسماعیل خان ضلعې نه د جمعیت العلماء سرحد پهٔ ټکټ دوه ممبران منتخب شوي وو او چې دغه دواړه ورسره شو، نو د ډاکټر خان صاحب سره درې دیرش (33) ممبران وو او د مسلم لیګ سره اوولس (17) وو.

د دې انتخاباتو نه پس چې کله ډاکټر خان صاحب وزارت جوړ کړو نو پهٔ دغو ورځو کښې سر جاج کننګم خپل اوږد میعاد د ګورنرۍ پوره کړو او د هغهٔ پهٔ ځاے نوے ګورنر سر اولف کېرو راغے. کیرو صاحب دلته د (1930) پهٔ هغو نازکو ورځو کښې د پېښور ډپټي کمشنر ؤ او ډېر ظلم او زیاتي د دهٔ پهٔ زمانه کښې د خدائي خدمتګارو سره شوے ؤ. خو دے بیا ډیلي ته تللے ؤ او دا تېر څو کاله د هندوستان پهٔ مرکزي حکومت کښې خارجه سکرټري ؤ. هلته به ډیلي کښې هم وائسراے بدل شوے ؤ او د لارډ لنلتګو پهٔ ځاے لارډ ویول (Lord Wavell) د هندوستان لوے وائسراے مقرر شوے ؤ او لنلتګر چې کله چارج پرېښودو، نو هغه خپله مشهوره خبره ئې کړې وه چې:

> I think I can claim to be handing over to Wavell a pretty set stage so far as the political situation is concerned. Though that would need constand attention and a constant personal handling.
>
> ترجمه: زما پهٔ فکر زهٔ د عوي کولې شم چې ویول ته تر څو پورې چې د سیاسي حالت تعلق دے. ښهٔ جوړ شوے سټېج ور حواله کوم. اګر چې دا هر څهٔ به همېشنۍ توجه او همېشنۍ ذاتي کار ته ضرورت ولري

او د دې حقیقت نه هېڅ څوک هم انکار نهٔ شي کولے چې لنلتګر د خپل



Scanned by CamScanner

وائسرا ے توب پهٔ دوران کښې د هندوستان د سیاسي قسمت فېصله تقریبا کړې وه او چې کله پهٔ جون 1945 کښې لارډ وېول د هندوستان د سیاسي لیډرانو یو کانفرنس پهٔ شمله کښې پهٔ دې خاطر راوبللو چې د دې سیاسي لانجې څهٔ حل راوباسي، نو حسب معمول د پېرنګي پالیسي قطعي واضح وه چې پهٔ دې طریقه هندوستان ته او پهٔ خصوصیت سره دنیا ته خپل مخ روښ کړي چې پېرنګے خو غواړي چې فېصله دې وشي، خو چې مسلمان او هندو پهٔ خپل منځ کښې نه رضا کېږي، نو پېرنګے اختیار او اقتدار چا ته وسپاري؟ یعني کانفرنس یا غونډه پېرنګي د دې د پاره نه رابلله چې څهٔ روغه جوړه وشي بلکې راغونډېدل به صرف پهٔ یو غرض وو چې دا لیډران یو بل ته مخامخ کړي او روغه جوړه خو پرېږده چې لانجه به څهٔ نوره هم خرابه کړي.

د شملې کانفرنس اولني تجویز دا منظور کړل چې هندوستان دې یو مرکزي وفاقي وزارتي کونسل جوړ کړي. وېول دا اعلان مخکښې لا کړے ؤ چې پهٔ دې کونسل کښې به د مسلمانانو او غېر مسلمو نمائندګي برابره وي. جناح صاحب حسب معمول پهٔ دې نسبت چې بل هېڅ څوک د دې حق نهٔ لري چې هغه لا د مسلمانانو د نمائندګۍ دعوي وکړي او دا پرېږده چې هیڅوک دا حق هم نهٔ لري چې دې کونسل ته دې د مسلمان وزیر انتخاب وکړي. مطلب دا شو چې د مسلمانانو او غېر مسلمو نمائندګي برابره وي. یو خوا جناح صاحب ؤ بل خوا د ټول هندوستان ټول نور اوسېدونکي هندوان، سکهان، عیسایان، پارسیان وغېره د هندوستان ابادي دغه وخت څلوېښت کروړه وه چې پکښې لس کروړه مسلمانان وو. کانګرس سره اتهٔ صوبې وې. د مسلمانانو پهٔ اکثریتي صوبو کښې هم مسلم لیګ سره څهٔ نهٔ وو. د بنګال د یوسلو اوولس (117) سیټونو نه مسلم لیګ صرف څلوېښت (40) ګټلي وو. پنجاب کښې د څلور اتیا (84) مسلم سیټونونه مسلم لیګ یو ګټلے ؤ پهٔ





سنده او صوبه سرحد کښې ئې یو ممبر هم نهٔ ؤ. وېول وائي چې ما د جناح صاحب نه تپوس وکړو چې اخېر تهٔ غواړې څهٔ؟ وې چې ستا پهٔ کونسل کښې څومره مسلمانان وزیران دي؟

They must all be nominated by the League and must all be leaguers. *(P. 149)*

ترجمه: هغه صرف پهٔ خپله د مسلم لیګ د مشر پهٔ حېثیت مسلمانان نوي کونسل ته نامزد کولے شي.

بیا وائي چې کهٔ چرې پهٔ دې کونسل کښې پهٔ یوه مسئله مسلمانان اعتراض وکړي، نو هغه به پهٔ (2/3) اکثریت فېصله کېږي وېول وائي:

In fact a kind of communal veto.

ترجمه: چې دا پهٔ حقیقت کښې یو قسمه فرقه ایزه ویټو ده.

د مسلمانانو وزیرانو د انتخاب اوله دعوي د پنجاب یونینسټ وزیر اعلي خضر حیات خان وکړه. کانګرس پهٔ خپل فهرست کښې د دوو مسلمانانو نومونه ورکړل ولې چې یو خو صوبه سرحد هغوي سره ؤ او بل پهٔ سنده کښې اله بخش د قام پرسته ډلې وزارت ؤ ولې عجیبه تماشه دا ده چې وېول پهٔ خپله لیکي چې جناح صاحب د نورو ډلو سره مساوي نمائندګي غواړي:

If he really meant this, it shows that he bad never at any time as intention of accepting the offer, it is difficult to see why he came to simla at all. *(page 155)*

ترجمه: کهٔ چرې هغه پهٔ رینښتیا داسې غوښتل نو دا ښائي چې د هغهٔ هېڅ کله پېشکش منلو اراده نهٔ وه. مشکله ده ووایو چې هغه ولې شملې ته راغے.

او بیا وېول نتیجه هم بیانوي:

The root cause of the failure was, of course, Jinnah's intransigence and opstinacy.



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: د ناکامۍ اصلي وجه بې شکه چې د جناح سر زوري او ضد ؤ.

د جناح صاحب نه دا تپوس هم پکار دے چې کانګرس خو اوس بې کېده قرباني ورکړي دي؛ پۀ زرګونو خلق ئې پۀ تحريک کښې قرباني کړل او پۀ لکونو جېلونه وخوړل خو د هغوي خو نه شو؛ خو چې هغوي ګټه وکړله. نو تۀ بوجۍ پۀ لاس راغلې وائې ما ته ترې نه خپله څۀ پردۍ برخه هم راوتله متل دے چې تورې دې لالا وهي او مرۍ دې ګوپالا وهي.

وېول پۀ خپله خودا ليکي او د جناح صاحب دا رويه ورته ناجائزه او نامناسبه ښکاري. خو عمل پۀ څۀ کوي؟ د پنجاب د صوبې د منتخب نمائنده خضر حيات حېثيت نۀ تسليموي د سنده د منتخب وزيراعلي او الله بخش سرمرو حېثيت نۀ تسليموي.

د صوبه سرحد د منتخب وزيراعلي ډاکټر خان صاحب حېثيت نۀ تسليموي او د جناح صاحب پۀ ناجغه ضد او بې اصوله او بې بنياده دعوي دغه کانفرنس ناکامه ملتوي کوي؛ نو د دې نه ګنې بل څۀ ظاهري ثبوت پکار دے چې ټوله لوبه د پېرنګي د لاسه جوړه وه او مسلم ليګ صرف د دې د پاره نارامي کوله او ناروا او بې بنياده مطالبې ئې کولې چې پېرنګي لۀ بهانه ورکړي چونکې روغه نۀ کېږي نو اقتدار دې د پېرنګي سره بدستور پاتي وي. نور خو پرېږده چې د مسلم ليګ د سياست مداح او د کانګرس دښمن انګرېز هاډسن H.V Hodson پۀ خپل کتاب The Great Divide کښې پۀ دې لیکلو مجبور شو چې؛

> A minority party with insupportable claim had been allowed to veto the whole project for advancing India`s self.Govt. *(Page 125)*

ترجمه: د يو ناقابل برداشت دعوي لرونکي اقليتي پارټۍ اجازت ورکړے شو چې د هندوستان د خود اختياره حکومت





وړانديز ټولو د پاره ټوله منصوبه ويټو کړي

او غرض او مقصد ئې پۀ خپله مخکښې بيانوي؛

> Some observers thought that Lord Wavell's sudden abandonment of his plan was the decisive move which made the partition of India inevitable. *(Hodson, P.127)*

ترجمه: د ځېنو مبصرينو خيال ؤ چې د لارډ وېول لۀ خوا ناڅاپي خپل پلان پرېښودل يو فېصله کوونکے حرکت ؤ چې د هندوستان تقسيم ئې حتمي کړو.

نو هم دغه خو د پېرنګي او وېول غرض ؤ.

کله کانګرس .Sir Stafford Cripps کوم تجويزونه د دې نه وړاندې چې پېش کړي وو، نو هغې کښې ئې دا خبره کړې وه چې د جنګ د خاتمې نه پس کله د هندوستان د ائين سازه اسمبلۍ کښې ائين جوړېږي نو؛

> Any province would be free to keep itself out of the proposed Union and to retain its prevailing constitutional position. If such non.accepting proposed Indian Union.

ترجمه: هره صوبه به اختيار ولري چې د مجوزه يونين نه بهر پاتې شي او خپل روان ائيني پوزيشن برقرار وساتي. کۀ چرې دغه شان نه منونکي صوبې خواهش ولري، نو هغوي د دغه مجوزه هندوستاني يونين شا به خپل جدا يونين جوړولے شي.

دغه د پاکستان د مطالبې د منظورولو اوله پاوړۍ او دا ئې هغه اخبري فېصله!

---

د شملې کانفرنس وائسرا ے هند لارډ وېول دغه شان ختم کړو او ناکامه شو.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېول پهٔ دې ټینګ ؤ چې کانګرس دې مسلم لیګ د ټول هندوستان د ټولو مسلمانانو واحد نمائنده تسلیم کړي. پهٔ دغه کانفرنس کښې د صوبه سرحد وزیراعلي ډاکټرخان صاحب هم موجود ؤ. هغهٔ د وائسرا ے نه پوښتنه وکړه چې زهٔ د هندوستان پهٔ ټولو صوبو کښې د مسلمانانو اکثریتي صوبې منتخب وزیر اعلي یم او زهٔ مسلم لیګ کښې نه یم نو زما پهٔ حقله دې څهٔ خیال دے؟ لارډ وېول پهٔ دې خبره بیخي سترګې پټې کړې وې چې پهٔ دې هندوستان کښې پېرنګي (1937) کښې صوبائي انتخابات کړي وو او د هندوستان پهٔ یوولسو (11) صوبو کښې یوه کښې هم د مسلم لیګ حکومت نهٔ ؤ. د مسلمانانو اکثریتي صوبو کښې هم د مسلم لیګ هېڅ درک نهٔ لګېدو. د سنده او سرحد پهٔ اسمبلو کښې ئې یو ممبر هم نهٔ ؤ. د پنجاب پهٔ اسمبلۍ کښې ئې یو ممبر ؤ، نو مطلب دا چې د پېرنګي پهٔ خپلو کړو انتخاباتو کښې د مسلم لیګ حېثیت صرف پهٔ هغه صوبو کښې ؤ چې کوم ځا ے مسلمانان پهٔ اقلیت کښې وو. د مسلمانانو پهٔ اکثریتي صوبو کښې مسلم لیګ هڅو د سره څهٔ حېثیت نهٔ لرلو. ولې پېرنګے پهٔ دې ټینګ ؤ چې ترڅو کانګرس دا خبره تسلیم نهٔ کړي چې مسلم لیګ د ټول هندوستان د ټولو مسلمانانو واحد نمائنده دي، نو تر هغې د روغې جوړې هېڅ امکان نهٔ شته دا خبره به کانګرس څنګه منله؟ اخېر پهٔ کوم حساب؟

کانګرس پهٔ دغه انتخاباتو کښې عظیمه ګټه کړې ده؛ د یوولسو (11) صوبونه پهٔ اتو (8) کښې د هغوي وزارتونه وو ولې پېرنګے خپل غرض ړوند کړے ؤ. هغه د پښتو متل دے چې "حق به هم حق وي خو زور هم حق دے" پېرنګي خپل مطلب را پهٔ مخه کړے ؤ. هغهٔ مسلم لیګ د خپل غرض د پاره استعمالولو، نهٔ ئې مسلمان څهٔ کار ؤ او نهٔ پهٔ مسلم لیګ. هغهٔ خو مسلم لیګ د کانګرس پهٔ مرۍ کښې د دې د پاره اچولو چې دنیا لهٔ دا تاثر ورکړي چې پېرنګي خو اقتدار حواله کولو ته تیار دے، خو هله چې د هندوستان





مسلم لیګ پهٔ خپلو کښې رضا شي او ټوله لوبه ئې دا جوړه کړې وه چې مسلم لیګ دومره پهٔ سر وخېژوي او دومره ئې اوچت کړي چې د هغهٔ هره ناروا ته روا او ناجائزه ته جائز ووائي او سبا لهٔ بیا مسلم لیګ کهٔ رابنکته کول غواړي، نو هم چې نهٔ شي رابنکته کېدے نو د دې غرض د پاره د پېرنګي دا کوشش ؤ چې پهٔ هره حلاله حرامه لار چې وي خو چې مسلم لیګ را ټینګ کړي د شملې 1945 پهٔ کانفرنس کښې د پېرنګي صرف دا غرض ؤ چې هغهٔ د هندوستان ټولو مسلمانانو باندې دا خبره واضحه کړي چې سرکار ئې د مسلم لیګ بل څوک د مسلمانانو نمائنده تسلیمولو ته تیار نهٔ دي نو کهٔ څوک پهٔ حکومت هند خان تسلیمول غواړي. نو هغهٔ لهٔ پکار دي چې مسلم لیګ ته لاړ شي او زهٔ دا خبره پهٔ دعوي سره کول غواړم چې کهٔ د پاکستان منصوبه وه هم نو دا پېرنګي څهٔ د مسلمان د ښېګړې د پاره نهٔ وه وړاندې کړې. د پاکستان پهٔ نامه د یو مسلمان ملک پېرنګي ته پهٔ خپله ضرورت ؤ ولې چې هغه د اشتراکي شوروي اتحاد نظریاتي مقابلې د پاره د ترکو نه را واخله تر د چین د سرحد پورې، یوه د اسلام کلا مکمل کول غوښتل. د پاکستان پهٔ ذریعه تقسیم هند نهٔ، بلکې تقسیم مسلمان کېدو، نو د پېرنګي پرې څهٔ؟

هغه خو خپل سامراجي او نوابادیاتي شهنشاهیت د استحکام د پاره لګیا ؤ او کهٔ دا کار ورله مسلمان څهٔ، کهٔ مسلم لیګ کولو نو د پېرنګي د پاره بله د تسلۍ او خوشحالۍ خبره څهٔ کېدې نهٔ شوله.

## د وېول نوې منصوبه

### (د پاکستان ضرورت، پېرنګي ته)

کله چې د یورپ دوهم جنګ ختم شو او قلاره قلارې شوله نو پېرنګي بیا



Scanned by CamScanner

کښېناست او د نوو حالاتو پهٔ رڼا کښې ئې پهٔ خپله پالیسي غور شروع کړلو. د هغې نه مخکښې څهٔ وخت چې پهٔ یورپ کښې جرمني پهٔ شوروي اتحاد حمله وکړه او شوروي اتحاد ئې شا ته پهٔ مخه واخستو تر دې ټول ملک ئې ورله لتاړ کړو او ماسکو ته صرف یو څو میله پاتې وو نو پېرنګي د شوروي اتحاد د خطرې د اړخه بې غمه شو او چې کله دې خوا د جاپان د طرف نه پېرنګي یو پهٔ یو د خپلو ابادو نه وځغلولے شو او چې کله برما هم جاپان قبضه کړله او پهٔ کلکته ئې بمباري شروع کوله. نو د پېرنګي ټوله مخه بیا جاپان ته شوله. هم دغه ورځو کښې پېرنګي پهٔ هندوستان کښې دا کوشش شروع کړو چې اوس چونکې د شوروي اتحاد قوت ختم دے نو کهٔ نور هندوستان د پېرنګي د ګوتو وزي، نو دا ئې مناسب وګڼل چې د افغانستان حکومت سره خپله لاره چاره برابر کړي او دا د پښتنو علاقې چې د 1893. د ډېورنډ د کرښې پهٔ راښکو د افغانستان نه را شوکولې شوې وې دا به بېرته هغوي ته پهٔ حواله کړي مطلب دا چې کهٔ جاپان لا جرمن ئې اخلي، نو د هغې نه پهٔ افغانستان ولې احسان نه کوي. د حکومت افغانستان سره خط وکتابت روان ؤ او دې خوا د کننګم صاحب ایجنټانو لکه د حاجي صاحب د تررمزو د زوي باچاګل پهٔ ذریعه د افغانستان پهٔ حق کښې پروپیګنډه شروع کړله لا پېرنګے ناست دے او د دې خبرې اجازه ورکوي چې دلته دې د جمعې پهٔ ورځ د افغانستان د باچا ظاهر شاه خطبه ولوستلې شي.

ولې کله چې شوروي اتحاد پهٔ جرمني را وګرځېدو او د هټلر فوځونه هم پهٔ هغه شان تباه او برباد شول. لکه څنګه چې د فرانس د نپولین فوځونه پهٔ مخ کښې صدۍ کښې تباه شوي وو او شوروي اتحاد داسې جرمني راواخست چې د برلین د ښار پورې ئې ورسولو. نو دلته پېرنګے بیا پوهه شو چې د شوروي اتحاد هغه خطره خو هندوستان ته بدستورقائمه پاتې شوله ولې





اګر چې د شوروي اتحاد ټول ملک لتاړ ؤ ښارونه ئې لوټې لوټې دي قابو دوه کروړه روسیان د ملک د سره قربان شول ولې د دې هر څهٔ باوجود هم شوروي اتحاد کښې دومره قوت شته چې جرمني ئې پهٔ ګوډ ولګوو نو پېرنګي ته بیا هغه د اسلام کلا Military crescent را یاده شوله ولې اول سر کښې خو پېرنګي پهٔ دې پوهه ؤ چې نور باقي هندوستان کښې نو هسې هم د کانګرس زور دے او کانګرس خو پهٔ هیڅ شان هم د پېرنګي غلامي نوره نهٔ قبلوي نو پهٔ خاے د دې چې دا ټول د هندوستان حکومت کانګرس ته پرېږدم، نو د دې نه دا ښهٔ ده چې دا د پښتنو علاقې واپس افغانستان لهٔ ورکړم. پهٔ دې کښې ئې دوه خبره خپل ګڼل؛ یو خو دا چې پهٔ دې طریقه به هندوستان د خپل شمال غربي سرحد د غریزې علاقونه محروم شي او یو طبیعي او قدرتي جغرافیائي سرحد به ئې د ګوتو وزي، پېرنګي د تاریخ نه او د خپلې تجربې نه پهٔ دې نتیجه رسیدلے ؤ چې هندوستان تر هغې پهٔ ارام پهٔ غځېدلو پښو خوب نهٔ شي کولے، ترڅو پورې چې دغه د شمال غربي هند دغه درې د حکومت هند پهٔ خپله قبضه کښې نه وي؛ نو چې دا د پښتنو دا همه علاقې افغانستان ته لاړې شي، نو پهٔ دا شان به هندوستان یو ګونه کمزوري پاتې شي او د دغه اړخه به هر وخت ناقلاره او بې ارامه وي دویمه دا چې کله پېرنګیان دغه علاقې افغانستان لهٔ ورکړي، نو افغانستان به ټول عمري د پېرنګي ممنون او مشکور وي او د دوستۍ او ملګرتیا د پاره به پکښې زیاتې ګنجائش پاتې شي ولې د شوروي اتحاد دغه کامیابۍ دغه فېصله پهٔ بېرته وګرځوله او پېرنګي بیا پهٔ خپله نیکۍ او لوظ ستومانه شو. افغانستان پهٔ خاے پاتې شو او یو وارې پېرنګي بیا پهٔ دې مجبور شو چې د نوو حالاتو پهٔ رڼا کښې څهٔ داسې لاره راوباسي چې د اشتراکي شوروي اتحاد د خطرې مقابله پرې وکړې شي د ویول خپلې لیکلې ډایرۍ. دا ټوله مسئله ښخي پهٔ ډاګه څرګندوي حقیقت دا دے چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا د وېول دغه ډایرۍ نه وي لوستي نو هغوي د پاره دا مشکله شي چې د
هغه وخت د هغه پالیسیو پوره جاج واخستے شي. نور خو پرېږده چې د
مولانا ابوالکلام ازاد غوندې وېښ، بېدار او مردم شناس هوښیار هم د
وېول پهٔ ظاهري لباس تېروتو ولې زما پهٔ خیال لنلتګر چې کومه لوبه رواند
کړې ده، وېول هم پهٔ ډېره استاذۍ او کمال مهارت هغه منصوبه سر ته د
رسولو پوره پوره کوشش کولو بلکې زهٔ وایم چې دے پهٔ دې خپله منصوبه
کښې نور هم وړاندې تللے دے ولې کمال ئې د منافقت دا دے چې د
کانګرس صدر او بې کچه قابل او زاغ مولانا ازاد هم پهٔ دهٔ د ایماندار او
مخلص ګمان راپېدا شوے دے لکه څنګه چې هغه پهٔ خپل کتاب India
wins Freedom کښې لیکي.

وېول چې د هندوستان د وائسراے پهٔ حېثیت اختیار واخیستو، نو د هغې
نه وړاندې هغه د هندوستان د فوځ سر لښکر Commande.in.chief ؤ. هغه
کانګرس د پېرنګي ازلي دښمن ګڼلو ولې چې کانګرس د یورپ د جنګ پهٔ
دوران کښې پېرنګي ته مشکلات پېښول تحریک ئې چلولو او کوښښ ئې
دا ؤ چې د پېرنګي د جنګ پهٔ تیاریو کښې خلل واچوي او د ټولو نه لویه
خبره دا چې کانګرس دا کوشش کولو چې پېرنګے د دې ملک نه خپله کډه
ونغاړي نو د دې وجې نه کانګرس د هغهٔ ازلي او مونډیز دښمن ؤ. نور د
کانګرس د تنظیم نه علاوه دلته د قام پرسته ننګیالو مسلمانانو یوه ډله وه
او دوي سره د هغه باعمله عالمانو د دین ډله وه چا چې د خپلې د ازادۍ د
پاره د کافر پېرنګي ګرېوان ته لاس اچولے ؤ.

د وېول پهٔ خپلو ډایرو کښې د لسم اګست 1946 یو خط خپل پرائیویټ
سکرټري ته لیکلے دي چې هغه د هغهٔ د چاپ شوي کتاب The Viceroy's
Journal پهٔ (332.330) مخونو کښې درج دي. دې کښې هغه پهٔ تفصیل سره
د خپلې نوې منصوبې " دټوټې کولو پلان " .The Break.down ذکر کړے





دي:

If we are forced to an extreme position, we should hand over the Hindu provinces, by agreement and as peacefully as possible to Hindus rule withdrawing our troops, officials and nationals in an orderly manner and should at the same time support the Muslim provinces of india.

*(Wavell, the viceroy's journal,page 485 30/5/1946)*

ترجمه: کهٔ چرې مونږ یو انتهائي حالت سره مخامخ شو نو
مونږ لهٔ پکار دي چې د معاهدې پهٔ ذریعه او ترممکنه حده پهٔ
امن ناک ډول هندو صوبې د هندوانو حکمرانۍ ته حواله کړو
او خپل فوځونه،افسران او شهریان پهٔ منظمه طریقه بېرته
کړو او ورسره ورسره د هندوستان مسلمانانو حمایت وکړو.

او ښهٔ پهٔ ډاګه څهٔ چې بربنډ هدایات ورکوي. خپل سکتر ته وائي چې
چونکې د کانګرس او مسلم لیګ ترمنځه د هېڅ قسمه روغې جوړې امکان
نهٔ شته نو چې کله دا تعطل پېدا شي نو حکومت برطانیه به ما وغواړي بیا
به زهٔ دغه تجویز هلته پېش کول غواړم، نو خپل سکرټري ته ئې دا هدایات
دي چې زهٔ دا کوم تجویزونه پېش کوم تاله پکار دي چې د دې د تفصیلاتو د
پاره د پینځو اوچتو افسرانو یوه کمېټي مقرر کړې چې هغوي ما لهٔ یو خفیه
رپورټ مرتب کړي چې دا منصوبه به څنګه ترسره کېږي.

د وېول خپله تجزیه او تحلیل دادے چې د مسلم لیګ او کانګرس جګړه پهٔ
داسې علاقو ده چې د هغې تعلق د هندوستان د سرحداتو سره دے. د
پاکستان د منصوبې دوه برخې دي یو پهٔ شمال مغربي کښې او بل پهٔ شمال
مشرق کښې چې دغه د مسلمانانو د اکثریت علاقې دي. وېول تجویز کوي
او منصوبه داده چې کومو صوبو کښې د کانګرس اکثریت وي هغه دې
کانګرس ته وسپارلے شي. مکمله ازادي دې ورله ورکړے شي او پېرنګے



Scanned by CamScanner

دې سره د خپل فوځ، سرکاري افسرانو او باله بچه هغې صوبو ته واوړي کومو کښې چې د مسلمانانو اکثریت دے، وېول چونکې یو پېښه ور فوځي دے. نو هغه پهٔ دې ښهٔ پوهه دے چې د هندوستان د شمال مغرب او شمال مشرق علاقې د هندوستان نه جدا شي او دغه علاقې پېرنګي پهٔ خپله قبضه کښې وساتي نو چې د دې به د هندوستان پهٔ دفاع څهٔ اثر پرېوځي. علاقې هم بیانوي پهٔ مشرق کښې بنګال او اسام او پهٔ مغرب کښې صوبه سرحد، پنجاب، سندهـ ان تر ډېلي پورې دا علاقې به پېرنګي سره قبضه کښې پاتې شي او نور کانګرس پوهه شه او د هغهٔ باقي مانده هندوستان. پوره تفصیل هلته موجود دے. پهٔ اخېر کښې د مطلب خبره لیکي. د مسلم لیګ پهٔ حقله وائي چې هغوي به شاید چې پهٔ دې اعتراض ونهٔ کړي بلکې یو قدم مخکښې ځي او وائي چې؛

In fact The Muslim league would presumably welcome the plan.

*(Wavell, The Viceroy's journal. P.332)*

ترجمه: پهٔ حقیقت کښې مسلم لیګ غالباً د پلان هرکلے وکړي.

وائي چې وېول سر فېروز خان نون را وبللو او د دې منصوبې پهٔ حقله ئې د مسلم لیګ د مشرانو رائې د هغهٔ نه وغوښته. وائي چې هغهٔ واپسي ځواب یوړو چې مسلم لیګ ته پهٔ دې اعتراض نهٔ شته.

دې ټولې منصوبې ته چې سړے ګوري او پهٔ بېل بېل اړخ ئې سوچ کوي نو د هغهٔ د حکومت هند د وائسراے او لویو لویو انګرېز افسرانو دې ذهنیت ته حېران شي. کانګرس لهٔ د پېرنګي د دښمنۍ دا سزا ورکېدے شي چې هغه دې د خپلو ټولو طبعي او جغرافیائي سرحداتو نه محروم کړے شي، یو خوا ته شوروي اتحاد او پهٔ دې بل اړخ چین. بله دا چې د هندوستان تقسیم داسې د دښمنۍ او تربګنۍ پهٔ ماحول کښې وشي او دا دواړو سرحدونه د





پاکستان ورسي او بیا پهٔ دغه علاقو کښې ورته پېرنګي سره د خپل ټول فوځ او قوت دیره شي او هندوستان د اوسېدونکو به دفاع څنګه کېږي؟

I pointed it out that Pakistan issue affected not only India, but the whole Empire.

*(Wavell, The Viceroy's journal. P.218)*

ترجمه: ما پهٔ ګوته کړه چې د پاکستان مسئله نهٔ صرف هندوستان باندې اثر غورځوي بلکې ټول سلطنت باندې اثر اچوي.

د دې منصوبې نه دا خبره هم ډېره پهٔ ښکاره څرګندېږي چې پېرنګے کهٔ د مسلم لیګ سره څهٔ مرسته او کومک کولو. نو هغه څهٔ د مسلمان د ښېګړې د پاره نهٔ ؤ، بلکې دې کښې د پېرنګي خپل غرض ؤ او هغه د خپل سلطنت او شهنشاهیت د پاره دا ټوله لوبه توده کړې وه پهٔ دا شان پېرنګي د مسلمان نهٔ بلکې د خپلو مفاداتو د تحفظ غرضي ؤ ولې د پېرنګي پهٔ سیاست. چالونو، سازباز، فوځي او علاقائي ضروریاتو خو سړے پوهېدے شي خو حېرانتیا خو د مسلم لیګ د مشرانو کردار ته ده چې دا دوي د چا د پاره لګیا دي؟ منم چې مسلم لیګ چرې هم د ملک د ازادۍ د پاره نهٔ دے راپورته شوے او نهٔ ئې د پېرنګي د غلامۍ نه د ځان ازادولو د پاره څهٔ حرکت او جدوجهد کړے وي. ولې دا هم سړے قطعاً نهٔ شي هیرولے چې کهٔ چرې د کانګرس او د مسلمانانو او علماء دین د قربانو پهٔ نتیجه کښې پېرنګے پهٔ دې مجبوره کولے شي چې هغه دې د هندوستان نه کډه وکړي. نو چې دا ازادي دې یو اځې د کانګرس پهٔ برخه کښې ورسي او نور هندوستان او پهٔ خصوصیت سره مسلمانان دې بدستور د پېرنګي پهٔ غلامۍ کښې پاتې شي، هغه د بل ګټلې ازادۍ او د پېرنګي شکست څنګه د پېرنګي پهٔ فتح او ګټه تمامولے شي یعني مطلب دا چې د هندوستان د ازادۍ جنګ د دې مسلم لیګ د مشرانو پهٔ برکت به صرف د غېر مسلمو اکثریتي صوبو د

ازادي جنګ شي او مسلمان دې هم هغه غلام پاتې شي. دريمه خبره چې
دې منصوبې نه په ډاګه واضحه کېږي چې اوس سړے پوهېدے شي چې
ولې پښتانهٔ، صوبه سرحد او خدائي خدمتګار د پېرنګي د سترګو ازغي
وو ځکه چې د هندوستان په ټولو مسلمانانو کښې من حيث القوم صرف
خدائي خدمتګار هغه ډله وه چې د پېرنګي په سياست او سازشونو پوهېدل
او هم دا خدائي خدمتګار وو چې د پېرنګي د غلامۍ نه د ځان خلاصولو په
خاطر ئې د کانګرس سره په شريکه ملا تړلې وه. پېرنګي ته په دې سلسله
کښې دوه مشکلات وو چې يو خو دا صوبه د مسلمانانو اکثريتي صوبه ځکه
چې قابو په سلو کښې درې نوي (93%) مسلمانان وو او د مسلم ليګ سره
نه وو، بلکې د پېرنګي خلاف وو، او دريمه دا چې دا صوبه په داسې مقام
پرته وه چرته چې پېرنګي د شوروي اتحاد په خلاف خپله د اسلام مورچه د
خپل غرض د پاره جوړوله نو په دې خبره سړے ډېر په اسانه پوهېږي چې
ولې پېرنګي خپل ټول قوت او زور هم د دې خدائي خدمتګار تحريک په
ختمولو پسې استعمالولو او ولې هغه يو خوا نوابان، سران، خان بهادران
او دنياوي مشران نو په دې بل اړخ ئې خپل تنخواخواره مليان، پيران،
فقيران، باباګان، اخونزاده ګان او د ديني مدرسو مشران راجمع کړي وو چې
يو خوا د مسلم ليګ د سياسي پليټ فارم او په دې بل اړخ د اسلام په نامه د
ديني ممبر نه د خدائي خدمتګارو په خلاف يو مسلسل جدوجهد جاري
وساتي. غرض او مقصد ئې صرف يو ؤ چې دا د پېرنګي مخالف قوتونه د
منځه يووړے شي او دا صوبه هم د مسلم ليګ دې مشرانو ته وسپارلے شي
چې پېرنګے ئې هم د ملک په اندروني سياست کښې او هم په خپله خارجي
پاليسۍ کښې د خپل سامراجي مفاداتو د تحفظ د پاره استعمال کړے شي





## کېبينټ مشن او د شملې دويم کانفرنس

د جنګ د خاتمې سره انتخابات وشول انتخابات کنزرويټو
برطانيه کښې د جنګ د خاتمې سره انتخابات وشول انتخابات کنزرويټو
پارټۍ بايلل او ليبر پارټۍ وګټل او د چرچل په ځاے ايټلي د برطانيې
وزيراعظم شو. دلته په هندوستان کښې ويول هم د عام انتخاباتو اعلان
وکړو دا ئې اميد ؤ چې د سرسټيفورډ کرپس د اعلان او د شملې کانفرنس
د نتيجې په سلسله کښې پېرنګي کوم حېثيت مسلم ليګ له پيدا کړے ؤ.
د هغې نه فائده واخلي. غرضيان او اسره باز په دې پوهه وو چې پېرنګي
فېصله کړې ده چې د پاکستان مطالبه تسليموي او بې د مسلم ليګ نه د بل
مسلمان هېڅ حېثيت نهٔ تسليموي او چې انتخابات د جداګانه نيابت په
ذريعه وي (چې مسلمان به مسلمان او غېرمسلم به غېرمسلم لهٔ ووټ
ورکوي)، نو بيا خو مسلم ليګ ته لاره بيخي صفا ده نو هر يو سوداګر.
کارخانه دار او شته من په مسلم ليګ را مات شو
مسلمانان واليان رياست به د خپل تحفظ د پاره مسلم ليګ سره مرسته
کوي. داسې سرکاري افسران خو په ډاګه لګيا وو. ولې چې ويول په خپله دا
خبره واضحه کړله چې خپلې داخله سکرټري ميوډي Sir Francis Mudie ته
ئې وويل؛

.......... and told him (Mudie) to impress on everyone that to appease Congress at the expanse of the Loyalists was not my

*(Wavell. The Viceroy's journal. P.177)*

ترجمه او ميوډي ته مې ووې چې هر چا باندې دا خبره
واضحه کړي چې زما پاليسي دا نهٔ ده چې د تابعدارانو په
قيمت کانګرس د لاسه کړم

ويول هم صرف دوه ډلې تسليموي: يو کانګرس او بل تابعداران Loyalista



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

مسلم لیګ هغهٔ د تابعدارانو پهٔ فهرست کښې شامل کړے دے
کله چې انتخابات خلاص شول نو د حکومت برطانیې د طرفه کیبینټ مشن راغے یو پهٔ خپله سکرټري اف سټېټ (وزیر هند)، Lord pethick Lawrence بل ور سره هماغه زوړ کرپس Sir Stafford Cripps او دریم الیګزېنډر A.V.Alexander دوي د رارسېدو سره سمدستي پهٔ خپل کار پېل وکړو او تجویز پېش شو چې پکار دي چې د جناح صاحب او جواهر لال ملاقات دې وکړے شي. ویول لیکي؛

Cripps and the other ministers thought that there ought to be a meeting between Jinnah and Nehru, not with any hope of agreement, but purely for publicity value, to show that we had done our best to secure agreement.

ترجمه: د کرپس او نورو وزیرانو خیال ؤ چې د جناح او نهرو تر منځ ملاقات ضروري دے پهٔ دې امید نه چې ګنې څهٔ معاهده وشي، بلکې صرف د مشتهري پهٔ خاطر دې دا وښودل شي چې مونږ خپل ټول توان نه کار واخست چې روغه جوړه دې وشي.

د دې ځاے نه ئې شروع کوي، د دې نه د وېول د دغه منافقت او ایمانداری جاج پهٔ اسانه اخستے کېدے شي. روغه به څنګه کېږي او چا سره به کېږي؟ دې دوېم شمله کانفرنس ته سرکار صرف د مسلم لیګ او کانګرس ممبران راوبلل. څلور څلور تنه کانګرس پهٔ خپل وفد کښې مولانا ابوالکلام ازاد، جواهرلال نهرو، سردار وله بهائي پټېل او باچا خان وټاکل او مسلم لیګ جناح صاحب، نواب زاده لیاقت علي خان، نواب محمد اسماعیل او سردار عبدالرب نشتر نومونه ورکړل. کانفرنس کښې دوه هندوان او شپږ مسلمانان وو. وېول لیکي چې جناح صاحب خو شروع د کانفرنس داسې





وکړه چې کله مولانا ازاد جناح ته د جوړ تازه د پاره لاس ورانديې کړو، نو جناح صاحب هغهٔ ته د لاس ورکولو نه انکار وکړو. وائي بسم الله او دا د یو مسلمان بل مسلمان سره اخلاق، کافر پېرنګي سره خو پهٔ ټیټه سلام علیک او لاس ورکوي. هندوانو لهٔ لاس ورکوي. څهٔ چې د پېرنګیانو ښځو سره لاس ملاووي. جناح صاحب خو د شملې کانفرنس د اندرېانې سر ته خېژولے ؤ. هغهٔ ته پته وه چې چونکې هغه نهٔ رضا کېدو، نو دغه کانفرنس سره ناکامه شو نو اوس به هغه څوک راکوزوي؟ د پاکستان نه لاندې خبره هغهٔ نهٔ منله او د پاکستان مسئله کانګرس نه قبلوله. دغه کانفرنس هم پهٔ دغه خبره ناکامه شو چې مسلم لیګ پهٔ دې ټینګ ښښتے ؤ چې هغه دې د ټول هندوستان د ټولو مسلمانانو واحد نمائنده تسلیم کړے شي

کیبینټ مشن دا اعلان کړے ؤ چې کهٔ چرې کانګرس او مسلم لیګ سره پهٔ خپل منځ کښې متفق شي، نو بیا به مشن د خپله خانه اعلان کوي چنانچې د (1946) کال د می پهٔ شپاړسمه مشن د خپل اړخه دا اعلان وکړو چې هندوستان به یو یونین (وفاق) وي او دې یونین سره به صرف درې محکمې وي؛ دفاع، امورخارجه او مواصلات. بیا ئې د هندوستان ټولې صوبې پهٔ درې ګروپونو کښې تقسیم کړې وې، مسلم او غېر مسلمو پهٔ حېثیت؛

- ګروپ (بي) کښې پنجاب، سندهـ، سرحد او بلوچستان.
- ګروپ (سي) کښې بنګال او اسام.
- ګروپ (اے) کښې باقي پاتې شپږ صوبې لکه بمبی، مدارس، بهار، اړیسه، سي پي او یوپي.

تجویز دا ؤ چې دا نوې منتخبې صوبائي اسمبلۍ به د مرکزي ائین سازې اسمبلۍ د پاره ممبران منتخب کوي چې هغوي د یونین او د دې درې محکمو د پاره ائین او قانون جوړ کړي او د حکومت برطانیې سره د ملک د ازادۍ او اختیار خپلولو د پاره نمائنده اداره وي. د صوبو د پاره به قانون



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

صوبائي اسمبلۍ جوړوي او کهٔ چرې صوبې غواړي، نو د دې ګروپونو پهٔ شکل کښې یو اتحاد هم کولے شي او درې ګروپونو د پاره د ائین سازې اداري شکل هم اختیارولے شي او هرې صوبې لهٔ دا اختیار هم ورکړے شوے دے چې کهٔ لس کاله پس هغه مناسب ګني نو د ګروپ نه بهر ته وتلے شي.

کهٔ دې تجویزونو ته پهٔ غور وکتل شي نو دې د دواړو ډلو قابو مطالبې منظورې کړې. کانګرس د هندوستان اتحاد غوښتو، نو دغه وفاقي حکومت قصور هلته د کمزوري مرکز پهٔ حیثیت موجود ؤ. مسلم لیګ د غیر مسلمو د ګڼ شمیر (عددي برتري) نه وېریده. نو د ګروپونو پهٔ شکل کښې د دغې هم علاج راوتے ؤ. اختیار هم قابو ټولو صوبو ورکیدے شول (ماسیوا د دغو دریو محکمو نه).

کېبینټ مشن دا اعلان هم وکړو چې د وائسراے هند د مشرۍ د لاندې دې یو عبوري حکومت جوړ کړے شي. دا هم اعلان وشو چې د ائین سازې اسمبلۍ د انتخاباتو سره به عبوري حکومت پهٔ مرکز کښې جوړېږي. خو چې کومه ډله د مشن د (16) مۍ دا تجویزونه نهٔ قبلوي نو هغه به پهٔ مرکزي حکومت کښې نهٔ شي اخستے.

## مسلم لیګ ته بنیادي مشکل

د مسلم لیګ مشرانو ته یو بنیادي مشکل سمدستي دا پېښ شو چې د هغوي د سر ټول لیډران خو د هغه صوبو اوسېدونکي وو چې هغه د غیر مسلمو اکثریتي صوبې وې نو هغوي به د ګروپ (اے) پهٔ اسمبلۍ کښې پاتې کېدل. نور خو به کېده، خو جناح صاحب پهٔ خپله او نواب زاده لیاقت علي خان اخوا پاتې کېدل. وېول وائي چې اولني وضاحت مسلم لیګ دا





غوښتنو چې ایا د یوې صوبې اسمبلۍ سره به دا اختیار وي چې هغه دې د خپلې صوبې نه بهر د بلې صوبې سرے انتخاب کړي؟ وېول وي: هو نو پهٔ داشان د مسلم لیګ دغه لیډران او مشران د بنګال د صوبې د طرفه د ائین سازې اسمبلۍ ممبران منتخب کړے شول اګر چې نمائندګي د بمبۍ او یو پي کوله. پهٔ مختلفو ګروپونو کښې د ائین سازې اسمبلۍ د ممبرانو تعداد:

ګروپ اے (A)

| صوبه | غیرمسلم | مسلم |
|---|---|---|
| مدارس | 45 | 4 |
| بمبئ | 19 | 2 |
| یو پي | 47 | 8 |
| بهار | 31 | 5 |
| سي پي | 16 | 1 |
| اړیسه | 9 | 0 |
| ټول ټال | 167 | 20 |

ګروپ بي (B)

| | | |
|---|---|---|
| پنجاب | 8 | 16 سکهان څلور |
| سرحد | 0 | 3 |
| سندهـ | 1 | 3 |
| | 9 | 22 څلور سکهان |

ګروپ سي (C)

| | | |
|---|---|---|
| بنګال | 27 | 33 |
| اسام | 7 | 3 |
| | 34 | 36 |



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلم لیګ ته سمدستي دا خبره څرګنده شوله چې په ګروپ سي کښې دا تناسب 62 مسلمانان او 34 غیرمسلم خو څهٔ خطرناک غوندې دي. کهٔ چرې غیرمسلمو یو دوه مسلمانان هم وغولول، نو خبره خلاصه ده. دې خوا پهٔ پنجاب کښې څهٔ حده پورې دغه مشکل ؤ. 16 مسلمانان وو او 12 غیر مسلم ولې دې سره د پنجاب یو بل مشکل هم ؤ مسلم لیګ ته چې هلته خوا انتخابات یونینسټ پارټۍ ګټلي وو او هغهٔ کښې مسلمان، هندوان او سکهان ټول شامل وو ولې اصلي مشکل مسلم لیګ ته دې ځل لهٔ دا پېښ ؤ چې مشن دا اعلان پهٔ ټینګه کړے دے چې کهٔ چرې کومې ډلې دا تجویزونه نا منظورکړل نو هغه به حکومت کښې نهٔ شي اخستے او بس پاتې به وي. مسلم لیګ پهٔ دې ښهٔ پوهه وو چې کهٔ د حکومت نه بهر پاتې شو، نو پاتې به وي او ملګري ترې تښتي د پاتې کېدو نه دي.

## مسلم لیګ د پاکستان د مطالبې نه لاس اخلي

د ال انډیا مسلم لیګ کمېټي راغونډه شوله. د مشن پهٔ تجویزونو ئې غور وکړو او د 1946 کال د جون پهٔ شپږمه ئې دا منصوبه منظورکړله او پهٔ دا شان د متحده هندوستان د وفاق حېثیت ئې تسلیم کړلو او د پاکستان د مطالبې نه ئې لاسونه ووینځل.

مسلم لیګ کلک پهٔ طمعه ؤ چې کانګرس به دا تجویزونه نامنظورکړي. د ګروپونو پهٔ تشکیل او پهٔ هغې کښې پهٔ جبري شمولیت باندې به ضرور اعتراض کوي خو پهٔ 25 د جون 1946 د جون پهٔ خپلې ډایرۍ کښې لیکي چې؛

> The worst day yet..........congress has accepted the statement of may 16 ....:.. Now Cripps having assured me categorically statement of May 6th.





(P. 305)

ترجمه: تر ټولو نه خرابه بله ورځ. کانګرس د مې د شپاړسمه بیان منظور کړو..... زهٔ خو کرپس پهٔ واضحه ډول ډاډه کړے وم چې کانګرس به هېڅ کله د مې د شپاړسمې بیان منظور نهٔ کړي.

وېول خو د کانګرس پهٔ دې منظورۍ ډېر مایوسه او خوابدے شو د هغهٔ خو دا پوخ یقین ؤ چې کانګرس به دا تجویزونه ونهٔ مني. د هغهٔ خو پهٔ خپل ذهن کښې هم هغه د ټوټې کولو پلان Breakdown Plan ګرځېده او پهٔ هغه ذهن ئې سوچ کولو. دلته ورله کانګرس ټوله لوبه ورانه کړله. پهٔ خپله تسلیموي چې؛

> Congress man oeuvres have now put us in a very difficult position, both with Mr.Jinnah and the formation of an intetim govt
>
> *(Wavell,The Viceroy's Journal, p.303)*

ترجمه: د کانګرس چالونو خو اوس مونږ پهٔ یو مشکل صورت حال کښې راګېرکړي یو، جناح سره هم او د یو عبوري حکومت د جوړولو پهٔ بابت هم.

وېول سره یواځې خپل غم دے. د جناح صاحب غم هم وائسرائے سره دے چې د کانګرس دې منصوبې منظورولو مونږ ته او جناح صاحب دواړو ته مشکلات پېښ کړل وېول دا کوشش شروع کړو چې پهٔ هره لاره وي د کانګرس دا منظوري نا منظوره کړي چې دا پهٔ بددیانتۍ شوې ده.

> Unless we decide that the Congress is dishonest, as it is in fact, and refuse to regard it an acceptance.
>
> *(Wavell, p.304)*

ترجمه: ترڅو چې مونږ فېصله ونهٔ کړو چې کانګرس بددیانته دے. لکه حقیقت چې دے هم او د دې نه منکر نهٔ شو دا



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظوري، منظوري نۀ ده، نو خبره خرابه ده.

وېول پۀ خپله ډېر مجبور ۇ او د هغۀ چې څۀ زړۀ غوښتل او د هغۀ پۀ خپل ذهن کښې چې کومه منصوبه وه، پۀ هغې کښې ورته مشلات دې برطانوي وزيرانو پېش کړل. پۀ دوي ئې وس نۀ رسېدو ولې چې هغه حاکمان وو وزير هند پۀ خپله موجود ۇ. د وېول دا مشورې او رائې هغوي ته غېر معمولي ښکاريدلې. هغوي خپلې فېصلې پۀ خپله کولې او دغه فېصلو باندې وېول خوابدے ۇ خو بې وسه ۇ. ولې پۀ دې طمع ناست ۇ چې دا مشن به اخېر برطانيې ته پۀ بيرته لاړ شي. او زۀ به يو وارې بيا خپلې فېصلې د خپلې منصوبې مطابق کوم. مسلم ليګ چې د پاکستان د مطالبې نه دستبرداره شو. ځکه چې مشن پښه ټينګه کړه. نو وېول خو پۀ ډاګه وائي چې د پاکستان د منصوبې اثر پۀ ټول سلطنت پرېوځي، نو د دغې علاج به څۀ کېږي؟ تراوسه پورې خو وېول مسلم ليګ لۀ دا تسله ورکړې وه او دا ئې ثابته کړې وه چې کۀ مسلم ليګ نه رضا کېږي. نو روغه جوړه به نۀ کېږي او چې روغه جوړه نۀ کېږي. نو حکومت به کانګرس ته نۀ سپارلي کيږي ولې اوس خو مشن پۀ کلکه دا خبره وکړه چې کومه ډله دا فېصله نۀ منظوروي. نو هغه به حکومت کښې نۀ شاملېږي. وېول پۀ دې فېصله ډېر خوابدے ۇ او يو ځل نيم خو تر دې لاړ چې د مشن مشرانو ته ئې ووې چې کۀ چرې د مسلم ليګ نه بغېر د کانګرس سره سجهوته وشوله، نو زۀ به استعفي ورکړم:

> The Viceroy was not prepared to carry on if they gave way to congress demands.
>
> *(Hodson, The Great Divide, p.151)*

ترجمه: کۀ چرې هغوي د کانګرس مطالبې منلي وے نو وائسرا ے نور کار کولو ته تيار نۀ ۇ.

وېول پۀ خپلو ډايرو کښې دا خبره بار بار کړې ده چې کانګرس دا منصوبه پۀ منافقت منلې ده. د زړۀ ئې نۀ مني. دې کښې ئې هم څۀ چل دے. ولې وېول نه





مشکله دا وه چې کانګرس وئيلي وو چې مونږ ئې منو او د وېول دا خبره چې خط ئې دومره پۀ استاذۍ ليکلے ۇ او چې ټول پېرنګيان او د هغوي ماهرين کښيناستل، نو هېڅ څۀ داسې ګنجائش ئې پکښې پېدا نۀ کړے شو:

> We then discussed the congress letter of acceptance which is really a dishonest acceptance, but is so cleverly worded that it had be regarded as an acceptance.
>
> *(Wavell, the Viceroy's jourani, p.305)*

ترجمه: بيا مونږ د کانګرس د منظورۍ پۀ خط باندې بحث وکړو چې هغه پۀ رښتيا يو بدديانته منظوري ده ولې خط دومره پۀ استاذۍ ليکل شوے دے چې بله چاره نشته چې دا منظوري ونۀ ګڼل شي.

د وېول خو اول تجويز مشن ته دا ۇ چې مسلم ليګ غېر مشروط طور د پاکستان د مطالبې نه دستبرداره شوې دې خو مونږ لۀ پکار دي چې عبوري حکومت هغوي ته يواځې پۀ حواله کړو. ولې چې کانګرس دا منظوري پۀ منافقت کړې ده خو چې کله پۀ هغه خط کښې هغوي څۀ ګنجائش پېدا نۀ کړے شو. نو بيا وېول دا تجويز پېش کړو چې زۀ به سمدستي اوس سرکاري حکومت جوړ کړم او د دې سياسي حکومت پۀ رغونه به پۀ قلاره بيا سوچ او غور وکړو خو دغه تجويز هم سرکارونه منلو. لارډ وېول اخېر ډېر پۀ مات زړۀ د (1946) کال د جولائي پۀ 22 جناح صاحب او جواهرلال نهرو ته خطونه وليکل او د عبوري حکومت تجويز ئې ورته پېش کړلو.

## عبوري دور

پۀ مجوزه مرکز کښې به څوارلس (14) وزيران وي. شپږ (6) د کانګرس چې يو به پکښې هريجن ۇ، پينځۀ (5) د مسلم ليګ او درې (3) به وائسرا ے هند



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامزدول چې يو به پکښې سکهـ ؤ.

کانګرس پۀ دې څو اعتراضونه کول يو خو دا چې دا کابينه دې مکمل طور خود مختاره وي او وائسرا ے ته دې دا حق نۀ وي حاصل چې هغه دې د دې فېصلې رد کړي يعني د وائسرا ے حېثيت د يو ائيني سربراه وي بلا اعتراض د نهرو دا ؤ چې د اقليتونو دا نامزدګي هم مناسب نۀ ده ولې زما پۀ خيال اصلي جګړه او لانجه لکه چې پۀ دې پېښنه شوې وي چې کله دا درې ګروپونه جوړېږي، نو دې کښې دې هرې صوبې ته انفرادي طور (يعنې ځان ځاني) فېصله کول وي يعني ګروپ سي (C) کښې دې اسام حق لري چې خپله فېصله ځانه لۀ، او پۀ ګروپ بي (B) کښې دې سرحد او سندهـ خپلې فېصلې پۀ ځان ځاني کوي، ولې چې کۀ چرې بنګال او اسام پۀ شريکه فېصله کوي، نو د اسام د ووټ څۀ حېثيت پاتې کېږي؟ هم دارنګې چې پۀ ګروپ بي (B) کښې د پنجاب اتۀ ويشت (28) ممبران وو. څلور د سندهـ او درې د سرحد وو، نو چې دوي پۀ شريکه ووټ کوي، نو د وړو صوبو د پاره ترې نه څۀ مطلب ولاړېږي؟ مسلم ليګ پۀ دې خبره ټينګ ؤ چې نۀ، ګروپ به پۀ شريکه فېصله کوي.

جناح صاحب د مسلم ليګ ټول هندوستان کونسل پۀ بمبۍ کښې راوبللو او هغۀ ته ئې بيا د سره پۀ ټوله معامله د غور کولو ووې. مسلم ليګ د (1946) کال د جولايۍ پۀ (27) دا تجويز پاس کړو چې چونکې کانګرس به پۀ مرکزي ائين سازه اسمبلۍ کښې قطعي اکثريت لري نو د دې وجې نه به هغوي د دغې اکثريت پۀ زور خپلې ټولې فېصلې کوي. بيا ئې د مشن پۀ وزيرانو ډېر اعتراضونه وکړل. د ګيلو شکوو کولو نه پس ئې دا اعلان وکړو چې مسلم ليګ هغه خپله د ايجاب او قبول کړې فېصله واپس اخلي او اوس د 16 مۍ هغه پلان هغۀ ته منظور نۀ دي. دغه کونسل خپلې مجلس عاملې لۀ دا اختيار ورکړو چې د خپل سياسي مقصدو د حاصلولو د پاره دې د





راست اقدام" Direct Action منصوبه تياره کړي معلومېږي داسې چې کله د راست اقدام" يا حکومت وخت سره نېغ پۀ نېغه د مقابلې فېصله وشوله نو چې جناح صاحب چاپېره وکتل نو هغۀ نه اخوا دې خوا ټول سران. نوابان، نواب زاده ګان، خان بهادران، خان صاحبان او جاګېرداران راتاو وو. نو دا فېصله هم وشوله چې د پېرنګيانو ورکړې شوي ټول خطابات او القاب به واپس کېږي.

د عبوري حکومت پۀ رغونه کښې جناح صاحب اعتراض وکړو چې يو خو مسلم ليګ ته د کانګرس سره برابره نمائندګي نۀ ده ورکړے شوې. دويمه دا چې کانګرس باندې دا بنديز نۀ دے لګېدلے چې هغه به د خپله طرفه يو مسلمان وزير نۀ شي نامزد کولے، دريمه دا چې د فرقه وارانه ووټ وضاحت نه دے شوے، يعني چې د کومې فرقې پۀ حقله فېصله کېږي نو د هغې اکثريت به دا فېصله کوي. دا اعتراضات به چا څنګه منل؟ د کانګرس او مسلم ليګ مساوي نمائندګي پۀ کوم تناسب مسلمانان پۀ ټول هندوستان کښې لس کروړه وو او غېر مسلم دېرش کروړه. د انتخاباتو نه پس مسلم ليګ صرف دوه صوبې سندهـ او بنګال وو.

پنجاب کښې يونينسټ وواو نورې ټولې پاتې صوبې د کانګرس سره وې بله دا مطالبه چې کانګرس د خپلې برخې نه مسلمان وزير نه اخلي. دا پۀ کوم دليل؟ يعني د مسلم ليګ د خوشحالولو د پاره دې کانګرس دا ومني چې ګني هغه صرف د غېر مسلمو نمائندګي کوي او کۀ جناح صاحب پۀ رښتيا د مسلمانانو غمخور ؤ، نو کۀ د کانګرس د اړخه يو مسلمان وزير راشي نو دۀ ته څۀ تکليف ؤ؟

حقيقت دا دے چې مسلم ليګ ډېر پۀ سخت مشکل کښې ؤ. د شملې اولني کانفرنس نه پس مسلم ليګ د وېول پۀ رويه او ډاډ دا تاثر پېدا کړے ؤ چې د پاکستان جوړولو فېصله وشوله. او بله دا چې پېرنګے ئې د مسلم ليګ نه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



علاوه د نورو مسلمانانو نمائنده حېثيت نهٔ تسليموي نو ځکه خو پهٔ دې انتخاباتو کښې شته منو، کارخانه دارو، تاجرانو، جاګيردارانو، مسلمانانو واليان رياست او مسلمانانو سرکاري افسرانو او پېرنګيانو اود هغوي ملګرو پهٔ شريکه کوشش کړے ؤ او مسلم ليګ ئې کامياب کړې ؤ اوس چې دغه خلقو وليدل چې دا خو بيا يو متحده هندوستان او وفاق پهٔ ځاے پاتې شو او مسلم ليګ د خپل ټول عمري سياست يعني د پاکستان د قيام نه لاس ووينځل نو هغوي سره غم پېدا شو. دې خود غرضو خو ځان لهٔ د پاکستان پهٔ حساب يو مقام پېدا کړے ؤ. کارخانه دارو او تاجرانو خو د خپلو تېلو خولې ازادې کړي وې چې ځو بهٔ پاکستان ته او هلته به کارخانې جوړوو، بې مقابلې تجارت به وي. سرکاري افسران کله بې واره ترقي کوي؟ چې دلته پرې دا ډز وشو چې د پاکستان مطالبه خو مسلم ليګ پرېښوده. نو پهٔ دوي خو رېښتيا چې پرغز راغے ولې مسلم ليګ ته هسې هم ګرانه وه. د 1940 نه را واخله، دا تېر ځو کاله خو مسلم ليګ بې د پاکستان نه بله خبره نه کوله او دا ئې يواځې پهٔ سياسي حېثيت نهٔ بلکې دې لهٔ ئې يو مذهبي رنګ ورکړے ؤ چې دا د اسلام د خاطره کېږي نو چې د پاکستان مطالبه ئې پرېښودله، نو يو ګوند ئې د خپلې مذهبي فريضې نه هم انکار وکړو. د عقيدې نه وګرځېدل. پرې د پاسه هغه د دوو قومونو نظريه "نظريه پاکستان" هغه بې شمېره تجويزونه، ترميمونه، هغه صدارتي خطبې او تقريرونه هر څهٔ ئې هضم کړل او د کلونو خپل سياست او نظريه ئې يو وارې د سودا بازۍ نه قربان کړله. مسلم ليګ ته د خلقو دا خولهٔ هم جوړه شوله چې تاسو خو د دا تېر انتخابات د پاکستان پهٔ نامه ګټلي وو او مسلمانانو ته مو دا د جنت ټوټه د خپلې مذهبي ذمه وارۍ پهٔ حېثيت وړاندې کړې وه نو اوس تاسو چې دغه مطالبه پرېښودله، نو قام لهٔ به څهٔ ځواب ورکوئ؟

حقيقت دا دے چې مسلم ليګ خپل څهٔ بنيادي سياسي او اولسي حېثيت نه





لرلو. هغې کښې ټول د پېرنګي د طرفه خطاب يافته او مراعات يافته مشران وو د هغوي ټول قوت د انګرېز ملاتړ ؤ. هغوي د پېرنګي پهٔ ډانګورو اوچت اوچت کېدل خو چې کله ترې نه د مشن مشرانو ډانګورې راښکلې نو دوي بيا پرې پراتهٔ وو خپل قوت ئې نهٔ لرلو.

دې خوا پېرنګي ته هم دا مشکل پېښ ؤ. هغه دا تېر ځو کلونه پهٔ دې تېر کړي وو چې يوه او صرف يوه خبره به ئې کوله چې چونکې د هندوستان مختلفې فرقې پهٔ خپل منځ کښې نهٔ رضا کېږي، نو مونږ مجبور يو چې اقتدار ځان سره وساتو.

ولې اوس خو دغه بهانه ورکه شوله او کېبينټ مشن منصوبه دواړو ډلو ومنله. نو اوس پېرنګي پهٔ کومه بهانه اختيار هندوستانيانوته نهٔ حواله کوي؟ نو دا پهٔ پېرنګي هم يو ډېر سخت سياسي غوزارؤ. بله دا چې پېرنګي خو ځان لهٔ د وائسراے هند لارډ وېول پهٔ ذريعه خپل Break.down plan جوړ کړے ؤ نو چې دا د مسلم ليګ او کانګرس روغه وشي. نو دا خو دغې هر څهٔ سر وخوړو.

د مشن د روانېدو نه پس سمدستي لارډ وېول د سرکاري افسرانو يو مرکزي حکومت کار چلولو پهٔ خاطر جوړ کړو. نيت ئې دا ؤ چې اوس به بيا خپله زړه لوبه روانه کړي او د دواړو ډلو سره به خبرې اترې شروع کړي. ولې حکومت برطانيه پهٔ دې ټينګ ؤ چې چونکې مسلم ليګ دغه منصوبه نا منظور کړې ده. نو د دې وجې نه به اوس د وزارت دعوت صرف کانګرس لهٔ ورکېدې شي. وېول داسې وليکل چې زهٔ کانګرس لهٔ دعوت ورکوم. خو کهٔ هغوي بيا د مکملو اختياراتو مطالبه وکړله. نو زهٔ به ورته صفا ووايم چې زهٔ د کانګرس د ټول هندوستان نمائنده نهٔ ګڼم، نو د دې وجې نه زهٔ کانګرس ته څنګه اختيار وسپارم؟

I would say that H.M.G. have the fullest intention of



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



handing over power to Indians, and wish a United India. But they do not recognize Congress as representing of handing over power to Congress alone.

*(Wavell, the Viceroy's Journal p.323)*

ترجمه: زۀ خو وایم چې برطانوي حکومت هندوستانیانو ته د اقتدار منتقولو پوره اراده لري او متحده هندوستان غواړي. مګر هغوي کانګرس د ټول هندوستان نمائنده نۀ تسلیموي او صرف کانګرس د اقتدار حواله کولو اراده لري.

پېرنګے هم عجیبه شے دے. چې خپل غرض ئې نۀ وي، نو بیا دې ائین، قانون، انصاف، عدالت او جمهوریت هر څۀ مني، خو چې خپل غرض پیدا شي نو ځان پۀ برغو ړوند کړي. نن ئې دوه ګزه را اخستي دي، کانګرس ته دیر او مسلم لیګ ته ئې پۀ بل ګز وهي. دا کوم اعتراض چې نن دے پۀ کانګرس کوي، داسې اعتراض ده چرې پۀ مسلم لیګ کړے وُ؟ او تجربې څۀ وښودل؟ خو چې یو ځل پېرنګي پښه ټینګه کړه نو نور خو پرېږده چې مسلم لیګ ورته د سره هډو هغه پاکستان ور پرېښودو ولې دې خوا هندوستان کښې د ائیني تعطل پۀ خلاف حرکت شروع شو. هړتالونه، نوټسونه او احتجاجونه وو. پېرنګے پوهه شو چې اوس به یوې ډلې سره روغه ضروري وي. د دې نه پس وېول جواهر لال نهرو راوغوښتو چې د عبوري حکومت خبره ورسره وکړي. دا ئې هم ورته ووې چې د مسلم لیګ سره د روغې جوړې څۀ لارې را ایستل پکاردي بلکې تردې لاړ چې د مسلم لیګ د پاره پۀ وزارت کښې څو چوکۍ پرېښودل پکار دي چې د راتلو طمع ئې وي. اوس وېول مجبور دے. د زړۀ د پاسه کانګرس حکومت ته رابلي؛

I dislike intensely the idea of having an interim govt. dominated by one party, but I feel I must try to get congress in as soon as possible.





*(Wavell, the Viceroy's Journal p.326)*

ترجمه: زۀ شدیدا د یوې پارټۍ تر اختیار لاندې د یو عبوري حکومت نظریه نۀ خوښوم ولې زۀ محسوسوم چې باید څومره زر ممکنه وي چې کانګرس را دننه کړم.

Secretary of state cabled spproving my proposed approach to Nehru. I don't like it.

*(Wavell, the Viceroy's Journal p.329)*

ترجمه: وزیر هند تار راکړو او زما روش ئې لۀ نهرو سره منظور کړو. زۀ پرې خوشحاله نۀ یم.

خو مسلم لیګ هم دا څرګندوي چې کۀ اوس هم وزارت ته رانۀ غللې. نو زۀ د حکومت برطانیې د لاسه مجبوره یم چې دغه شان پر مخ لاړ شم

## د مسلم لیګ راست اقدام
## (Direct Action)

مسلم لیګ د یو سیاسي تنظیم پۀ حېثیت د خپلو مطالبود منلو د پاره د پالیسۍ رفع کولو اختیار ضرور لرلو. د "راست اقدام" د فېصلې کولو نه مخکښې باید چې هغوي پۀ دې خبره فکر کړي وے چې د هغوي پۀ تحریک او د کانګرس پۀ تحریک کښې یو بنیادي او ډېراهم فرق وُ. کانګرس د خپل ملک د ازادۍ او د وطن د خود مختارۍ د پاره د حاکم انګرېز پۀ خلاف تحریک چلولو. دلته د مسلم لیګ راست اقدام خو د پېرنګي پۀ خلاف نۀ وُ. د هغۀ د ټول جدوجهد مخه خو صرف کانګرس ته وه او کانګرس ته هم د یو قامي ډلې پۀ حېثیت نۀ، بلکې د هندوانو د ډلې پۀ شکل کښې ئې د هغې برخلاف خپل زور" او قوت استعمال کړي او ټول تقریرونه، بیانونه، پروپېګنډې هر څۀ ئې پۀ دې شکل کښې وي چې لکه دا ټول اختیار او



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتدار د هندو سره وي او هغه ئې مسلمان لۀ نۀ ورکوي. پیرنګي خو ترې نۀ مسلم لیګ د منځه ایستے ؤ نو لازمي خبره ده چې دغه قسمه "راست اقدام" به د هندوستان د مختلفو فرقو تر منځه وي او چونکې مسلم لیګ کانګرس یو داسې قامي جماعت نه تسلیمولو چې هغه د هندوستان د ټولو فرقونمائندګي کوي، بلکې جناح صاحب به کانګرس ته وې هم "هندو کانګرس" نو لازمي خبره وه چې د دې "راست اقدام" مخه به ضرور هندو ته وې او پۀ دا شان به پۀ هندوستان کښې د پیرنګي د کلونو خوارۍ او پالیسۍ پۀ منطقي نتیجه کښې نن هندو او مسلمان پۀ سیاسي مورچه نۀ. بلکې پۀ "راست اقدام" یو بل ته مخامخ شي او دا ټول عمل به د خانه جنګۍ پۀ مقام تمام شي.[24]

د 1948 کال د اګست 16 د "راست اقدام" د پاره و ټاکلے شول. نور ځاے به مسلم لیګ څۀ کړي وي، ولې پۀ بنګال کښې د مسلم لیګ حکومت ؤ او حسین شهید سهروردي د هغې صوبې وزیراعلي ؤ. نو هلته هغۀ پۀ حکومتي سطح د "راست اقدام" اعلان وکړو او مهرباني ئې دا هم وکړله چې پۀ دغه ورځ ئې پۀ ټوله صوبه کښې د عام تعطیل یعني د چهټۍ اعلان وکړو چې د مظاهرو انتظام پۀ سرکاري توګه وشي. چې سړي ورته ګوري، نو پۀ دې منطق نۀ پوهیږي چې اخیر د صوبې حکومت ته د دې خبرو څۀ ضرورت ؤ چې پۀ "راست اقدام" کښې دې پۀ خپله حصه واخلي؟ دا خو د ځان پۀ خلاف د امن امان خرابولو کوشش ؤ. دې نیک بختو دا هم اندازه نۀ لګوله

[24] اېس کے مجمدار خپل کتاب 'جناح اور ګاندهي' کښې لیکلي دي چې د 'راست اقدام' جلوس د حسین شهید سهروردي پۀ مشرۍ کښې وتلے ؤ. دې جلوس د هغه مسلمانانو دوکانونه مارکیټونه هم ولوټل، سامانونه ئې ورله بهر راالوه کړل، ګاډي او ټرامونه ئې پۀ اور پسې کړل چې هړتال او تاله بندۍ کښې ئې برخه نۀ وه اخستې. ښکاره دې وي چې مجمدار د ګاندهي هندو ناقد او د جناح پلوال لیکوال دے





چې کۀ د هندو او مسلمان پۀ سطح پۀ بنګال کښې فساد وشي، نو دا اور به نور هندوستان ته نۀ خوریږي؟ نو د هغو صوبو د مسلمانانو به څۀ حال کېږي؟ کوم ځاے چې هغوي پۀ اقلیت کښې دي، ولې چې د مسلم لیګ د سیاست خاصیت هم دا ؤ چې هغه پۀ هغو صوبو کښې مضبوط ؤ، کومې چې د غیر مسلمو اکثریتي صوبې وې او چې پۀ دغه د غیر مسلمو پۀ اکثریتي صوبو کښې د فرقه وارانه تعصب او نفرت فضا خوره شي، نو د هغې فائده به چا ته رسي؟ او نقصان به د چا کیږي.

وزیراعلي سهرودي صاحب پۀ خپله د "راست اقدام" د جلوس مشري وکړله او نتیجه هم هغه وشوله څۀ چې به کېدله. فساد شروع شول. مسلمانانو شروع کړو، هندوانو تود کړو او لویه تباهي بیا سکهانو وکړله. مسلمانان پۀ کلکته کښې هم پۀ اقلیت کښې وو. د سکهانو د کلکتې پۀ ټرانسپورټ قبضه وه او قابو ټول ټیکسیز د سکهانو وې.

هاډسن لیکي؛

> Whole streets were strewn with corpses – men, women and children all communities. impossible to count, let alone identify. If the Muslims gave the provocation and started the holocaust, they were in minority in the city.
>
> ترجمه: ټولې لارې کوڅې د ټولو فرقو سره تعلق لرونکو سړو، ښځو او ماشومانو د لاشونو نه ډکې وې. شناخت خو پریږده، شمېرل ئې ګران وو. یو خوا مسلمانانو (مسلم لیګ) اشتعال ورکړو او تباهي ئې شروع کړه. نو بل خوا هم هغوي د دې تباهۍ زیات ښکار شول. ځکه چې هغوي پۀ ښار کښې اقلیت وو:

کلکه چونکې یو تجارتي او صنعتي مرکز ؤ، نو د ټول هندوستان د ټولو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



صوبو نه پهٔ لکهونو مزدوران او کاروباري خلق دلته موجود وو. پهٔ خصوصیت سره ورپورې د بهار د مقابلتاً غریبې او پسمانده صوبې ډېر خلق دلته د روزګار پهٔ سلسله کښې موجود وو چې پکښې اکثریت د غیر مسلمو ؤ او چې کله د کلکتې د فساداتو پهٔ نتیجه دغه خلق وتښتېدل او خپلو خپلو علاقو ته لاړل او د مسلم لیګ "راست اقدام" پهٔ نتیجه کښې ئې د وژلو ترلو، سېځلو او ښځو تښتولو قیصې څهٔ حقیقت او څهٔ پهٔ ډېره مبالغه هلته ورسولې نو دې د یو داسې فرقه وارانه نفرت، کرکې او دښمنۍ داسې اور ولګولو چې د هغې مړهٔ کول بیا دومره اسان نهٔ وو او هغه کاروند پهٔ دې دوران کښې وشول چې د انسانیت او سړیتوب سر ورته ټیټ شو. دا خبره خو څرګنده وه چې د دې قسمه فساداتو نه ئې د پېرنګي نه بل هیچاته هم فائده نهٔ رسېده. د پېرنګي د قابو سلو کالو فرقه وارانه پالیسۍ اخېر رنګ راوړو او دومره حد ته ورسېد چې اوس خو مسلمانانو او غیر مسلمو د یو بل پهٔ مریو چړې ولګولې.

## عبوري حکومت

هم دغه د 1946، کال د اګست 16 ؤ یو خوا سهروردي صاحب د کلکتې پهٔ ښار کښې د هندو مسلم فساد اور ولګولو او هم دغه ورځ وه چې جواهر لال نهرو کوشش وکړو چې د عبوري حکومت پهٔ جوړولو کښې جناح صاحب هغه سره تعاون وکړي. د نهرو تجویز دا ؤ چې پهٔ مرکز کښې به 14 وزیران وي.
شپږ د کانګرس، پینځهٔ د مسلم لیګ او درې د اقلیتي فرقو، یعني یو سکه، یو عیسائي او یو پارسي خو جناح صاحب هم پهٔ هغه خپل مقام ولاړو چې د مسلم لیګ نه غیر به بل مسلمان پهٔ مرکزي وزارت کښې نهٔ وي





او کهٔ نهرو د دغې تسله جناح صاحب لهٔ نهٔ ورکوي نو بیا د روغې جوړې درک نهٔ لګي او هم پهٔ دې یوه او صرف یوه خبره ټولې فېصلې ماتې شولې. دا عجیبه منطق ؤ چې جناح صاحب ورسره نښتے ؤ. اخېر پنجاب هم د مسلمانانو اکثریتي صوبه وه او هلته د مسلم لیګ وزارت نهٔ ؤ او دې خوا د صوبه سرحد دا حال ؤ چې ټولو نه ډېره ابادي یعني (93%) مسلمانان وو او د هغې نمائندګي مسلم لیګ نه بلکې خدائي خدمتګارو کوله نو د دغې صوبې نمائندګي به پهٔ مرکز کښې جناح صاحب څنګه کوي؟ ولې بنیادي خبره خو دا ده چې کهٔ مسلم لیګ ته پهٔ مرکز کښې خپله برخه یا د خپلې برخې نه زیاته نمائندګي ورکېدے شي نو دهٔ لهٔ دا حق چا ورکړو چې دے دې پهٔ کانګرس دا بندیز ولګوي چې هغه به بل مسلمان لهٔ د خپلې برخې نه نمایندګي نهٔ ورکوي او داسې کهٔ چرې کانګرس دا دعوه کړې وي چې چونکې مسلم لیګ پهٔ دوو صوبو کښې اکثریت لري بنګال او سندهـ. نو د پنجاب او سرحد نمائندګي به مسلم لیګ نهٔ کوي او د دغو صوبو نمائندګي به غیر مسلم لیګیانو لهٔ ورکیدې شي. خو د جناح صاحب وکیلانه او قانوني ذهن به دا دلیل منلے ؤ؟ چې سړے ورته پهٔ غور وګوري، نو د جناح صاحب پهٔ مخ کښې خو لکه چې د مسلمان د نمائندګۍ او پهٔ مرکز کښې د اکثریت سوال نهٔ ؤ، بلکې ټول زور د مسلم لیګ د جمعدارۍ او د مسلمان د واحدې ټیکه دارۍ ؤ، ولې پهٔ حقیقت کښې ډېر تنګ خو وېول ؤ چې د هغه د ټوټې کولو پلان" Breakdown plan قیصه خرابېده. هغه اول نهرو ته ووې چې د مسلمانانو د نامې پینځهٔ وزارتونه خوشې پرېږده، کهٔ مسلم لیګ رضا شي. او چې نهرو دا ومنله، نو بیا وېول وې چې زهٔ پهٔ خپله جناح صاحب سره پهٔ دې حقله خبره وکړم چې سرکار اعلان کړے ؤ چې کومه ډله چې دا منصوبه نه مني، نو هغه به حکومت کښې برخه نهٔ اخلي. خو چې کله جناح صاحب دا اعلان وکړو چې د نورو خبرو ګنجائش نهٔ دے پاتې، نو هله



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس ته وېول قلار کښيناست.
کله چې د وېول دغه لوبه نا کامیابه شوله، نو بیا ئې ګاندهي جي او نهرو را وغوښتل او د راتلونکې ائین سازې اسمبلۍ د غونډې په حقله ئې لانجه واچوله. کوشش ئې دا ؤ چې په یوه بهانه او بله بهانه داسې لارې چارې وګوري چې د کانګرس را ننوتلو ته مخه ونیسي، خو اخېر حکومت برطانیې ډېر په سختۍ منع کړلو. نو اخېر په 24 د اګست 1946 کال د هندوستان د اولني قامي عبوري حکومت اعلان د جواهر لال نهرو د مشرۍ د لاندې وشو.
جواهر لال د خپل وزارت اعلان وکړو او دوې د مسلمانانو چوکۍ ئې خالي پرېښودې (چې د مسلم لیګ د دوو صوبو بنګال او سندهـ نمائندګي وکړي) ولې عجیبه خو دا وه چې کله به هم په دغه 24 اګست 1946 کښې وېول قام ته په رېډیو خطاب کولو، نو په هغې کښې ئې یو وارې بیا مسلم لیګ ته بلنه ورکړله چې اګر چې دا عبوري حکومت نن قائم شولو، خو کۀ چرې مسلم لیګ راتلل غواړي نو د هغوي د پاره هم هغه زاړه فېصله موجوده وه. او هم هغه خپل مقام د جواهر لال نهرو د حکومت قائمولو سره خو چې لکه د لارډ وېول صبر بيخي تمام شوے وي او هغه بالکل اوس په بربنډه او ډاګه د مسلم لیګ د پاره برطانوي حکومت سره ننښتو، سېکرټري اف سټېټ لارډ پېتیک لارنس په زړها د دۀ د تجویزونو مخالفت کولو او اکثر به ئې رابښکلو هم خو وېول خپلې پورې کلک ننښتے ؤ.
بله خبره چې کومې پورې وېول په ټینګه ننښتے ؤ. هغه د هندوستان ائین سازه اسمبلۍ راغونډېدو ته بیخي نۀ پرېښودله او کۀ هر څومره کانګرس دا مطالبه ګوله چې د عبوري حکومت د قیام نه پس د هندوستان سرکار پۀ دې مجبور دے چې دغه منتخبه ائین سازه اسمبلۍ را وبلي، خو وېول پۀ هېڅ شان نۀ رضا کېدو. هغه پۀ دې پوهه ؤ چې کۀ یو وارې د هندوستان دغه





منتخبه ائین سازه اسمبلۍ راوبللے شي، نو دا خو به د کېبینټ مشن پلان هغه اخېري حصه مکمله کړي او بیا پېرنګے مجبور دے چې اقتدار او اختیار هم دغه ائین سازې اسمبلۍ ته وسپاري او چې یوځل دغه د هندوستان د مختلفو صوبو منتخب شوې ائین سازه اسمبلي ناسته وي، نو بیا خو به پېرنګي د هندوستان وحدت او وفاق تسلیم کړے وي نو دا وېول کله منله. هغۀ خو د خپله جانبه دا فېصله کړې وه چې کۀ کانګرس د ائین سازې اسمبلۍ پۀ راتللو بېخي ټینګېږي نو بیا وېول ته د کانګرس د تعاون هم ضرورت نۀ شته او دوي به هم رخصت کړي.

> .........the Viceroy who was being pressed by the Congress to call the Constituent Assembly, felt he would rather lose their cooperation that go ahead with constitution. Making on a one.party basis.
>
> *(Hodson, The Great Divide, p.169)*
>
> ترجمه: وائسرا ے باندې کانګرس زور وا چولو چې ائین سازه اسمبلۍ را وبلي، لېکن هغه پۀ دې خیال ؤ چې پۀ ځاے د دې چې د یوې پارټۍ پۀ بنیاد ائین جوړ شي. د کانګرس د تعاون نه لاس وېنځل به به وي.

وېول پۀ مسلمان او مسلم لیګ څۀ کار نۀ ؤ. هغه د تاج او تخت برطانیې ښېګړه پۀ تقسیم هند کښې ګڼله او پۀ هغه خپل پلان پورې ننښتے ؤ. د هغۀ کوشش دا ؤ چې پۀ هندوستان کښې یو سیاسي بحران پېدا کړي چې د یو ائیني تعطل شکل اختیار کړي، نو بیا به حکومت برطانیه مجبوراً وېول ته ووائي چې خپل "د تېښې کولو پلان" عملي کړي. وېول پۀ خپلو ډایرو کښې لیکي چې د کومې ورې کمېټۍ پۀ رپورټ دوي دا منصوبه جوړه کړې وه. خو دغه منصوبه دۀ پۀ خپله برطانوي حکومت ته ولېږله. هلته د لندن حکومت پۀ دې ډېر بد وګڼل او وېول ته ئې پۀ واضحه ټکو ووې چې کۀ چرې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېرنګیان به دې مجبور شول چې هندوستان کښې نهٔ شي پاتې کېدے، نو بیا به هغوي په بېرته خپل وطن ته راځي او د مسلمانانو صوبو ته به نهٔ اوړي.

> (Wavell's ) proposals greatly perturbed them and they concluded that they could not justify to parliament so drastic a policy and that no this ground alone his plan was impossible. They said that if withdrawal from India became unavoidable. Then withdrawal should take place from India as a whole.
>
> *(Wavell, the Viceroy's journal, p.345)*

ترجمه: د وېول تجویزونو هغوي زیات پرېشانه کړل او هغوي دې نتیجې ته ورسیدل چې هغوي پارلمنټ کښې د یوې داسې شدیدې پالیسۍ جواز نهٔ شي پېش کولي او هم یواځې په دې سبب د هغهٔ پلان ممکنه نهٔ دے هغوي چې کهٔ چرې د هندوستا نه بېرته تګ حتمي شو. نو بیا پکار دي چې د ټول هندوستان نه انخلا وشي.

ولې وېول کله قلارېدهٔ هغهٔ دواړه کوششونه جاري ساتل چې یو خو هر څنګه چې وي، مسلم لیګ دې عبوري حکومت ته رانبباسي چې کانګرس لهٔ مخه ووهي او بله دا چې حتي الوسع کوشش دا وکړي چې د هندوستان ائین سازه اسمبلۍ د را ونهٔ بللے شي. دا دواړه کوششونه د وېول داسې وو چې دا ترې نه پهٔ ډاګه څرګندېده چې هغه د کېبینټ مشن پلان هغه همه ورکړه ئې د هندوستان خلقو لهٔ نه ورکول او کهٔ د لندن نه به هر څهٔ حکومت وي، ولې وېول پرې خان کوڼ کړے ؤ.

کهٔ یو خوا لارډ وېول تنګ ؤ چې مسلم لیګ هغهٔ د ګوتو ووټ چې د کانګرس سره پرې اوس پهٔ حکومت دننه مقابله وکړي، نو دې خول مسلم لیګ ته هم ګرانه وه. هغهٔ سره ټول مشران مراعات یافته او القابو او





خطابونو خاوندان، جاګېرداران او سرمایه داران وو او دا داسې یوه ډله وه چې دوي مخکښې خو صرف خپل ذاتي فرض ؤ. ګنې پېرنګي څهٔ د دوي رشته دار ؤ چې د هغهٔ ئې دومره خدمتونه کول؟

چې هغهٔ ورله دا خطابونه او جاګیرونه ورکول، نو د داسې قسمه خلقو بیا دین او ایمان نهٔ وي معلوم. دغه د اقتدار تابعداران وي او د خپل ذاتي غرض د سر کولو د پاره کهٔ پرون هغوي د پېرنګي تابعداري او فرمانبرداري کوله، نو وېره وه چې کهٔ پهٔ حقیقت دا خلق د پېرنګي او مسلم لیګ نه مایوسه شي او اختیار هم داسې د کانګرس سره وي، خو د دوي یوه فېصله ده چې چا سره کار وي هغه سرکاروي. بیا خو به هم دا د مسلم لیګ ممبران د کانګرس پهٔ دروازه ناست وي.

نو چې کله وېول بیا د مسلم لیګ سره خبرو د پاره جناح صاحب راوبللو نو وېول لیکي چې د جناح صاحب هغه اولنے زور نهٔ ؤ او زما د توقع نه زیات خبرو کولو ته تیار ؤ؛

> Jinnah was less aggressive and aggrieved than I had expected and easier to talk to.
>
> *(Wavell. The Viceroy's journal, p.351)*

ترجمه: جناح لږ جارح او خفه ؤ. څومره چې زما توقع وه. او خبره ورسره پهٔ اسانۍ کېدله.

دا اوس ډېره عجیبه څکه وه چې کله کانګرس وزارت قبلولو، نو د وائسرائے سره دا فېصله شوې وه چې هغه به د وزارت پهٔ معاملو کښې بې ځایه مداخلت نهٔ کوي، تر دې چې کله وېول برطانوي حکومت ته پهٔ کلکه ووې چې یواځې کانګرس ته حکومت نه دي سپارل پکار، نو سکرټري اف سټېټ ورته ولیکل چې "چونکې مسلم لیګ د مۍ 16 د تجویزونو نه خپل ایجاب او قبول واپس اخستے دے، نو د دې وجې نه هغوي اوس وزارت ته نهٔ شي تللے "مُنیا خو به هر څهٔ وائي، خو کهٔ ملا فاروق ئې هم ومني کنه" وېول



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله قلارېدو، وروسته په دسمبر کښې نهرو دا خبره د برطانيې د کابينې په مخ کښې څرګنده کړله چې وېول صاحب مسلم ليګ له په عبوري حکومت کښې د شاملېدو بلنه د هغه د مشورې څه چې اطلاع نه بغېر کړې ده؛

(Nehru) complained that the approach to the Muslim League to join the interim Govt. had been made over his head.

*(Wavell, the Viceroy's journal, p. 290)*

ترجمه: نهرو شکايت وکړو چې مسلم ليګ ته دا وېنا چې عبوري حکومت کښې شامل شي. د هغه سر د پاسه شوې ده.

خېر. خو د وېول د ملاقاتونو او ګفت و شنيد په نتيجه کښې فېصله دا وشوله چې مسلم ليګ به عبوري حکومت ته په دې شرط رانتوځي چې هغه کومه فېصله د دې د مشن د منصوبې د نا منظورۍ کړې وه. هغه به واپس واخلي او د مشن هغه د 16 مۍ منصوبه د هندوستان د وحدت او وفاق به بيا منظوره کړي يعني په مرکزي عبوري حکومت کښې د وزارتونو قبلولو په خاطر مسلم ليګ هغه خپلې توکلي لارې بيا په خولې کړلې. د پاکستان مطالبه بيا پاتې شوله او د يو متحده هندوستان په وفاقي حکومت کښې کېښناستل. يو بل د عمرونو او کلونو د جګړې مونږ ئې بېخي ډېر په بې تکلفۍ خورکړو چې په دې به نښتي وو چې په مرکزي حکومت کښې به ئې د مسلم ليګ نه بل يو مسلمان هم نه وي نو دغه دعوي ئې هم پرېښوده. بيرسټر اصف علي بدستور په مرکزي کابينه کښې وزيرپاتې شو. البته مسلم ليګ يو بل ډېر اصولي کار وکړو چې د مسلمان وزير په ځاے په خپلو پينځو نومونو کښې يو هندو له هم نمائندګي ورکړله چې د هغه نوم جوګندرناته منډل ؤ او هغه هندو څه کوې چې هغه اچهوت يعني هريجن ؤ چې دے به د يو مسلمان په ځاے په مرکزي حکومت کښې د مسلم ليګ نمائندګي کوي چنانچه مسلم ليګ د 1946 کال د اکتوبر په 15 په عبوري





حکومت کښې شامل شو، د نهرو وزارت درې ممبرانو سرت چندرا بوس، سر شفاعت احمد خان او سيد علي ظهير استعفې ورکړه او نواب زاده لياقت علي خان، مسټر آي آي چندريګر، راجه غضنفر علي خان، سردار عبدالرب نشتر وزيران مقرر شول.

وائسراے وېول دومره په بربنډه لګيا ؤ چې هغه مسلم ليګ په هر رنګه چې وي، حکومت ته راننباسي چې هغه په مسلم ليګ شرط هم مخکښې ونه منلو، د څه چې هغوي وعده کړې وه چې هغوي به د جولايۍ هغه خپله فېصله واپس اخلي او د 16 مۍ د متحده هندوستان منصوبه به يو وارې قبلوي او وائسراے هغوي له وزارت کښې شموليت هم په دې شرط ورکړے ؤ چې اول به دغه خپله فېصله واپس اخلي. وېول جواهر لال نهرو له دا تسله ورکړې وه چې مسلم ليګ به خپله ورکنګ کمېټي رابلي او دا فېصله به پرې کوي، وېول جواهر لال نهرو ته ووې چې؛

Jinnah had undertaken, in reply to call a meeting of the Muslim League Council and to reverse its decision against the statement of May 16th ……… The Working Committee meeting was not summoned until more than three months later, and then declined to call the League Council to reconsider the decision of July 1946.

*(Wavell, the Viceroy's journal, p. 174)*

ترجمه: په ځواب کښې جناح وعده کړې وه چې هغه به د مسلم ليګ کونسل غونډه را غواړي او د شپاړسم مۍ د بيان خلاف فېصله به اپوته کوي …. د ورکنګ کمېټۍ مټينګ دريو مياشتو نه زياته موده پس را وبلل شو او د مسلم ليګ د کونسل چې د جولايۍ 1946 فېصلې باندې سر دوباره غور وکړي. رابللو نه ډډه وشوه.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو خوا پهٔ دې وائسراے سترګې پټې کړې وې بله اهمه خبره دا وه چې مسلم لیګ لا هغه شان د "راست اقدام" تحریک کښې ننښتے ؤ او دې خوا د ملک پهٔ مرکزي حکومت کښې کښېناستو، نو وائسراے دومره هم کول مناسب ونهٔ ګڼل چې مسلم لیګ ته مخ واړوي خو تاسو د هندوستان حکومت کښې کښېناستی. خو اوس خو دا د خپل "راست اقدام" دا تجویز واپس واخلي ولې چې دا خو به د خپل حکومت پهٔ خلاف "راست اقدام" وي.

د کانګرس د ائین سازې اسمبلۍ د رابللو پهٔ مسئله باندې سمدستي جناح صاحب بیان ورکړو چې دغه منتخبه ائین سازه اسمبلي دې في الحال نهٔ شي رابللے چې دا عبوري حکومت لړه ساه واخلي. وېول صاحب به ایله ساه اخستي وي چې اوس به ابېغ پهٔ نېغه د کانګرس سره نه مخامخ کېږي. د مسلم لیګ او پېرنګي مفاد لکه چې مشترک وو ځکه ئې د یوې مورچې نه ډزې کولې.

ولې د زړهٔ دردېدو خبره خو دا وه چې دې خوا خو کانګرس او مسلم لیګ پهٔ وزارتونو او محکمو وېشلو کښې ننښتي وو او اخوا هندوستان د "راست اقدام" نه د لګېدلي اور پهٔ لمبو کښې سوځېدو. دا واړه فسادات خو کېدل خو پهٔ اکتوبر کښې د بنګال پهٔ مشرقي حصه (نوا کلي) کښې د مسلمان او هندو پهٔ منځ کښې فساد وشو. پهٔ زرګونو بې ګناه بنیادمان مړهٔ او ژوبل شول. د کلکتې او نوا کلي قیصې خورې شولې کهٔ پهٔ نوا کلي کښې هندوان ګېر وو. نو ورسره پهٔ خوا کښې صوبه بهار کښې د مسلمانانو نرو، ښځو او بچو قتل عام وشو. دا فساد د نومبر پهٔ میاشت کښې وشو او داسې تباهي وشوله چې پهٔ اورېدو ئې د بنیادم د زړهٔ نه وینې را جدا شي. ټول هندوستان د فرقه وارانه تعصب، نفرت، کرکې او دښمنۍ پهٔ سیند کښې لاهو روان ؤ. پېرنګے خو به ضرور خوشحاله ؤ ولې چې د وېول خپله اندازه دا وه چې څومره دا د فرقو ترمنځه دښمني کلکېږي، نو هغه هومره به د پېرنګي





ضرورت هندوستان ته پېښېږي او هله خو به د وېول منصوبه کارګره شي چې پېرنګي دې خپل ډول ډبلۍ واخلي او د مسلمانانو اکثریتي صوبو یعنې پاکستان ته دې کډه یوسي. اخوا مسلم لیګ هم د دې خبرې ثابتول ضروري ګڼل چې د هندو او مسلمان دا پهٔ یو کور اوسېدل اوس ورځ پهٔ ورځ ګرانېږي او علاج ئې صرف دا دے چې هندوستان دې تقسیم شي[25]

کانګرس د خپله جانبه کوشش کولو چې کهٔ 16مۍ د منصوبې پهٔ سلسله کښې د کانګرس او مسلم لیګ تر منځه څهٔ اختلاف وي، نو پهٔ کاردي چې دغه د ګروپونو او صوبو د حقوقو دا فېصله دې فیډرل کورټ ته وسپارلے شي، ولې جناح صاحب دا تجویز هم نامنظور کړ، لکه چې وېول پهٔ خپله لیکي؛

> They (congress) are apparently prepared to agree that the question of whether the sections make the constitution for the provinces, of the provinces make their own, should be referred to the federal Court but this Jinnah would not accept.
>
> *(Wavell, the viceroy's Journal, p.371)*

ترجمه: کانګرس ظاهراً دې خبرې منلو ته تیار دے چې دا سوال وفاقي عدالت ته وړاندې شي چې ایا ګروپونه دې د صوبې، د پاره ائین جوړ کړي یا صوبې خپل ائینونه پهٔ خپله جوړ کړي، لېکن جناح ئې نهٔ مني.

---

[25] دا ناشونې خبره ده چې انساني تاریخ دې بد ترینه فساداتو کښې باچا خان خپله د بهار او بنګال مسلمانانو د مرستې او ملاتړ د پاره هلته اوسېدو او ورسره د کانګرس ملګري هم وو چې هندوان بهٔ ئې لهٔ احترامه مخې ته نهٔ راتلل. تفصیل ئې 'زما ژوند او جدوجهد' کښې شته دے خو دې دوران مسلم لیګي مشرانو او یا جناح صاحب چرته هم د یوې فسادي سیمې روغتون یا مهاجر کېمپ پهٔ دوره د خپلو هغه مسلمانانو تپوس پوښتنه نهٔ کړې چې دوي ئې د مشرتابې دعوې بازي کوله هم ډغې پهٔ وېش کښې د پینځلس لکهه مسلمانانو د لوے چړاو باوجود هم باباے قوم پهٔ شاهانه انداز کښې جلوس کښې د ګورنرۍ حلف اخلي.



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو مطلب څرګند دے چې جناح صاحب وائي چې زۀ بې د خپله ځانه بل هيڅوک نۀ منم او وائسراے هند ورسره پۀ دې کلک او ښۀ پۀ نره ولاړ دے پۀ هندوستان کښې فرقه وارانه فسادات ورو ورو خورېدل د مرکزي حکومت او کانګرس سره ډېر تشويش شو، نهرو وائسراے هند وېول ته پۀ کلکه ووې چې اخوا پۀ ټول هندوستان کښې د فرقه وارانه فساداتو اور لګېدلے دے او د يو ځاے نه بل ځاے نه او د هغې پۀ نتيجه کښې بل ځاے ته خورېږي او دې خوا مسلم ليګ پۀ عبوري حکومت کښې ناست د مساوي نمائندګۍ دعوې کوي او د خپل حکومت برخلاف د "راست اقدام" سياست چلوي، نو کانګرس وېول ته کرښه راکښله چې يا مسلم ليګ مجبور کړي چې د 16 مۍ د پلان منظوري ورکړي او ائين سازې اسمبلۍ ته راشي کۀ داسې نۀ کوي، نو بيا مسلم ليګ مجبور کړي چې حکومت نه ووځي. او کۀ ته دا نۀ کوې، نو بيا کانګرس مجبور دے چې هغه استعفٰي ورکړي او هندوستان وېول او جناح صاحب ته پۀ حواله کړي. دا ئې هم مطالبه وکړله چې وائسراے دې سمدستي دغه د هندوستان منتخبه ائين سازه اسمبلي راوبلي.

د وېول بله لار نۀ وه. د 1946 کال د نومبر پۀ 20 ئې د 1946 کال د دسمبر د 9 د پاره د هندوستان ائين سازه اسمبلي راوبلله. جناح صاحب سمدستي اعلان وکړو چې مسلم ليګ به د دغه اسمبلۍ پۀ غونډه کښې شاملېږي ورسره ئې دا هم زياته کړه چې مسلم ليګ يو وارې بيا د کېبينټ مشن منصوبه نۀ مني. بيا خو وېول ته ګرانه شوله. ولې چې د دې اعلان نه پس خو بيا مسلم ليګ پۀ هېڅ شان هم پۀ عبوري حکومت کښې نۀ شو پاتې کېدے او دا هم عجيبه وه چې وېول پۀ دې هم خوابدے کيدے نۀ چې جناح صاحب خو هغه سره وعده کړې وه چې عبوري حکومت لۀ به پۀ دې شرط ځي چې اول دغه خپله کړي فېصله واپس کړي.





ولې وېول پۀ خپله پورې ننبتے ؤ هغۀ ملک د حالاتو پۀ حقله يو مکمل رپورټ برطانيې ته ولېږۀ دا ئې ووې چې کۀ د کانګرس خبره ومنلې شي. نو پۀ ملک کښې به خانه جنګي شروع شي او نور ئې څۀ کوې چې د هندوستان فوځ به هم پۀ منځ کښې دوه شي او چاپېره به افراتفري شي وغېره وغېره

> If he (Wavell) argued, they (H.M. Govt) surrendered to the Congress point of view. The result would be something approaching civil war, threaten the break up of Indian army and chaos throughout India.
>
> *(Wavell, the viceroy's Journal, p.176)*

ترجمه: د وېول دليل دا ؤ چې کۀ چرې هغوي (برطانوي حکومت) د کانګرس نقطه نظر ته تسليم شول. نو نتيجه به ئې خانه جنګي وي چې د هندوستان فوځ به مات شي او ټول هندوستان کښې به اړے ګړے خور شي.

وائسراے دا تجويز پېش کړو چې د مسلم ليګ او کانګرس نه دوه دوه تنه مشران لاړ شي چې د حکومت برطانيې سره مخ پۀ مخه خپلې فېصلې وکړي.

جناح صاحب او نواب زاده لياقت علي خان دواړو دغه دعوت قبول کړو خو کانګرس انکار وکړو. وې چې دا هسې وخت ضائع کول دي پېرنګي د مسئلې حل نۀ غواړي، بلکې چتې د يوې ډلې د خوشحالولو د پاره د ملک مستقبل سره لوبې کوي. کله چې د برطانيې وزيراعظم خبر شو چې نهرو د راتلو نه انکار کړے دے. نو وزيراعظم ورته ذاتي خواست وکړو چې پۀ هغې نهرو لاړ. ولې د کانګرس دوېم غړي سردار پټېل بيا هم نۀ لاړ. دلچسپه خبره دا ده. وېول وائي چې کله جناح صاحب خبر شو چې جواهر لال نهرو انکاري شوے ؤ، خو د وزيراعظم برطانيې پۀ ذاتي خواست روان شو. نو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جناح صاحب هم اخېري وخت خپل قبول کړي دعوت بيا پهٔ بهرته واخستو
دې ما ته وې هم وزيراعظم پهٔ خپله ووائي؛

Perhaps (Jinnah) thought that as Nehru has had a personal appeal from the P.M. it behooved his dignity to have one too.

*(Wavell, the viceroy's Journal, p.385)*

ترجمه: شايد چې د جناح خيال دا ؤ چې چونکې نهرو ته وزيراعظم ذاتي اپيل کړے دے نو د هغهٔ وقار هم د دغه شان اپيل تقاضا کوي.

ظاهره ده چې وېول دا ټوله لوبه د دې د پاره کوله چې مسلم ليګ د عبوري حکومت نه ونهٔ څي. اګر چې جناح صاحب د بيان نه پس د مسلم ليګ د پاره پهٔ وزارت کښې د پاتې کېدو هيڅ جواز نهٔ ؤ. ولې وېول خو دا هر څهٔ خپلو مفادو د پاره کول. هغهٔ خو هغه خپل زوړ مطلب پهٔ موټي کښې نيولے ؤ چې کله دې وائسرا ے مقرر شو او د سابق وزيراعظم چرچل ليدو لهٔ ولاړو. نو چې د هغهٔ نه را رخصتېدو نو اخېري نصيحت ورته چرچل دا کړے ؤ چې :Keep a bit of India (لږ غوندې هندوستان ځان سره وساته). د وېول پهٔ غوږونو کښې لکه چې دغه اواز هغسې کړنګيدو او چې لکه د دې پهٔ رڼا کښې ئې دغه خپله د Breakdown منصوبه تياره کړې وي.

دا ليډران سره د وېول پهٔ دريمه د دسمبر لندن ته ورسېدل. وېول سمدستي خپل يو مفصل نوټ کابينې ته پېش کړو. د ټولو مسئلو پهٔ مختلفو اړخونو د رڼا اچولو نه پس وائسرا ے هند پهٔ دې نتيجه رسيدلے دے چې کانګرس سره روغې جوړې سوال نهٔ پيدا کېږي او خپره به اخېر محاذ ارايۍ ته رسي او د دې مقابلې د پاره بله لاره نهٔ شته. ماسوا د دې نه چې د وېول پهٔ هغه Breakdown منصوبه عمل وشي، د کانګرس اکثريتي صوبې ازادې شي او پېرنګي د فوځ، نوکر شاهۍ او باله بچه د مسلمانانو اکثريتي علاقوته





واورې؛

They (Congress) are ready yet for an open break with H.M.G. Such a break is however a possibility, and we can only face it if we have a definite policy and a Breakdown plan.

*(Wavell, the viceroy's Journal, p.388)*

ترجمه: کانګرس د برطانوي حکومت سره بربنډ شلون ته تيار دے، دغه شان شلون امکان لري او مونږ ورسره فقط پهٔ هغه صورت کښې مقابله کولې شو چې يوه مشخصه پاليسي او "د ټوټې کولو پلان" ولرو.

د وېول د روئې نه خو صرف يوه خبره څرګندېږي چې ده د مسلم ليګ او کانګرس دا مشران تردې رارسولي دي چې دے اول پهٔ نوي حکومت دا خپله منصوبه ومني او بيا دغه منصوبه دې ليډرانو ته واوري چې دلته پهٔ لندن کښې پرې مخامخ بحث وشي. وېول ته خبره هم اسانه ښکارېده. هغه خو پېرنګيانو لهٔ يوه حصه د هندوستان ورکوله او هغه حصه چې هغهٔ يو خوا د شوروي اتحاد د سرحداتو مخنيوي او بله د چين اړخ ته سرحدات قابو کول وو. پهٔ نتيجه کښې به ئې هندوستان کمزورے کړے ؤ او چې مسلم ليګ پهٔ دې رضا ؤ، نو بيا خو هډو د سره خبره خلاصه وه. د مسلم ليګ او کانګرس منځ کښې خو پهٔ دې حالاتو کښې د روغې جوړې نه سوال نهٔ پيدا کېدو. جرګه ناکامه شوله. ليډران را رخصت شول وېول د خپلې منصوبې پهٔ سلسله کښې د زياتې وضاحت د پاره د پاتې کېدو کوشش وکړو، خو حکومت برطانيې هغه ولېږلو. وېول چې را روانېدو نو خپل سکرتري جارج ايبل ئې پرېښودو چې هغه حکومت سره خبره پهٔ تفصيل وکړي او وېول خبر وساتي. اخېر سکرټري خبر وکړوو چې حکومت برطانيه دغه منصوبه قطعي طور نامنظوره کړله. ايله وېول قلار کښيناستو.

George Abell telegraphed to say that the Cabinet at



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



home has gone back completely and refuses to have anything to do with the "Breakdown plan" so he is returning at once.

(Jan. 8, p.408, the Viceroy's journal)

ترجمه: جارج ابېل د تار په ذريعه ووې چې د ملک دننه کابينه په بشپړه توګه په شا شوې ده او د "توټې کولو د پلان" سره د سروکار لرلونه انکار کوي. نو په دې وجه هغه واپس راروان دے.

د دې مذاکراتو په نتيجه کښې حکومت برطانيې دومره وکړل چې اعلان ئې وکړو او د ګروپونو د کار ګزارۍ په حقله ئې د مسلم ليګ مطالبه منظوره کړله. د صوبو انفرادي حېثيت ئې ختم کړلو. وضاحت وشو چې ګروپونه به خپلې فېصلې اجتماعي طور کوي يعني لنډه او اوږده ئې دا چې د ګروپ بي (B) اختيار ئې پنجاب له ورکړو سندهـ او سرحد پکښې هسې طفيليان شو. دا رنګ په مشرق کښې ئې اخيتار بنګال ته وسپارهٔ اسام د منځه ووت.

د پروګرام مطابق د 1946 کال د دسمبر په نهمه د هندوستان د ائين سازې اسمبلۍ غونډه وشوه مسلم ليګ پکښې شموليت ونهٔ کړو دې اسمبلۍ يو خپل قرارداد مقاصد پاس کړو چې هغهٔ کښې ئې خپل رهنما اصول بيان کړل او بيا ئې د صوبو او رياستونو په حقله خپله پاليسي واضحه کړله. د دريو مرکزي محکمو نه علاوه ئې ټول اختيار صوبو ته وسپارلو. بيا ئې د مختلفو شعبو د پاره کمېټۍ وټاکلې خو پکښې د مسلم ليګ د ممبرانو د پاره ځايونه خوشي پرېښودے شول.

د 1947 کال د جنورۍ په پينځمه د ال انډيا کانګرس کمېټۍ غونډه وشوله هغې د حکومت برطانيې دغه اعلان هم قبول کړو چې پکښې اختيار د صوبو په ځاے ګروپونو ته منتقل کړے شوے وو. اوس مسلم ليګ ته بل مشکل پېښ شو، ولې چې دغه د صوبو او ګروپونو بهانه هم ورکه شوله





مسلم ليګ خپله د ورکنګ کمېټۍ غونډه کراچۍ کښې د جنورۍ په 29 راوبلله ډېرې اوږدې قيصې ئې بيان کړلې شکوک او شبهات په ګوته شول. فېصله واوروله شوه چې چونکې کانګرس د کېبينټ مشن پلان د زړهٔ نه نهٔ دے تسليم کړے، نو د دې وجې نه مسلم ليګ هم د هغې منلو ته تيار نهٔ دے او د دې وجې نه مسلم ليګ د حکومت برطانيې نه دا مطالبه وکړله چې چونکې د مشن دغه منصوبه ناکامه شوله. د دې وجې نه دې د دغې د لاندې ټوله شوې کارروائي ختمه کړے شي او دغه د هندوستان منتخبه ائين سازه اسمبلي دې ما ته کړے شي.

تماشه خو دا وه چې مسلم ليګ د مۍ د شپاړسمه د کېبينټ مشن منصوبې د منلو نه انکار وکړو چې دا اسمبلي هډو د سره ما ته کړي او دا مطالبه ئې هم وکړه چې د دغه منصوبې د لاندې هم کار ګزاري ختمه کړئ ولې د دغې منصوبې د لاندې په عبوري حکومت کښې هم ښهٔ په کلکو سترګو ناست دي او وائسراے وېول هم سترګې پټې کړي دي.

## د لارډ وېول برطرفي او د لارډ ماونټ بېټن تقرري

د مسلم ليګ د دې اعلان نه پس کانګرس بيا په ټينګه دا مطالبه وکړله چې اوس خو دې وائسراے د مسلم ليګ د دې وزيرانو استعفې ګانې واخلي. ګنې نو بيا کانګرس مجبور دے چې په دې ټوله مسئله بيا د سره غور وکړي برطانوي حکومت چې د دې حالت نه خبر شو. نو هغوي وېول لندن ته د مشورې د پاره وغوښت ولې وېول کله وزګار ؤ. هغهٔ خو خپله کتوې باندې کړې وه او کهٔ د لندن حکومت هر څهٔ وې. دهٔ په ځان غوږونه را اچولي وو. اخېر د 1947 کال د فرورۍ په څلورمه د يو خاص استازي په ذريعه وېول لهٔ د وزيراعظم برطانيې خط راغے. هغه ئې برطرف کړو او د هغهٔ په ځاے ئې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارډ ماونټبېټن د هندوستان لوی وائسرای په حیث مقرر کړو او دې سره حکومت برطانیې دا خپل تاریخي اعلان هم وکړو چې حکومت دا فېصله کړې ده چې د 1947 تر جون پورې پوره اقتدار هندوستان ته وسپاري او ځان د دغې ذمه وارۍ نه بې غمه کړي. دویمه نکته د هندوستان د مستقبل په حقله وه چې که د هندوستان دا منتخبه ائین سازه اسمبلي یو غېر منقسم هندوستان د پاره اخستې شي خو ښه؛ بیا به پېرنګي اختیار هم دې اسمبلۍ ته وسپاري. خو که چرې هندوستانیان په یوه ائین سازه اسمبلۍ او یو ائین متفق نه شولو، نو؛

H. Majesty's Govt. will have to consider to whom the powers of the Central Govt. in British India should be handed over on the due date whether as a whole to some form of central Govt. or in some areas to the existing provincial Govts. or in such other way as may seem most reasonable and in the best interests of the Indian people.

ترجمه: برطانوي حکومت ته به په دې خبره غور کول دي چې په برطانوي په هندوستان کښې د مرکزي حکومت اختیارات په ټاکلي وخت چا ته وسپاري؟ ایا مکمل طور یو قسم مرکزي حکومت ته یا په ځینو علاقو کښې موجوده صوبائي حکومتونه، یا بل شان چې زیاته معقوله او د هندوستان د خلقو په بهترینو مفاداتو کښې معلومېږي.[26]

[26] د جهاد هم دغه کلیه وروستو کشمیر کښې هم په قبائلي پښتنو وزمائیلې شوه ځکه قبائلي سیمه بې ائینه بې قانونه ساتل او دې ته د ټورزني متې وئیل د بابا ے قوم او د هغهٔ د ملاترو د اوږدې منصوبې برخه وه د کومې تر مخه چې امریکائي صدر روز وېلټ، برطانوي وزیر اعظم ونسټن چرچل ته وائي چې روسي کمیونزم ته به دلته پهاټک تړو او د کومې تر شا چې د پان اسلامزم مفکوره وه





د متحده هندوستان د مرکزي حکومت د پاره د دې شرط نه خو لکه چې مسلم لیګ مخکښې نه خبر ؤ او ځکه هغهٔ د دغه متحده هندوستان په مرکزي ائین سازه اسمبلۍ کښې د شرکت نه انکار کړے ؤ. مطلب دا شو: که مسلم لیګ په حقیقت کښې د هندوستان تقسیم غواړي، نو بس ائین سازې اسمبلۍ ته دې نهٔ ځي: نو پاکستان ئې کړه دے. دا فېصله خو ډېر په اسانه او بې کړاوه وشوله. اوس پاتې شو دا دوېم قدم چې هندوستان خو به تقسیم شي خو اقتدار به چا ته سپارلے شي، نو د هغې د پاره هم پېرنګي لاره ښودلې ده چې اختیار به صوبو ته سپارلے شي نو دا مسلم لیګ ته واضحه اشاره وه چې تاسو کومو کومو صوبو کښې پاکستان جوړول غواړئ. نو هلته حکومت او اختیار تر ګوتو کړئ، چې پېرنګي خپله فېصله مسلم لیګ ته واوروله چې که پاکستان کښې غرضیان یئ. نو په پنجاب کښې د یونینسټو وزارت مات کړئ او اختیار تر ګوتو کړئ او په صوبه سرحد کښې د خدائي خدمتګارو دا اعلان حکومت برطانیې د 1947 کال د فرورۍ په شلمه وکړو.

د دې نه پس د مسلم لیګ او د هغهٔ د ملاترو ټوله توجه دې دواړو صوبو ته شوله چې په هره طریقه وي خو چې د دې دواړو صوبو حکومتونه خپل کړي مسلم لیګ خو هم په پنجاب کښې او هم په صوبه سرحد کښې انتخابات بایللي وو او د دې وجې ئې قانوني او جمهوري حق خو نهٔ ؤ چې په دغه صوبو حکومت وکړي ولې چې په انتخاباتو ونهٔ شوله اوس د مسلم لیګ د نورو غېر جمهوري لارو په تکل کښې شو. د پنجاب قیصه دومره مشکله هم نهٔ وه ولې چې که هلته د هندو، سکهـ او مسلمان په نوم فسادات وشي او هندوان او سکهان وځغلولے شي، نو بیا خو به دغه مسئله د مسلم لیګ په حق کښې فېصله شي؛ ولې خواري خو د صوبه سرحد وه، ځکه چې که د هغه ځاے نه هډو ټول هندوان اوسکهان ممبران وځغلولے شي نو هم په



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو ممبرانو کښې اکثریت د خدائي خدمتګارو سره ؤ.

وېول چې د کومې منصوبې تیاري په مرکزي حکومت کښې کوله او انګرېز افسران ئې په دې قائله کول چې د هغه Breakdown منصوبې نه بله لاره د کامیابۍ شته او د صوبه سرحد دا موجوده ګورنر سر اولف کېرو په دغه دوران کښې په ډيلي کښې په مرکزي حکومت کښې خارجه سکتر ؤ او د حکومت هند د خارجه سکرټري یو او صرف یو کار ؤ چې هغه د هندوستان د شمال مغرب سرحد نه اورته د افغانستان په اړخ د شوروي اتحاد په سرحداتو نظر ساتي؛ ولې د پېرنګي په وېنا خو هندوستان نه صرف یو اړخ نه خطره کېدې شوه او هغه د شوروي اتحاد وه او د شوروي اتحاد په حقله د پېرنګي پالیسي واضحه وه چې په هر شان چې وي، شوروي اتحاد دې د امو دریاب نه پورې په خپل جغرافیائي او نظریاتي سرحد کښې دننه وساتلے شي او چونکې اوس اوس شوروي اتحاد د جرمني بر خلاف په جنګ کښې خپلے شوے ؤ او د پېرنګي د طرف نه څهٔ د حملې خطره نهٔ محسوسوله، نو ټوله توجه دغه نظریاتي سرحد ته وه او چونکې د شوروي اتحاد نظریاتي انقلاب د مقابلې د پاره پېرنګي د اسلام نوم استعمالولو، نو دغلته مشکل پېښ ؤ؛ ولې چې د افغانستان په اړخ د شوروي اتحاد طرف ته خو د هندوستان هم دا زمونږ صوبه وه. دلته د جنګي اهمیت ټولې درې وې او چې تر څو په دې صوبه د پېرنګي پوره او مکمله قبضه نهٔ وي، نو د هغهٔ دغه پالیسي سر ته نهٔ رسي. دا رنګې د وېول دغه منصوبه هم تر هغې سر ته نهٔ شوه رسیدلې چې تر څو د مسلمانانو د ټولو صوبو نه اهمه صوبه چې په دومره حساسه منطقه کښې پرته ټول په ټوله د پېرنګي د اثر لاندې نهٔ شي. انتخاباتو کښې ډېر زور ولګولے شو، خو بیا هم دغه صوبه مسلم لیګ قبضه نهٔ کړے شوله. یو بل بنیادي مشکل پېرنګي او مسلم لیګ ته په دې صوبه کښې دا ؤ چې دلته د خدائي خدمتګارۍ تحریک قام





کښې دومره سیاسي بېداري پېدا کړې وه چې د پېرنګي سران، نوابان، خان بهادران او جاګیرداران دلته قام د سیاسي میدان نه خغلولي وو. په حقیقت کښې د نادارو، غریبو او بې وزلو خلقو اثر او رسوخ دې تحریک راپورته کړے ؤ.

خو دا صوبه مسلم لیګ ته سپارل ضروري وو لکه څنګه چې ذکر شوے دے، په دې صوبه کښې مسلم لیګ کافي زور ولګولو. الېکشن کار ونه کړو فرقه وارانه فسادات وشول خو د جناح صاحب دا خیال ؤ چې کار د کېدو نه دے، نو هغهٔ یوه بله خطرناکه منصوبه جوړه کړه چې د هغې تفصیل سکندر میرزا په خپل سوانح حیات کښې لیکي د سکندر میرزا د صوبه سرحد نه تبادله شوې وه او په دغو ورځو کښې په ډيلي کښې د مرکزي حکومت په محکمه دفاع کښې جائنټ سکرټري ؤ دے لیکي چې د 1947 کال په فرورۍ کښې قائداعظم ما ته ټېلفون وکړو چې زهٔ درشم او هغه ووېنم وائي چې قائداعظم شروع ددې نه وکړه چې زما نه ئې تپوس وکړو چې تهٔ ما د هندوستان د مسلمانانو لیډر منې؟ او چې کهٔ زهٔ تا ته حکم وکړم. نو ته به ئې منې؟ سکندر میرزا وائي چې په دغه حالت کښې به ما د "هو" نه بغېر څهٔ ځواب ورکولو.

> He then went on to say that he was afraid he was not going to get Pakistan until some serious trouble was created. and the best place to do this was on the N.W. Frontier with tribes. In his View it was important to demonstrate Muslim anger before the British handed the country over to the Congress. If Pakistan was not conceded by negotiations , we must fight ..... he wanted me to resign from the service. go into the tribal territory and start a Jehad.

ترجمه: جناح بیا زیاته کړه چې هغهٔ سره وېره ده چې تر هغې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې پاکستان نهٔ شي حاصلولے تر څو چې واقعي ګړ بړ پېدا نهٔ شي د دې غرض د پاره مناسب ځاے صوبه سرحد کښې قبائل دي. د هغهٔ پهٔ خیال دا اهمه وه چې مخکښې تر دې چې برطانیه کانګرس ته ملک پهٔ حواله کړي، مسلمانانو د غصې اظهار دې وکړے شي. کهٔ چرې پاکستان د مذاکراتو د لارې رانه کړے شو، نو بیا مونږ باید وجنګېږو .... هغهٔ زما نه وغوښتل چې زهٔ د ملازمت نه استعفي ورکړم قبائلي علاقو ته لاړشم او جهاد شروع کړم.

دې خبرې ته لږ غور پکار دے چې دا د فرورۍ میاشت ده. وېول برطرفه شوے دے او برطانوي حکومت اعلان کړے دے چې د 1947 کال تر جون پورې به هغوي اختیار هندوستانیانو ته ورکوي. د وېول تلو رښتیا چې جناح صاحب سره دا وېره پهٔ ځاے پېدا کړې وه چې اوس به څهٔ کېږي؟ دا هم معلومه وه چې اګر چې فرقه وارانه فسادات کېدل. مګر جناح صاحب هغې نه هم څهٔ زیات خطرناک قدم اخستل ضروري ګڼل او دغه قدم هم د صوبه سرحد پهٔ علاقه کښې. جناح ډېر پهٔ بېباکۍ سکندر میرزا ته وائي چې زما اطلاع دا ده چې ته دا کار کولے شې، خو کهٔ کوشش دې وکړو :

He (Jinnah) said according to his information, I could achieve this if I really tried.

ترجمه: جناح ووې چې د هغهٔ د اطلاع مطابق دا کار کولے شې. کهٔ چرته تهٔ کوشش وکړې.

د دې نه پته لګي چې څنګه جناح صاحب د سرکاري افسرانو سره خپله رابطه ساتله او دا هم ترې نه څرګندېږي چې پهٔ قبائلي علاقو کښې څنګه ګړ بړ پېدا کیدے شي او پېرنګي افسران څنګه د "جهاد" انتظام کولے شي. سکندر مرزا وائي چې ما د دې مسئلې پهٔ مختلفو اړخونو غور وکړو. پهٔ دې





هم پوهه وم چې پهٔ دې طریقه خو به د صوبه سرحد پهٔ کلو حملې کېږي؛ خلق به پکښې مري. پهٔ خصوصیت سره هندوان. خو د دې هر څهٔ باوجود هم زهٔ دې کار کولو ته تیار شوم.

This could only take the form of raids on border villages in the settled areas... yet I decided to fall in with Quid.i.Aram's plan ....... I had no desire to be branded as a man who was found wanting when the time of action came.

ترجمه: داسې صرف پهٔ رعیت شوو علاقو کښې پهٔ سرحدي کلیو باندې د حملو شکل اختارولے شي ... بیا هم ما د قائداعظم د منصوبې سره د تللو فېصله وکړه. ما نهٔ غوښتل چې راباندې د داسې سړي ټاپه ولګي چې د عمل پهٔ وخت کښې پهٔ شا شوم.

ما وې کهٔ د مسلمانانو د دې لیډر دا رائې وي چې د مسلمانانو د مستقبل د پاره یوه لاره روري ده. نو زهٔ څوک یم چې پهٔ هغې اعتراض وکړم او سبا لهٔ دې پهٔ دې نامه یاد شم چې د مطلب او ضرورت پهٔ وخت کښې ما د مسلمانانو سره بې وفائي وکړه. سکندرمیرزا مخکښې وائي؛

With a liberal expenditure of money I would be able to cause. Some trouble in Waziristan. Tirah and Mohmand country. I gave my estimate of the sum of money as one crore

ترجمه: کهٔ ما لهٔ کار هم پهٔ ګوتو راغے. نو زهٔ پهٔ وزیرستان. تېراه او مومندو کښې کار ویستے شم. ما ورته د رقم اندازه څهٔ یو کروړه روپۍ وښودله.

بیا مې ورته وې چې اخېر زهٔ د ډیلي نهٔ داسې غیبېږم. نو د هغې د پاره خو به هم څهٔ نهٔ څهٔ لارجوړول غواړي. سکندر میرزا مخکښې لیکي چې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومېده داسې چې جناح صاحب په دواړو مسئلو د مخکښې نه غور کړے ؤ، ولې چې ته به د ډیلي نوکري پرېږدې او هیزهاینس خان قلات نوکري له بهلاړ شې او خزانه به در له هیز هاینس نواب بهوپال درکوي:

> Mr. Jinnah had already anticipated these requirements: he had the cover and the money ready. The cover was an appointment with H.H. the khan of Kalat, and treasure was provided by H.H the Nawab of Bhopal.

ترجمه: ښاغلي جناح دا ضروریات د مخکښې نه پېش بیني کړي وو. هغه سره پوشش او رقم تیار پراتهٔ وو. پوشش والا حضرت خان قلات سره نوکري وه او خزانه د نواب بهوپال لهٔ خوا ورکړې شوې وه.

سکندر مېرزا وائي چې بله نوکري او خزانه تیاره وه. سکندر میرزا مخکښې وائي چې زهٔ هم پهٔ دغه ورځ نواب بهوپال لهٔ ورغلم. هغهٔ ما لهٔ د سمدستي خرڅ د پاره شل زره روپۍ راکړې. میرزا صاحب وائي چې قائداعظم ما لهٔ دا تسلي هم راکړه. کهٔ ما ته څهٔ راپېښ شول، نو هغوي بهٔ زما د خاندان خیال ضرور ساتي.

سکندر میرزا وائي چې ما سمدستي کار شروع کړو. یو څو خپل اعتباري دوستان مې د ډېره اسماعیل خان او پېښور نه راوغوښتل او د قبائلي علاقو نه مې هم خپل اشنایان راوبلل. د کافي بحث مباحثې نه پس مونږ یوه منصوبه جوړه کړه. چې ما کوم خلق ډېرو نزدې نه پېژندل چې هغوي سره پهٔ شریکه پهٔ وزیرستان، تیرا او پهٔ مومندو کښې رابطې قائمې کړې شي: خو میرزا صاحب مخکښې لیکي چې د مۍ پهٔ میاشت کښې زهٔ بیا قائداعظم راوبللم چې چونکې پاکستان مونږ لهٔ راکوي، نو تهٔ دغه خپله منصوبه پرېږده.

> But early in May, the Q.A. sent for me again and





> told me that, as Pakistan would conceded, the plan would be abandoned.

ترجمه: ولې د مۍ پهٔ اوائیلو کښې قائداعظم بیا زهٔ راوغوښتم او راته ئې ووې چې چونکې د پاکستان راکول منل شوي دي. نو ځکه دغه منصوبه پهٔ دې پرېښودل شي

سلسله کښې سکندرمیرزا خپله رائې ظاهر وي چې جناح صاحب پهٔ دې لیډر ؤ چې هغهٔ به هرکار پهٔ خپله مخه کولو. د بل چا رائې او مشوره داسې نهٔ منله او ثبوت کښې میرزا صاحب وائي چې کله بیا قائداعظم گورنر جنرل شو نو ما ورته یوه ورځ ووې چې مونږ لهٔ پکار دي چې د دې مسلم لیگیانو خو څهٔ نه څهٔ خیال وساتو ولې چې دا پاکستان خو دوي جوړ کړے دے:

> ....That we must try to be considerate to the M. Leaguers as after all they have brought in Pakistan Jinnah immediately replies: "who told you the M. League brought in Pakistan . I brought in Pakistan – with my stenographer"

ترجمه: مونږ باید د مسلم لیگیانو خیال وساتو: ځکه هر څهٔ چې دي هغوي پاکستان جوړ کړے. جناح ډېر زر ځواب ورکړو. "چا ورته وئیلي دي چې پاکستان مسلم لیگ منځ ته راوړ؟ ما پاکستان جوړ کړو . د خپل سټینوگرافر سره یوځائے"

د سکندر مرزا د دې خپل بیان نه کهٔ یو خوا دا خبره ثابتېږي چې څنګه د پېرنګي ډېر اوچت او لوے لوے افسران د مسلم لیگ د پاره کار کولو ته بالکل تیار وو نو پهٔ دې بل اړخ دا هم ثابتوي چې د خدائي خدمتګارو د وزارت د غورځولو د پاره جناح صاحب پهٔ قانوني.ائیني او جمهوري لارو د ناکامۍ نه پس اوس کوم حده پورې تللو ته تیار دے چې د دغه وزارت د



Scanned by CamScanner

ماتولو په خاطر هغه په هندوستان د حملې تياري کوي او د قبائلو په ذريعه د "جهاد" اعلان کولو ته تيار دے او دربمه دا اهمه خبره دا هم ثابتوي چې څنګه د پېرنګي افسران د قبائلو ملکانو او مشرانو سره خپلې رابطې لري او کۀ وغواړي، نو د داسې خلقو کمے هم پکښې نۀ شته چې د دې سرکاري افسرانو په وېنا هغوي په دې خپل ملک حملې وکړي. داسې دې بل اړخ ته هم لږ غور پکار دے چې دا واليان رياست څنګه لګيا وو په کروړونو روپۍ ئې څومره په خلاص مټ ورکولې او کروړونه هم د هغه وخت کروړونه.

د خضر حيات د يونينسټ وزارت ماتول دومره څۀ ډېر ګران کار نۀ ؤ. يو خوا مسلم ليګ د دغه وزارت په خلاف د سول نافرمانۍ تحريک شروع کړو او دې بل اړخ ئې د فرقه وارانه فساداتو اور لمبه کړو. په ډېر مقدار کښې وسله د صوبه سرحد د قبائلي علاقو نه يوړلے شوله. د مسلم ليګ جېل ته تلل هم يوه مېله وه مثلاً د پنجاب د مسلم ليګ صدر ميا افتخارالدين لۀ نه يوائې دا چې د خپلې خوښې خوراک به جېل لۀ تللو او دعوتونه به کېدل. ولې تر دې چې هغۀ به د جېل نه بهر دعوتونو لۀ تلو او کور به ئې شپې هم تېرولې. خو لنډه اوږده دا چې يو خوا د فرقه وارانه فساداتو په وجه هندوان. سکهان ممبران د اسمبلۍ د مخې لرې شو او بل خوا د سول نافرمانۍ د تحريک په بنياد خضر حيات په دې مجبور شو چې د 1947 کال د مارچ په دربمه د خپل وزارت استعفي ورکړي. ولې دې خوا چونکې مسلم ليګ د دې جوګه نۀ ؤ چې خپل وزارت جوړ کړي، نو د دې وجې نه د صوبې اختيار پېرنګي ګورنر د دفعه 93 د لاندې تر لاسه کړو. ولې دې خوا چې کله هندوان او سکهان په دې پوهه شول چې دا خو پېرنګيان په دې چل ول د مسلم ليګ د پاره لار ازادوي. نو هغوي هم په مظاهرو شروع وکړله او د فرقه وارانه فساد داسې بنياد کېښودے شو او دومره ناروا ظلمونه وشول چې هغۀ وهل، سېځل او تالاکول خو څۀ کوې چې په زرګونو زنانه پکښې وتښتولې شوې.





پېدا شان اوس مسلم ليګ ته يوه او صرف يوه منصوبه د سرحد پاتې شوله چې د هغې د وزارت ماتولو انتظام وشي. دلته هم د فسادونو اور ولګولے شي. تر دې چې د هزارې د قبائلي علاقې نه په سلا حملې هم وشولې. مطلب دا ؤ چې کۀ د صوبې حکومت په صوبه کښې امن امان نۀ قائموي. نو بدنامي ده او په کار دي چې استعفي ورکړي او کۀ دا امن قائمولو د پاره قدم پورته کوي نو د مسلم ليګ ليډران او اخبارونه به دا ملک په سر واخلي صوبه سرحد وزارت په مسلمانانو زور او زياتي کوي.

د خضر حيات يونينسټ وزارت په مقابله کښې سرحد کښې دا فرق ؤ چې هلته خو يونينسټ صرف يوه وزارتي پارټي وه، نور ئې څۀ سياسي جرړې نۀ لرلې ولې دلته خو خدائي خدمتګارو حکومت ؤ چې هغه منظم او تورزن تنظيم ؤ، مسلم ليګ خپلې ټولې لوبې استعمال کړې. د هندوستان د سر سر ليډران په صوبه سرحد را خلاص شول. د هندوانو د فساداتو حقيقي او افسانوي قيصې بيان شولې. په خصوصيت سره د بهار د فساداتو په نامه د پښتنو مذهبي جذباتو راپارولو کوششونه وشول دولت بې حسابه خرڅ شو. د پنجاب اوعليګړه طالب علمان راورسېدل. د پنجاب يو فوځي افسر ميجر خورشيد انور دلته په صوبه سرحد کښې ګرځېدو. دې سړي د فوځ نه استعفي ورکړې وه، دا اول ځل ؤ چې د صوبه سرحد په سياسي تحريک کښې د تخريب کارۍ مسئله پېښه شوله. اوسه پورې خو خدائي خدمتګارو په کمال بهادرۍ او جرات د عدم تشدد په ذريعه د حکومت بر خلاف تحريک چلولے ؤ؛ ولې د مسلم ليګ دې تحريک کښې د بمونو خلاصولو اوغېر مسلمو وژلو ذريعې هم استعمال شولې. د دغه تحريک په حقله بعضې خلقو خپل اقبالي بيانونه کړي دي چې هغه اېرلېنډ جينس په خپل کتاب "انډيا، پاکستان يا پښتونستان" India, Pakistan or Pukhtunistan by Erland Janson کښې رانقل کړي دي چې څنګه به نورر خو پرېږده چې

د هنګو د پولیس سکول چیف انسټرکټر به بمونه ورکول او د هغې د خلاصولو چل به ئې هم ورته ښودو. عالم خان، جینس ته وائي چې د دې هر څۀ د پاره به رقم د مانکي پیر صاحب ورکولو. د صوبې سرکاري افسران پۀ دې ټول تحریک کښې د مسلم لیګ پۀ مرسته ولاړ وو. هم دې جینس ته د طالب علمانو د فیډریشن صدر پۀ خپله وې چې د پولیس یو کپتان فیض الله خان زمونږ سره ایغ پۀ نېغه رابطه وه او چې کله به پۀ سرکاري غونډو کښې د تحریک پۀ حقله څۀ فېصلې وشولې، نو د هغې نه به ئې مونږ پۀ وخت خبرولو. تر دې چې پۀ جلوسونو وېستلو کښې به ئې چرې مونږ نۀ وهلو؛ لا به ئې کوتک مخکښې لۀ را چولو او لا به ئې خپلې لارې وهلې.

د سول نافرمانۍ د تحریک پۀ سلسله کښې چې کوم مسلم لیګیان جېل ته ولاړل؛ د دفعه 144 ماتولو پۀ سلسله کښې به درې میاشتې قید بدل او بس. جېل کښې د هغوي خپله باچائي وه. هلته دومره ازادي وه چې نور خو پرېږده چې قیدیان به د ورځې راووتل. بازارونو کښې به ئې سیلونه او سوداګانې کولې او چې د چا به ضرورت ؤ، نو شپه به ئې هم کور تېرولۀ. زما یو دوست زمانه موټر قرض بوتلے ؤ د یوې شپې د پاره وروسته پته ولګېده چې د هغۀ یو اشنا د مردان یو خان هم زما دغه موټر کښې کور ته د جېل نه تللے ؤ. شپه ئې هلته تېره کړه او پۀ سبا لۀ چې جېل ته پۀ بېرته راغے نو زما موټر ئې واپس راولېږو.

هم پۀ دغو ورځو کښې د سرحد اسمبلۍ غونډه وه. دغه مېجر خورشید انور دا انتظام وکړو چې یو جلوس پۀ اسمبلۍ ور وخېژوي چې دغه اسمبلي غونډېدو ته پرې نۀ ږدي. طالب علمان هم وو او د مانکي د پیر صاحب مریدان هم. خورشید انور دې طالب علمانو ته وې چې تاسو وروسته ځئ او د پیر صاحب مریدان مخکښې کړئ. سرکاري افسرانو کرښه راښکلې وه چې د دې نه بۀ څوک اوړي نه. طالب علمانو پرې د پیر صاحب مریدان ور





واچول کله چې ګولۍ وچلېدې او یو څو تنه پرېوتل. نو خورشید انور وې ښې دے راځئ چې ځو، او:

The mission is complete. We wanted to shed Muslim blood. Now it has been done.

*(Erland Janson, India, Pakistan or Pukhtunistan, p.169)*

ترجمه: مشن پوره دے مونږ غوښتل چې د مسلمانانو وینه توئې شي هغه کار وشو.

دا خورشید انور او داسې نور تحریک کار پۀ ملک کښې ګرځېدل سرکاري افسرانو ورته لاس نۀ اچولو، د هندوانو او سکهانو دوکانونه او کوټې تالا کېدلې؛ د هغوي کورونه لوټلے شول؛ هغوي قتلولے شول؛ ولې حکومتي نوکرانو کښې دوه عملي وه. تخریب کاروته چا څۀ نۀ ویل بلکې هغوي کښې لوے حکومتي افسران د انګرېزانو او مسلم لیګیانو سره یو ځاے پۀ دې کوشش کښې وو چې هر څنګه چې وي او پۀ هره لار چې وي خو چې دا وزارت مات کړے شي. د کېرو صاحب پۀ حقله خو نور پرېږده چې وائسراے وېول پۀ خپله لیکي چې کېرو دې خبرې ته ځان بالکل نۀ شي تیارولے چې پېرنګے دې هندوستان ازاد کړي؛

Caroe has never yet reconciled himself to the idea of our leaving India.

*(Wavell, the Viceroy's Journal, p.329)*

ترجمه: کېرو لا تر اوسه پورې دې خیال سره موافق نۀ دے چې مونږ هندوستان پرېږدو.

کېرو صاحب خو لا هغه شان د وېول صاحب د "ټوټې کولو پلان" یا Breakdown منصوبې پورې نښتے معلومېږي او د هغۀ منصوبې د منځ کړې خو دا صوبه وه چې د هندوستان سره پۀ پوله پرتۀ وه. بل خوا قبائلي علاقې ئې لرلې چې افغانستان سره ئې خصوصي اړیکې وې او ورته خوا



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې شوروي اتحاد پروت ؤ، نو پېرنګي خو دلته د خپل سلطنت، تاج او تخت د خدمت د پاره ناست ؤ. نن هغهٔ لېدل چې د پېرنګي دغه مفادات صرف د مسلم ليګ په ذريعه حاصلېږي کېږو صاحب او د هغهٔ ملګري افسران چې پوهه شول چې نهٔ پهٔ فرقه وارانه فساداتو او نهٔ پهٔ سول نافرماني د ډاکټر خان صاحب وزارت وځغلولي شو نو بيا پېرنګي بله لوبه شروع کړله.

## د ماونټ بيټن پهٔ وړاندې د تقسيم پهٔ حقله مختلف تجويزونه

څرنګه چې ماونټ بېټن ډيلي ته ورسيدو، نو سمدستي د سياسي مشرانو سره خبرو اترو ته ور لاندې وتو. اولنے ملاقات ئې د ګاندهي جي سره وکړو. ګاندهي جي ورته ووې چې د کانګرس پهٔ حقله د جناح صاحب يوه بدګماني وه، د دغې بدګمانۍ د لرې کولو د پاره زما يو تجويز دے: هغه دا چې، دا موجوده عبوري حکومت مات کړه او د نوي حکومت جوړولو اختيار جناح صاحب لهٔ ورکړه، هغه چې څوک مناسب ګڼي خپل وزارت کښې دې واخلي. مونږ صرف دنيا ته دا ښودل غواړو چې هندو او مسلمان پهٔ خپل کور کښې فېصله وکړه او د خپل تعاون او ملګرتيا پهٔ خاطر پهٔ شريکه اوسېدو ته تيار دي. عجيبه ئې ورته دا ووې چې د پېرنګيانو او ستا به دا ذمه واري وي چې د اقليتي فرقې د حقوقو د تحفظ پهٔ ځاے اوس د اکثريتي فرقې د حقوقو تحفظ وکړئ.

د دې نه پس چې کله ماونټ بېټن جناح صاحب وليدو او د ګاندهي جي دا تجويز ئې ورته بيان کړو، نو جناح صاحب ووې چې د هندوستان دا مرض اوس دومره زيات شوے دے چې د دې بې د اپرېشن نه بل څهٔ علاج نهٔ شته. د جناح صاحب د روېې د سختېدو يوه بله ظاهري وجه هم وه. هسې خو د





وېول د تللو نه پس جناح صاحب سره دا وېره پېدا شوې وه چې ګنې ما لهٔ پېرنګے پاکستان نهٔ راکوي خو پهٔ دې دوران کښې يوه بله واقعه د ذکر قابله ده. هر چا ته دا خبره څرګنده ده چې کله پهٔ هندوستان کښې د کانګرس او پېرنګي تر منځه اختلافات پېدا شول او خبره تحريک چلولو ته ورسېده نو پهٔ هغه وخت کښې د امريکې د حکومت د طرف نه بار بار برطانوي حکومت ته وونيلے شول چې هغه د کانګرس سره د روغې جوړې لاره راوباسي يعني امريکې د هندوستان پهٔ دې مسئله کښې دلچسپي اخستله.

هم د دې دلچسپۍ پهٔ لړ کښې د 1947 کال د مۍ پهٔ اوله د جناح صاحب د ملاقات د پاره دوه امريکن ذمه وار افسران د هغهٔ کور ته بمبۍ ته لاړل. د يو نوم رانلډ اے هېر Ronaid A.Harem Dead of the Division. of South Asian, Affairs ؤ چې د امريکې پهٔ حکومت کښې د جنوبي ايشيا د معاملاتو د ډوېژن مشير ؤ بل ورسره پهٔ هند کښې د امريکې د سفارت خانې دوهم سکرټري تهامس اي ويل Thomas E.Weil ؤ. د دې ملاقات تفصيلي حال د امريکن سفارت خانې ناظم الامور پهٔ سبا لهٔ يعني د 1947 کال د مۍ پهٔ دوهمه د امريکې سکرټري اف سټېټ مارشل ته ليکلي دي. ليکي چې جناح صاحب وائي؛ "زهٔ به پهٔ هېڅ قيمت هم د متحده او وفاقي هندوستان منصوبه قبوله نهٔ کړم ولې چې د مسلم ليګ دا فېصله ده چې پاکستان به قائموي" بيا ئې دې دواړو امريکنو ته د پاکستان خوبۍ بيان کړي دي چې د "ازاد او خود مختاره پاکستان قيام د امريکې پهٔ مفادو کښې دے ولې چې پاکستان به يو مسلمان ملک وي او مسلمان ملکونه به د شوروي اتحاد د جارحيت بر خلاف يوه ډله وي" د دې وجې نه هغوي د امريکې نه د تعاون او امداد اميد لري.

> He (Jinnah) Sought to impress on his Visitors that the emergence of an independent, sovereign Pakistan would be in consonance with American



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



interests. Pakistan would be a Muslim country. Muslim countries would stand together against Russian Aggression in that Endeavour they would look to the united states for assistance, he added.

*(American Role in Pakistan by Venkatarmeni p.1)*

ترجمه هغه پهٔ خپلو ملاقاتیانو باندې د دې اثر اچولو تلاش وکړو چې د یو ازاد او خپلواک پاکستان منځ ته راتګ به امریکن مفاداتو سره مطابقت کوي. پاکستان به یو مسلمان ملک وي. مسلمان خلقو نه به د د روسي جارحیت خلاف یو ځاے ولاړ وي. هغه زیاته کړه چې پهٔ دغه کوشش کښې هغوي امریکې ته د امداد د پاره ګوري.

دا هم هغه د پېرنګي هغه منصوبه ده چې غوښتل ئې د شوروي اتحاد نه چاپېره داسلام یو تېزندی راتاوکړي. دویمه مسئله چې کومه جناح صاحب دې امریکنو ته بیان کړه. هغه هم د پېرنګي د دې منصوبې یوه حصه وه چې کهٔ پېرنګي سبا لهٔ د دې منطقې نه کډه وکړي او دلته د هندوستان اتحاد قائم شي او اختیار کانګرس ته وسپارلي شي. نو کانګرس خو چونکې د انګرېزانو او مغربي طاقتونو دښمن دے. نو پهٔ مشرق وسطي او خلیج کښې به هغه چرې هم د دغې حکومتونو د مفاداتو تحفظ ته غاړه کښې نهٔ ږدي. نو د دې وجې نه جناح صاحب د شوروي اتحاد د خطرې نه علاوه دغې بلې خطرې ته هم اشاره وکړله ځهٔ ته چې هغه "هندوسامراج" وائي: نو هغه دامریکې دې مشرانو ته دا ظاهروله چې مشرق وسطي باندې د "هندوسامراج" د قبضې د مخنیوي د پاره هم د پاکستان قائول ضروري دي

Jinnah coupled the danger of "Russian aggression" with another menace that the Muslim nations might confront. That was "Hindu imperialism" "the establishment of Pakistan was essential to prevent the expansion of Hindu imperialism to the Middle





East", he emphasized.

*(Venkatarameni, The American Role in Pakistan, p.1)*

ترجمه: جناح د "روسي جارحیت" خطره یوې بلې خطرې سره کومه به چې مسلمانانو قامونو ته وړپېښه وي. ملګرې کړه. هغه د "هندو سامراج" خطره وه مشرق وسطي ته د هندوسامراج غزیدو د مخه نیولو د پاره د پاکستان قائمول ضرووي دي.

مطلب دا دے چې کهٔ د امریکې پهٔ دې کښې دلچسپي وي چې د شوروي اتحاد خلاف د اسلام یوه قلعه مضبوطه کړي. نو پکار دي چې هغه د پاکستان جوړولو کښې امداد وکړي او د دې نه علاوه د مشرقي وسطي او خلیج پهٔ علاقه کښې د مسلمانانو ملکونو اتحاد او تړون پهٔ دې غرض ضروري دے چې د ترکي نه را واخله تر د چین د سرحد پورې د مسلمانانو ملکونو مرسته وشي. نو کهٔ هندوستان متحد پاتې شي او پاکستان جوړ نشي نو دغه کار به نیمګړے پاتې شي. نو د دې وجې نه جناح صاحب د امریکې حکومت ته د هغوي د استازو پهٔ ذریعه دا سوال ځواب لیکي چې د امریکې د مفاداتو د تحفظ د پاره هندوستان تقسیم او د پاکستان قیام ضروري دے.

داسې معلومېږي چې کله چې د امریکنو سره پهٔ دې ملاقات کښې خبره سر نهٔ رسېدلې وي ولې چې لوستونکو ته به یاد وي چې سکندر میرزا پهٔ خپل کتاب کښې لیکلي دي چې ما ته پهٔ هندوستان کښې د حملې کوم کار را پهٔ حواله شوے وُ، د هغې نه زهٔ جناح صاحب منع کړم؛ ولې چې ما لهٔ اوس پاکستان راکوي، نو تهٔ به هندوستان د قبائلي جهاد دا منصوبه پرېږده او میرزا صاحب پهٔ خپله هم د می میاشت یاده کړې ده؛ نو لکه چې امریکنو سره سودا سر ته رسیدلې وي او د وېول د تللو هغه نیمګړتیا پوره شوې وي.



Scanned by CamScanner

حقیقت دا دے چې د لارډ لنلتګو نه را واخله تر وېول پورې. دې دواړو وائسرایانو دې فرقه وارانه مسئلې لهٔ داسې رخ ورکړے ؤ چې اوس د ټول هندوستان د قسمت فېصله لکه چې د جناح صاحب پهٔ اختیار کښې وي. د هغهٔ د وړاندې درې لارې ازادې وې یا متحده هندوستان. دویم د کېبینټ مشن منصوبه چې پکښې درې ګروپه وو. او دریم پاکستان. او دا فېصله دومره اسانه هم نهٔ وه. باید چې جناح صاحب او مسلم لیګ دا خبره هم پهٔ ذهن کښې ساتلې وي چې څهٔ داسې لار راوباسي چې د غېر مسلمو د اکثریتي صوبو د مسلمانانو د حقوقو هم تحفظ وشي.

ولې چې تکلیف خو پهٔ اصل کښې هغوي ته ؤ؛ بله دا چې ټول لیډران خو هم دغه د اقلیتي صوبو مسلمانانو د خپل تحفظ د پاره متخب کړي وو خو خبره صرف پهٔ دې مقام ودرېده چې اوس فېصله د مسلم لیګ او جناح صاحب وه چې؛

لوے او عظیم پاکستان؟ خو د کم اختیاره سره؛

او کهٔ وړوکے پاکستان؟ لهٔ مکمل اختیاره سره.

څکه چې کله مسلم لیګ پهٔ اخېري حل د کېبینټ مشن پلان نا منظور کړو او د تقسیم هند مطالبه ئې وکړله، نو بیا هغوي ته ووئیلے شو چې کهٔ هندوستان تقسمېږي نو د مسلمانانو دوه اکثریتي صوبې یعني بنګال او پنجاب به هم تقسمېږي. او چې جناح صاحب ترې نه تپوس وکړو چې "دا پهٔ کوم منطق؟" نو ماونټ بېټن ورته پهٔ ځواب کښې ووې چې "هم ستا پهٔ منطق او ستا پهٔ دلیل" تا چې دا اووهٔ کاله څومره پهٔ کلکو ثبوتونو او مدللو بحثونو دا د هندو او مسلمان د تقسیم بنیاد ایښے دے، نو هم دغه د تقسیم اصول به پهٔ دغه صوبو حاوې کېږي.

ولې چې صوبې خو انتظامي واحدونه (Administrative Units) دي. د دې صوبو هغه علاقې چې کوم ځاے د غېر مسلمو اکثریت دے، هغه به ترې نه





ربښتیا شي؟ جناح صاحب سمدستي درکه وکړه چې "بیا خو به زهٔ داسام د جدا کولے شي؟ جناح صاحب سمدستي درکه وکړه چې نیا خو به زهٔ داسام د
صوبې یو ضلع سلهټ هم غواړم" ماونټ بېټن ووې چې "دا جایزه ده او کانګرس پرې اعتراض نهٔ لري" جناح صاحب د دې منطق خو ومنلو. خو ماونټ بېټن ته ئې خواست وکړو چې ما لهٔ "بزو وهلي پاکستان" مهٔ راکوه بیا ئې ماونټ بېټن ته ووې چې "کانګرس ما د بنګال او پنجاب پهٔ نقشه وېروي چې زهٔ د پاکستان د مطالبې نه واوړم خو زهٔ دومره پهٔ اله اسانه نهٔ وېرېږم":

Mr. Jinnah admitted the apparent logic of this but begged Lord Mountbatten not to give him a moth.eaten Pakistan. The demand for partitioning of Bengal and the Punjab was all a bluff on the part of the congress to frighten him off his claim for Pakistan. But he was not easily frightened.

*(Hodson, the Great Divide. P. 227)*

ترجمه: ښاغلي جناح صاحب د دې خبرې ظاهري منطق ومنلو خو لارډ ماونټ بېټن ته ئې زاري وکړه چې ما ته بزو وهلے پاکستان مهٔ راکوه. د کانګرس لهٔ خوا د بنګال او پنجاب تقسیمولو مطالبه فقط یوه درکه وه چې ووېروي او زهٔ د پاکستان د دعوې نه لاس واخلم، ولې زهٔ دومره پهٔ اسانه نهٔ وېرېږم.

د ماونټ بېټن کوشش دا معلومېدو چې هغه د خپله جانبه ښهٔ زور ولګوي او جناح صاحب کم ازکم د کېبینټ مشن دغه د ګروپونو منصوبې لهٔ راولي او څکه هغه بار بار هغه مختلف مشکلات جناح صاحب ته بیانول: چې د هندوستان د تقسیم پهٔ سلسله کښې به هغهٔ ته پېښ شي او هغه ئې د راتلونکي تباهۍ او بربادۍ نه د خبرولو کوشش کړے دے. ماونټ بېټن اخر دې نتیجې ته ورسیدو چې جناح صاحب د دې خپلې منصوبې پهٔ یو



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارخ هم څۀ سنجيده غور نۀ دے کړے او وائي چې جناح صاحب ته به هله پته ولګي چې دے لږ راښکته شي ښپې ئې په زمکه ولګي. نو سترګې به ئې هله رڼا شي.

> "Nevertheless" wrote Lord Mountbatten when recording the talk. "he gives me the impression of a man who has not thought out one single piece of the mechanics' of his own scheme and he really will get the shock of his life when he comes.
>
> *(Hodson, the Great Divide p. 229)*

ترجمه: د خبرو اترو د ريکارډ کولو په وخت لارډ ماونټ بېټن وليکل. "بيا هم هغۀ ما ته د يو داسې سړي تاثر راکړو چې د خپل سکيم په هيڅ ارخ ئې غور کړے نۀ وي او هغه به په واقعيت کښې د خپل ژوند يوه داسې صدمه ومومي څۀ وخت چې زمکې ته راښکته شي.

ماونټ بېټن چې کله پوهه شو چې جناح صاحب خو په خپله خبره پورې نښتے دے او هيڅ څۀ نۀ ويني او نۀ اوري. نو هغۀ نواب زاده لياقت علي خان را وغوښتو او هغه ته ئې دا ټوله خبره په تفصيل سره بيان کړله چې کۀ مسلم ليګ اوجناح صاحب داسې په تقسيم پورې نښتي وي نو د هغې منطقي نتيجه به دا وي چې دا به تاسو ته هغه پاکستان ملاو شي څۀ ته چې جناح صاحب په خپله ګوډ شل او بزو وهلې پاکستان وئيلے ؤ او د هغې د اخستونه ئې په خوا انکار کړے ؤ. نواب زاده صاحب سره دا فېصله وشوه چې هغه به د جناح صاحب او نورو ملګرو سره په دې مشوره وکړي او بيا به وائسرا ے خبر کړي. نواب زاده لياقت علي خان چې په سبا راغے. نو معلومېږي داسې چې د مسلم ليګ د د مشرانو او جناح صاحب د زړۀ خبره ئې ماونټ بېټن ته وکړه او په واضحو ټکو ئې ورته ئې ووې؛

> "If your Excellency was prepared to let Muslim





> League have only the Sind desert, I would still prefer to accept that."
>
> *(Hodson, the Great Divide, p.224)*

ترجمه: کۀ چرې تاسو عزت ماب مسلم ليګ ته صرف د سندھ صحرا ورکړې وي، نو ما به هم دغه قبوله کړې وي.

دلته په ډيلي کښې دا سودابازۍ او دلالي کېدلې او هلته په بنګال کښې له غويمه پېښه وه. کله چې بنګاليان خبر شول چې کۀ مسلم ليګ په تقسيم ېنګېږي، نو د دې په نتيجه کښې به بنګال هم تقسيمېږي. نو د هغه صوبې د مسلم ليګ وزيراعلي حسين شهيد سهروردي صاحب په خپله وائسرا ے ته ووې:

> Mr. Suhrawardy himself told the Viceroy.... "he could say with confidence that given enough time he could persuade Bengal to remain united and that he could get Mr. Jinnah to agree that in that event it need not join Pakistan"......

ترجمه: ښاغلي سهروردي په خپله وائسرا ے ته ووې ... زۀ په اعتماد دا خبره کولے شم چې کۀ چرې ما ته کافي وخت راکړل شي. نو زۀ بنګال راضي کولے شم چې متحد پاتې شي او زۀ جناح دې خبرې ته راضي کولے شم چې په دغه صورت کښې بنګال په پاکستان کښې شامل نۀ شي

ماونټ بېټن ليکي چې ما د دې خپل ملاقات او سهرودي د خبرو ذکر جناح صاحب سره هم په هغه ورځ وکړو چې د هغۀ رائې معلومه کړم چې د متحده بنګال د دې تجويز په حقله هغه څۀ وائي چې دا دې په پاکستان کښې شامل شي او کۀ نۀ؟ ماونټ بېټن ليکي چې جناح صاحب سمدستي ځواب راکړو چې:

> ..........Without hesitation Mr. Jinnah replied, " I shall be delighted. what is the use of Bengal Without



Scanned by CamScanner

Calcutta. They had much better remain united and independent."

*( Hodson, the Great Divide, p.246)*

ترجمه: د تردد او تذبذب نه بغېر جناح ځواب ورکړو "زهٔ به پهٔ دې خوشحال شم ځکه چې د کلکتې نه بغېر د بنګال څهٔ فائده ده، بهتره ده چې هغوي متحد او خپلواک پاتې شي".

دا تاريخي واقعات چې سړے لولي او دې سرکاري دستاويزاتو ته ګوري نو واقعي چې سړے پهٔ دې سوچ کولو مجبور شي چې دا د مسلم ليګ دې مشرانو څهٔ کول؟ نو د دې غرض رېښتيا د غريب او مظلوم مسلمان خدمت ؤ، کهٔ پهٔ څهٔ بل څهٔ جذبه دوي دا سودا بازے کولې؟

## د صوبه سرحد لانجه

ولې د دې ټولې لانجې د ټولو نه مشکله مسئله د صوبه سرحد وه؛ ولې چې هلته ابادي 93% د مسلمانانو وه او هغوي اوس 1946 کښې د مسلم ليګ سياست او د پاکستان مطالبه رد کړي وه او د پېرنګي دلچسپي هم پهٔ دغه صوبه، دغه قبائلي علاقه، دغو درو او د افغانستان پهٔ لاره د شوروي اتحاد سره پهٔ سرحد کښې وه. نو د دې علاج به څهٔ شي؟ د صوبې ګورنر کېرو مرکزي حکومت ته تجويز پېش کړو چې هغه دلته کال مخکښې کوم انتخابات شوي وو، هغه پهٔ ځاے پاتې شي او دلته يو وارې بيا انتخابات وشي چې دغه نوي ممبران د صوبې د مستقبل فېصله وکړے شي. ماونټ بېټن د هغه وخت د صوبې چيف سکرټري ډې لا De La farque را وغوښتو، هغه پهٔ چټې انګلېنډ ته روان ؤ.

هغهٔ نه ماونټ بېټن دوي پوښتنې وکړې يو خو ئې ځان پوهولو چې "کهٔ دوباره انتخابات وشي نو د هغې نتيجه به څهٔ وي؟" او دويمه دا چې د





صوبې د موجوده ګورنر نه د هغهٔ وزيران ډېر شکايت کوي تر دې چې وزيراعلي ډاکټر خان صاحب ماونټ بېټن ته د کېرو صاحب پهٔ وړاندې ووې چې تهٔ د مسلم ليګ د صدر سره د ملاقات ډېر خواهش لرې نو د دې صوبې د مسلم ليګ صدر خو ستا دا ګورنر کيرو دے. د اولني سوال پهٔ ځواب کښې ورته چيف سکرټري ووې چې کهٔ پهٔ صوبه سرحد کښې دوباره انتخابات وشي او د ګورنر د اختيار لاندې وشي نو هم به ئې کانګرس ګټي د ګورنر کېرو پهٔ حقله ئې ووې چې هغه د کانګرس د وزارت بر خلاف دے او تر دې مخکښې لاړ چې د ګورنر د دې روئې پهٔ وجه د پېرنګيانو وقار ته نقصان رسېږي.

Lt. col. De La Farque. Chief Secretary to the N.W.F.P Govt …….. held the belief that a free and clear clear election in the province was more likely to return the congress to power than the Leaque, even if Section 93 Govt. had been interposed. That the Governor, though having great knowledge of the Frontier, was biased against his congress Govt. and that his continuance in office was a menace to British prestige.

*( Hodson, the Great Divide, p.283)*

ترجمه: صوبه سرحد حکومت چيف سکرټري لفټننټ کرنل ډې لافارک پهٔ دې عقيده ؤ چې ازاد او پاک انتخابات به کانګرس اقتدار کښې راولي نهٔ چې ليګ. سره د دې چې دفعه 93 هم حکومت نافذه کړي وي. ګورنر اګر چې د سرحد پهٔ باره کښې زيات معلومات لري د کانګرس حکومت خلاف تعصب لري او د هغه پهٔ کرسۍ پاتې کېدل برطانوي وقار ته خطره پېښوي.

د چيف سکرټري د دې خفيه اطلاع نه پس ماووټ بېټن پهٔ صوبه سرحد

کښې د نوو او سر دوباره انتخاباتو کولو اراده پرېښودله. د صوبه سرحد د مسلمانانو افسرانو د ذهن او وسچ اندازه د دې یوې واقعې نه لګي چې د ماوونټ بېټن سکرټري کمیبل جانسن Campbell Johnson پهٔ خپل کتاب Mission with Mountbatten کښې بیانه کړې ده. هغه لیکي چې د ۲۷ د ماونټ بېټن سره پېښور ته تللے ؤ نو د شپې د ګورنر پهٔ کور کښې ډوډۍ وه وې چې "ما سره خوا کښې د پېښور د هغه وخت ډپټي کمشنر ایس بي شاه صاحب ناست ؤ. هغهٔ ټول وخت ما سره پهٔ دې کلک ټینګے ؤ چې پېرنګیانو لهٔ هندوستان بالکل نهٔ دي پرېښودل پکار وغېره وغېره. جانسن وائي چې دا ما ته ډېره عجیبه او ناشونې ښکارېدله چې زهٔ او ماونټ بېټن دواړه پېرنګیان یو او حاکمان؛ نو مونږ خو وایو چې هندوستان دې ازاد شي او دلته دا هندوستاني پهٔ دې پورې کلک ټینګي دي چې پېرنګي لهٔ دا وطن پرېښودل نهٔ دي پکار.

د ګورنر کېرو د سر دوباره انتخاباتو کولو پهٔ تجویز خو د ماونټ بېټن سمے راغهٔ غے. ولې چې د هغې پهٔ نتیجه کښې به بیا اختیار د خدائي خدمتګارو سره پاتې کېدهٔ، نو اوس به نورې لارې چارې لټولې شي چې د هغې پهٔ ذریعه اختیار مسلم لیګ لهٔ ورکړے شي.

د ګورنر کېرو او کانګرس تر منځه اختلاف یوې بلې مسئلې هم را پېدا کړلو. چې کله د هندوستان د عبوري حکومت مشر جواهر لال نهرو دا رائې ظاهره کړله چې هغه د صوبه سرحد پهٔ دروه راځي او غواړي چې دې مختلفو ایجنسو ته لاړ شي او د خپلو قبائلي ورونو سره د هندوستان د مستقبل او پهٔ هغې کښې د هغوي د مقام پهٔ حقله جرګه وکړي، دا خو یو دومره خطرناک قدم ؤ چې کېرو صاحب دې ته څنګه تیارېدے شو؟ هغهٔ خو مرکزي حکومت لهٔ دا تاثر ورکولو چې قبائل ټول پهٔ ټوله د کانګرس خلاف او د پاکستان پهٔ حق کښې دي. د دې خبرې د ثابتولو د پاره خو به څهٔ ډېر لوے دلیلونه نهٔ وي





چې د دې قبائلي علاقو دا کوم مشران چې سرکار لهٔ راځي، نو دا د قام پکار مشران نهٔ وي؛ نهٔ ئې قام خوښوي. دا خو د پولټیکل ایجنټ د لاسه جوړ شوي ماجب خوارهٔ ملکان وي. د هغوې چې څومره د سرکار د اختیار د لاندې وي، د هغې یوه نمونه خو مونږ د سکندر مرزا پهٔ خپل کتاب کښې لوستلې ده چې هغه دا ذمه واري اخستو ته تیار ؤ چې کهٔ جناح صاحب وغواړي، نو هغه د قبائلي لښکر پهٔ ذریعه د وزیرستان. تیرا او مومندو د اړخه پهٔ هندوستان حمله هم کولے شي. د پېرنګي نوکرانو پهٔ خپله طریقه او پېرنګیانو د خپلو تخواه خورو ملیانو. پیرانو او باباګانو پهٔ ذریعه پهٔ دې قبائلي علاقو کښې کافي کارکړے دے او کولو ئې مثلاً د مسیدو ملک ګلاب خان د 1946 کال د اپرېل پهٔ شلمه یو خط جناح صاحب ته لیکلے ؤ:

Dear Quid.e.Azam!

I on behalf of all the Masuds of S.Waziristan Agency beg to assure you of our armed help for the achievement of Pakistan whenever so ordered by the Muslim League High Command. We have full faith in your leadership in the critical time Wish you long life and health. I am also ready to send Masud armed escort as your bodyguard if so ordered.

Pakistan Zind abad.

*(Erland janson. India. Pakistan or pukhtunistan. (P.175)*

ترجمه ګرانه قائداعظمه!

زهٔ د جنوبي وزیرستان د ټولو مسیدو لهٔ طرفه تاته د پاکستان د حاصلولو د پاره د مسلح امداد څهٔ وخت چې ئې د مسلم لیګ هائي کمان وغواړي. یقین درکوم مونږ ډېر نازک وخت کښې ستا پهٔ لیډر شپ باندې اعتماد لرو. تا ته اوږد ژوند او صحت غواړو. کهٔ چرې تهٔ حکم وکړې نو زهٔ د مسیدو مسلح

(c) ketabton.com: The Digital Library



حفاظتي دسته ستا د پاره ډېر ګارډ پۀ حېث در استولو ته
تیار یم.
پاکستان زنده باد

دا ملک صاحب د پاکستان د پاره مسلح جنګ ته تیار دے. جنګ به چا سره کوي؟ دلته د پېرنګي حکومت دے. نو دا به څوک ومني چې د جنوبي وزیرستان یو ملک به جناح صاحب ته بمبۍ ته خط لیکي چې زۀ ستا د سیاست د پاره پېرنګي سره جنګ ته غاړه ږدم. دا بې د سرکاري افسر د ښوونې او د پولټیکل ایجنټ د وینا نه بغېر هډو سره هېڅ هغه څوک نۀ شي تسلیمولے څوک چې لږ ډېر هم د دې ایجنسو او د هغې د ملکانو او پولټیکل ایجنټانو د تعلقاتو نه خبر وي ولې تماشه بله ده، جناح صاحب بیا د دې خط ځواب هم ورکړے دے. د قائد اعظم ځواب؛

Dear sir!
I am in receipt of your letter of the 20th April and thank you very much for your sympathies and your confidence in my leadership. With regard to my staff, I for your kind offer, there is no need just
*(Efland Jonson, India, Pakistan or pukhtunistan.*
*(P.176)*

ترجمه: ګرانه جناب عالي

ستا پۀ شلم اپرېل لیکل شوے خط ما وصول کړو او ستا د همدردۍ او زما پۀ لیډرشپ باندې ستا د باور نه ډېره زیاته مننه، زما د خپل سټاف پۀ حقله باید ووایم چې زۀ خپل انتظامات لرم. ستا د مهربانۍ نه ډک پېشکش نه شکر ګزار یم. اوس دغه شان ضرورت نۀ شته چې تکلیف ورکړم.

ملک ګلاب خان د دې نه چا خبر کړو چې جناح صاحب ته به قائداعظم لیکلے شي وغېره بې شمېره سوالونه پیدا کېږي؛ ولې د ټولو نه د حېرانتیا





خبره دا ده چې د جنوبي وزیرستان یو ملک د هندوستان یو سیاست دان سره برملا سازباز کوي او هغه ته خپل څۀ چې د ایجنسۍ د همه مسیدو د طرفه دا تسله ورکوي چې هغه د پاکستان د قیام د پاره مسلح جنګ کولو ته تیار دي او نۀ ترې نه پولټیکل او نۀ د پېرنګي یوه اداره خبره شوله او د جناح صاحب خط هم واپس راغے. د دې پۀ مقابله کښې زمونږ د بنو ضلعې د خدائي خدمتګارو سالار یعقوب خان پۀ دې وجه پۀ جېل کښې پروت ؤ او د پانسۍ درکې پرې کیدې، الزام دا ؤ چې دۀ ته د فقیرایپي یو خلیفه خط لیکلے دے چې نۀ خط موجود ؤ او نۀ ګواه.

او خبره یواځې د وزیرستان نه وه، دلته د خیبر ایجنسۍ شینواري ملک باور خان د کیبینټ مشن ممبرانو ته تار ووهۀ چې؛

Khyber Agency Tribes have full confidence in
accept anything except Jinnah. Muslims cannot
Pakistan.

*(Khyber Mail 5.6.1946)*

ترجمه: د خیبر ایجنسۍ قبائل پۀ جناح باندې مکمل اعتماد لري، مسلمانان د پاکستان نه علاوه بل هېڅ څیز نۀ قبلوي

هغه د وزیرستان ملک ګلاب خان خو به خط پۀ پته لاره لیږلے وي. ولې د شنوارو ملک باور خان خو تار وهلے دے او تار د پېښور پۀ انګرېزي اخبار خیبر میل کښې چاپ شوے دے. نو پېرنګي خو پۀ دې بد ونۀ ګڼل دا مثالونه ما د دې د پاره ورکړل چې کېرو صاحب ولې د جواهر لال نهرو قبائلو ته پۀ راتلو پرېشانه ؤ. یو خوا کېرو صاحب کوشش ؤ چې پۀ سرکاري طور جواهر لال منع کړي او پۀ دې بل اړخ د مسلم لیګ دا کوشش ؤ چې جواهر لال قبائلو ته را نۀ شي. د مانکي شریف پېر صاحب پۀ خپله د مختلفو ایجنسیو دوره وکړله، ملیان ولېږل شول چې هندو جواهر لال د راتلو نه منع کړي ولې چې هغه د دې غرض د پاره راځي چې ستاسو ازادي ختمه کړي او



Scanned by CamScanner

تاسو د هندوانو غلامان کړي. ګورنر کېرو چې کوم هفته وار رپورټ مرکز ته لیکلے دے. نو په هغې کښې په تفصیل سره د دې دورو ذکر دے چې پیر صاحب د مانکي خیبر، مهمندو او د ملاکنډ په دوره تللے ؤ. دلته په پېښور کښې مسلم لیګ جلسه وکړله. بیرسټر قیوم پکښې تقریر وکړو:

The Hindu Congress is on the war path. In the tribal belt we have an immeasurable reservoir of strength. You must organize and unite from Gilgit to Quetta. The hour of trial in coming. Be prepared. Islam in India needs your help in this hour of trial. Tell Pundit Nehru that if he wants to talk. He must go to Mr. Jinnah. There is no sense in talking to the tribals.

*(Dawn 13.10.1946)*

ترجمه: هندو کانګرس د جنګ په لاره روان دے. قبائلي علاقه کښې مونږ د طاقت بې کچه ذخیره لرو. تاسو له پکاردي چې د ګلګت نه واخلئ تر کوئټې پورې ځانونه منظم کړئ، د امتحان وخت راروان دے. ځانونه تیارکړئ. په هندوستان کښې اسلام په داسې امتحاني وخت کښې ستاسو امداد ته ضرورت لري. پنډت نهرو ته ووایئ چې که چرې هغه خبرې اترې کول غواړي نو جناح له دې ورشي. قبائلو سره د خبرو کولو هېڅ تعلق نشته.

ولې چې کله جواهرلال نهرو د ګورنر د مشورې بر خلاف د صوبه سرحد په دوره راغلے نو دلته بیا پېرنګي او د هغهٔ ماتحتو افسرانو چې څهٔ کړي دي، د هغې حال مونږ ته خو چا نهٔ وې خو دا ایرلېنډ جېنس په خپل کتاب کښې د مختلفو ملکانو او سرکاري افسرانو بیانونه رانقل کړي دي چې هغوي څهٔ وئیلي دي. ایرلېنډ چې جنوبي وزیرستان ته تللے دے، نو هم دغه د مسیدو





ملک ګلاب خان ورته وې:

Malik Gulab khan paid Rs.200/. to snipe at Nehru's plane when it lands at Razmak. The Asstt. political officer. one Abdul Masian. was particularly helpful and would ensure and guide them secretly.

*(Efland Jonson, India, Pakistan or pukhtunistan (P.185)*

ترجمه: ملک ګلاب خان د دې د پاره دوه سوه روپۍ ورکړې چې د نهرو په جهاز باندې هغه وخت ډزې وکړئ څهٔ وخت چې په رزمک راکوز شي، خصوصاً اسسټنټ پولیټیکل افسر عبدالمنان ډېر مددګار ؤ. هغهٔ به هغوي ته په پټه لار ګودر وښایهٔ.

ولې: خیبر په حقله دې سرې د فریدالله شاه سره کومه مرکه کړې ده نو هغه دا مسئله بالکل صفا او واضحه کوي فریدالله شاه په دغو ورځو کښې په خیبر کښې اسسټنټ پولیټیکل افسر ؤ د خیبر پولټیکل ایجنټ کرنل خورشید ؤ، اوس د فرید الله شاه خپل بیان واورئ:

At that time Cal. Khurshid was the political Agent of Khyber Agency. Two or Three days before Nehru's arrival. Khurshid sent for me told me Nehru was coming to Khyber. He said that if the tribals should receive him in a docile way. all Musalmans of this part of the country will go under the suzerainty of the Hindus. As a Musalman I should do something, but at the same time he warned me not to tell him of the action I would take. Do you know why? He was a religious man and if he was asked anything, he would say he did not know. I went straight to Jamrud. I contacted a certain Kukikhel Malik called Swatai Khan. The only question he asked was as to what would be the reaction of the political Agent.



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



And I told him "Don't worry". I very strongly told him that "nobody was to be killed. They should resort to heavy sniping" on return from Jamurd He had then a lot of disciplies among Shinwaris and Mullagoris. So he also went on tour to Landi kotal and Mullagori area.
*(Errand janson, India, Pakistan or pukhtunistan. (P.186)*

ترجمه: دغو ورځو کښې کرنل خورشید د خیبر ایجنسی پولټیکل ایجنټ ؤ. د نهرو د راتګ نه دوه یا درې ورځې مخکښې خورشید ما ته سوال ځواب وکړو چې نهرو خیبر ته را روان دے. هغهٔ ما ته ووې چې کهٔ چرې قبائلو هغهٔ ته پهٔ منونکي ډول هرکلے ووې، نور ملک د دې حصې ټول مسلمانان به هندوانو واک اختیار د لاندې راشي. د مسلمان پهٔ حېث تهٔ باید څهٔ وکړې. ولې دې سره سره ئې ما ته خبردارے را کړو چې زهٔ هغهٔ ته ونهٔ وایم چې زهٔ به څهٔ کارروائي وکړم. خبر ئې چې ولې؟ هغه مذهبي سړے ؤ او کهٔ چرې هغهٔ نه څهٔ تپوس پوښتنه وشي نو هغهٔ ته به ووېل شي چې زهٔ خبر نهٔ یم. زهٔ نېغ خبرو ته لاړم. ما د سواتي خان پهٔ نوم د کوکي خېلو یو ملک ولید. صرف یو تپوس هغهٔ وکړو چې د پولټیکل ایجنټ به څهٔ ردعمل وي؟ ما ورته ووې "پروا مهٔ لره" ما ورته پهٔ سختۍ سره واضحه کړه چې هیڅوک ونهٔ وژل شي. هغوي باید زیاتې ډزې وکړي. د جمرود نه پهٔ واپسۍ کښې ما د مانکي شریف پیر ولید. دغه وخت پهٔ شینوارو او ملاګورو کښې د هغهٔ زیات مریدان موجود وو. نو هغهٔ هم لنډي کوتل او ملاګورو علاقې ته پهٔ دوره ووتو.





زما پهٔ خیال د قبائلو او پولټیکل افسرانو د تعلق پهٔ حقله او د سرکاري افسرانو او مسلم لیګیانو د رابطې پهٔ حقله دا ټولې مسئلې فریدالله باچا صفا کړې دي. پولټیکل ایجنټ صاحب هدایات ورکوي. د هغهٔ نائب نې یو قبائلي ملک ته اوروي او ملک هم د اپریدو ملک دے. نو دغه ملک یو او صرف یو تپوس کوي چې تهٔ ووایه چې د پولټیکل صاحب به څهٔ رد عمل وي؟

## ډومېنین سټېټس او دولت مشترکه
## Dominion status and Commonwealth

هلته پهٔ ډیلي کښې مسلم لیګ هم هغه نارامه را اخستې وه او جناح صاحب یوه خبره هم نهٔ منله. د پېرنګي د عمرونو خوارۍ اخېر رنګ راوړو دا د وائسرائے لنلتګو د وخته د وزیر هند ایمري پالیسي وه چې څومره د هندو او مسلمان دې مسئلې لهٔ مونږ زور ورکولو او چې هر څهٔ د دوي اختلافات زیاتېږي، نو د دوي ټولې لانجې د حل کولو به صرف یوه لار پاتې شي. چې پېرنګي د دواړو ډلو د اړخه درېمګړے شي او خپل حل به پېش کړي. معلومېږي چې هغه مقام اوس را رسیدلے ؤ. دلته د دې خبرې وضاحت ضروري دے چې پهٔ عبوري حکومت کښې د مسلم لیګ پهٔ شرکت اصرار پهٔ هندوستان کښې کافي خلق پهٔ دې سوچ مجبور کړل چې پېرنګے پهٔ هرشان چې وي، د مسلم لیګ پهٔ مورچه کښې ولاړ دي او د هندوستان د تقسیم فېصله ئې قطعي کړې ده او چې څومره وخت تېرېږي. نو دا د فرقه وارانه دښمنۍ او نفرت دا فضا به نوره هم خرابېږي. د فساداتو اور ټول هندوستان کښې خور ؤ. د دې نه علاوه چې کله مسلم لیګ پهٔ وفاقي عبوري حکومت کښې راغے. نو چې د محکمو تقسیم کېده. نو مسلم لیګ ته پکښې د فنانس Finance محکمه ورکړې شوله. پهٔ دغه وخت کښې دوه



Scanned by CamScanner

قابل او هوښیاران مسلمانان د هندوستان پهٔ فنانس محکمه کښې وو. یو ملک غلام محمد او بل چوهدري محمد علي. دوي پهٔ دې خبره خبر وو چې د هندوستان پهٔ صنعتي او تجارتي دولت د غېر مسلمو قبضه ده نو دوي چې د لیاقت علي خان د پاره اولنے بجټ تیارولو، نو داسې ټیکسونه ئې ولګول چې د هغې اثر پهٔ دغو شته منو سیټهانو او کارخانه دارو پرېوتو. کانګرس چې ټول عمري د خپل سیاست بنیاد د غریب اولس د حالت ښهٔ کولو پهٔ نامه چلولے ؤ. هغهٔ د پاره دا مشکله شوله چې هغه پهٔ دغه بجټ اعتراض وکړي. د دې نتیجه دا شوله چې دغه شته من، سیټهان، کارخانه دار هم اوس پهٔ دې مجبور شول چې دا مطالبې وکړي چې ښهٔ به دا وي چې د دې لانجې د غوڅولو کوشش وشي. دا د روغې ورځې کېدې او غورزې پرزې دې ختمې شي او د مسلم لیګ مطالبه دې ومنل شي او پاکستان دې ورکړے شي . حساب کتاب والا دې چې د پاکستان جوړېدو سره به حکومت هند د شمال مغرب د سرحداتو د حفاظت د ذمه وارۍ نه خلاص شي او دا پهٔ کروړونو روپۍ چې پهٔ قبائلو او هغې سره پهٔ تړلو ضروریاتو لګي، دا به بچ شي. دغو خلقو دا هم وې چې کهٔ مسلم لیګ پهٔ دې رضا دے چې بنګال دې تقسیم شي، کلکته دې هندوستان ته پاتې شي د بنګال اوسپنه او کویله دې هندوستان ته پاتې شي او مسلمانان دې صرف د مشرقي بنګال ډنډونه، سیلابي زمکې او شاړې شودیارې واخلي؛ نو هندوستان پهٔ دې ولې اعتراض وکړي؟

دا شان پهٔ مغرب کښې مسلم لیګ د نیم پنجاب نه هم لاس اخلي هغه خو تقسیموي نو بیا پهٔ دې هندوستان ته څهٔ اعتراض کېدے شي نو پهٔ دا شان ورو پهٔ ورو د هندوستان دننه رائې عامه هم د تقسیم هند طرف ته پهٔ مجبورۍ دیکلې کېده. د اخېري فېصلې مقام اوس رارسیدلے ؤ. د تقسیم فېصله خو شوې ده. اوس د پېرنګي غرض پاتې ؤ چې دا دواړه مملکتونه





هغه څنګه خان سره د ډومینیونونو Dominions پهٔ حېثیت پهٔ برطانوي دولت مشترکه کښې وساتي. د پاکستان د طرف نه خو پهٔ دې هیڅ قسمه اعتراض کولو خو هډوسوال نهٔ پېدا کېدو، پهٔ حقیقت کښې جناح صاحب کافي وړاندې ماونټ بېټن ته دا کونډه وراچولې وه چې کله ئې هغه د پاکستان پهٔ خوبیو قائله کولو. نو جناح صاحب ورته وئیلي وو چې پاکستان پهٔ ډومینین پهٔ حېث پهٔ برطانوي دولت مشترکه کښې شاملېږي ماونټ بېټن پهٔ هغې پورې ټوکه هم کړې وه، وې چې جناح صاحب ډېر حېران شو بهٔ دیو ډومینین پهٔ حېث پهٔ برطانوي دولت مشترکه کښې شاملېږي ماونټ بېټن پهٔ هغې پورې ټوکه هم کړې وه، وې چې جناح صاحب ډېر حېران شو چې ما پکښې نهٔ یواځې دا چې څهٔ دلچسپي ښکاره نهٔ کړله، بلکې دا مې ورته ووې چې کله د دې موقع راشي، نو ستا دا تجویز به بیا حکومت برطانیې ته پېش کړے شي. د جناح صاحب خو دا خیال ؤ چې ګنې دا زهٔ څهٔ ډېر لوے احسان پهٔ برطانیه کوم، ولې پېرنګي پهٔ اصل کښې غرضي پهٔ هندوستان کښې ؤ او پهٔ دې سلسله کښې یو مشکل پېښ هم ؤ. چې کله د هندوستان دغه منتخبه ائین سازه اسمبلۍ راغونډه شوله، نو پهٔ هغې کښې هندوستان ځان لهٔ د ریپبلک حېثیت غوره کړے ؤ. ډومېنین نهٔ: ولې پهٔ دې بل خوا د هندوستان دا رایې وه چې د هندوستان حکومت پهٔ حقیقت کښې د برطانوي هندوستاني حکومت وارث دے نو د دې وجې نه هغهٔ دغه تسلسل جاري ساتل غوښتل. دې کښې ئې غرض دا هم ؤ چې پاکستان خو د هندوستان نه جدا کېږي، نو پهٔ دا شان دا د بېلتوب secession پهٔ تعریف کښې راځي. هندوستان ته یو بل مشکل هم پېښ ؤ او هغه او د هندوستان څهٔ د پاسه شپږ سوه ریاستونه وو. چونکې د دغه ریاستونو معاهدې هم د تاج برطانیه سره وې نو چې ترڅو د هندوستان نوي حکومت د تاج برطانیه وارث تسلیم نهٔ شي، د دې ریاستونو د مستقبل فېصلې به ګرانې وي او چې هندوستان هم پهٔ دولت مشترکه کښې د شاملېدو فېصله وکړه، نو اوس پېرنګي ته مخه ازاده شوله. مشکل ورته صرف دا ؤ چې اوس به د دولت

مشترکه هئيت بدلېږي چې د ډومينين نه علاوه پکښې ريپبلېک هم شامل‌بدے شي چې د هندوستان د پاره د شموليت ګنجائش پېدا شي.[27] پېرنګے خوشحاله شو چې د هغۀ د فرقه وارانه سياست اخېر خپلې منطقي نتيجې ته ورسېدې او کۀ تر اوسه پورې د هغه پاليسي دا وه چې تفرقه واچوه او حکومت وکړه، Divide and rule وه نو اوس چې هغه پۀ هېڅ قيمت هم دلته نوره حکمراني نۀ شي کولې نو قامپرستو او سامراج دښمن قوتونو لۀ هغه د دې نه لويه سزا نۀ شي ورکولې. چې د مذهبي عقيدې پۀ بنياد ئې ټوټې ټوټې کړي؛ بلکې پۀ ملک دننه د مذهبي جنون او فرقه وارانه لېونتوب داسې فضا پرېږدي چې پۀ لکهونو بې ګناه مخلوق خدا پکښې تباه او برباد، لوټلے، ځپلے او پۀ وينو ولمبولے شي او چې د دې اثر به پۀ څومره راتلونکو نسلونو پرېوځي.

## د جون د درېمې د منصوبې اعلان

د ملک حالات اوس داسې وو چې د پېرنګي د لاس کرلي تخم اوس مېوه نيولې وه د فرقه وارانه لېونتوب دا پرغز دې حد ته رسيدلے ؤ او د مسلمان او غېر مسلمو تر منځه دا کرکه اوس د دښمنۍ د حد نه اوړيدلې. مرګ ژوبلې ته رسيدلې وه چې علاج ئې اوس د جناح صاحب پۀ وينا ئې د اپريشن

---

[27] نو دا هم ځکه 1956 پورې پاکستان پۀ بشپړه توګه يو نو ابادياتي هېواد ؤ او د ملک وروستي ګورنر جنرل د برطانيه د وفادارۍ سوګند خوري. پاکستاني ترانه کښې د 'قوم ملک و سلطنت' پۀ مصرعه کښې 'سلطنت' نه مطلب انګرېزي بادشاهت دے ځکه چې نۀ پاکستان سلطنت دے او نۀ دلته څوک سلطان شته دے ـ دا خو جمهوري هېواد يادېږي نو سلطنت نه څۀ مطلب؟ ولې د 1956از د ائين سازۍ نه پس ترانې کښې يو بدلون دا وکړے شو چې د 'جانِ استقلال' چې مطلب ترې برطانيه وه، وباسلے شو او د دې ځاے 'جانِ استقبال' وليکلے شو خو تر اوسه پورې دا ملک د کامن وېلتهـ غړے يا برطانوي ډومېنين دے ځکه برطانيه کښې قانوني لحاظ سره اهمېسي هم نۀ لري او پۀ هائي کمېشن باندې ګزاره کوي





ه‌بل څۀ نۀ وو چې د هندوستان او هغه هندوستان چې دا پۀ سوونو کلونو پکښې مسلمانانو او غېر مسلمو ښۀ د انسانيت او شرافت د ملګرتيا او خوشحالۍ ګډ ژوند سره تېر کړے ؤ چې پۀ دې دورن کښې پۀ سوونو کلونو مسلمانانو پۀ هندوستان حکومت هم کړے ؤ. هم هغه هندوستان ته نن انګرېز قصاب چاړه تېره کړې وه او دغه وجود ټوټې ټوټې او بخرې بخرې کوي.

مونږ چې ورته کتل، نودا د هندوستان تقسيم نه، خو د مسلمانانو تقسيم ښکاريده.

د جون پۀ دويمه ماونټ بېټن د کانګرس او مسلم ليګ درې درې ممبران او سکهانو نه ئې يو ممبر سردار بلديوسنګهه راوبلل. نهرو ماونټ بېټن ته دا خبره پۀ ګوته کړې وه چې هسې خو زۀ او سردار پټېل دې کانفرنس لۀ درتللو خو اوس چونکې د کانګرس نوي قامي انتخابات شوي دي او اچاريه کر پلاني نوے صدر منتخب شوے دے نو چونکې د جماعت ذمه واري صرف هغۀ اخستے شي نو چې کله وائسرا ے خپله منصوبه پېش کوي نو هغه دې هم موجود وي. جناح صاحب چې د دې نه خبر شو نو هغۀ هم تول تراوز ته کښيناست او د درېم غړي مطالبه ئې وکړله او خان او نواب زاده لياقت علي خان سره ئې د سردار عبدالرب نشتر نوم هم ورکړو. د دې نشتر صاحب دا مسئله هم عجيبه وه. د دۀ نوم چې کله مسلم ليګ پۀ عبوري حکومت د يو وزير پۀ حېث ورکړو. نو هغه وخت پۀ دۀ دا اعتراض کانګرس وکړو چې دے پۀ کوم حېثيت د صوبه سرحد د نمائندګۍ دعوي کولې شي ولې چې اوس د 1946 پۀ صوبائي انتخاباتو کښې خو دۀ پۀ خپله کورنۍ حلقه يعني پېښور ښار کښې اليکشن بايللے دے نو چې يو سړے د صوبې پۀ اسمبلۍ کښې د خپلې حلقې د نمائندګۍ دعوي نۀ شي کولے نو هغه پۀ مرکز کښې د ټولې صوبې نمائندګي پۀ کومه خولۀ کوي اخېر وائسرا ے سره پۀ دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فېصله وشوله چې وائسراے به د خدائي خدمتګار د مشر خان عبدالغفارخان نه تپوس وکړي. کۀ هغه پرې اعتراض کوي، نو بيا خو پۀ حقيقت دے د صوبه سرحد د نمائندګۍ دعوي نۀ شي کولے؛ چنانچه د باچا خان نه تپوس وشو، ولې باچا خان وې وزير دې شي، زۀ پرې هېڅ اعتراض نۀ کوم، نو هله پس ته نشتر صاحب پۀ مرکز کښې وزير پاتې شو. وائسراے د برطانوي حکومت د طرف نه د خپلې منصوبې تفصيلات دې جرګې ته وړاندې کړل؛ بنګال او پنجاب به تقسيمېږي، داسام پۀ سلمټ ضلع کښې به رائې شماري کېږي او دغه رنګ صوبه سرحد کښې به هم رېفرنډم کېږي چې دغلته خلق هندوستان کښې پاتې کېږي يا پاکستان سره شاملېږي؟

د بنګال او پنجاب د صوبو د تقسيم د پاره به يو Boundary Commission (باونډري کميشن) مقررېږي چې هغه د صوبو د تقسيم کرښه راکاږي. د هغې فېصله به قطعي وي او يوه ډله به هم د هغې د نه منلو انکار نۀ شي کولے. دې سره سره دا اعلان هم ؤ چې اګر چې پېرنګيانو د 1947 کال د جون نېټه مقرره کړې ده خو کوشش به دا وي چې دا اختيار د دغې نه مخکښې وسپارلے شي.

ماونټ بېټن چې دا پلان دا تجويزونه پېش کړل، نو ورسره ئې دا هم ووې چې اوس سمدستي ځواب نۀ غواړم. تاسو خپلو خپلو ورکنګ کميټو سره جرګه شئ او بيا ما د خپلو فېصلو نه خبر کړئ. جناح صاحب پکښې دا سوال پورته کړو چې د مسلم ليګ ورکنګ کمېټۍ د دومره اهمې فېصلې کولو اختيار نۀ لري. بلکې د دې د پاره به ال انډيا مسلم ليګ کونسل رابلل ضروري وي. چونکې کانګرس دا خبره مخکښې ماونټ بېټن ته کړې وه چې د جناح صاحب طريقه دا ده چې دې د خپلې فېصلې اورولو نه ډډه کوي او پۀ انتظار وي تر څو چې دۀ ته د کانګرس د فېصلې پته ولګي نو دے بيا د هغې پۀ رڼا کښې خپلې فېصلې کوي نو دا ځل کانګرس ماونټ بېټن سره پۀ





دې خبره ټينګ ؤ چې د نورو وائسراے ګانو هسې کار ونۀ کړي چې هغوي به د کانګرس ټول حال جناح صاحب ته وې بلکې يو وخت دې مقرر کړے شي چې پۀ هغه مقرره وخت دواړه ډلې خپلې فېصلې ماونټ بېټن لۀ راوړي جناح لوظ وکړو چې زۀ به بېګا لۀ د شپې خپله جماعتي فېصله تر وائسراے راورسوم

ماونټ بېټن وائي چې جناح صاحب نيمه شپه راغے او ما ته ئې ووې چې زۀ خو د مسلم ليګ يو ائيني سربراه يم او د فېصلې اختيار خو صرف د مسلم ليګ کونسل لري. ماونټ بېټن ليکي چې ما ورسره ډېر سرخوږ کړو چې دې ځل لۀ کانګرس ښېخي دا خبره پۀ هېڅ قيمت هم نۀ مني او د مسلم ليګ قطعي ځواب غواړي، خو جناح صاحب يوه خبره هم نۀ منله. ماونټ بېټن اخېر مجبور شو. جناح صاحب ته ئې مخ راواړولو چې زۀ تا لۀ قطعاً دا اجازه نۀ شم درکولې چې دا کومه فېصله مونږ دومره پۀ کړاو او تکليف کړې ده، دا دې ته تباه اوبرباد کړې. او کۀ چرې تۀ د مسلم ليګ د طرف نه د قبلولو ذمه واري نۀ اخلې، نو زۀ به ئې د مسلم ليګ د پاره قبوله کړم د هغوي نمائندګي به زۀ پۀ خپله وکړم.

> Mr. Jinnah I do not intend let you wreck all the work that has gone into this settlement. Since you will not accept for the Muslim League, I will speak for them myself.
>
> (Campbell Johnson, Mission with Mountbatten p.103)
>
> ترجمه: ښاغلي جناح! زۀ نۀ غواړم چې څومره خوارۍ دې فېصلې ته د رسېدو د پاره شوې دي هغه ته بربادې کړې. چونکې تۀ ئې د مسلم ليګ د طرفه نۀ شې قبلولې؛ نو زۀ به پۀ خپله د مسلم ليګ پۀ نمائندګۍ خبرې وکړم

وائسراے پۀ دې خاے ونۀ دربدو مخکښې جناح صاحب ته وائي چې سبا



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لۀ سحر دغه مشران راغونډ شي نو زۀ به اعلان وکړم چې ما لۀ جناح صاحب تسلي راکړې ده او زۀ ترې نه مطمئن يم او تۀ به د دې ترديد نۀ کوي بلکې د دې اعلان نه پس چې زۀ تا ته وګورم نو تۀ به سر ورڅوې مطلب دا چې وائسرائے څۀ وائي، دا رېښتيا دي. وائسرائے ليکي چې ما دا خبره جناح صاحب ته وکړه نو پۀ خولۀ ئې څۀ ونۀ وې خو دلته ئې هم ما ته سر ورڅولو مطلب خو واضحه دے چې د تقسيم هند دغه فېصله چې د جون د دريمې د منصوبې پۀ نامه يادېږي، مسلم ليګ او جناح صاحب پۀ خپله نۀ ده منظوره کړې. بلکې دا ايجاب و قبول د مسلم ليګ او جناح صاحب د طرف نه وائسرائے هند لارډ ماونټ بېټن پۀ خپله کړے دے. پۀ دې دعوي چې د مسلم ليګ د طرفه د هغوي د نمائندګۍ او خبرو کولو اجازه ما سره ده. نۀ پوهېږو چې د مسلم ليګ دا اختيار ماونټ بېټن لۀ ورکړے وُ کۀ نۀ هغۀ پۀ بدمعاشۍ دا اختيار تر ګوتو کړے وُ. خو دا حقيقت د هغۀ سرکاري دستاوېزاتو نه معلومېږي چې د هغوي د لاس ليکلي خوندي پراتۀ دي.

## ريفرنډم

د ريفرنډم د اعلان سره سم د صوبې د طرف نه د هغې مخالفت وشو. مونږ دا خبره کوله چې کۀ د استصواب نه غرض د اولس رائې معلومول وي نو هغه خو ښرګنده ده ولې چې کال مخکښې پۀ صوبائي انتخاباتو کښې خدائي خدمتګارو نۀ يواځې دا چې د صوبې د ټولو اوسېدونکو پۀ سطح بلکې د مسلمانانو ممبرانو پۀ شمېر کښې هم مسلم ليګ لۀ شکست ورکړے دے. د دا کال پس بيا د څۀ خبرې حال معلوموي چې د هغې د پاره د ريفرنډم اعلان وشو. د صوبې د مرکزي جرګې د دې فېصلې پۀ رڼا کښې د کانګرس مرکزي مشرانو هم دا خبره ومنله چې هغوي به د ريفرنډم مخالفت کوي. خو ورځو کښې ماونټ بېټن شملې ته لاړ او هلته ئې جواهر لال نهرو سره





هم مېلمه وُ. د هلته نه چې دوي واپس راتلل نو اعلان وشو چې پۀ صوبه سرحد کښې به ريفرنډم کېږي. جواهر لال ورسره دا خبره منلې وه. جواهر لال وې چې ما دا ټوله خبره د صوبې د وزيراعلي ډاکټر خان صاحب سره پۀ تفصيل کړې وه او هغۀ را سره منلې وه.

د خدائي خدمتګارو پۀ ريفرنډم هم اولنے اعتراض دا وُ چې کله کانګرس او مسلم ليګ دواړه پۀ تقسيم متفق شول او ان دا چې مرکزي ورکنګ کمېټۍ هم د دې تقسيم توثيق وکړلو او چې هر کله مونږ خدائي خدمتګارو خانونه د کانګرس د فېصلې پابند ګڼو ولې چې پۀ دغه ورکنګ کمېټۍ کښې زمونږه نمائندګي هم پۀ خان باچا خان کوي او چې مونږ تقسيم منو او دا تسليموو چې صوبه سرحد دې د پاکستان حصه وي نو د دې ريفرنډم بيا ضرورت څۀ پاتې شو؟ د څۀ د پاره ئې کوئ؟ او چا سره ئې کوئ؟ نتيجه به ئې بله هيڅ نۀ وي ماسوا د دې نه چې د محاذ ارايۍ يوه فضا پېدا کړې شي او هغه هم پۀ داسې وخت کښې چې حالات ډېر خطرناک او دهماکه خېز دي. ولې د پېرنګيانو او مسلم ليګ پۀ دې ريفرنډم کښې خپل غرضونه وو. د مسلم ليګ اول غرض خو دا وُ چې مسلم ليګ دا تاثر ورکول غوښتل چې پاکستان صرف او صرف د هغوي پۀ غوښتنه او مطالبه ګټلے شوے دے او دا ئې د ثابتولو کوشش وُ چې دا تاثر ورکړي چې خدائي خدمتګارو د يو اسلامي مملکت د جوړولو مخالفت کړے دے او ځکه خو نوبت استصواب ته ورسېدو. د دې غرض د پاره د صوبه سرحد سره جدا رويه اختيار کړے شوي. د ټول هندوستان د مسلمانانو پۀ اکثريتي صوبو کښې د صوبائي اسمبلو نه رائې واخستلې شوې. د بنګال او پنجاب اسمبلو د تقسيم منصوبه منظوره کړله چې صوبې دې تقسيم شي. د سندھ اسمبلۍ نه هم د پاکستان پۀ حقله تپوس وشو نو د سرحد اسمبلۍ نه ولې نۀ کېدو؟ خبره خو بيخي ښرګنده وه چې دلته د صوبې پۀ اسمبلۍ کښې د خدائي خدمتګارو



Scanned by CamScanner

اکثريت ؤ. نو چې دې اسمبلۍ پهٔ پاکستان کښې د شموليت فېصله کړې وے نو دا فېصله به د خدائي خدمتګارو وه او دا پوزيشن نهٔ مسلم ليګ قبلولو او نهٔ پېرنګي دې ته غاړه کېښوده.

دوېم غرض د مسلم ليګ دا ؤ چې دا خو ورته معلومه وه چې خدائي خدمتګار پهٔ ريفرنډم کښې حصه نهٔ اخلي نو بيا به ريفرنډم اروړو د پاکستان پهٔ حق کښې فېصله کېږي. نو خو چې کله د ريفرنډم د نتيجې اعلان وشي نو مسلم ليګيان به دا چغې سورې شروع کړي چې مونږ نهٔ وې چې قام پهٔ خدائي خدمتګارو اعتماد نهٔ لري؟ ولې چې اوس د صوبه سرحد سياست بالکل اړخ بدل کړے دے او پهٔ دا شان به دا ريفرنډم پهٔ صوبائي وزارت د عدم اعتماد طرف ته راکاږي او مطالبې به شروع شي چې اوس دې وزارت لهٔ پکاردي چې د قام فېصله ومني او استعفي دې ورکړي او کهٔ دا وزارت استعفي نهٔ ورکوي نو بيا ګورنر جنرل لهٔ پکاردي چې دا وزارت بر طرف کړي او پهٔ دا شان دا صوبه د خدائي خدمتګارو نه واخلي مسلم ليګ ته ئې ډالۍ کړي.

دلته چې کله خدائي خدمتګار دې نتيجې ته ورسېدل چې پېرنګے پهٔ هر رنګه چې وي دا ريفرنډم کوي نو بيا هغوي دا فېصله وکړه چې کهٔ ريفرنډم د پاکستان او هندوستان پهٔ مسئله کېږي نو دا خبره خو فېصله شوې ده چې صوبه سرحد به د پاکستان حصه وي نو د ريفرنډم ضرورت قطعي نشته ولې کهٔ پېرنګے خامخا د ريفرنډم خپل شوق پوره کوي نو بيا پکار دي چې د حقيقي حق خودارادېت د اصولو د لاندې د دې صوبې خلقو لهٔ دا اختيار هم ورکړے شي چې کهٔ هغوي هندوستان او پاکستان سره تلل نهٔ غواړي نو چې هغوي ته دا اختيار وي چې دلته دې د پښتنو خپله يوه ازاده صوبه قائمه شي يعني د هندوستان او پاکستان سره دې د "ازاد پښتونستان" دا نکته هم پهٔ ريفرنډم کښې شامله شي.





دي درېم شق دا مطالبه ماونټ بېټن نامنظوره کړله نو د دې وجې نه خدائي خدمتګارو بيا اعلان وکړو چې چونکې پهٔ دغو دوو مسئلو فېصله شوې ده نو پهٔ هغې ريفرنډم بې مطلبه دے . نو د دې وجې نه خدائي خدمتګار به د دغه ريفرنډم بائيکاټ کوي

دلته يوې خبرې ته فکر پکار دے؟ د انګرېز دوه عملي او د پاکستان د مشرانو بې اصولي. دا خو څرګنده ده چې کله د تقسيم بنګال مسئله پېښه شوله او هلته نه د مسلم ليګ وزيراعلي حسېن شهيد سهروردي دا تجويز پېش کړو چې بنګال دې متحده پاتې شي او ازاد دې پاتې شي نو جناح صاحب خو پهٔ دغه تجويز ډېر خوشحاله ؤ او سمدستي ئې منظور کړو ولې دلته پهٔ دې صوبه کښې هم هغه مطالبه چې خدائي خدمتګارو وکړله نو هغه د اسلام دښمنان او د پاکستان غداران شول؟ او بيا دې ته هم لږ فکر پکار دے چې پهٔ متحده بنګال کښې خو د مسلمانانو او غېر مسلمو د ابادۍ تناسب 54 او 46 ؤ. هلته خو مسلمانانو ته يوه خطره پېښېدلے شي چې کهٔ چرې غېر مسلم کوشش وکړي او يو څو مسلمانان ځان سره ملګري کړي نو د هغې صوبې وزارت به د مسلمان پهٔ ځاے غېر مسلم هم خپلولے شي ولې دلته پهٔ صوبه سرحد کښې خو د دغې قسمه د هېڅ اړخه ګنجائش نهٔ ؤ چې ګنې دې صوبه کښې به چرې هم د غېر مسلمو وزارت جوړ شي ولې چې دلته د مسلمانانو تناسب 93 فيصده ؤ. بل د ازاد بنګال وزارت به ټول عمري غېر مسلموته موتازه ؤ، دلته خو دا مجبوري هم نهٔ وه ولې هغه د پښتنو خبره "چې څې څې نو ابازو لهٔ به راځې" د هر اړخ نه چې ورته سړے ګوري نو خبره هم پهٔ هغه يو ځاے تمامېږي چې پېرنګي د اسلام يوه نظرياتي تيزندۍ د شوروي اتحاد د اشتراکي نظام پهٔ غاړه کښې اچول غوښتل او خدائي خدمتګار خو څهٔ کوې. پېرنګي د هېڅ قسمه خنډ پهٔ دغه لاره کښې پرېښودو ته تيار نهٔ ؤ. د هغهٔ دا فېصله وه چې تر څو زهٔ قام پرسته او سامراج

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمنه قوتونه د مخې نه لرې نهٔ کړم نو زما بین المللي دغه منصوبه سر ته نهٔ رسي.

حقیقت دا دے چې پهٔ دغه وخت کښې د خدائي خدمتګارو د مشرانو دا پوخ یقین ؤ چې د مسلم لیګ دې مشرانو چې پهٔ ځان دا داسې د ناتاره پرغز راوستے دے او تر مرګ ژوبلې پورې تلو باندې ایله نهٔ کوي نو دا صرف د پاکستان د جوړېدو پورې ده او چې دغه پاکستان جوړ شي نو بیا به دا دومره لیونتوب او چتې پهٔ چتې ور لاندې وتل نهٔ کوي ګڼې نو کهٔ پهٔ حقیقت کښې خدائي خدمتګارو پهٔ دغه وخت کښې د مقابلې فیصله کړې وے نو د هغې د پاره لاره موجوده وه. بلکې ما پهٔ خپله د دې لارې ښوونه کړې وه. خبره واضحه وه چې کهٔ خدائي خدمتګار ازاد پښتونستان غواړي او د پېرنګي د اړخ نه پکښې دا حق د دې صوبې اوسېدونکو لهٔ نهٔ دے ورکړے شوے نو د هغې نه د وتو لاره خو ډېره اسانه وه دغه وخت خو د هندوستان پهٔ ائین سازه اسمبلۍ باندې د کانګرس مکمله قبضه وه نو کهٔ خدائي خدمتګارو د دغه د هندوستان پهٔ اسمبلۍ دا تجویز پاس کړے وے، چې کهٔ پهٔ راتلونکي رېفرنډم کښې د صوبه سرحد خلق هندوستان سره د شمولیت اعلان وکړي نو هندوستان به دغه صوبې لهٔ مکمله ازادي ورکړي او د دغې ازادۍ د تحفظ ذمه واري به قبوله کړي او بیا د دې لوظ او ضمانت پهٔ رڼا کښې به خبره رېفرنډم ته ووځي او قام ته به ووائي چې کهٔ ځان لهٔ ازاد پښتونستان غواړئ نو هندوستان سره د شمولیت پهٔ حق کښې ووټ ورکړئ او بس. ولې زما دا خیال ؤ چې د هغې وخت مشران د مسلم لیګ د مشرانو پهٔ سړیتوب. انسانیت او اسلامي جذبه، مروت او وروروله تېروتل.

پهٔ دغو ورځو کښې زما یو اشنا مسلم لیګي ما پسې راغے. وې منې کهٔ نهٔ؟ بچو ځنګه مو وتړلئ؟ اوس تاسو دلته ګېر شوئ او هندوستان درنه هلته





پاتې شو، پهٔ منځ کښې مو پنجاب راننوت او د دې وجې نه اوس پهٔ رېفرنډم کښې دا هم نهٔ شئ وئیلے چې هندوستان سره یو ځاے کېږو ما ورته وخاندل ماوې مسلم لیګے ئې کنه دا ملکونه ټوټې ټوټې او حصې بخرې ستا او ستا د بادار پېرنګي کار دے. مونږ جوړول کوو ماتول نهٔ. ګنې نو کهٔ ستاسو هسې سیاست مونږ هم کولو نو تانه دا خبره ولې هېره ده چې ستا د مشرقي او مغربي پاکستان ترمنځه څومره فاصله ده؟ تهٔ خو د خپل سرحد نه یو نیم زر میله لرې ملک پهٔ شریکه جوړولے شي نو ما ته خو صرف درې سوه میله هم نهٔ دے. بله دا چې ستاسو د مغربي او مشرقي پاکستان ترمنځه خو ستا پهٔ وېنا یو کافر او دښمن ملک دے، ما پورې پهٔ ګاونډ کښې خو به مسلمان او ورور پنجابے وي.

خو خېر حکومت هند د رېفرنډم تیارۍ شروع کړلې. د صوبه سرحد ګورنر سر اولف کیرو ئې لرې کړو او سر باب لاکهارټ (Sir Bob Lockhort) د سرپرستۍ لاندې ئې رېفرنډم وکړو. اګر چې خدائي خدمتګارو د بائیکاټ اعلان کړے ؤ او د رېفرنډم نتیجه څرګنده وه مګر د دې باوجود هم مسلم لیګیانو د حده ورته زور لګولے ؤ. د کرکې. نفرت او اشتعال تقریرونو کولو لهٔ ئې د پښتنو نه علاوه د هندوستان د ګوټ ګوټ نه مشران راغلي وو. د دې نه علاوه د علیګړه پورې طالب علمان پهٔ ټوله صوبه خوارهٔ وو. ولې د ووټونو پهٔ ورځ خو ئې دومره بې ایماني وکړه چې شاید د هغې مثال موجود نهٔ وي. غلط او د دروغو ووټونه ئې پول کړل. زمونږ د مشرانو ووټونه پول شول. پهٔ دې سلسله کښې دوې واقعې د یادولو دي. یو خو ما ته پهٔ خپله سکندر مرزا قیصه کوله چې هغهٔ ته د هزارې د هغه وخت ډپټي کمشنر وې چې هغه پهٔ دغه ورځ د مختلفو پولنګ سټېشنونو د کتو پهٔ سلسله کښې د ګلیاتو یو سټېشن ته لاړو چې تپوس ئې د عملې نه وکړو نو هغوي ورته ډېر پهٔ فخر ووې چې صاحب پهٔ دې سټېشن خو ټول ټال دوه سوه ووټونه دي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې چې غرنیزه علاقه ده خو اوسه پورې مونږ دوه سوه اوولس 217 ووټونه اچولي دي. وائي چې ډپټي کمشنر راته ووې چې ما شور جوړ کړو چې دا مو څۀ غضب کړے دے؟ کۀ دا چا اعتراض وکړو نو بیا به ورته څۀ جوړوو؟ یوه بله واقعه د دې نه هم عجیبه ده. وروسته چې بیا کله پۀ 1970، کښې د انتخاباتو پۀ نتیجه کښې د نېشنل عوامي پارټۍ وزارت جوړ شو او کافي مسلم لیګیان مونږ سره شامل شول نو پۀ هغې کښې یوې زنانه مسلم لیګۍ ما ته ووې چې ما پۀ دغه ریفرنډم کښې پۀ خپل لاس یو پنځوس ووټونه اچولي وو. ما وې بي بي دا یو ووټ خو به دې خپل ؤ او د خپل خاوند پۀ نامه به دې اچولے وي ولې د دې باقي پنځوسو ووټونو اچولو نه پس تا د نکاح د تازه کولو (تجدیدنکاح) ضرورت محسوس نۀ کړو؟ ولې چې د خپلې خولې دې د پولنګ د عملې د موجودو افسرانو د وړاندې بیان کړے دے چې زۀ د فلاني ښځه یم؛ نو چې دا پنځوس مړونه تا ځان لۀ کتل: نو ستا د هغه خپل خاوند خوار هغه شرعي حېثیت لا هغه شان موجود ؤ؟ او خطره خو لا بله هم پکښې وه، کۀ چرې پۀ دغو پنځوسو کسانو کښې یو تن راغلے وے او ستا پۀ اوږه ئې لاس ایښے وے چې دا زما ښځه ده. پۀ خپلې خولې ګویانه ده. نو بیا څۀ وو؟[28]

خو خبر د پېرنګي مسلم لیګ سرکاري افسرانو د کوشش او د جعلي ووټونو تېرولو نه پس هم نتیجه دا وه؛

| | | |
|---|---|---|
| د ووټونو ټول تعداد: | 572,799 | |
| پول شوي ووټونه: | 292,118 | (51%) |
| د پاکستان پۀ حق کښې ووټونه: | 289,244 | (50.5%) |
| د هندوستان پۀ حق کښې ووټونه: | 2,874 | |

[28] دا مسلم لیګۍ زنانه د یوسف خټک خور وه چې 1970 کښې د نېپ پۀ کوټه کښې بیا د اسمبلۍ غړې ټاکلې شوې وه.





دغه د ریفرنډم اصلي حقیقت چې د دې ټولو ټګو تورو او جعلي ووټونو باوجود هم صرف (50.5%) خلقو ووټ پول کړے دے. دې سره دا خبره هم یاد ساتل پکار دي چې پۀ دغه وخت کښې ووټ عام نۀ ؤ بلکې مخصوص ووټ ؤ. ځکه خو د صوبه سرحد پۀ پینځۀ دېرش لکهه 3500,000 ابادۍ کښې څۀ کم شپږ لکهه 600,000 ووټران وو. بله دا چې دا ریفرنډم صرف د صوبه سرحد پۀ شپږو ضلعو کښې شوے ؤ. د صوبه سرحد سره ملحقې شپږ ایجنسۍ د دې نه بهر وې قبائلي علاقه پۀ کښې نۀ وه شامله نور خو څۀ کوې چې سوات، دیر، چترال او د امب ریاستونه هم پکښې نۀ وو شامل؛ نو چې د دغه پښتنو ابادي هم ورسره کړې، نو بیا خو تقریباً اویا اتیا لکهو 70,000,000. 80,000,000 خلقو کښې د درې لکو نه کم خلقو ووټ ورکړے دے. هسې خو د بین الاقوامي ادارو د طرف نه چې کله حق خودارادیت استعمالیږي، نو هغې کښې د قطعي فیصلې تسلیمولو د پاره ضروري وي چې 2/3 یا پۀ سلو کښې پینځۀ او یا 75% ووټونه پۀ حق کښې واچول شي. نو کۀ خدائي خدمتګارو پۀ دغه ریفرنډم اعتراض کول مناسب ګڼل نو قانوني او اخلاقي طور د هغوي اعتراض قوي ؤ. ولې چونکې خدائي خدمتګارو دغه ریفرنډم غېر ضروري وګڼلو نو د دې وجې پۀ دې اړخ هڅو خپل وخت ضائع نۀ کړو بلکې کوشش ئې دا ؤ چې د تېرو سیاسي ترخو او اشتعال انګېزه لانجونه ورو ورو ځان دې بلې خوا ته راواړوي او اوس چې پېرنګے پۀ کډه تړلو مجبور شو او د خدائي خدمتګارو عظیمو قربانو او بې کچه میړانې رنګ راوړو او د عمرونو ارمانونه ئې پوره شول نو اوس پکار وه چې کوشش وشي چې د محاذ ارائۍ او د نفاق فضا ختمه کړې شي. دښمن پېرنګے د منځه ووتو. اوس خو سره خپل پاتې شول نو د ملک ابادۍ ته پۀ شریکه وړلاندې وتل پکار وو. چې د پېرنګي د بچي نه پاتې همه د ژوند خوشحالۍ سوکالۍ د پښتون دې وږي تږي او بربنډ بچي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ ښېګړه راوستے شي.

لکه څنګه چې توقع کېدې شوه، د رېفرنډم د نتیجې اعلان سره سمدستي مسلم لیګیانو دا چغې سورې شروع کړلې چې قام خپله فېصله واورولهٔ اود رېفرنډم پهٔ ذریعه ئې پهٔ موجوده حکومت د عدم اعتماد اظهار وکړو نو اوس پکار دي چې د وزارت نه استعفي ورکړي. دا نهٔ چې ګنې مسلم لیګیان پهٔ دې پوهه نهٔ وو چې د رېفرنډم د صوبائي وزارت سره څهٔ تعلق دے رېفرنډم خو د هندوستان او پاکستان پهٔ نامه شوے دے او پکښې حکومتي ډلې حصه هم نهٔ ده اخستې. د وزارت د اعتماد او عدم اعتماد خو پهٔ اسمبلۍ پورې تړلے دے. دا دومره زیات زور مسلم لیګیانو پهٔ بله وجه هم لګولے ؤ. د موجوده ائین د لاندې خو ګورنر جنرل سره دا اختیار ؤ چې هغه یو صوبائي وزارت بر طرف کړي. ولې د کوم ائین اعلان چې د ازادۍ پهٔ سلسله کښې انګرېز کړے ؤ نو هغې کښې ئې اختیار صوبو لهٔ ورکړے ؤ او د ګورنر جنرل دا اختیار نهٔ ؤ چې یو صوبائي وزارت دې برطرف کړي نو د دې وجې نه د مسلم لیګ د مشرانو دا کوشش ؤ چې اول خو دې د وزارت نه پهٔ خپله استعفي ورکړي او کهٔ دوي استعفي نهٔ ورکوي نو بیا ګورنر جنرل لهٔ پکار دي چې دا بر طرفه کړي. چنانچې هم د دې قسمه خبره جناح صاحب د ماونټ بیټن سره پهٔ خپله وکړه او د هغهٔ نه ئې خواهش وکړو چې د صوبه سرحد وزارت بر طرف کړي. ماونټ بیټن ورته هم دغه ووې چې د رېفرنډم د صوبائي وزارت سره هېڅ تعلق نشته، کهٔ تاسو د صوبه سرحد وزارت لرې کول غواړئ نو د هغې د پاره ائیني لارې موجودې دي. تاسو به د هغوي بر خلاف د عدم اعتماد ووټ پهٔ اسمبلۍ کښې پاس کړئ. دا ئې هم ورته ووې چې زهٔ دغه وزارت نهٔ شم بر طرف کولے چې کله ستاسو اختیار شي نو خوښه مو خپله.





## د دواړو ګورنر جنرلانو تقرري

هلته پهٔ ډیلي کښې یو دوه درې کارونه داسې وشول چې هغه بېخي د پېرنګي د توقع نه خلاف وو. د دواړو تعلق د هندوستان سره ؤ او د یو تعلق پاکستان سره. د هندوستان اختیار خو د هغه ملک د قام پرسته ډلې انډین نېشنل کانګرس ته وسپارلے شو. هلته هم هغه خپل انقلابي او مجاهد لېډر شپ موجود ؤ. چا چې د پېرنګي بر خلاف پهٔ کلونو جدوجهد کړے ؤ. بې حسابه قرباني ئې د نر او ښځو ورکړې وې. د هغوي مقابله د سامراج پېرنګي سره وه او لازمي خبره وه چې هلته دې پهٔ تعلقاتو کښې یو قسمه سختي او تریخ والے وي. پېرنګے هم پهٔ دې پوهه ؤ چې د هغهٔ رویه د هندوستانیانو سره د دښمنۍ وه او بیا پهٔ تېره تېره د کله نه کانګرس د ملکي خود مختارۍ اعلان کړے ؤ او د هغې پهٔ سلسله کښې دا څومره تحریکونه چلېدلي وو او پېرنګي د دغو تحریکونو د چقولو د پاره د څومره ظلمونو او تشدد نه کار اخستے ؤ بیا پهٔ خصوصیت سره د "هندوستان پرېږدئ" Quit India د تحریک پهٔ سلسله کښې خو نوبت د هوائي جهازونو نه بمبارۍ ته ورسېدو. نو هلته به ئې د دښمنۍ، نفرت او کرکې نه بل څهٔ نتیجه پاتې وه؟ پېرنګے پهٔ دې ښهٔ پوهېدلو چې د هندوستان موجوده مشران او د هغوي پهٔ لکهونو پېروکاران هم د دې اور نه وتي دي او بیا پهٔ تېره تېره چې پهٔ تلو تلو کښې پېرنګي څنګه حالات پهٔ ملک کښې پېدا کړل او د مذهبي جنون او فرقه وارانه پرغز یو داسې اور ئې پهٔ ټول ملک ولګولو، نو څنګه به د هندوستان د دې مشرانو زړونه پېرنګي ته سپین شي؟ او بیا چې کله د هندوستان ائین سازې اسمبلۍ خان لهٔ د ډومینین پهٔ ځاے د رېپبلیکن Republic حېثیت قبول کړو، نو بیا خو پېرنګے بېخي پوهه شو نو ځکه خو د پېرنګي پهٔ خپلو غوږونو یقین نهٔ کېدو چې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندوستان دې ته تیار وے چې د ریپبلک په حېث په برطانوي دولت مشترکه کښې شامل شي او د برطانیې د ملکې معظمې په مشرۍ کښې د دغه ټولنې ممبري قبوله کړي. پېرنګیان هک حېران پاتې شول. د ډیلي نه واخله تر لندن پورې ټول حاکمان په دې سوچ کولو مجبور شول چې د کانګرس مشران سیاسي عقل او پوهه لري او قامي او ملکي ښېګړه په خپلو ذاتي او شخصي ښېګړو پورې نه تړي ولې د دې نه هم زیات حېران پېرنګیان په دې بله خبره شول چې د کانګرس مشرانو دا فېصله وکړله چې د دې عبوري دور د پاره دې هم دا لارډ ماونټ بېټن د ازاد هندوستان د نوي ائین د لاندې د قام خوښ کړي منتخب ګورنر جنرل پاتې شي. پېرنګیان څۀ چې ټوله دنیا هکه حېرانه پاتې شوله چې په دې داسې مشکلو حالاتو کښې او د هندوستان د نوي مملکت د مستقبل د فېصلو او پالیسیو جوړولو په دې دومره نازک او پېچیده وخت کښې د قام منلي لیډران او ستر مشران اختیار یو انګرېز ته وسپاري. دا رېښتیا چې د یو مدبر او دور اندېشه سیاسي جماعت کارنامه وه چې دغه مشران نۀ څۀ ذاتي دښمني لري او دا ئې هم ثابته کړله چې دغو مشرانو دا هر څۀ د ذاتي جاء وجلال او شخصي منصبونو د پاره نۀ کول. بلکې د هغوي په مخکښې د هر څۀ نه وړاندې ملکي او قامي مفادات وو.

د دې په مقابله کښې د ماونټ بېټن د سکرټري کېمبل جانسن د وېنا مطابق د جناح صاحب د طرف نه دا یقین دهاني ماونټ بېټن لۀ ورکړے شوي وه چې هغۀ د دواړو ډومینینونو مشترک ګورنر جنرل وي.

> Provision had made in the Act on Mr. Jinnah`s suggestion for Lord Mountbatten to be Governor.General of both Dominions. And for sometime it seemed as if this might be acceptable, but at the last moment Mr. Jinnah decided otherwise.
> *(Campbell Johnson, Mission with Mountbatten p.35)*





ترجمه: د ښاغلي جناح په تجویز په قانون کښې داسې ګنجائش پاتې کړلے شو چې لارډ ماونټ بېټن به د دواړو ډومینینونو (پاکستان او هند مترجم) ګورنر جنرل وي او تر څۀ وخته پورې خو معلومېده چې دا به قبول شي ولې په اخېري شېبه کښې ښاغلي جناح صاحب بل شان فېصله وکړه.

او معلومېږي چې هم دا اطلاع ماونټ بېټن حکومت برطانیې ته هم کړې وه. بیا چې کله د فېصلې وخت راغے او ماونټ بېټن جناح صاحب ته د خپلې فېصلې په حقله ووې نو خبره جناح صاحب په دې ټالوله او زنګوله چې خپلو ملګرو سره به مشوره کوم. کېمبل جانسن لیکي چې جناح صاحب ته ټولو ملګرو دا تجویز پېش کړو چې پاکستان ته ډېرې لانجې پېښې دي. د اوبو تقسیم مسئله ده، د هندوستان سره د فوځ. ساز وسامان. ریلونو او داسې د نغد رقم وغېره بې شمېره لانجې داسې دي چې د پاکستان خېر په دې کښې دے چې دا درېمګړے ماونټ بېټن دې د دې عبوري وخت د پاره ګورنرجنرل پاتې شي. کېمبل جانسن وائي چې جناح صاحب په هفتو په فېصلو ناست وُ، نه ئې ښودله اخېر ئې بیا فېصله واورله "او د جناح فېصله هم د جناح په حق کښې وه".

> He has at long last "come clean" and Jinnah's verdict goes in favour of Jinnah.
> (C.johnson. Mission with Mountbatten. P.127)

ترجمه: هغه اخېر بیخي "تش لاس" راغے او معلومه شوه چې د جناح فېصله فقط د جناح په حق ده.

په دې سلسله کښې ماونټ بېټن لیکي چې زۀ د جناح صاحب د فېصلې نه خبر شوم نو ما په ټوله مسئله پوهه کړو چې ستا په دې فېصله کښې دا نقصان او دا مشکلات دي ستاسو نوي مملکت ته: ولې جناح صاحب د دې هر څۀ په ځواب کښې داسې خبره وکړله چې ماونټ بېټن لۀ ئې خولۀ بنده



Scanned by CamScanner

کړه:

*Jinnah solemnly assured me that he reallsed all the disadvantages of giving up the common Governor.General.... But he was unable to accept any pssition other than the G.G of Pakistan on 15th August.*

*I asked him "Do you realise what this will cost you?" He said sadly " it may cost me several crores of rupees in assets" to which I replied comewhat acidly. "it may well cost you the whole of your assets and the future of Pakistan"*

*(Hodson, the Great Divide, p.331)*

ترجمه: جناح پهٔ سنجيدګۍ سره راته ووې چې د مشترکه ګورنر جنرل د فېصلې نه پهٔ شا کېدو د زيانونو احساس راسره شته دے ... ليکن هغه پهٔ پنځلسم اګست بغير د پاکستان د ګورنرجنرل عهدې قبلولو نه بل پوزېشن نهٔ شي قبلولے ... ما ترې نه تپوس وکړو ايا پوهېږې چې دا به تاته څومره ګرانه تمامه شي؟ هغهٔ پهٔ غمګينه لهجه کښې ووې 'دا به ما ته د زياتو کروړونو روپو د اثاثې د تاوان پهٔ قيمت پرېوځي' چې ما ورته پهٔ ځواب کښې زياته کړه 'دا به تاته د ټولو اثاثو او د پاکستان مستقبل پهٔ تاوان تمامه شي'

جناح صاحب ووې چې د مشترکه ګورنر جنرل نه کېدو کښې چې څومره مشکلات، پېچيدګۍ او تاوانونه دي. پهٔ هغې ټولو خبر يم خو راته ووايه چې کله پاکستان قائم شي نو پهٔ دغه مملکت کښې به زما مناسب کوم يو منصب وي چې زهٔ هغه قبول کړم او جناح صاحب وائي چې زهٔ ورته فکر کوم. نو زما د مقام سره مناسب هم صرف دغه منصب د ګورنر جنرلے دے چې زهٔ ئې د اګست پهٔ پينځلسمه قبول کړم.





ماونټ بېټن ووې؛ 'د ګورنر جنرل منصب خو به د ائيني سربراه وي، ټول حکومتي اختيار خو به د وزيراعظم سره وي، نو کهٔ د جناح صاحب غرض پهٔ اختيار کښې وي نو بيا خو پکار دي چې هغه د وزيراعظم عهده قبوله کړي' پهٔ ځواب کښې ورته جناح صاحب ووې چې 'هلته به زما اختيار وي، زهٔ به حکم کوم نور به ئې مني'

His (Jinnah) answer was significant. He said "in my position it is I who will give the advice and others who will act on them".

*(Hodson, The Great Divide, p.331)*

ترجمه: د جناح ځواب معني خېز وُ هغه ووې 'زما پهٔ پوزېشن کښې به دا زه يم چې نورو ته مشوره ورکوم او هغوي پرې عمل کوي'

څهٔ عجيبه مکل لمه لهٔ ده! پېرنګے جناح صاحب نه پوښتنه کوي چې 'مشترک ګورنر جنرل نه وي، نو څهٔ د تاوان اندازه دې لګولې ده؟' جناح صاحب وائي چې 'يوڅو کروړه روپۍ به وي' ماونټ بېټن وائي؛ 'ماورته ووې چې ستا به ټوله اثاثه لاړه شي او د پاکستان مستقبل ته به خطره پېښه شي' ماونټ بېټن سره د پاکستان د مستقبل فکر دے.

کله پهٔ غور ورته وکتے شي، نو پهٔ دغو حالاتو کښې د جناح صاحب دا فېصله هر چا ته څهٔ چې پېرنګيانو ته ډېرهٔ څهٔ ناشونې ښکارېده. ولې چې پهٔ حقيقت کښې دا ضرورت پاکستان ته وُ چې هغه د خپلو اثاثو. دولت او هر څهٔ وېشلو دا لانجه درېمګړي ته څهٔ چې يو ذمه وار پېرنګي ته ئې پهٔ حواله کړي، او لازمي خبره ده چې د جناح صاحب د دې فېصلې نه پس بيا پېرنګيانو هغه خپله مايوسي او غصه پټه نهٔ کړې شوه.

بلکې پهٔ ډېره ترخه او سخته لهجه ئې پهٔ جناح صاحب نکته چيني کړې ده او پهٔ خصوصيت سره ماونټ بېټن خو پهٔ دواړه طرفه ګېر وُ. هغه خو برطانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت لهٔ هم دا تسله ورکړې وه چې د جناح صاحب فیصله د مشترک ګورنر جنرل ده او ځان لهٔ ئې هم دغه تاثر اخستے ؤ نو هغه خو دا یو قسم خپله ذاتي بې عزتي او سپکاوے هم ګڼلو

زما خپل خیال دا دے چې جناح صاحب کله ماونټ بېټن ته د مشترک ګورنر جنرل تجویز پېش کولو نو لکه د ټولې دنیا د هغهٔ هم دا پوخ یقین ؤ چې د هندوستان کانګریسي مشران به چرې هم دې ته غاړه کښې نهٔ ږدي چې د ازاد هندوستان اولنے مشر دے د هغوي د عمرونو دښمن پېرنګے پاتې شي نو د جناح صاحب خپل فکر دا ؤ چې پهٔ ماونټ بېټن او حکومت برطانیه به مې احسان هم ورپاتې شي او چې کله هندوستان د مشترک ګورنرجنرل تجویز نامنظوره کړي. نو زهٔ به غوږه پهٔ هندوستان ور واړوم او دا شان به ما ته هم مخه ازاده شي چې چونکې هندوستان دغه تجویز ونهٔ منلو. نو زهٔ هم مجبوریم چې خپل تجویز واپس واخلم

پېرنګي ځهٔ چې ټولې دنیا د کانګرس او مسلم لیګ موازنه کوله نو پهٔ دې به حېرانه وه چې یو خوا د کانګرس تنظیم ؤ چې پهٔ کلونو کلونو ئې د ملک د ازادۍ د پاره د سامراج پېرنګي سره ابغ پهٔ نېغه مقابله کړې وه جېلونه او ملک بدرۍ ځهٔ چې پکښې پهٔ زرګونو هندوستانیان قرباني شوي وو او پهٔ لکهونو جېلونو ته تللي وو. د هغې پهٔ نتیجه کښې فطري طور خبره د کرکې. نفرت او دښمنۍ حد ته رسېدلې وه. مګر د دې هر څهٔ باوجود د کانګرس پهٔ مشرانو کښې دومره حوصله. ذهني توازن او فراخ دلي وه چې کله خبره د قامي سود او زیان راغله نو د هندوستان د خاطره او د ملک د مستقبل د پاره هغوي خپل دښمن پېرنګي سره هغه خپله د عمرونو دښمني شاته کړله اود ډېر لوړ مقام او اوچت کردار مظاهره ئې وکړه چې د دې پهٔ وجه نهٔ یواځې هندوستانیانو ته بلکې بین الاقوامي طور د هغوي مقام اوچت شو او پهٔ خصوصیت سره خو پهٔ برطانیه کښې خو ئې ډېر زیات اثر





پرېوت او پهٔ دا شان د هندوستان د پاره پهٔ مستقبل کښې د خپلو مفاداتو تحفظ د پاره یوه ډېره لویه سازګاره فضا پهٔ لاس راغلله

د دې پهٔ مقابله کښې د مسلم لیګ کردار ؤ چې نه ئې د وطن د ازادۍ د پاره پېرنګي سره مقابله کړې وه او نه ئې د پېرنګي پهٔ خلاف څهٔ تحریک چلولے ؤ او هر چا ته دا خبره معلومه وه چې کهٔ پېرنګے نهٔ وي نو نه به پاکستان ؤ او نهٔ به دا باچائي. ولې کهٔ هرچاته پته نه وه نو کم ازکم پېرنګي ته هم پهٔ ډېلي کښې او هم پهٔ لندن کښې د مسلم لیګ او جناح صاحب حېثیت معلوم ؤ. دا نو پېرنګے ؤ چې د مسلمانانو د اتحاد د پاره ئې ټول پهٔ یو مسلم لیګ کښې راغونډ کړل او داسې ئې جناح صاحب پهٔ غېږ کړے ؤ. خپلې ډانګورۍ ورته د ترخونو لاندې کړې وې چې کانګرس سره ئې سیالي برابره وي، نو سوال دا پېدا کېږي چې کهٔ چرې د پاکستان سود او زیان ته ئې نهٔ کتل نو کم از کم هغه خپل محسن پېرنګي سره به ئې دومره مروت کړے ؤ چې هغه د عمرونو د ملګرتیا او تعاون قدر ئې کړے وے او د دوستۍ حق ئې د خپله جانبه ادا کړے وے. ولې دې فېصلې خو مسلم لیګ او جناح صاحب دواړو پاکستان د شروع نه کوز سترګې کړلو. دنیا پهٔ دې مجبوره وه چې یو خوا د کانګرس د مشرانو با وقاره او درنه پالیسي او پهٔ دې بل اړخ د مسلم لیګ د مشرانو دا ذاتي او د جاه و جلال شوق سره وتلي او زما پهٔ خیال هم د دې فېصلې نه پس بیا پېرنګے لکه چې پهٔ هغه خپله کړي نیکۍ ستومانه شوے وي او اګر چې دا خبره څرګنده وه چې پېرنګي دا هر څهٔ چې کول څهٔ د مسلم لیګ لا جناح صاحب د پاره ئې نهٔ کول بلکې پهٔ دې کښې د هغهٔ خپل سامراجي او نو ابادیاتي مفادات تړلي وو. خو بیا هم د پېرنګي د جناح صاحب د دې فېصلې نه پس بیا د مسلم لیګ سره هغه زوړ خوند پاتې نهٔ شو. پهٔ دې سلسله کښې یو بل ډېر دلچسپ اړخ د دې مسئلې یو دوو مصنفینو پهٔ شریکه لیکلے کتاب Freedom At Mideight. کښې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځرګند کړے دے چې جناح صاحب د کافي وخت نه د سل دق مریض ؤ. خو دا خبره هغۀ او د هغۀ ډاکټرانو پټه ساتلې وه. دوي هغه دستاویزات راپیدا کړي دي او خبره ئې تصدیق ته رسولې ده چې ډاکټرانو او ماهرینو د دې مرض دۀ ته ویلي وو چې ستا به زیات نه زیات دوه درې کاله عمر وي نو دا هم ممکنه ده چې هم د دې وجې نه هغۀ د دغه عبوري دور د محدود وخت د پاره هم ګورنرجنرلي ماونټ بېټن ته نه پرېښودله او دا وېره وه چې د دغه عبوري دور د خلاصېدو پورې به شاید چې هغه ونۀ رسي ولې د دې خبرې نه انکار نۀ شي کېدے چې جناح صاحب پۀ خوي اوطبعیت داسې ؤ چې د هغۀ تسله بې د لوړې نه لوړې پاوړې ته د ختونه غېر نۀ کېده او دا ئې کله برداشت کولې شوله چې هغه دې د ماونټ بېټن نه پۀ لاندې مقام کښېني

## د فرقه وارانه نفرت اور

کۀ یو خوا پۀ ډیلي کښې ناست مشران پۀ محلونو کښې دننه سازشونو کښې بوخت وو پۀ دې بل خوا ملک سور اور اخستے ؤ. دې کښې شک نۀ شته چې هندوان، سکهان مقابلتاً صاحب جایداد. تجارت پېشه او شته من، د بنګلو، کوټو تجارتي ادارو او کارخانو مالکان وو. نو چې کله پۀ دوي پۀ صوبه سرحد کښې عموماً او پۀ پنجاب کښې خصوصاً فرقه وارانه فساداتو سره د لوټ مار او مرګ ژوبلې نوبت راغے او دا کوشش هم پکښې شروع شو چې دوي د دې خپلې خاورې نه وځغلوي چې دغه جائیداد او بنلګې وغېره ترې نه پاتې شي، نو چې دغه سکهان لاړل نو هم دغه لوبه هغوي پۀ مشرقي پنجاب او ډیلي کښې شروع کړله او پۀ دا شان یو داسې سلسله شروع شوله چې هغه سېځل او لوټل ځۀ کوې چې د زنانه ؤ تښتول هم پۀ کښې شامل شو او داسې اندازه وه چې یواځې د پنجاب نه سکهانو د





دېرشو او ځلوېښتو زرو تر منځه مسلمانانې ښځې تښتولې وې. دا هغه اخبري والى وه چې پېرنګي پۀ ټولو کښې هندوستانیانو ته پرېښوده. دا هغه هندوستانیان وو چا چې دوه سوه کاله د پېرنګي د بچو د پاره خپل بچي نهر کړي وو، چا چې خپل زلمي د پېرنګي د تاج او تخت د تحفظ او د هغه د سامراجي سلطنت د غزولو د پاره خپل بچي قرباني کړي وو او د دنیا پۀ هر کوټ کوټ کښې ئې د پېرنګي دښمنانو سره جنګونه کړي وو ان تر دې چې مسلمانانو فوځیانو هم د دې کافر پېرنګي د پاره پۀ خانه کعبه د دزو ګولو نه هم مخ نۀ ؤ اړولے

ولې نن د پېرنګي د دغه فرقه وارانه پالیسۍ پۀ نتیجه کښې دا مظلوم او بې وسه قام داسې پۀ برغو روند او پۀ تپه کوڼ دے چې هغۀ دښمن پېرنګے ئې خپل شو او خپل ورور، عزیز، تربور او ګاونډي ئې دښمن او بیا پۀ تېره تېره حېرانتیا د مسلم لیګ دې پالیسۍ ته وه چې ښه پۀ دې خو سړے پوهېدے شي چې تاسو غواړئ چې سکهان او هندوان دې لاړ شي چې یو خوا تاسو پۀ پنجاب بلا شرکت غېري حکمراني وکړئ او پۀ دې بل اړخ د هغوي نه پۀ پاتې جائیدادونو او دولتونو تالان ګډ کړئ نو دوي پۀ دې منطق نۀ پوهېدلو چې لکه پۀ مري کښې یو مسلم لیګي کارکن یو څو تنه راغونډ کړل او پۀ یوه شپه او ورځ کښې ئې د سکهانو او هندوانو قابو سل شپږ شلې بنګلې چتې وسېځلې. دا بنګلې خو د سکهانو هندوانو نه پاتې کېدلې پاکستان ته پاتې کېدلې نو دوي داسې پۀ برغو ړاندۀ وو چې دا خو دوي پاکستان سېځلو او د پاکستان جائیداد ته ئې اور ورته کولو مګر پۀ دغه وخت کښې د فرقه وارانه نفرت او کرکې یو داسې د لېونتوب پرغز پۀ دې اولس راغلے ؤ چې نۀ چا وړاندې کتل او نۀ وروستو. خو بس سره د یو بل پۀ مرۍ ئې چړې راښکلې.

د دې نه خو هر څوک خبر دي چې دا اور چا بل کړے ؤ؟ پۀ دې کښې چا



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت ګټلو او چا جائیداد؟ او هر چا چې دا لوبه روانه کړې وه او پۀ هر غرض او مقصد چې ئې روانه کړې وه. د عام اولس د پاره خو به ئې نتیجه پۀ مېدان څرګنده وه. د هغوي کورونه تالاکېدل. زلمي ئې پۀ خاورو. وینو کښې لوغړېدل. بچي ئې پۀ وینولمبېدل. کورونه سوځېدل. زنانه بې عزته کېدې او د دې لوټلو او تالا ترغه مظلومانو کډې هوا ګېرې کېدې. د پنجاب د سرکاري تقسیم د اعلان نه مخکښې د تقسیم کار اولس پۀ خپله ذمه اخستے ؤ. مونږ پۀ تاریخ کښې لوستل چې یو بادشاه د خپل وطن نه بل وطن ته وتښتېدل او ملک ئې پرېښود. ولې دلته مو پۀ دې خپلو ګناه ګارو سترګو ولېدل چې رعیت لګیا دے. تښتي د خپل وطن نه پۀ تښتېدو مجبور دے. دا د ملک د ازادۍ اوله مېوه چې د قام جولۍ ته پرېوته او د حېرانتیا خبره خو دا وه چې دا دومره بې انتها تاوان او بې حسابه وینه توئېږي. د څۀ غرض د پاره؟ د وطن د ازادۍ اعلان شوے دے. د ملک د تقسیم او د پاکستان د قیام اعلان شوے دے نو اوس دا دومره لېونتوب پۀ څۀ غرض؟ دا داسې شلون د کوم مقصد د حاصلولو د پاره؟

زۀ پۀ دغه کال هم لکه د نورو کلونو اوړي لۀ کشمیر ته تللے وم. د غو ورځو کښې شېخ عبدالله د کشمیر د مهاراجه د حکومت سره د اختلاف پۀ وجه جېل کښې ؤ. د کانګرس مشرانو کوشش دا ؤ چې دې داسې نازک او اهم وخت کښې شېخ صاحب د جېل نه راوباسي. مونږ لا هلته وو چې د هزارې ضلعې نه پۀ زرګونو هندوان او سکهان د فساداتو پۀ نتیجه کښې کشمیر ته راواوړېدل. پۀ دغو ورځو کښې ګاندهي جي هم کشمیر ته راغے چې کوشش وکړي او د مهاراجه د جېل نه شېخ عبدالله راوباسي. زۀ به هم قابو روزانه ګاندهي جي لۀ تللم او څۀ وخت به مې ورسره تېرولو ما چې وکتل نو د ګاندهي پۀ طبیعت کښې هغه شوخي نۀ وه هغه توقې. وشتې. هغه خندل او ګپ شپ نۀ ؤ. اخېر ما یوه ورځ زړۀ وکړو او د ګاندهي جي نه مې تپوس





وکړو چې زۀ دا څو ورځې ګورم نو لکه چې ستاسو دننه هغه ډېوه تته شوې وي، هغه خندا، خوشحالي او روښانه تندے نشته! ما وې، پېرنګے روان دے او ستاسو د سیاسي جدوجهد او قربانو پۀ نتیجه کښې نن هندوستان ازادېږي او تاسو به د دنیا پۀ تاریخ کښې پۀ هغو خوش قسمته مشرانو کښې شامل شئ، چا چې د خپل ژوند د سیاسي جدوجهد نتیجه کښې پۀ خپلو سترګو ولیدله او چې څنګه تاسو د هندوستان دا څلوېښت کروړه غلام، پروډلے او ځپلے قام د غلامۍ د دور نه د ازادۍ رڼا ته پۀ خپله ویستلے وي، نو دا څومره د تسلۍ او زړۀ غټاوي خبره کېدې شي! بیا مې ورسره وخاندل ماوې تاسو به وې چې زۀ به پینځۀ د بره شپږ شلې کاله ژوندے یم خو وس خو دا هم ښه ده چې دا ازاد قام به ستاسو د تجربې او رهنمایۍ نه نوره هم استفاده وکړي.

د ګاندهي جي دا عادت ؤ چې هغه به د هر عمر او هر مزاج بنیادم سره د هغۀ د طبیعت او عمر د تقاضې مطابق خبرې کولې. ما چې ګاندهي جي ته وکتل نو هغه ډېر سنجیده غوندې شو، وې چې زما اوسه پورې دا خواهش ؤ چې زۀ به 125 کاله پورې ژوندے یم. خو اوس دغسې نۀ ده. زما د ژوند مقصد یوائې د هندوستان ازادي نه وه. بلکې د دې ازادۍ سره سره د هغه همه خرابو او پلیتو ورکول وو چې د پېرنګي د دې دوو سوو کلونو د غلامۍ پۀ نتیجه کښې پۀ خلقو کښې پېدا کړي شوي دي او پۀ خصوصیت سره پېرنګي چې زمونږ دا ورورولي د فرقه وارانه سیاست پۀ ذریعه پۀ دښمنۍ اړولې ده. دا به بدله کړو او مونږ به لکه د ورونو پۀ شان پۀ ډېره مینه، خواخوږۍ او پېرزوینه پۀ شریکه د دې خاورې د ابادۍ د پاره ملاوتړو چې د دې خاے نه غریبي ورکه کړو او خپلو بچو لۀ د ازادۍ ګټلو نه پس بیا هغه همه ښېګړې واپس ورکړو کومې چې ترې نه ظالم او جابر بادار پېرنګي خپلو بچوله لوټلې پۀ دا شان ما د ازادۍ سره سره د هندو او مسلمان تر



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه د ښو تعلقاتو قیام د خپل ژوند مقصد ګڼلو. که دغه مقصد حاصل نهٔ شو، نو زما د پاره دا ازادي نېمګړې ازادي ده. نن چې د مسلمان او هندو کورونه جدا شول. نن چې دغو بېلتون د شلون شکل اختیارکړو. نو زهٔ خپل سیاسي او روحاني شکست ګڼم او ځکه د نور ژوند هېڅ خواهش پاتې نه دے." بیا ئې مخ راواړلو وې "ولې زما د پاره دا ځنګه د خوشحالۍ او ازادۍ ورځ وه چې هغه ورځ ما ستا پلار باچا خان سره د ډیلي پهٔ سټېشن خداے پهٔ اماني کوله، نو ګڼې زمونږ د سیاسي ملګرتیا او دنیاوي تړون خدائي پهٔ اماني وه. ګڼې دا ازادي مونږ د دې د پاره غوښتله چې مونږ د لارې ملګري، د سفر یاران، د مورچې انډیوالان به د ازادۍ ګټلو نه پس داسې د یو بل نه د همېشه د پاره جدا کېږو. بیا مو شاید د دې دنیا د لیدو کتو څهٔ ګنجائش پاتې نهٔ شي، نو اوس تهٔ ووایه چې دې ازادۍ ما لهٔ څهٔ خواله راوړل؟" بیا ګاندهي چې ووې چې نن راشه د ټول هندوستان حال وګوره، دلته د سرینګر ټولې ډاکې او بازارونه د هندوانو او سکهانو نه ډک دي چې د صوبه سرحد نه دې خوا راتښتېدلي دي او هلته ورشه بنګال ته وګوره، بهار ته وګوره، ډیلي ته وګوره چې پهٔ مسلمانانو څهٔ تېرېږي او بیا پهٔ تېره تېره د پنجاب حالت ته اوګوره، د یوې مخې د مسلمانانو قافلې پهٔ مخه رواني دي او پهٔ د بل اړخ د هندوانو او سکهانو. ولې دا قافلې هم څوک نهٔ پرېږدي او پهٔ بنیادمو د حیوانیت دومره غلبه شوې ده چې پهٔ هغو قافلو باقاعده او منظمې حملې کېږي. یو متل عام دے، د نر، ښځې، ځوان، بوډا او بچي تمېز نشته نو دا ازادي مونږ د دې ورځې د پاره ګټله؟ نو بیا ګاندهي جي ما نه سوال وکړو چې "اوس تهٔ بله فېصله وکړه چې زهٔ د هندو او مسلمان تر منځه نفرت او دښمني نهٔ شم ختمولے او د خداے د مذهب پهٔ نوم د هغه پهٔ مخلوق کښې د مینې، محبت، ورورولۍ او اخلاص ژوند تېرولو جذبه نهٔ شم پېدا کولے نو بیا د ژوند مقصد څهٔ شو؟ زهٔ خو





د داسې ژوند نه مرګ بهتر ګڼم."

ځاني بیا د دې ژوند نه مرګ بهتر ګڼم. حقیقت هم دا دے چې د کومو خلقو سترګې بینا وې او د غرض پردې پرې نهٔ وې نو هغوي هم حېران وو چې کهٔ فرض کړه هډو دا تقسیم بیخي مجبوري وه او بله لاره نهٔ وه نو بیا خو پکار وو چې لکه پهٔ خود. عاقلو او ذمه وارو بنیادمو هسې دې تقسیم ته ناست وي او کور مو ښهٔ پهٔ ارامه ویشلے وے. دنیا کښې داسې ملکونه وو چې یو وار او بیا جدا شول. مثال کښې به د یورپ د سوېډن او ناروے مثال واخلو. دا یو ملک وُ شریک کور ئې وُ، بیا فېصله وشوه چې جدا کېږو. کښیناستل او د کورونو تر منځه ئې کرښه راښکله ولې نهٔ ئې د یو بل کور تالا کړو، نهٔ ئې پکښې د یو بل نه مرګ متېزه وکړله بلکې د بالغو، شریفو ګاونډیانو پهٔ شان نن هم د ګاونډ حق ادا کوي. پهٔ یو بل نه بلوسېږي ولې دا دلته خو بیخي لیونتوب دے. پېښور کښې څوک هندو مړ کړي، د هغهٔ خپلوان چې د پاکستان ټاکلو علاقو ته راشي نو دلته بې ګناه هندو مړکړي او داسې چې دلته څوک د سکهه نه جائیداد پهٔ زور قبضه کړي او هغه وځغلوي. نو هغه خپل بدل پهٔ هندوستان کښې د یو شته من مسلمان نه واخلي د هغهٔ نه جائیداد قبضه کړي او هغه دې خوا راوځغلوي او پهٔ دا شان دا سلسله د ختمېدو نهٔ ده. یو اور نه بل اور او بل اور نه بل اور بلېږي او د ټولو نه لویه خبره دا ده چې دا هر څهٔ د مذهب پهٔ نامه کېږي. د رحیم، رحمان خداے پهٔ نامه د بې ګناه مخلوق وینې توئېږي.

## د صوبو تقسیم او تالان

زهٔ د یو تاثر لرې کولو ضرورت محسوسوم: د مسلم لیګ مشران دا وائي چې دا د صوبو دا تقسیم د پېرنګیانو پالیسي وه دا بالکل غلطه ده. لکه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې ذکر شوي دي د مسلم لیګ مشرانو چې کله د مسلمانانو او غېر مسلمو ابادۍ ته وکتل نو هغوي سره دا وېره پېدا شوله چې کۀ چرې دا حالات هم داسې پۀ ځاے پاتې شي او دلته انتخابات کېږي نو پۀ بنګال او پنجاب دواړو صوبو کښې به د مسلم لیګ وزارتونو ته مشکلات پېښېږي د کېبینټ مشن منصوبې اعداد وشمار خبره واضحه کړې وه. پۀ ګروپ سي یعني بنګال او اسام کښې تناسب (36) مسلمانان او (34) غېرمسلم وو. دلته پنجاب کښې (ګروپ بي کښې) شپاړس مسلمانان، اتۀ هندوان اوڅلور سکهان وو. یعني د شپاړسو مسلمانانو پۀ مقابله کښې دولس غېرمسلم. نو دواړه ځایه به د مسلم لیګیانو وزارتونه پۀ دوه درې ممبرانو پورې تړلي وو. چنانچه دې طرف ته اشاره ډېره وړاندې شوې وه. وېول پۀ خپلو ډائرو کښې لیکي (فروري 1946):

> Agha Khan came and talked the necessity for Pakistan and the impossibility of Hindus and Muslim agreeing. he said Jinnah was willing to concede Amritsar. Ambala etc. in the N.W. and the Hindu districts of Bengal and Assam.
>
> *(Wavell, The Viceroy's Journal, p.215). February 1946*
>
> ترجمه: اغا خان راغے او د پاکستان د ضرورت پۀ باره کښې او د دې پۀ حقله ئې چې هندوان او مسلمانان نۀ شي راضي کېدے. خبرې وکړې. هغۀ ووې چې جناح تیار دے پۀ شمال مغرب کښې امرتسر، اسیاله وغېره او د بنګال د هندوانو ضلعې او اسام هندوستان ته پرېږدي

او چې کله جناح صاحب نه د هغې تقسیم هند پۀ مسئله کښې دا مشکلات هم پۀ ګوته کړے شول. نو هغه لا پۀ خوا د علاج تجویز کړے ؤ یعني چې د پنجاب به د غېر مسلمو د اکثریت څۀ علاقې ضرور شوکول غواړي چې د





هغې ذکر پۀ هغو دستاویزاتو کښې موجود دے. کوم چې برطانوي حکومت اوس پۀ کتابي شکل کښې پۀ مختلفو جلدونو کښې "د اقتدار انتقال" Transfer of Power. Volume 1 ترنامه لاندې شائع کړے دے او پۀ لومړي ټوک کښې درج دي.

د دې خبرې بل واضحه ثبوت دا دے چې د مسلم لیګ کوشش دا ؤ چې پنجاب دې یواځې هغوي ته پاتې وي پۀ دې سلسله کښې پۀ خپلو ډایرو کښې لیکي چې د سکهانو مشر او مرکزي وزیر بلدیوسنګهه وېول ته پۀ خپله وې چې مونږ ډېر کوشش وکړو چې جناح صاحب سره څۀ د روغې جوړې خبرې وکړو. خو هغه پۀ هېڅ قیمت هم سمجهوتې ته غاړه نۀ ږدي تر دې چې سکهانو ورته دا پېشکش هم وکړو چې سکهان به ورسره د پاکستان مطالبه هم ومني. خو بیا هم جناح صاحب څۀ خاص دلچسپي وا نۀ خستله:

> (Baldev Singh) said that Jinnah did not want a settlement. He had had discussions with him in London. but had got nowhere and Jinnah offered no assurance to the Sikha even if they supported Pakistan.
>
> *(Wavell. The Viceroy's Journal, p.149)*
>
> ترجمه: بلدیوسنګهه ووې چې جناح تصفیه نۀ غواړي هغه جناح سره پۀ لندن کښې بحثونه وکړل ولې هېڅ نتیجه ئې راونۀ وتله او جناح سکهانو ته پۀ هغه صورت کښې هم چې هغوي د پاکستان حمایت وکړي یقین دهاني ورنۀ کړله

د دې نه دا خبره واضحه ثابتېږي چې مسلم لیګ پۀ خپله د پنجاب پۀ یو ساتلو کښې دلچسپي نۀ لرله. بلکې پۀ دې ئې فېصله وه چې کۀ هرڅومره وړوکي او راټول پاکستان وي خو چې مسلم لیګ پرې بلا شرکت غېرې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت او باچائي وکړي، او ځکه ئې کوشش دا ؤ چې د پاکستان د ټولو
صوبو نه غیر مسلم وځغلوي په دې بل اړخ ئې فکر کولو باندې نه ځان له
مازغه سترې کول اونه ئې پرې وخت ضائع کولو چې دا وهلي، ځپلي،
لوټلي، وژلي او زخمي غیر مسلم هلته هندوستان ته ورسي، نو د دوي به د
هغې وروستو پاتې مسلمانانو سره څهٔ قسمه رویه کوي؟ کوم چې مسلم
لیګ د خپل سیاست د سره قربان کړل او د غیر مسلمو په اکثریتي
صوبو کښې پرې د داسې فرقه وارانه لېونتوب، کرکې او دښمنۍ په فضا
کښې د غیر مسلمو په رحم و کرم پرېښودل.

د دې راټول پاکستان په سلسله کښې یوه بله واقعه هم بیانول ضروري ده د
بلوچستان د خان قلات د کانې وخت نه د پېرنګیانو سره کوئټې او شا و
خوا علاقو مقدمه وه او د هغه مقدمې پیروي جناح صاحب د هغهٔ د وکیل په
حیثیت کوله. کله چې د تقسیم هند اعلان وشو نو خان قلات حکومت هند
سره داخبره پورته کړله چې د قلات حیثیت په هندوستان کښې د نیپال د
ریاست په شان دے. دا د هندوستان حصه نهٔ ده او هغه د خپلو مشرانو هغه
معاهدې په ثبوت کښې پېش کړلې چې کومې د هغوي او د هغه وخت د
انګریز حکمرانانو تر منځه شوي وې. دا بیان خان قلات په خپل کتاب
"مختصر تاریخ قوم بلوچ اور خواتین بلوچ" کښې په تفصیل کړي دي.

چنانچه په دې مسئلې د غور کولو د پاره یوه غونډه وشوله چې هغې کښې
یو خوا خان قلات او د هغهٔ قانوني مشیر سلطان احمد خان موجود ؤ او دې
بل اړخ ته د پاکستان نامزد ګورنر جنرل جناح صاحب او نامزد وزیراعظم
نواب زاده لیاقت علي خان ؤ او په منځ کښې موجود ګورنر جنرل او
وائسراے هند لارډ ماونټ بېټن ناست ؤ. د مفصلو خبرو اترو نه پس فېصله
په دې لاندینو دوو خبرو وشوله؛

1 . چې کله د اګست په پنځلسمه پېرنګے د هندوستان اختیار پرېږدي





نو د قلات ریاست حیثیت به په بیرته هغې مقام ته ورسي کله چې
په 1947 کښې د خان قلات او انګریز حاکم په منځ کښې شوې ؤ
2 . دویم دا چې که چرې د قلات خان او د حکومت پاکستان تر منځه
څهٔ روغه جوړه د الحاق ونهٔ شي، نو بیا ریاست قلات دا حق لري
چې هغه د افغانستان سره خپل الحاق وکړي

په دې معاهده د خان قلات، ماونټ بېټن سره د جناح صاحب دستخط هم
موجود دے. سړے د مسلم لیګ دې مشرانو ته حېران شي؛ د سهرودي سره
د متحده بنګال د مکملې ازادۍ تجویز منظور وي چې په پاکستان کښې
دې نهٔ وي، بنګال تقسیموي، پنجاب هم تقسیموي. اسام نه یوه ضلعه اخلي
نور پرېږدي. دې خوا قلات له دا حق ورکوي چې هغه دې د افغانستان سره
خپل الحاق وکړي نو د دې هرڅهٔ مطلب خو لکه چې واضحه دے چې هغه د
نواب زاده لیاقت علي خان خبره چې "کهٔ جناب والا مونږ له صرف د سندهـ
دشتې راکړې، نو هم زمونږ قبولې دي".

مونږ به په دې خپله صوبه کښې دې مسلم لیګیانو سره خاندل ورته به مو
وې چې مونږ دا اعتراض کولوچې دا تقسیم هند نهٔ دے بلکې تقسیم
مسلمان دے. نو چې دا کوم په کروړونو مسلمانان تاسو هلته داسې
هندوانو ته لاس تړلي، پښې تړلي پرېږدئ او دا ټول سیاسي لیډران او
مسلمان سرکاري افسران دلته راواوړئ. نو د هغو خوارانو به څهٔ حال شي؟
نو د دې په ځواب کښې به دوي وې چې دلته مونږ سره کوم هندوان پاتې
شي نو دا به یو قسمه یرغمال وي کهٔ هلته هندوستان کښې هندو زمونږ په
مسلمان ورور زیاتے کوي نو مونږ به دې هندوانو له زور ورکوو. نو په دې
طریقه به هندو دا جرات ونهٔ کړي چې په هغو مسلمانانو زور وکړي نو اوس
خو تاسو دا ټول یرغمال ځغلوئ. اوس به د هغو غریبانانو مسلمانانو څهٔ
حال وي؟ او چې دا هندوان او سکهان تاسو د خپله لاسه رخصت کړئ نو



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دباو به بیا پهٔ چا کوئ . ولې حقیقت دا دے چې پهٔ دغه وخت کښې نه د
پهٔ اسلام څهٔ کار ؤ او نهٔ پهٔ مسلمان. پهٔ هندوستان کښې د چا
مسلمان د چا یاد وو؟ دلته خو د هندوانو او سکهانو پهٔ کورونو. بنګلو
جائیدادونو. دوکانونو. کارخانو او تجارت تالان ګډ ؤ. د چا پهٔ نظر کښې ورروستو پاتې
هغوي سرکاري نوکرۍ وې هم سول اوهم فوځي. د دې غېر مسلمو دا
جائیدادونه چې مسلم لیګیانو داسې پهٔ ارت مټ لوټل او بې درکې ئې
هضمول، نو دې کښې د دوي څهٔ حق ؤ؟ دا خو اول حق د هغو مسلمانانو
مهاجرو ؤ او څوک چې د هندوستان لوټلي او ځپلي راشړل شوي وو او
جائیدادونه ترې نه پهٔ ریښتیا وروستو پاتې وو. یا بیا جائیدادونه د مملکت
پاکستان کېدل یعني د خپل حکومت او د ملک ملکیت باید چې ټول قام ته
ترې نه فائده ورسي او چې کله د قام د ښېګړې سوال راشي نو د حکومت
وقت دا فرض صرف او صرف د هغو سربازانو غازیانو ؤ چا چې د ملک د
ازادۍ پهٔ خاطر د جابر پېرنګي پهٔ خلاف ټول عمر قربانۍ ورکړي وې. د
جېلونو سختۍ ئې تېرې کړې وې او هغه کورنۍ پهٔ خصوصیت سره د دې
مستحقې وې د کومومشران چې جېلونو ته لاړل او وروستو پاتې بچي ئې
بیا د ټوک ډوډۍ د پاره محتاجه وو. دغه کورنۍ بې تعلیمه شوې او بچي
ئې بې تربیته پاتې شول او پهٔ تېره تېره بیا دا حق د هغو شاه زلمو د وارثانو
ؤ چا چې خپل سرونه د وطن د ازادۍ پهٔ جنګ کښې قرباني کړي وو. د هغو
کونډو رنډو حق ؤ چا چې د خپل کور خوشحالي د قام د سره قرباني کړې
وې، حق د هغو پېغلو ؤ چا چې د قام حق او خپلواکي ګټلو د پاره د وطن د
جنګ تر مور چله پورې د خپلو خاوندانو سره تللي وې او هغه چې بیا د
مورچو نه پهٔ بېرته رانهٔ غللې هغه میندې مستحقې وې چا چې خپل بچي د
قام د بچو سره لوګي کړل چې هغوي لهٔ ازادي، غېرت، عزت او پښتو
وګټي. دا د دغو مجاهدینو، غازیانو، شهیدانو، نارینهٔ او زنانهٔ پهٔ خپله





خاوره او وطن یو قرض ؤ. پکار ؤ چې مشکور او ممنون قام د دغو
سربازانو، نرانو او توریالو قرض خلاص کړے وے. ولې دلته خو جنګ قام
بانیللو او پېرنګي وګټلو. پېرنګي خدائي خدمتګار ته پهٔ دې غصه ؤ چې پهٔ
ټول هندوستان کښې ماسوا د دیوبند د علماء دین نه نورو ټولو مسلمانانو
کښې صرف پښتون من حیث القوم د پېرنګي بر خلاف راپورته شوے دے
نو د هغې سزا به ور لهٔ دا ورکیدے شي چې دلته به هم د پېرنګي هغه سران.
نوابان، خان بهادران او پهٔ خصوصیت سره هغه خوشامندګر جاګېرداران پهٔ
تخت کښېنولے شي چې هغوي صرف د خپل ذاتي غرض د پوره کولو د پاره
د پېرنګي هغه پالیسي کامیابه کړي چې هغه ئې د دې منطقې د پاره لري
داسې جاګېردارانو او سرمایه دارو خانانو خو هغه وخت پسې ارمان کولو
چې ټول اولس د دوي محتاجه او خوراک ؤ. خدائي خدمتګارو چې پهٔ
غریبو او نادارو بنیادمو کښې د عزت نفس، خود دارۍ او د خپل حق
غوښتلو او حاصلولو جذبه پېدا کړې وه. هغه نهٔ د پېرنګي پهٔ خېر تمامېده
او نهٔ د پېرنګي د ګوډاګیانو، د غو سرانو، نوابانو او جاګېردارانو پهٔ خېر

## مسلم لیګ او ریاستونه

پهٔ هندوستان کښې د ریاستي حاکمانو د لاندې علاقه د رقبې پهٔ لحاظ 1/5
وه او ابادي د دې ریاستونو د ټول هندوستان د ابادۍ 2/5 وه یعني د
څلوېښتو کروړو پهٔ ابادۍ کښې شپاړس کروړه ریاستي نظام لاندې وو. دا
لوې واړهٔ قابو شپږ سوه ریاستونه وو. د دې ریاستونو د مستقبل پهٔ حقله هم
د کانګرس او مسلم لیګ پهٔ پالیسیو کښې اختلاف څهٔ چې تضاد ؤ
کانګرس د خپلې پالیسۍ اعلان کړے ؤ چې د هر یو ریاست د ترون.
الحاق، راتل کېدو فېصله به د ریاست اوسېدونکي عوام کوي ولې پهٔ دې



Scanned by CamScanner

بل اړخ مسلم لیګ وې چې ننه دا اختیار دې د ریاست حکمران لهٔ ورکړے
شي چې کوم خوا د دغه والي ریاست خوښه وي. هغه مملکت سره دې
الحاق وکړي
کهٔ د هندوستان نقشې ته وکتے شي او د دې ریاستونو شمېر ته پکښې
سرے وګوري. نو دا ټول هندوستان د دې راجواړو د لاسه غار غار دے
لوے لوے علاقې د دې شهزادګانو. نوابانو. مهاراجګانو او راجګانو د
حکمرانۍ نمونې وې او پهٔ دې دومره غزيدلې او پراخه وطن کښې داسې
رياستونه هم وو لکه د نظام حيدر اباد د رياست دکن رقبه د پوره يو ملک
هم هومره وه لکه د اټلي هومره او ابادۍ ئې څهٔ لږ څهٔ کم دوه کروړه وه.
د مسلم لیګ پهٔ نظر کښې د مسلمانانو حکمرانانو داسې رياستونه لکه
حيدر اباد دکن. بهوپال او رامپور وو چې د هغه ځاے نوابان مسلمانان وو
او د رعيت اکثريت ئې غېر مسلم وو دغه د کاټهياواړ رياستونه جونا ګړه.
مناوه وغېره وغېره د مسلمو اکثريتي علاقې وې ولې نوابان ئې مسلمانان
وو. دغو رياستونو سره اګر چې د پاکستان سرحدونه نهٔ جنګېدل او پولې
ئې د پاکستان نه لرې وې ولې فاصلې دومره نهٔ وې لکه څومره چې د کراچۍ
او ډاکې تر منځه وې نو د مسلم لیګ د دغه منطق پهٔ بناء خو دوي د
پاکستان سره الحاق کولے شو: خو د مسلم لیګ پهٔ دې بله خبره چا اعتراض
نهٔ شو کولے چې د رياستونو مستقبل فېصله دې د هغه ځاے حاکمان وکړي
ځکه چې د اولس نه د تپوس ضرورت هغوي نه محسوسولو. اخېر مسلم
لیګ ګنې چرې د پېرنګي نه د هندوستان د اولس د پاره حق غوښتے دے
چې اوس به ئې د يو مسلمان نواب نه د هندو رعيت د پاره وغواړي بلکې
هغوي خو اپوټه پېرنګي ته دا خبره څرګندوله چې مسلمانان دا نهٔ غواړي
چې پېرنګے دې د هندوستان نه لاړ شي. لارډ وېول وائسراے هند پهٔ خپله
ليکي چې پېرنګيانو لهٔ پکار دي چې څو کاله دلته پاتې شي او کم از کم





مسلمانان دا خواهش نهٔ لري چې پېرنګے دې د هندوستان نه لاړ شي وغېره
وغېره

He (Liaqat Ali Khan) said that in any event we (British) should have to stop for many years yet. And that the Muslims were not at all anxious that we should go.

*(Wavell, the Viceroy's Journal, p.207)*

ترجمه لياقت علي خان ووې چې پهٔ دغه صورت کښې به تاسو (انګريزانو) ته نور زيات کلونه د پاتې کېدو ضرورت وي او مسلمانان هيڅ تلوسه نهٔ لري چې انګريزان لاړ شي

مسلم لیګ کښې اکثريت د هغو سرکار پرسته خلقو وو چې هغوي د خپل قام پهٔ خلاف د انګرېز سره پهٔ پره کښې بنهٔ پهٔ نړه ولاړ وو نو هغوي قام څهٔ کولو او قام لهٔ د نمائندګۍ حق کتل ئې څهٔ کول؟ تماشه خو دا وه چې د رياستونو د الحاق دې فېصلې لهٔ ئې هم د اسلام رنګ ورکړو دې خوا ئې فکر نهٔ ؤ چې کله مونږ د واليان رياست دا حق تسليم کړو چې د رياست الحاق فېصله به هغه کوي نو د کشمير به څهٔ کېږي؟ هلته حکمران مهاراجه (هندو) دے او د رعيت اکثريت ئې مسلمانان دي نو پهٔ دې دوه ګزه به څهٔ کوي چې د حيدر اباد دکن. بهوپال او رامپور د پاره به يو ګز وي او د کشمير د پاره بل

ولې د کشمير پهٔ مسئله کښې هندوستان ته يو مشکل پېښ ؤ چې د هغې پوله د هندوستان سره نهٔ جنګېده. دغه مسئله ورله هم مسلم لیګ حل کړله چې د پنجاب تقسيم ئې منظور کړو. نو چې د باونډري کميشن (سرحدي کميشن) رپورټ راغے او پهٔ هغې کښې ئې د ګورداس پور ضلع هندوستان لهٔ ورکړله. نو پهٔ دا شان د هندوستان پوله لاړه کشمير سره وجنګېده او چونکې دواړه ډلې يعني کانګرس او مسلم لیګ دا پابندي قبوله کړې وه



(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دغه کمېشن فېصله به اخېري وي او هغه به دواړه قبلوي. نو بیا مسلم لیګ او د پاکستان حاکمانو دا حق نهٔ لرلو چې د ګورداس پور پهٔ ضلع څهٔ اعتراض وکړي او بیا کله چرې دغه هندو مهاراجه د خپل ریاست الحاق د هندوستان سره کوي، نو کهٔ نور هر څوک اعتراض کوي وبه کړے شي. ولې مسلم لیګ پرې هېڅ اعتراض حق څکه نهٔ لري چې مسلم لیګ د ریاستونو پهٔ حقله دا اعلان کړے دے چې د ریاست الحاق به د ریاست حکمران کوي نو پهٔ دا شان مسلم لیګ د خپله لاسه د کشمیر د قسمت د فېصلې لار ازاده کړله او دغه ریاست ئې پهٔ جونګه کښې هندوستان لهٔ ډالۍ ورکړلو. دغه شان دا بله تېړه د مسلمانانو د اکثریت د تقسیم مسلمان پهٔ سلسله کښې د لاسه ووته.[29]

## فرقه وارانه سیاست او د مسلم لیګ نظریه

مسلم لیګ د یو سیاسي جماعت پهٔ حېث څان د مسلمانانو د حقوقو محافظ ګڼلو او د ټول هندوستان د مسلمانانو تکلیفونو. مصیبتونو او محرومیو علاج ئې دا تجویز کړے ؤ چې یو مملکت پاکستان دې جوړ شي چې دغه ملک به مسلم ملک نه بلکې اسلامي ملک وي. باید چې د دې دواړو پهٔ منځ کښې فرق وکړي شي؛ مسلم ملکونه خو نن پهٔ شلګونو دي یعني داسې ملکونه چې پهٔ هغې کښې د مسلمانانو اکثریت وي ولې اسلامي ملک به هغه وي چې هغې کښې به اسلامي نظام حکومت رائج

[29] ګورداسپور چې چرته د مسلم لیګي مشر نواب افتخار الدین ممدوټ دوتر ؤ. د فېروز پور بدله کښې هندوستان ته پرېښودے شوے ؤ. ګنې باونډري کمېشن ګورداسپور پاکستان کښې شامل کړے ؤ خو د باونډري کمېشن رپورټ د مسلم لیګ مشرانو منظورۍ ته پرېښودے شو هغوي د ګورداسپور پهٔ بدل کښې فېروز پور وغوښتو نتیجه کښې نهٔ ګورداسپور بیا ملاو شو او نهٔ فېروز پور؛ اپوټه هندوستان ته کشمیر د پاره لاره هم وموندلې شوه





وي. فرق بالکل واضحه دے نن کهٔ مونږ پهٔ دنیا کښې اسلامي ملکونو ته وګورو نو قابو هر ملک کښې مختلف نظام رائج دے: چرته شهنشاه، نو چرته بادشاه، چرته فوځي حکمران او بل ځاے ډکټېټر. چرته پارلیماني طرز او چرته د سیاسي پارټو اقتدار؛ نو مسلم لیګ طرز او چرته د سیاسي پارټو اقتدار؛ نو مسلم لیګ دا نعره ورکړله چې مونږ پاکستان د دې د پاره غواړو چې هلته اسلامي نظام. عدل او انصاف جاري او یو حقېقي اسلامي معاشره قائمه کړو او پهٔ دا شان ټولې اسلامي دنیا ته یوه نمونه قائمه کړو چې هغوي هم دغسې نظام پهٔ خپلو خپلو ملکونو کښې رائج کړي.

د جدا مملکت د غوښتنې پهٔ جواز کښې مسلم لیګ دا دلیل پېش کړو چې هندوستان کښې یو قام نهٔ. بلکې دوه قومونه اوسي او دا نظریه ئې پهٔ دنیا کښې اول ځل پېش کړله چې قوم د عقیدې پهٔ بنیاد جوړېږي. یعني هندو او مسلمان دوه جدا قومونه دي او چونکې د دوي عقیدې جدا دي. د دې وجې نه دې هندوستان د دغو مذهبي عقیدو پهٔ بنیاد تقسیم شي یو خوا مسلمان شي او بل خوا هندوان. دا بنیادي اصول جناح صاحب پهٔ 1940 کښې د پاکستان د تجویز پهٔ وضاحتي تقریر کښې بیان کړے دے:

> The Hindus and Muslims belong to two different civilizations which are based mainly on conflicting ideas and conceptions.... To yoke together two such nations under a single state, must lead to growing discontent and final destruction of any fabric that may be so built up for the Govt. of such a state.
>
> *(Choudhry Mohd.Ali, The Emergence of Pakistan. P.39)*

ترجمه: هندوان او مسلمانان دوو مختلفو تهذیبونو سره چې پهٔ متضادو نظریاتو او تصوراتو باندې ولاړ دي. تعلق لري. دغه شان دوه قومونه پهٔ یو ریاست کښې را یو ځاے کول به



Scanned by CamScanner

زياتيدونکي عدم اطميناني را پېدا کړي او په اخېره کښې به
هره هغه اډانه چې مونږ ئې د دې رياست د حکومت د پاره
جوړه کړو. تباه کړي

تر اوسه پورې د قوم تصور په مملکت پورې تړلے وو يعني کهٔ هر څومره
مذهبي فرقې په يو وطن کښې اوسېدې. خو د هغه وطن قوميت د هغهٔ
مملکت او خاوره پورې تړلے ؤ. لکه مثال کښې هر يو ملک چې واخلئ
برطانيې کښې د هرې فرقې او عقيدې خلق چې اوسي. نو هغوي ته
Britisher وائي داسې امريکه واخلئ. د هغه ملک قوميت په هغه رياست
پورې تړلے دے د هر مذهب. هرې فرقې او هرې عقيدې سړي چې په
امريکه کښې اوسي هغه امريکن دے. داسې شوروي اتحاد. فرانس.
جرمني. اټلي وغېره تر دې چې اسلامي ملکونو کښې په مشرق وسطي
کښې څومره ملکونه چې دي. د هغې کښې د مختلفو مذهبونو. عقيدو خلق
اوسي ولې د هغوي قوميت په هغه خاوره او ملک پورې تړلے دے. لبنان ئې
واضحه مثال دے چې هلته مسلمانان او عيسايان اوسي. خو دواړه لبنانيان
دي او لرې څله څو؟ علامه ډاکټر سر محمد اقبال د چا په حقله چې دا وئيلي
شي چې هغهٔ د پاکستان خوب ليدلے ؤ. په خپله د دې نظريې په ثبوت کښې
خپل يو د اردو شعر کښې د دې وضاحت کوي چې د مذهب دا کار نهٔ دے
چې هغه دې په اولس کښې بېلتون او دښمني پېدا کړي ولې چې مونږ ټول
هنديان يو او هندوستان زمونږ وطن او ملک دے يعني د شاعر مشرق په
فلسفه چې هر څوک. په دې خاوره اوسي. هغه هنديان لا هندوستانيان دي:

مذهب نهين سکهاتا آپس مين بير رکهنا
هندي هين هم وطن هين هندوستان همارا

نو مسلم ليګ چې دا نوې فلسفه پېش کړله نو شايد چې په دنيا کښې
صرف يو بلې مذهبي فرقې دا اصول تسليم کړل چې هغه يهود ؤ او هم د دې





بېل په زور هغوي په پېرنګيانو زور واچولو چې د يهودو د پاره دي هم لکه
د مسلم ليګ د عقيدې د مذهب په بناء يو د اسرائيل رياست د فلسطين نه
جدا کړے شي
اوس به يو قدم مخکښې واخلو چې وګورو چې مسلم ليګ د دې خپلې
نظريې د قبلولو د پاره څه لارې چارې اختيار کړلې مسلم ليګ په دې ملک
کښې د څه قسمه حالات پېدا کول غوښتل چې څنګه يوه داسې معاشره
قائمه شي چې هغې کښې د مسلمانانو د حقوقو تحفظ وشي او د هغوی د
پاره د يو روښانه او زرين مستقبل د خپلولو د پاره لارې چارې ولټول شي د
دې د پاره لازمي خبره دا وه چې اول دې د مسلمان د موجوده بدبختۍ او
محرومۍ هغه مونډيزه وجه معلومه کړے شي يعني د مرض تشخيص وشي
او هغه فرقونه دې په ګوته شي چا چې مسلمان دې حالت ته را ورسولو
يعني د دښمن نشاندهي دلته مسلم ليګ خپل د ښمن هندو ګڼلے ؤ او د هغه
توله مخه هندو ته وه ولې حقيقت خو دا ؤ چې په ايمانداری ورته وکتل شي
نو د مسلمان حقيقي دښمن خو پېرنګے ؤ اوله خو دا چې پېرنګي د
هندوستان باچائي د مسلمان نه اخستې وه نو دا فرض به د مسلمان ؤ چې د
هندوستان ازادۍ په قائم ساتلو کښې کوم غفلت د هغهٔ نه شوے دے. هغه
وګرځوي او د پېرنګي مقابلې ته تر هغې چمتو ولاړ وي چې هغه بايللې
ازادي بيا د هندوستان خلقو لهٔ وګټي نو د هندو په نسبت د مسلمان زياته
دښمني پېرنګي سره پکار ده دويمه دا چې پېرنګي يواځې دلته په
هندوستان کښې دننه خو د مسلمان په تباهۍ پسې نهٔ ؤ راغلي هغهٔ خو د
دنيا په ګوټ ګوټ کښې په مسلمان پسې ګرځېدلي دي او هر ځاے چې ئې
وس رسېدلے دے نو د مسلمان کور ئې وران کړے دے هغه زړې قبصې د
سلطان صلاح الدين ايوبي د وخت هغې نه به ئې را واخلو او دا دے اوس ئې
د مسلمانانو ترکانو عظيم خلافت عثمانيه ټوټې ټوټې کړے ؤ او سره به



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل منځ کښې وېشلي ؤ. بله دا چې اوس دلته په هندوستان پېرنګې حاکم ؤ. نو هغه ګڼې بواخې د هندو نه خپل حقوق اخستي دي او ګڼې بواخې هندو غلام دے او بواخې د هندو د بچې د خولې نمړۍ پېرنګي خپلو بچو له وړې کړه نه. د پېرنګي زړنده ټول خپل رعیت یو شان دل کوي؛ هندو. مسلمان پکښې نه بېلوي؛ نو د دې وجې نه د سیاست طالب علمانو ته دا ډېره ناشونې ښکارېده چې د هندوستان په خاوره یوه داسې ډله راپورته شوه چې هغوي د مسلمانانو دښمن پېرنګے نه. بلکې هم هغه مظلوم هندو وګرځولو. څوک چې په خپله د پېرنګي په الاجۍ کښې د مسلمانانو سره سم راښکے شي. بلکې یو داسې ماحول د پېدا کولو کوشش وشو چې د غه سرمراجې، نو ابادیاتي قوت خپل دوست وګڼي او تر دې د هغه خدمت ته ملا وتړې چې کله یو مسلمان فوځي ته حکم وشي نو هغه نور پرېږده. په خانه کعبه هم ډزې کولو ته غاړه ونه غړوله او ډېره د تعجب خبره خو دا وه چې د مسلم لیګ د دې نظرئې په برکت دا د هندو دښمنۍ دومره اثر پېدا کړلو چې د پېرنګي دښمنان بیا د مسلم لیګ دښمنان شولو

هغه کله یو خوا هغه حقیقي، مسلمانان غازیان. مجاهدین. هغه باعمله عالمان چې د دیوبند د دارالعلوم په برکت ئې د اسلام هغه اصلي او حقیقي روح د کافر پېرنګي برخلاف په ایماني جهاد کښې حصه اخسته او په دې بل خوا ئې هغه قام پرسته مسلمانان څوک چې په قامي جذبه او ملکي ښېګړې د پېرنګي نه د خپل ملک د ازادۍ د پاره جنګېدل. د هغوي مخالفت څه چې هغوي ئې د ملک څه د اسلام نه هم خارج تسلیم کړل. نو دغه زما په خیال د مسلم لیګ د فرقه وارانه سیاست اولنۍ غلط قدم ؤ چې هغه خپلو پېروکارانو او سیاسي ملګرو ته د دښمن په ګوته کولو کښې غلطي وکړله یعني د مرض تشخیص غلط شو. لازمي خبره وه چې د دې ټول په ټوله فائده کافر پېرنګي ته رسېدله





د مسلم لیګ مشران د دې خپلې دوه قومي نظرئې په حق کښې دا خبره بار بار کوي چې د دې بنیاد په حقیقت کښې سرسیداحمدخان ایښے ؤ چا چې د دیوبند د اسلامي دارالعلوم په مقابله کښې د علیګړه مسلم یونیورسټي بنیاد اېښودے ؤ. ولې تاریخي لټون څه نورڅه وائي. د هغه چې کوم تقریرونه مالیدلي دي هغه خو ټول په ټوله د دوه قامي نظرئې خلاف دي مثال به واخلو: دا تقریرونه مخدوم زاده حسن په خپل کتاب A Nation is Bom کښې رانقل کړي دي. د دغه کتاب په (339) مخ کښې د سرسیداحمدخان د ګورداس پور یو تقریر رانقل شوے دے چې هغه په 27/1/1884 کښې کړے دے

> In his speech at Gurdaspur on January 27, 1884 Sir Syed Ahmad khan said. "we (i.e. Hindus and Mohammadans) should try to become one heart and soul and act in unison."
>
> ترجمه: سرسیداحمد 1884ز کال د جنورۍ په 27 د ګورداس پور په تقریر کښې ووې: مونږ (هندوان او مسلمانان) باید کوشش وکړو چې یو زړه او یو روح شو او په اتفاق سره عمل وکړو.

مخکښې د دې د پاره یو منطقي او تاریخي دلیل بیانوي. وائي چې ټول زاړه تاریخي کتابونه او روایات چې تاسو لوستي وي. لا مو اورېدلي وي او نن هم دا خبره څرګنده ده چې د یو مملکت اوسېدونکي د یو قوم په نوم یادېږي. د افغانستان مختلفې قبیلې یو قوم دے. دا شان په ایران کښې مختلفې ډلې چې اوسي. دا په نوم ایرانۍ یادېږي سره د دې چې هغوي کښې ډېر مذهبي او ذهني اختلافات دي خو بیا هم هغوي ټول ایرانیان شمېرلے شي. بیا یو قدم مخکښې وائي چې دا د هندو او مسلمان لفظ چې دے دا د مذهبي امتیاز د پاره دے هسې خو اول هندوان او مسلمانان څه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي عیسایان چي دلته اوسي. هغه په حقیقت کښي یو قوم دے
یو بل تقریر سرسیداحمد خان په لاهور کښي په 1884ز کښي کړے دے
چي هغي کښي ئي هم د قوم په مسئله کافي تفصیلي بحث کړے دے
اخېره کښي دي نتیجي ته رسېدلے دے چي د دي وجوهاتو په بناء زهٔ دا
دواړه نسلونه (races) چي دلته هندوستان کښي اوسي. په یو نوم یادوم:
یعني هندو" مطلب دا چي د هندوستان اوسېدونکي بس دي کهٔ وشو؟ سر
سید خو ورپسي دومره لري لاړ چي هغه د "محمدین" نوم ئي هم ورپسي
پرېښود او دا فتوي ئي جاري کړله چي هر هغه څوک چي د هندوستان په دي
خاوره اوسي هره عقیده چي ئي وي او د هر مذهب پېروکار چي وي. یو قام
دے او دا پرې لا د پاسه چي پکار دي چي کهٔ په هره عقیده او هر مذهب چي
وي، خو د هندو په نوم دي بللي شي
هم دارنګي مسئله د سر محمداقبال ده چي: "هندي هین هم وطن هین
هندوستان همارا" د دي ثابتولو د پاره د مذهب نه مرسته اخلي چي: "مذهب
نهین سکهاتا آپس بیر رکهنا" نو مذهب او مذهبي تعلیم خو بدلېدے نهٔ
شي کم از کم د مسلمان خو دا عقېده ده چي د نبي کریم (ص) نه پس بل چا
ته دا حق نهٔ دے حاصل چي په مذهب کښي ترمیم وکړے شي. نو بیا دا
مذهبي عقیده څنګه د سیاسي نظرئي سره بدلېدے شي. سر محمد اقبال
خو هم لکه د سرسیداحمدخان په شان په دي سلسله کښي کافي وړاندي
تللے دے: لکه چي د فارسي په یو شعر کښي وائي چي:

دانهٔ سبحه به زنار کشیدن آموز
گر نگاه تو دوبین است نه دیدن آموز

د هندو او مسلمان د یو والي او اتحاد د پاره پېش کوي چي د مسلمان د
تسبیح دانې پکار دي چي د هندو د زنار په تار وپېیلي شي (زنار د هندوانو
مقدس تار دے چي د هغوي وجود سره پیوست د اوږي نه ترخ ته پروت





دے) یعني د مسلمانانو د ذکر الهي د پاره د تسبو دانې دي د هندو د زنار
په تار وپېیلي شي، دا ترون غواړي. دا مذهبي روا داري کهٔ یو والے
غواړي، نو بیا فېصله اوروي؛ کهٔ چرې ستا سترګي دا دواړه جدا جدا وېني
نو بیا خو ته په سترګو ړوند ښهٔ ئي.
ډېر زیات په تفصیل د تللو ضرورت نشته. د مسلم لیګ د مختلفو وختونو
پاس کړي قراردادونه او د جناح صاحب خپل بې شمېره تقریرونه دا خبره
ثابتوي چي مسلم لیګ د دوو قومونو نظریه د خپل سیاست بنیاد ګرځولے
وو. نو اوس پکار دي چي په دي خبره غور وشي چي مسلم لیګ خو صرف
د مسلمان خېر غوښتو. د نورو هندوستانیانو سره ئي څهٔ غرض نهٔ وُ؛ یعني
هغه څهٔ ته چي قام پرسته یا نېشنلسټ وائي. د هغې دعوي ئي نهٔ کوله. نو
کتل دا پکار دي چي دا نسخه تر کومه پورې د مسلمان د مرض علاج شوله
لکه څنګه چي ما مخکښې ذکر کړے دے. مسلم لیګ د مرض تشخیص
کړے وُ چي د مسلمان دښمن پېرنګے نهٔ بلکې هندو دے او اوس ئي ورله
علاج دا تجویز کړو چي د دوه قومي نظرئې په بنیاد دې هندوستان تقسیم
شي او پاکستان دې جوړ شي؛ نو په دې طریقه به د هندوستان د مسلمانانو
ټوله محرومي او تکلیفونه رفع شي.
دا هم یو تاریخي حقیقت دے چي د مسلم لیګ تحریک د هندوستان په
هغو صوبو کښې زیات قوي او مقبول وُ کوم ځاے چي مسلمانان په اقلیت
کښې وو او د دې ثبوت د 1937ز صوبائي انتخاباتو کښې په قطعي طور
ښودلے شوے دے چي د مسلمانانو په څلورو واړو اکثریتي صوبو کښې
یوه صوبه کښې هم د مسلم لیګ ډلې هېڅ څهٔ نماینده حېثیت څهٔ کوې چي
په دوو صوبو یعني سندهـ او سرحد کښې ئي د سره یو ممبر هم نهٔ وُ او د
پنجاب په 84 مسلمانانو ممبرانو کښې ئي صرف یو ممبر وُ. په دې کښې هم
څهٔ د شک ګنجائش نهٔ شته چي د مسلمانانو په اکثریتي صوبو کښې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختیار د مسلمانانو ؤ. مشري د هغوي وه. د پنجاب سر سکندر حیات خان د بنګال مولوي فضل الحق. د سندھ اله بخش سومرو او د صوبه سرحد مشر یاسر صاحب زاده عبدالقیوم او یا د ډاکټرخان صاحب ؤ. نو په دغه صوبو کښې خو د مسلمانانو حقوقو د تحفظ سوال نهٔ پیدا کېدو د مسلمانانو د حقوقو د تحفظ مسئله خو د هغو صوبو وه چې کوم ځاے د غېر مسلمو اکثریت ؤ او دا هم حقیقت دے چې مسلم لیګ هم په دغو صوبو کښې هر دل عزیز ؤ او د مسلم لیګ د کل هند لیډرانو نمایندګي په پارلیمنټ او صوبو کښې هم دغو مشرانو کوله نو اوس باید چې جذباتي طور نه بلکې په سړه سینه په دې غور وشي چې د دغو غېر مسلمو اکثریتي صوبو د مسلمانانو د تکلیفونو او محرومیو علاج د مسلم لیګ د سیاست د کامیابۍ په نتیجه کښې وشو یا نه؟ دا ډېره ضروري نکته ده چې مسلم لیګ په خپل سیاست کښې کامیاب شوے دے تقسیم هند ئې کړے دے او پاکستان ئې حاصل کړے دے نو باید چې اوس د دې سیاست د کامیابۍ نه پس حساب وشي چې د مسلمانانو د کم شمېره صوبو د مسلمانانو د هغه مرض علاج په دې نسخه څومره کامیاب شوے دے؟

زهٔ دا خبره بار بار کوم چې کومو صوبو کښې د پاکستان د قیام مطالبه وشوله، نو په دغو صوبو کښې اختیار هسې هم د مسلمانانو ؤ. کهٔ د مسلمانانو د اخیتار خبره وه. نو دغه صوبې د پخوا نه د هغوي وې صرف نوم د پاکستان نهٔ ؤ. نو مطلب دا چې مرض په بمبۍ، مدراس، ډیلي، یوپي، بهار، سي پي او اړیسه کښې ؤ. د مسلم لیګ د دې دوو قومونو نظرئې او د پاکستان د قیام کامیابۍ د هغه مجبور او محروم مسلمان څهٔ ښېګړه وکړه. تکلیف د بمبۍ او لکهنو مسلمان ته ؤ او پاکستان مو په لاهور او پېښور کښې جوړ کړو. تکلیف د بهار او اړیسه مسلمان ته ؤ او پاکستان ئې په ډاکه کښې جوړ کړو.





نو دا حق یو اځې د هندوستان د هغو صوبو د مسلمانانو نهٔ دے چې هغوي د دې تقسیم په نتیجه کښې هم هلته په خپلو صوبو کښې مېشته پاتې شول، بلکې د پاکستان د مسلمانانو هم دا حق دے چې د مسلم لیګ مشرانو نه دا تپوس وکړي او ښهٔ په کلکه ئې وکړي چې زمونږ نه وروستو پاتې د هغه وخت پینځو کروړو مسلمانانود خوشحالۍ، سوکالۍ او د ازادۍ د ښېګړونه پوره په پوره فایده اخستو د پاره ستا سو دا تجویز کړې نسخه څومره کامیابه او مجربه ثابته شوله

د دې نه هم د انکار کولو هېڅ ګنجائش نهٔ شته چې د پاکستان د قیام په دغه وخت کښې په ټول هندوستان کښې د فرقه وارانه فساداتو سور اور لګېدلے ؤ. هغه مقامي اوسېدونکي په خپل کور کښې د یو بل په غوښو اخته وو او بیا چې کله د یو خوا مهاجر بل خوا ته لوټلي، خپلي، وژلي او تالا شوي رسېدل او هغې دواړه اړخ ته په دغه اور لړګي نهٔ. تېل اچول او ملک یو سره لمبه ؤ او یو داسې مذهبي جنون او د فرقه وارانه لېونتوب د پرغز فضا په ټول ملک سالمه خوره وه چې د هندوستان یو ګوټ هم ترې نه بچ نهٔ ؤ پاتې. د هندو، سکھ او مسلمان تر منځه نفرت، کرکه او دښمني دې حد ته رسېدلې وه چې هغه اخلاقي اقدار خوپرېږده. انساني خویونه هم په ځاے پاتې نهٔ وو؛ ان تر دې چې د دې هر څهٔ سره سره ئې د یو بل زنانه ؤ ته لاس اچولو باندې هم صرفه نهٔ کوله نو چې یو خوا په ټول ملک کښې د هندو او مسلمان په نوم داسې د لېونتوب فضا وي او د دې تکلیف او مصیبت، تباهۍ او بربادۍ په وخت کښې دغه مظلوم او مجبور مسلمان هم هلته د هغه ساد خپلي هندو او سکھ سره په شریکه ژوند تېرولو مجبور پاتې شي نو د دغه مسلمان د ذهني، روحاني، نفسیاتي او ایماني کېفیت اندازه څوک لګولے شي؟ او بیا په تېره تېره دا چې ټول هغه لیډران څوک چې د دغو پاتې مسلمانانو مشران وو او هغوي په شریکه کېږه پاکستان ته یوړله



Scanned by CamScanner

او دغه مسلمان ئې پهٔ دغه فضا کښې د اور لمبو کښې پهٔ وينو لړلې پرېښودو. هغه پهٔ سرکاري نوکرو کښې چې کوم مسلمانان کهٔ پهٔ سول کښې وو او کهٔ پهٔ فوځ کښې او د چا نه چې د خېر ښېګړې توقع کېدے شوه هغوي هم پاکستان ته د تللو فېصله وکړله: نو دا چرته د کوم مسلم ليګي پهٔ ضمير کښې راغله چې دغه پهٔ هندوستان کښې پاتې مسلمان چې مسلم ليګ ئې جوړکړے ؤ هغهٔ لهٔ ئې چندې ورکړي وې. د هغهٔ پهٔ ښوونه او مطالبه ئې مظاهرې کړې وې، جلوسونه ئې ايستي وو؛ د مسلم ليګ پهٔ هداياتو ئې داسې سياسي نعرې وهلې وې چې ګاونډي سره ئې پرې ځان دښمنۍ ته ودرولے ؤ. نو نن د دغو مسلمانانو دا منتخب کړي مشران څهٔ شول؟ او دا غريبانان ئې چا ته پرېښودل؟ دا داسې سوالونه دي چې پهٔ ځواب ورکولو د مسلم ليګ مشران مجبور دي.

دغه حال خو د سياسي، سرکاري نوکرو د مسلمانانو افسرانو ؤ. ولې د دې سره سره هغه واړهٔ واړهٔ سرمايه دار او تاجران او کارخانه دار هم پاکستان ته واوړېدل؛ نو پهٔ هندوستان کښې پاتې مسلمانانو د پاره اقتصادي لارې هم بندې شولې او کهٔ څهٔ خاورې ايرې. کاروبار يو مسلمان تاجر، سرمايه دار دې خپل ناتوانه مسلمان ورور لهٔ ورکولے شو نو د هغې ګنجائش هم ختم شو؛ خو لنډه اوږده دا چې پهٔ هندوستان کښې پاتې مسلمان هم مذهبي طور، هم سياسي طور او هم اقتصادي طور پهٔ داسې حالت کښې وروستو. بې يار و مددګار پرېښودے شو چې د ملک ټوله فضا د هغهٔ مخالفه وه. مذهبي جنون وطن پهٔ سر اخستے ؤ. پهٔ لکهونو خلق خو پاکستان ته واوړېدل ولې قابو پينځهٔ کروړه مسلمان خو بيا هم مسلم ليګ پهٔ سياست د هندو پهٔ غلامۍ کښې دې مشرانو پرېښودل چې بېخي د دښمن پهٔ رحم خپل ژوند پهٔ داسې حالاتو کښې تېر کړي چې د هغوي مشران ټول پهٔ ټوله ترې نه يو پهٔ يو راغلل.





زما پهٔ خپل خيال پهٔ دې ټولو کښې صرف يو د لکهنو نواب اسماعيل خان ؤ چې هغهٔ د راتلو نه انکار وکړو وې چې زهٔ خپل مسلمان ورور پهٔ داسې حالاتو کښې پرېښودو ته پهٔ هېڅ شان تيار نهٔ يم زما مرګ او ژوند دې خپلو ورونو او دې خاورې سره تړلے دے. دې نورو خو خېر پهٔ دې کښې وګڼلو چې سره د بال بچه ښهٔ پهٔ ارام او سکون ئې ځان پاکستان ته راورسولو او هغه خپله خاوره، خپل ورونړه، خپل سياسي ملګري او تابعداران ئې د سور اور لمبو ته وروستو پرېښودل [30]

پهٔ وروستو پاتې مسلمانانو کښې هم زيات خلق د غېر مسلمو د بربريت نه پهٔ کډه کولو مجبور شول او خپلې، لوټلې، تالاشوې، ذهني او جسماني طور زخمي اوږدې اوږدې قافلې ډېرې پهٔ بې سر و سامانۍ کښې پاکستان ته راواوړېدل لازمي خبره ده چې د هندوستان ټولو مسلمانانو خو هجرت نهٔ شوکولے. دا به مخکښې وکتل شي چې پهٔ پاکستان کښې پهٔ دې مظلوم او مجبور مهاجرو څهٔ تېرېږي اوس خو مونږ صرف دا وينو چې دغه د هندوستان مسلمان پهٔ دغه خپل کور کښې داسې سور اور ته نور نهٔ شي ټينګېدے او خپل نجات ئې صرف پهٔ دې کښې دے چې هغه د خپل نيکه خاوره پرېږدي او د خپل سر او عزت بچ کولو پهٔ خاطر پاکستان ته پناه يوسي چې دغه يو د سر سورے او اسره د دې غريب پاتې ده. دا خو معلومه ده چې غټان او رسېدونکي مهاجر خو به د غېر مسلمو پاتې جائيدادونه، بنګلې، مانۍ، کورونه، دوکانونه او کارخانې قبضه کړي؛ ولې د دې پهٔ اور

[30] پهٔ دغو مجبورو مقهورو مهاجرو چې دلته څهٔ تېر شوي، د هغې اندازه د هغه وخت د اردو ادب نه اخستلې کېدې شي ـ لکه د سعادت حسن منټو افسانه 'کهول دو'. د قدرت الله شهاب 'يا خدا' افسانې مونږ ته ښائي چې دغه مهاجر مسلمانان چې پاکستان د پاره ئې هندوستان پرېښودے ؤ، دلته د خپلو مسلمانانو د لاسه هغوي باندې لا زيات ظلمونه ناکردې وشوې ولې پښتو ادب کښې پهٔ فساداتو افسانه نهٔ ده ليکلې شوې ـ دا ځکه چې دلته د خدائي خدمتګار تحريک رضاکارو د دغه ډول لوے فساد مخنيوے پهٔ کامياب کړے ؤ



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوي او په وینو لت پت غریب مهاجر به څۀ حال شي؟
چې دې ټولې مسئلې ته سرے پۀ غور وګوري. نو پۀ دې کښې پۀ هندوستان کښې پاتې مسلمانانو ته یو بنیادي مشکل د مسلم لیګ د سیاست پۀ نتیجه کښې دا پاتې شو چې یوې سیاسي مسئلې لۀ چتې چتې مذهبي رنګ ورکړے شو او د مسلم لیګ پۀ برکت دا جنګ د سیاست د مېدان نه پس د مذهب پۀ فرقه وارانه ډګر چالوکړے شو. کښې نو کۀ سیاسي تحریک وي نو د تقسیم سره به مسئله ختمه شوې وه او سیاست به کامیاب شوے ؤ. کانګرس د هندوستان ازادي غوښته. د هغوي هم کامیابي وشوله. پېرنګے لاړ. غلامي ختمه شوله. مسلم لیګ پاکستان غوښتو. هم هغه حاصل شو: نو مسئله کۀ پۀ سیاسي سطحه وي خو ختمه شوې وه. ولې مسلم لیګ دې سیاسي مسئلې لۀ مذهبي رنګ ورکړو نو پۀ هندوستان کښې پاتې مسلمانانو ته ئې دا یو ډېر لوې عظیم غم وروستو پرېښود چې فرقه پرست هندوان او مذهبي جنونیان پۀ دې سوچ مجبور شول چې د مذهب پۀ بنا خو هندوستان تقسیم شو: ولې خو لا هغه شان هم د هغه مذهب پېروکار د کروړونو پۀ شمېر کښې موجود دي نو دا خو مسئله حل نۀ شوله او هم دا وجه وه چې د مذهبي جنون او فرقه وارانه منافرت دا اور مړ نۀ شو. بلکې هغه پاتې مسلمان بیا نور هم مجبور او محروم پۀ دې شو چې اول صرف د غېر مسلمو اکثریت ته پاتې وو اوس د هغوي قهر و غضب، دښمنۍ او ترېګنۍ نه پاتې شو: نو مطلب واضحه شو چې مسلم لیګ د هندوستان د اقلیتي صوبو د نمائنده پۀ حېث د هغوي د مرض پۀ تشخیص کښې خطا وتل او چې د مرض تشخیص صحیح ونۀ شي. نو علاج به ئې نور غلط وي. د مسلم لیګ د سیاست پۀ نتیجه کښې دغه مسلمان پۀ ځاے د دې چې ښۀ شي. لا ورپسې نور هم د مجبورۍ، محرومۍ او محکومۍ حده پورې پۀ موذي مرض ښۀ ککړ شو.





# فرقه وارانه فسادات او کانګرس

فرقه وارانه سیاست پۀ دې کښې شک نۀ شته چې کۀ یو خوا د مسلم لیګ د فرقه وارانه سیاست پۀ نتیجه کښې ټول ملک کښې اور لګېدلے ؤ نو د دې مقابله کښې داسې قوتونه هم پۀ مسلمانانو کښې او هم پۀ غېر مسلمو کښې لګیا وو چې د دې اور وژلو کوشش وکړي د دې نه هم انکار نۀ شي کېدے چې پۀ دغه وخت کښې د ټول قام جذبات او احساسات دومره د لېونتوب حد پورې زا پارولي شوي وو چې ځېلي بنیادم بیا د انسانیت د حلقې نه هم وتے ؤ او. بېخي د ځناورتوب مقام ته رسېدلي وو نو چې پۀ دغه وخت کښې به چا هم د هندو، سکهـ او مسلمان پۀ منځ کښې د رواداري او دوستۍ خبرې کولې نو نۀ یوائې دا چې دا خۀ بې موقع او بې ځایه معلومېږي. بلکې د حالاتو پۀ موجودګۍ کښې څۀ د بې وقوفۍ د حده پورې چشم پوشۍ پورې تړلے کېدے
پۀ مسلمانانو کښې منظم حرکت پۀ دې کښې خدائي خدمتګارو وکړو کله چې د مسلم لیګ د طرف نه پۀ صوبه کښې د خدائي خدمتګارو د وزارت ماتولو پۀ خلاف مهم ډېر تېز شو او مېجر خورشید انور پۀ ذریعه د سرحد پۀ سیاست کښې تخریب کاري پۀ اول ځل معرفي شوله او چې کله دلته د فساداتو رده کېښودې شوله نو دا خبره ځرګنده شوله چې یو خوا خو پۀ دې حالاتو کښې د قام دښمنه بدمعاشانو د پاره لاره ازاده شوله چې هغوي لوټمار شروع کړي او د فرقه وارانه قتلونو پۀ ذریعه مکانونه. بنګلې. دوکانونه. تجارتي کوټۍ او کارخانې قبضه کړي نو دې خوا دا هم ولیدل شو چې سرکاري افسران هم خپلې ذمه وارۍ پۀ صحیح طریقه سر ته نۀ رسوي او د غېر مسلمو حفاظت برابر نۀ کېږي نو صوبائي وزارت خواست



Scanned by CamScanner

وکړو چې د پېښور ښار د غېر مسلمو د سر و مال او عزت د حفاظت د پاره دې خدائي خدمتګار رضا کار راشي چنانچه مونږ شپږ زره باوردي خدائي خدمتګار پهٔ پېښور کښې پهٔ دې ډيوټۍ حاضر شو چې مونږ دلته فرقه وارانه فسادا منع کړو. اګر چې د مسلم ليګ رضا کارانو او نورو لنډروکوچرو به ځاے پهٔ ځاے ولاړو خدائي خدمتګارانو ته پېغورونه ورکول چې د هندوانو د بچ کولو د پاره راغلي يئ، يا به ئې ورته د بهار د فساداتو قيصې کولې. لا د سکهانو د لاسه د مسلمانانو د تباهۍ يادګېرنې؛ ولې د دې خبرې نه انکار نهٔ شي کېدے چې سره د دې ټول اشتعال خدائي خدمتګار پهٔ دې کښې کامياب شول چې د غېر مسلمو د سر، مال او عزت تحفظ وکړي ولې د انګريزانو دا پاليسي وه چې دنيا لهٔ دا تاثر ورکړي چې د هندو او مسلمان دا بېلتون دومره مونډېز او بنيادي دے چې د شريک کور هډو د سره سوال نهٔ پېدا کېږي نو د پېرنګي دا کوشش ؤ چې دا غېر مسلم اوس د دې صوبې نه وباسي. د مسلم ليګ خبر هم پهٔ دې کښې ؤ. د لوټمار او جائيدادونو قبضه کولونه علاوه دا يوه مسئله هم وه چې دلته پهٔ صوبائي اسمبلۍ کښې هندوان او سکهان ممبران وو نو د هغوي پهٔ وېستو کښې هم پېرنګي او هم مسلم ليګ دواړه غرضيان وو نو پهٔ دې طريقه ئې دغه ټول غېر مسلم د پېښور پهٔ بالاحصار قلعه کښې راغونډ کړل او هندوستان ته ئې واړول.

اخوا هندوستان کښې هم د کانګرس مشرانو عموماً او ګاندهي جي خصوصاً د دې فرقه وارانه فساداتو د اور پهٔ وژلو پسې ملا وتړله. ګاندهي جي خو پهٔ دې مسئله کښې دومره لرې لاړ چې هغه. هغه خپل ژوند هم پهٔ داو ولګولو او د کلکتې د مسلمانانو پهٔ خلاف د فساد بندولو پهٔ خاطر ئې د مرګ روژه ونيوله او د دغې ذاتي قربانۍ پهٔ ذريعه ئې داسې فضا پېدا کړله چې عام اولس د هندوانو. مسلمانانو او سکهانو خو پرېږده چې





سرکاري پوليس هم دومره متاثره شول چې هغوي به هم ژړل او هله پسته ګاندهي جي روژه ما ته کړله چې کله د کلکتې پهٔ مېدان کښې پهٔ زرګونو مسلمانان، هندوان او سکهان ئې يو بل ته ورترغاړه وېستل ولې د لا اور داسې حد ته رسېدلے ؤ چې يو ځاے به چا مړ کړو نو بل ځاے به ئې سر ووهه، نو ګاندهي جي او د هغهٔ ملګري داسې لولپه ګرځېدل چې پهٔ هر شان چې وي د دې اور د مړ کولو کوشش وکړي کهٔ کلکته وه او کهٔ ډيلي. کهٔ مشرقي بنګال ؤ، او کهٔ بهار ولې دا مسلم ليګيان هم عجب مخلوق دے يا خو هغه حسين شهيد سهروردي صاحب ؤ چې د بنګال د وزيراعلي پهٔ حېثيت کښې ئې د مسلم ليګ د اعلان مطابق د "راست اقدام" د ورځې د نمانځلو پهٔ سلسله کښې د مسلمانانو د جلوس قيادت پهٔ خپله کولو او هم دا هغه مقام دے چې د کوم ځاے نه د دې فرقه وارانه مسافرت دا تيلے بل شوے دے او بيا دا هم خلقو وليدل چې هم حسين شهيد سهروردي بيا د ګاندهي جي د دغه فرقه وارانه فساداتو د رفع کولو د پاره لګيا ؤ [31]

---

11 دې لړ کښې مسلم ليګ د هغه اوښتي (منحرف) خدائي خدمتګارو څخه کته پورته کړه کومو چې د خان بهادرانو پهٔ اشاره کانګرس سره د اتحاد پهٔ بهانه تحريک پرهښودے ؤ لکه مولانا شاد محمد او بخت جمال د صوابۍ، مولانا شاکرالله او مولانا خادم محمد اکبر د نوښار او دغسې خينې نور قام پلورلي مشران - دوي نهٔ يواځې دا چې د احمد اباد ګجرات او د هندوستان نور پښتانهٔ هندوانو سره جنګ جګړې د پاره ولمسول بلکې د تحريک خلاف ئې هم هر ځاے زهر خوارهٔ کړل د هندوستان پښتنو د دوي د دوږې نه وړاندې ورځپانو کښې اشتهارونه ورکړي وو چې زمونږ د هند مسلم فساداتو سره هيڅ ترون نشته - د دې خواب کښې د هغه ځايونو هندوانو هم داسې اشتهارات خپارهٔ کړل چې زمونږ هم پښتنو سره څهٔ مسئله نشته خو د دې شرارتيانو د لاسه خينې پښتانهٔ هم هندو مسلم فسادات کښې ککړ شول او وژنې وشوې

ايس کے محمدار خپل کتاب 'جناح اور ګاندهي' کښې ليکلي دي چې فسادات د مسلم ليګ د 'راست اقدام' پايله وه د بنګال وزير اعلي او قانون وزير حسين شهيد سهروردي پهٔ شپاړسم اګست د کلکتې ښار څلور ويشت پوليس سټېشنونو کښې دوه ويشت مسلمانانو افسرانو او دوه اېنګلو انډين افسرانو ته حواله کړل او بيا ئې پوره صوبه کښې د چهټۍ اعلان وکړو مسلمانانو کوټونه، شلونه، څټکونه، خنجرونه او ټوپکې نو پنځې وو بشلې مسلم ليګي لنډغرو ته ئې ګاډۍ ورکړلې او



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دوه قومي نظريې نه د مسلم ليګ انکار

خو مونږ ليدلي دي چې کله مسلم ليګ د کېبينټ مشن منصوبه منظوره کړله او د هندوستان وفاق ئې تسليم کړلو او د دريو ګروپونو يو مشترک مرکزي حکومت ئې ومنلو. نو په دغه شان مسلم ليګ خپله د پاکستان مطالبه پرېښودله او چونکې د پاکستان د قيام د مطالبې بنياد صرف او صرف په دوه قومي نظريه ؤ. نو د دې لازمي اومنطقي نتيجه دا شوله چې مسلم ليګ د پاکستان د مطالبې پرېښودو سره سره د دوه قومي نظرئې نه هم لاس ووينځلو. په کوم ځيز چې زۀ پوهه شوے نۀ يم هغه دا چې د مسلم ليګ مشرانو د دې خپل سياست د پاره د مذهب مېدان خوښ کړے ؤ او هرې خبرې او پاليسي لۀ به ئې د اسلام نکته نګاه نه يو جواز لټولو. نو مشکله دا وه چې مذهب کښې خو څۀ کمے زياتے او ترميم تنسيخ ځوک نۀ شي کولے. يا کم از کم مسلمانان خو عقيدتاً نبي کريم (ص) اخېري نبي ګڼي او دا ئې عقيده ده چې هغه يوه مکمله ضابطه حيات پرېښې ده چې په هغې کښې تغيير او تبدل. کمے او زياتے نۀ شي کيدلې. نو مونږ ته په دې خبره پوهيدو کښې لږ تکليف ؤ چې اول د مسلم ليګ پاليسي د دوه قومي نظرئې يعني د پاکستان نظريه وه او نعره ئې دا وه چې: پاکستان کا مطلب کيا؟ لااله الاالله؛[32] ولې هم دغو د مسلم ليګ مشرانو دا فيصله وکړه چې

سوونو ګېلن پټرول سېوائي کوپنونه هم ورله ورکړے شول ښکاره ده چې دې نه پس لګېدونکي اور کښې په زرګونو خلق ووژل شول او د دې فساد منطقي نتيجه بيا د وېش په وخت د لکهونو انسانانو تاريخي چړاو ؤ

[32] د وېش نه وړاندې دا نعره چې د اصغر سودائي نومې يو لوکل شاعر وه، داسې وه چې 'پاکستان کا مقصد کيا؟ لا اله الا الله' ـ د وېش نه پس خو بيا منظر بدل شو ځکه چې پاکستان جوړ شو نو دا نعره داسې بدله کړې شوه چې 'پاکستان کا مطلب کيا؟ لا اله الا الله' ـ يعني پاکستان چونکې خپله





دغه کلمه په ځاے پرېږدي او د پاکستان او مطالبې نه دست بردار شي نو که په هغوي دا اعتراض وشي چې دوي خو د پاکستان او لااله يونړون پېش کړے ؤ، نو ايا د هغې به دا مطلب نۀ وي چې ګڼې د دغې کلي نه هم ويزاره کښناستل. مذهب خو د دې خبرې چرې هم اجازه نۀ ورکوي چې نن دې د کلي په بنياد يو مذهبي تحريک وچلېږي او سبا لۀ لۀ هم دغه مذهبي تحريک پرېښودے شي نو په دا شان خو به دا ټول عمل د دغې کلمې نه هم په انکار تماميږي

دا يو بنيادي مشکل دے چې هرې هغې ډلې. تنظيم او پارټۍ ته به يقينا پېښيږي چې د خپلو سياسي پاليسيو د وړاندې بوتلو د پاره د مذهب نه کار اخلي. بل هغه تنظيمونه دي چې هغوي خالص د مذهب په نامه ديني تحريکونه چلوي لکه زمونږ د هندوستان هغه باعمله عالمان د چا چې د ديوبند د دارالعلوم سره تعلق ؤ او هغوي د کافر او سامراج انګرېز بر خلاف خپل تحريک يو ديني فريضه او جهاد ګڼلو او ټول عمل ئې د دين دائرې دننه ساتلو. دا نورې ډلې او په خصوصيت سره مسلم ليګ چې خپل ټول سياست ئې د مذهب د څادر لاندې چلولو. هغوي ته به لازماً داسې مشکلات مخې ته راتلل. ولې چې د مذهب لار خو واضحه او نېغه ده هغۀ کښې خو اخوا دې خوا تلل لا وړاندې کېدل وروستو کېدل نه شته اوسياست کښې خو دغه کار لازمي پېښيږي نو چې ځوک سياست او مذهب يوځاے کوي. نو د هغې لازمي نتيجه به هم دغه وي. لکه ځنګه چې مسلم ليګ ته پېښه شوله: چې يو مقام داسې راورسېدو چې د خپلې

د لا اله الا الله متراف دے ځکه چون چران ځاے ختم شو. سېوائي خبرې مۀ کوئ ځکه د قرارداد مقاصد (پاکستان کا مقصد، نه پس چې مولانا شبير احمد عثماني لياقت علي خان نه د دې د عملي کولو غوښتنه وکړه نو هغۀ ورته ووې چې مولانا تنګول مۀ کوه. اوس پاکستان جوړ دے: مونږ پوهه شه زمونږ کار پوهه شه: تۀ کور کښېنه. اوس ارام کوه



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي پالیسی د بدلولو په نتیجه کښې هغوي د پاکستان د مطالبې نه لاس په شا شول او چونکې پاکستان هغوي د مسلمانانو د بنیادي مذهبي عقیدې سره تړلي وو نو دا اعتراض په هغوي په جایزه کېدو چې دوي خپله سیاسي نه بلکې مذهبي عقیده پرېښودله

کله د مسلم لیګ سیاست ته وکتل شي نو د مسلم لیګ مشرانو هر چاته د هغوي د خواهش مطابق خبره کوله جناح صاحب چې به کله سرحد ته راغې نو هغه د نورو نه علاوه دلته کافي مذهبي مشرانو او پیرانو سره هم لیده کاته کړي وو. د مانکي شریف پیر صاحب امین الحسنات له ئې لیکلي ورکړي وو چې پاکستان به یو اسلامي مملکت وي او پکښې به قانون شریعت محمدي وي؛ ولې د دې په مقابله کښې سکندر میرزا په خپل سوانح حیات کښې لیکي چې کله مونږ فیصله وکړه چې د دهلي نه کراچۍ ته خو نو ما یوه ورځ د قائداعظم نه تپوس وکړو چې جناب مونږ خو ټول پاکستان ته روان یو. مګر تپوس دا کوو چې هلته به څه قسمه حکومت تاسو جوړوئ؟ ایا ستاسو اراده دا وه چې داسې حکومت به وي چې د هغې دارومدار به په اسلام وي؟ قائداعظم وې چې نه؛ بکواس ده No, nonsense زه به یو عصري حکومت جوړوم.

Before we all left Delhi, I said to the Q.Azam one day, "Sir we are all agreed to go to Pakistan. But what kind of Govt. are you going to have? Are you going to have a type of Govt. with accent on Islam?" "No. nonsense" he replied, "I am going to have a modern Govt."

ترجمه: مخکښې له دې چې مونږ ډیلي نه روان شو یوه ورځ ما قائداعظم ته ووې "جناب عالي مونږ د ټولو فیصله وه چې پاکستان ته به ځو لیکن څه قسمه حکومت به ته هلته جوړوې؟ ایا ته به داسې حکومت جوړکړې چې زور ئې په





اسلام وي؟ هغه خواب کښې ووې چې "نه بکواس ده زه به یو جدید حکومت جوړوم"[33]

مسلم لیګ د پاکستان نه د ملا صاحب د جنت تصور جوړ حقیقت کښې کړے وُ چې څه ستاسو خواهش وي هغه به حاضر وي؛ د پیو او شاتو ولې به وي، د حورو او غلمانوخو به هډو څه حساب نه وي؛ څه ته چې دې زړه کیږي هغه به موجود وي، که انګور غواړې. که انار. که سیب غواړې او که بادام. نه به ونه کرل غواړي نه به د ګوډچارې ضرورت وي او نه به کولبه

[33] پاکستان ساخته مؤرخین دانشوران په دې بابله دوه ډلي دي – یوه ډله جناح صاحب سیکولر لبرل رامنځ غواړي بله ډله داتا درباري ډله دا وائي چې نه: هغه یو اسلامي فلاحي سړے وُ خو وخت نه مخکښې مړ شو نو اسلامي تجرباتي مملکت ئې جوړ نه کړو. دا ډله هغه یو لوے زیرک او رسولي ولي مني. د دې اندازه د عارف محمود اپل نوموړي لیکوال لیکلي "بانی پاکستان کی حضور پاک (صلی الله علیه وسلم) سے والهانه محبت" نه کیږي: هغه لیکي چې کله جناح صاحب لندن کښې وُ. یو شپه ورته نبي پاک صلي الله علیه وسلم راغلو. کټ ئې ورله وخوځولو چې زه بیا خیځم او نبي پاک صلي الله علیه وسلم ورته ووې. زه ستا پیغمبر یم او تا ته وایم چې بیرته هندوستان ته لاړ شه او تحریک ازادي شروع کړه. زه درسره یم نو دې نه پس هغه بیرته راغلو جناح صاحب هم په دې پوهه وُ او لکه د پیرانو به ئې مذهب نه ګټه اخسته خکه 1948ز کراچي بار ایسوسي ایشن ته وینا کښې ئې وئیل چې ما خکه لنکنز ان کښې داخله اخسته چې هلته د نبي پاک صلي الله علیه وسلم نامه د دنیا لویو قانون دانانو سره لیک وه دا بیخي دروغ دي. هلته د نبي پاک صلي الله علیه وسلم نامه نشته البته عیسي موسي علیهم السلام سره ئې تصویر جوړ دے خو د تصویر دا خبره کول مذهبي حوالې سره سمه نه ښکارېده نو تصویر نه ئې نامه جوړه کړه چې خلق بد ونه ګڼي. دا ډېره ساده خبره ده چې جناح صاحب اصلیت کښې لبرل وُ که مذهبي؟ که مونږ د هغه د ژوند شپې ورځې وګورو نو د هغه لائف سټائل مذهبي یا مولیانه نه دے بلکې الټرا لبرل دے – سیګار نوشي. سګ پروري، هیم برګر خوړل. کاکټیل پارټي، سنوکر بلئیر ډکول. خان ته مسټر جناح وئیلو د پاره حکومتي چارواکو ته افیشلي چیټی کول هغه لبرل ثابتوي
پروفیسر کے بي سعید خپل کتاب "پاکستان دي فارمیټیو فیز" کښې صفا لیکلي چې "Jinnah had a tast for pork and wine."
د هاغه وخت نه واخله. په دریم خل نوي شان پاکستان پوري اکثر د یو مقدس خوب دروغژنه قیصه شورولې کیږي چې د طلاق در طلاق او نکاح در نکاح اقداماتو نه پکښې هم خنده نه کیږي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول وي د جناح صاحب خو د مانکي پیرصاحب سره د شریعت محمدي ښېنګه وعده وه نو دا هم مونږ لیدلي دي چې کله مسلم لیګ په عبوري حکومت کښې د شاملېدو اجازه ورکړے شوه. نو د مسلم لیګ په وزیرانو کښې یو جوګندرناتهه منډل ؤ چې هم هندو ؤ او هم هریجن. نو دا هم د حېرانتیا خبره وه چې یو ښېخي مذهبي تنظیم، چې صرف د مسلمانانو د حقوقو د تحفظ ذمه واري ئې په خپل سر اخستې ده. څنګه د مسلمانانو د دغه تحفظ د پاره یو هندو وزیر مقرروي چې هغه د مسلم لیګ په وېنا یو جدا قوم دے او هم د جناح صاحب د خپل تقریر له مخې دا دواړه مختلف او متضاد نظریاتي قومونه په یو مملکت کښې نهٔ شي یو ځاے کېدے

اوس به لږ مخکښې لاړ شو چې کله مسلم لیګ په خپله مطالبه کښې کامیاب شو او دوه قومي نظرئې په بنیاد ئې هندوستان تقسیم کړو او د پاکستان مطالبه منظوره شوله نو د پاکستان د باقاعده قیام نه درې ورځې مخکښې یعني د (1947) کال د اګست په یوولسم جناح صاحب د پاکستان ائین سازې اسمبلۍ ته په خپل مفصل تقریر کښې د مسلم لیګ د حکومتي پالیسۍ ډېر په وضاحت سره اعلان کړے دے. چونکې مسئله ډېره مونډېزه او بنیادي ده. نو زهٔ به ئې لږ په تفصیل سره رانقل کړم لکه چې فرمائي:

If you change your past and work together in a spirit that everyone of you no matter what community he belongs to, no matter what relations he had with you in the past, no matter what is his colour, caste or creed, is first, second and last a citizen of this state, with equal rights, privileges and obligations, there will be no end to the progress you will make.

I cannot emphasise it too much, we should begin to work in that spirit and in course of time all these angularities of the minority and minority





communities – the Hindu community and the Muslim community. Because even as regards Muslim you have Pathans, Punjabis, Shias, Sunnies and so on, and among Hindus you have Brahmins, Madrasis and so no, will vanish.

You are free to go to your temples. Mosques or any other place of worship. You may belong to any religion of caste of creed. That has nothing to do with the business of the state ……

We are starting with the fundamental principle that we are all citizens and equal citizens of one state …..

Now I think we should keep that in front of us as our ideal and you will find that in course of time Hindus would cease to be Hindus and Muslims would cease to be Muslims not in the religious sense, because that is the personal faith of each individual but in the political sense as citizens of the state.

*(G. Allana, Historic Documents, pp.545,46)*

ترجمه: کهٔ چرې تاسو خپله ماضي بدله کړئ او په شریکه دا کار وکړو چې د دې بالکل پرواه ونهٔ لرو چې تاسو د کوم مذهب فرقې سره تعلق لرئ او د دې نه وړاندې ستاسو د یو بل سره څهٔ قسمه تعلقات لرل؛ یا چې ستاسو رنګ، ذات، نسل او عقیده څهٔ ده، بلکې ټول په شریکه ځان د دې مملکت اوسېدونکي وګڼي او داسې اوسېدونکي چې ستاسو همه حقوق او ذمه واري برابر وي، نو ستاسو د ترقۍ او پرمختګ لارې ازادې دي

زهٔ دا خبره په تاسو په ټینګه واضحه کول غواړم چې کهٔ مونږ په دې جذبه کار وکړو نو ډېر زر به دا د اقلیتي فرقې او اکثریتي فرقې دا تمیز د منځه ورک شي. دا د هندو فرقې او



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان فرقې به تر منځه لرې شي ولې چې داسې خو مونږ ګورو چې پهٔ مسلمانانو کښې هم پښتانهٔ دي، پنجابیان دي، شیعه ګان دي او سینان دي او پهٔ هندوانو کښې هم برهمن، وشنو (شودر)، کهتري، بنګالیان او مدراسیان دي نو ورو ورو به دا ټول د منځه لاړ شي.

تاسو د خپلې مذهبي عقیدې پهٔ سلسله کښې ازاد یئ. کهٔ څوک دهرمسال ته ځي او کهٔ جومات ته اوکه بل د عبادت ځاے ته، ستاسو کهٔ هرڅهٔ مذهبي عقیده وي ستا سو د مذهب، نسل او عقیدې د مملکت د کارګزارۍ سره هېڅ تعلق نشته ....

مونږ باید چې ځان پهٔ دې اصولو پوهه کړو چې مونږ ټول د یو مملکت اوسېدونکي او د مساوي حېثیت مالکان یو ....

پکار دي چې مونږ دا اصول د یوې نظرئې پهٔ شان پهٔ خپل مخ کښې وساتو؛ نو زر به ځرګنده شي چې هندوان به هندوان پاتې نهٔ شي او مسلمانان به مسلمانان پاتې نهٔ شي یعني پهٔ مذهبي شکل کښې نه ولې چې مذهب خو د هر یو فرد د خپلې ذاتي عقیدې مسئله ده؛ بلکې پهٔ سیاسي حېثیت کښې چې هر یو اوسېدونکے د دې مملکت به د مساوي حقوقو مالک وي.

دې خبرې ته لږ غور پکار دے چې دا اعلان قائداعظم څهٔ چرته پهٔ پرېس کانفرنس کښې لا پهٔ جلسه لا استقبالیه کښې نهٔ دے کړے بلکې دا اعلان هغوي د پاکستان د ائین سازې اسمبلۍ د ممبرانو د وړاندې کړے دے چې د هغوي دا ذمه واري وه چې د مملکت خداداد پاکستان د پاره ائین جوړ کړي، د دغه ملک د اوسېدونکو د بنیادي، انساني حقوقو تعین وکړي، بله





دا چې دې ته هم لږ فکر پکار دے چې دغه وخت د جناح صاحب حېثیت څهٔ ؤ؟ هغه بابائے قوم ؤ، دغه وخت هغه د ټول هندوستان د مسلمانانو د طرف نه د مسلم لیګ د تنظیم باقاعده صدر ؤ. دریم دا چې هغه هم د دې پاکستان ګورنر جنرل ؤ او څلورم دا چې هغه هم د دې ائین سازې اسمبلۍ منتخب صدر ؤ، چرته د ذمه وارۍ څهٔ څانګه نه وه پاتې چې د هغې مشرې جناح صاحب نهٔ کوله. بله خبره دا هم ذهن کښې ساتل پکار دي چې دا تقریر جناح صاحب لیکلے راوړے ؤ او لوستلے ئې ؤ. د جناح صاحب غوندې تجربه کار بیرسټر زوړ او تجربه کار پارلیماني غړے به شاید چې پهٔ اول ځل پهٔ پارلیمنټ کښې چرته لیکلے تقریر لوستے وي، دا ځکه چې دا یو ډېر اهم او د هغوي د جانبه یو تاریخي اعلان ؤ.

اوس به لږ د دې تقریر پهٔ مختلفو اړخونو بحث وکړو؛ د ټولو نه اوله خبره چې پکار ده چې پهٔ هغې غور وشي، هغه دا ده چې جناح صاحب د هندو او مسلمان د پاره د دوو قومونو پهٔ ځاے د فرقې لفظ استعمال کړے دے اکثریتي فرقه او اقلیتي فرقه خو دغلته هم نهٔ دے وورېدلے بلکې د وضاحت د پاره وائي چې هندو فرقه او مسلمانه فرقه، دا ما ته د دې تقریر او اعلان یوه بنیادي نکته ښکاري. دا نور تقریر بیا د دغې تفصیل او وضاحت دے.

د دې سره سره یوه بله خبره هم قابل غور ده چې کله د مسلمان تعریف کوي نو هغې کښې د شیعه او سني سره سره د پښتون او پنجابي خبره هم کوي. دا شان د هندو پهٔ وضاحت کښې یو خوا د برهمن، شودر او کهتري سره بنګالي او مدراسي هم یادوي نو هغه د مذهبي عقیدې سره سره د اوسېدو د علاقې یعني د استوګنې د جغرافیائي مقاماتو ذکر هم کوي او پهٔ دا شان د هغې خپل زوړ بنیادي دلیل تردید کوي چې د یوې خاصې مذهبي فرقې د پاره خاصه علاقه پکار ده، د نسل تمېز الوزوي د ذات پات تمېز الوزوي



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د خپل ټول اعلان روح په اخېره کښې دا بیانوي چې دا اصول د یوې نظرئې په شان یاد ساتئ چې هندوان به هندوان پاتې نهٔ شي او مسلمانان به مسلمانان: پهٔ مذهبي شکل کښې نهٔ. بلکې پهٔ سیاسي حېثیت کښې. دغه هغه بنیادي فرق ؤ چې د خدائي خدمتګارو او کانګرس پهٔ نظریه کښې او د مسلم لیګ پهٔ نظریه کښې ئې وجود لرلو. مونږ هم دا وېٔ چې مذهبي حېثیت او ذاتي عقیده د هر چا خپله انفرادي مسئله ده او د هندوستان د ټولو اوسېدونکو سیاسي حېثیت مساوي او پهٔ یو شان دے. او نن چې پاکستان جوړ شو او مسلم لیګ پهٔ هغه خپله نظریه جوړه کړه چې هندو او مسلمان دوه جدا جدا قومونه دي نو نن هم هغه جناح صاحب د پاکستان پهٔ ائین سازه اسمبلۍ کښې د ممبرانو پهٔ مخکښې پهٔ ډېره ذمه وارۍ دا اعلان کوي چې هندو او مسلمان دوه جدا قومونه نهٔ بلکې دوې فرقې دي او د ریاست، مملکت د وړاندې د هغوي تر منځه هېڅ څهٔ فرق او تمېز لا بېلتون نهٔ شته.

سوال دا پېدا کېږي چې کهٔ د جناح صاحب دا اصول او دا نظریه وه. نو بیا د دې دومره خون خرابۍ او فساد ضرورت څهٔ ؤ؟ دا دومره بې ګناه وینه د کوم مقصد د پاره توي شوله؟ دا پهٔ لکهونو کورنۍ تباه او بربادې شوې او د فرقه وارانه نفرت،لېونتوب دا پرغز پهٔ څهٔ غرض ؤ؟ داسې د دښمنۍ او نفرت بنیاد کېښودے شو؛ دومره مخلوقات پهٔ دغه اور وسوځېدل. دومره پهٔ کرکه او بېلتون کښې مختلفې فرقې راولړلې شوې. چې اثر به ئې پهٔ عمرونو لاړ نهٔ شي. پهٔ تقریرونو چرته دغه زخمونه راډ کېږي.
دا صرف یوه خبره ثابتوي چې هغه د ماونټ بېټن خبره چې مسلم لیګ پهٔ ملک کښې دومره د جذباتي پرغز فضا را پېدا کړې وه چې نهٔ یواځې دا چې هغوي پهٔ خپله پهٔ دې خپله مطالبه د تقسیم او د منصوبې د پاکستان پهٔ یو اړخ هم غور نه ؤ کړے. بلکې بل چا به ئې دغه اړخ ته مخه راګرځوله خو





هغوي ته ئې هم غور نهٔ کېښودو، ولې اوس چې کله پاکستان جوړ شو او حکومت ئې مسلم لیګ ته پهٔ حواله شو نو هغوي مجبور شول چې د قوم او قومیت، ملک او مملکت پهٔ تصور فکر وکړي او چې سوچ ئې وکړو، نو د خپل سیاست هغه تضادات ورته څرګند شول چې کهٔ د ریاست بنیاد پهٔ مذهبي عقېده کېښودے شي، نو بیا خو یو خوا د دنیا دا مختلف اسلامي ملکونه هېڅ قسمه جواز نهٔ لري چې خپل جدا وجود ولري: او بله دا چې بیا خو د هر یو اسلامي ملک غېر مسلمه ابادي مجبوره ده چې چرته غېر مسلمه ریاستونو ته هجرت وکړي؛ نو بیا جناح صاحب مجبور دے چې پهٔ سنجیدګۍ سره پهٔ دې مسئله غور وکړي او څهٔ معقوله لار ورله راوباسي. نو دغه هغه لار وه چې اوس جناح صاحب دې نتیجې ته ورسېدو چې پهٔ پاکستان کښې هم غېر مسلم شته او پهٔ خصوصیت سره پهٔ مشرقي حصه کښې خو کافي دي نو اوس چې ملک د پاکستان پهٔ نوم جوړ شو، نو د دې ملک اوسېدونکي به ټول پاکستانیان وي او د یو قوم پهٔ حېثیت به ځان ته پاکستانیان وائي،کهٔ نهٔ پاکستانیان به صرف مسلمانان وو او دا غېر مسلم به جدا قوم وي؛ نو ایله د خپلې سیاسي مفکورې پهٔ نیمګړتیا خبر شولو. اسانه مطلب دا شو چې د مسلم لیګ د تېرې سیاسي نظرئې پهٔ بنیاد خو هندو او مسلمان دوه قومونه وو او د هندوستان پهٔ خاوره دې دوو قامونو یو ځاے ژوند نهٔ شو تېرولے ولې هم دغه دواړه چې کله پهٔ داسې خاوره اباد شول چې نوم ئې پاکستان دے؛ نو بیا دغه دواړه قومونه اوس قومونه نهٔ دي بلکې قوم اوس یو پاکستاني قوم دے او د عقیدې او مذهب پهٔ تمیز دوې ته فرقې وئیلے شي او تماشه دا ده چې دا د پاکستان دا علاقه هغه د هندوستان خاوره ده. خو صرف د خاورې نوم د هندوستان پهٔ ځاے پاکستان شو؛ نو د دې نه د هندو او مسلمان تر منځه هغه همه تضادات او جدایي ختمې شولې چې دوي ئې د عقیدې پهٔ بنا د یو بل نه بېخي جدا کړي وو او



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ یو ملک کښې سره د ګزران هېڅ قسمه ګنجائش نهٔ ؤ.

د دې نظرئې د بحث پهٔ سلسله یوه بله غلط فهمي لرې کول هم ضروري ده. دلته چغې سورې د نظریه پاکستان داسې وهلے شي او مسلم لیګ دا تاثر ورکوي چې ګنې د ملک هم څهٔ خپله نظریه وي. نظریه د افرادو، تنظیمونو، جماعتونو او ډلو سره تعلق لري او د دغو افرادو، ډلو، جماعتونو او تنظیمونو دغه سیاسي سوچ او نظریه تر هغه وخته پورې د هغه ملک او ریاست نظریه وي چې کله پورې دغه پارټي پهٔ دغه ریاست حکمراني کوي؛ مثال به واخلو د روس خاورې او ملک خپله څهٔ نظریه نه لرله. هلته اول د زار روس پاچائي وه ولې کله چې زار روس د انقلاب پهٔ ذریعه لرې کړے شو او اقتدار د یوې داسې پارټۍ لاس ته راغے چې هغې اشتراکي او سوشلسټ نظریه لرله، نو هغوي دِغه خپل اشتراکي نظام هلته رائج کړلو.

هم دا شان مثال به دلته د هندوستان واخلو دلته دا پهٔ کرورونو خلق د پېرنګي غلامان وو. دغه نظام ختم شو پېرنګے لاړ، هندوستان تقسیم شو. پاکستان جوړشو، نو د پاکستان خپله څهٔ نظریه نهٔ ده بلکې د پاکستان نظریه د مسلم لیګ ډلې نظریه ده او دا نظریه به تر هغې د پاکستان وي چې تر څو د مسلم لیګ ډلې حکومت وي؛ څو چې کله یوه بله نظریاتي ډله بر سراقتدار راشي او مسلم لیګ د اقتدار نه لرې شي. نو هغې سره به مسلم لیګ ځان سره خپله نظریه هم یوسي او بیا به د پاکستان نظریه د دغو نویو حاکمانو نظریه وي.

دلته خو برګه تماشه دا ده چې جناح صاحب خو بلې ډلې ته هم صبر ونهٔ کړو او د 1947 کال د اګست پهٔ 11 مسلم لیګ هغه خپله دوه قومي نظریه پهٔ خپله مسترده کړله او هم هغه غېر فرقهٔ وارانه نظریه چې پهٔ سیاسي ژبه ورته سیکولریزم وائي، هغه ئې خپله کړه نو اوس هر سړے دا حق لري چې د مسلم لیګ د مشرانو نه تپوس وکړي چې د جناح صاحب د دې اهم تقریر نه





پس اوس د مسلم لیګ نظریه څهٔ ده؟ ځکه چې جناح صاحب خو پهٔ اول سر کښې ووې چې هغه زړې خبرې اوس پرېږدئ اوس به د مملکت نظریه د دې اصولو تابع وي نو حقیقت دا دے چې جناح صاحب څوک خپل لیډرګڼي او د هغهٔ پهٔ سیاست، ذهانت، پوهه او عقل پوره اعتماد لري نو بیا د مسلم لیګ د دوو قومونو نظریه د جناح صاحب د پاکستان نظریه نهٔ ده بلکې د جناح صاحب د دې اعلان نه پس اوس د پاکستان نظریه سیکولر (یعني غېرفرقه وارانه) ده.

که لږ پهٔ ژور نظر ورته وکتلے شي، نو د پېرنګي د فرقه وارانه سیاست پهٔ نتیجه کښې هندوستان پهٔ فرقه وارانه بنیاد تقسیم شو او چې پېرنګے رخصت شو، نو د هغهٔ سره ذ هغهٔ هغه فرقه وارانه سیاست هم رخصت شو؛ ولې چې دې ټول حرکت ته سړے ګوري، نو د فارسي هغه شعر ئې بې اختیاره ذهن لهٔ راځي، چې؛

هرچه دانا کند کند نادام
لیک بعد از خرابئ بسیار

ولې، یوې بلې خبرې ته هم پهٔ دې سلسله کښې فکر پکار دے چې اوسه پورې خو د پېرنګي هم دا پالیسي وه او مسلم لیګ هم دغه پالیسي پهٔ مذهبي رنګ کښې قبوله کړې وه چې د هندوستان اولس چې کله د خپل ووټ او رائې حق استعمالوي نو دا به پهٔ فرقه وارانه بنیاد وي یعني هندو به هندو لهٔ ووټ ورکوي او مسلمان به مسلمان لهٔ. کانګرس د مخلوط انتخاباتو Joint Electorates پهٔ حق کښې ؤ او مسلم لیګ د جداګانه انتخاباتو Separate Electorates اصول قبول کړے ؤ نو اوس چې جناح صاحب ډېر پهٔ واضحه ټکو کښې دا اعلان وکړو چې پهٔ پاکستان کښې د ننه به د عقیدې، ذات پات او هېڅ قسمه تمیز پهٔ مختلفو مذهبي فرقو کښې نهٔ وي نو چې اوس به هم مسلم لیګ دلته جدا ګانه انتخاب قائم ساتل غواړي



Scanned by CamScanner

کهٔ نهٔ. د دغې نوې نظرئې د اعلان پهٔ رڼا کښې به مسلم لیګ هم دغه اعلان خپلې منطقي نتیجې ته ورسوي او د مخلوط انتخاب اصول به تسلیم کړي

## د اګست څوارلسمه

د پېرنګي د غلامۍ نه د ازادیدو ورځ رانزدې کېده؛ ولې چاپېره اورلګېدلے ؤ. بنیادم د یو بل پهٔ ښکار پسې وتي وو. یو انسان د بل انسان د جبر او تشدد نه محفوظ نهٔ ؤ. بوډاګان، ماشومان، بچې، لوئې، واړهٔ، نر، ښځې هېڅ څوک هم د دې قهر او غضب نهٔ بچ نهٔ وو. قام د یو بل پهٔ مرۍ خولې لګولې وې. وینې ئې څښلې. کورونه تالا کېدل. کډې هواګېرې وې. د مهاجرینو نه کېمپونه ډک وو. داسې داسې نیازبېن ګلالي بچي او پهٔ نازو نعمت کښې لوې شوې پېغلې او زنانه نن پهٔ خاورو کښې لوغړېدلې چې چرته ئې د قالینونونه ښکته پښې نهٔ وې اېښې. د ژوند همه اخلاق. قدرونه. انسانیت او سړیتوب پهٔ خاورو کښې سوي لوغړن پراتهٔ وو او د افسوس مقام دا ؤ چې دا بدلون او ورسره تړلې تباهي پهٔ داسې وخت کښې راغلله چې ملک خپله ازادي ګټلې وه، ولې څهٔ عجیب کېفیت ؤ. د دې اور پهٔ دې بلو لمبو. د دې وینو پهٔ دې بهېدلو. د ژړا انګولا او پهٔ دې فریادونو کښې بګلونه غږېدل. سرودونه غږېدل. ډولکي وهلے شول. سرناګانې غږېدلې. پرېډونه کېدل. سلامۍ اخستې شوې. جشنونه وو. خوشحالۍ وې، ګډاګانې او اتنونه وو. د ډېوو چراغان ؤ

یو خوا د کراچۍ د ښار دننه د مسلمانانو مهاجرینو تالا شوي او لوټلې شوې مرګ خپلې. اورسېځلې لوغړپدلې قافلې راتللې چې چرته ئې پهٔ زمکه پښې نهٔ وې اېښې

پهٔ دې بل اړخ د اګست پهٔ 14 م د ملک د ازادۍ او د وطن د خپلواکۍ نېټه





ټاکلې شوې وه. د پاکستان د قیام تاریخ مقرر شوے ؤ. لارډ ماونټ بېټن سره د خپلې ښځې کراچۍ ته راغلے چې د تاج برطانیې د نمائنده پهٔ حېث او د هندوستان د اخري وائسراے پهٔ حېث د پاکستان لوے ګورنرجنرل محمدعلي جناح لهٔ د عهدې سوګند ورکړي او ائیني طور د پېرنګي د سلطنت د خاتمې اعلان وکړي. پهٔ دې سلسله کښې د تعجب خبره خو اول دا وه چې د ماونټ بېټن هرکلي لهٔ جناح صاحب نهٔ پهٔ خپله لاړ او نهٔ نواب زاده لیاقت علي خان لاړ. څوک چې د پاکستان د نوي حکومت وزیراعظم مقرر شوے ؤ او د حکومت پاکستان د طرف نه د هغهٔ هرکلے د سندهـ نوي ګورنر سر غلام حسین هدایت الله وکړو.

د مسلم لیګ د مشرانو عجب ذهنیت ؤ . د مچ د وزر تللو نه دوي نه قلارېدل. خپل درناوي ئې پهٔ دې کښې ګڼلو چې بل سپک کړي. د دې نه پس یوه بله ډېره اهمه لانجه پېښه شوله. جناح صاحب ووې چې چونکې زهٔ دلته د پاکستان ګورنر جنرل او هم د دې ائین سازې اسمبلۍ صدر؛ نو زهٔ به پهٔ اوچته کرسۍ کښېنم او ماونټ بېټن به زما نه پهٔ لاندې کرسۍ کښېني ولې پېرنګي چې پهٔ دې مسئله کښې مشر استاذ دے. هغوي ورته ووې چې ' صاحب تهٔ خو به هله ګورنرجنرل شې چې د هندوستان وائسراے ماونټ بېټن در لهٔ د عهدې قسم درکړي. ستا اختیار او مقام خو د دغې عهدې د قسم پورې تړلے دے او چې دغه قسم ماونټ بېټن نهٔ وي درکړے او دا اختیار ئې تا ته نهٔ وي منتقل کړے نو تهٔ خو هېڅ هم نهٔ ئې. یوعام سړے ئې. 'دا ئې هم ورته واضحه کړله چې کهٔ تهٔ ګورنر جنرل شې نو هم ستا مرتبه د ماونټ بېټن نه لاندې ده. ولې چې هغه وائسراے دے او دغه درجه ستا نه اوچته ده. د دې نه پسته چرته دغه لانجه هم خوره شوله.

چې د مرتبې او رتبې د سپکاوي، درناوي دا ټول سر ته ورسېدل. نو یوه بله لانجه پېښه شوله افواه ډېره ګرمه وه چې د پنجاب سکهان ډېر پهٔ قهر دي



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا فيصله ئې کړې ده چې کله جناح صاحب د اسمبلۍ اجلاس لۀ ځي نو به لاره کښې به پرې بم غورځولے شي. کله چې ماونټ بېټن د جهاز نه کوز شو. نو تيوس ترې نۀ وشو چې د دې اطلاع پۀ رڼا کښې څۀ فيصله ده؟ دا سرکاري جلوس به وخي کۀ نۀ؟ ماونټ بېټن ورته ووې چې "دا خو ستاسو خپله فيصله ده. انتظام ستاسو دے" ورته ووئيلې شول چې "جناح صاحب دا فيصله تاسو ته پرېښې ده" ماونټ بېټن وائي چې "زما دا يقين وُ چې هلو داسې څۀ فيصله چا کړې هم وي چې پۀ جناح صاحب د بم حمله وشي نو هم چې زۀ ورسره پۀ سورلۍ کښې ناست يم. نو ډېر امکان دے چې دغه بم ونۀ غورځوي: ولې داسې خو به د پاکستان د ګورنر جنرل سره د هندوستان ګورنر جنرل هم قتل کړے شي" نو د دې وجې نه ماونټ بېټن ووې چې "ما ته خو پۀ جلوس ايستو هېڅ اعتراض نشته" نو پس د هغې د جلوس انتظام وشو. نو چې کله د ائين سازې اسمبلۍ د غونډې او د ستورې نه پس جناح صاحب او ماونټ بېټن واپس د ګورنر جنرل کور ته ورسېدل نو جناح صاحب ماونټ بېټن ته مخ ورواړولو:

> Jinnah said Thank God I have got you back alive. Mountbatten immediately replied. Thank God I have got you back alive.
>
> ترجمه: جناح ووې چې د خدائے شکر دے چې ژوندے مې بېرته را ورسولې ماونټ بېټن ډېر زر ځواب ورکړو چې خدائے شکر دے چې ما تۀ ژوندے بېرته راورسولې.

پۀ دې حالاتو کښې وطن ازاد شو؛ ازادي راغله خپلواکي تر لاسه شوله د انګرېز کډه هواګېره شوله. د پېرنګي يونين جېک (جنډه) Union Jack دوه سوه کاله پس راښکته شو او د هغې پۀ ځائے د پاکستان جنډا پورته شوله





## د پاکستان د حکومت رغونه

د پاکستان د مرکزي حکومت اعلان چې وشو نو پۀ هغې کښې جناح صاحب پۀ خپله ګورنر جنرل شو او نواب زاده لياقت علي خان وزير اعظم شو. نور هم هغه زاړۀ مسلم ليګيان وزيران شول لکه چندريګر صاحب او سردار عبدالرب نشتر او هم هغه هندو هريجن جوګندر ناتهه منډل ئې جوګندر ناتهه منډل ته د قانون محکمه وسپارلې شوله. مسلم ليګ خو د عام سره دا وعده کړې وه چې دلته به د اسلامي مملکت پاکستان کښې شريعت محمدي او قراني قانون جاري کېږي ولې اوس خو خلقو وليدل چې پۀ دې اسلامي مملکت خداداد پاکستان کښې د شريعت محمدي محکمه يو هندو او هريجن ته وسپارلې شوله او دا د عالمانو مليانو او پيرانو د پاره يو پېغور شو، پۀ خصوصيت سره د مانکي پير صاحب د پاره دا ډېر ګرانه پۀ دې وه چې هغه خو د جناح صاحب لوظ او وعده د يو خط پۀ ذريعه خان سره ساتلې وه چې پاکستان کښې به اسلامي نظام او شريعت محمدي وي: خو د پاکستان د قاضي القضات منصب ئې يو غير مسلم ته حواله شوے دے نو دا پۀ اسلام او شريعت پورې خندا ده. کۀ نور څۀ دي؟ د دې ځواب به چا څۀ ورکړے وي؟[34]

د دې مسئلې بل اړخ لۀ به لږ پۀ بېرته لاړ شو. دا خبره ډېره پۀ تفصيل سره راغلې ده چې د پېرنګيانو د خپل بين الاقوامي مغربي سامراجي سياست د پرمختګ د پاره د تقسيم لاره ازاده کړې وه ولې چې د هغوي منصوبه دا وه

---

[34] جناح صاحب د مذهب او مذهبي طبقې بې کچه خلاف وُ خو سياست کښې به ئې برابر مذهب پکارولو. 1942 از کښې د ايم ايس ايف پنجاب پۀ نامه خط کښې ليکي چې ما قوم تر ډېره حده د دې ناخوښه رجعت پسنده خلقو نه خلاص کړو او دا خاص طبقه چې ورته مولوي مولانا وئيلے کېږي، د دوي اثر مې ختم کړو. د جناح صاحب دا خط د جميل الدين عالي کتاب Speeches and Writings of Jinnah اشاعت 1952 کښې چاپ دے



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د اشتراکي شوروي اتحاد د نظریاتي یلغارنه د بچ کېدو د پاره د اسلام یوه نظریاتي کلا ودرول پکار دي چې د ترکي نه تر چین پورې د فوجي هلال Military crescent غوندې د شوروي اتحاد د غاړې چا پېره پریوځي. کۀ د دې غرض پۀ سرکولو کښې هندوستان تقسیمېدو نو د پېرنګي پرې څۀ؟ کۀ مسلمان پکښې ټوټې کېدو نو د پېرنګي پرې څۀ؟ کۀ سکهان د مونډه کونډه وتل نو د پېرنګي پرې څۀ؟ او لا کۀ د دې پالیسۍ کښې نن هندو. مسلمان او سکه پۀ وینو لمبېدل. نو د پېرنګي پرې څۀ؟ هغه خو نۀ د هندو تربور ؤ او نۀ د مسلمان د ترور زوے. پېرنګي خو پاکستان د مسلمان د ښېګړې د پاره نه. بلکې د خپل بین الاقوامي سیاست د تقاضو پوره کولو د پاره جوړولو.

دا هم مونږه لیدلي دي چې پۀ دې دوران کښې یو وخت داسې هم راغے چې پېرنګي د لارډ وېول د "ټوټې کولو پلان" د لاندې پۀ دې فېصله کولو هم مجبور شو چې کۀ پېرنګي ټول هندونستان نور نۀ شي خوړلے نو پکار دي چې هغه د هندوانو اکثریتي صوبې ازادې کړي او چونکې د پېرنګي د امپایر (سلطنت) د قائم ساتلو او استحکام د پاره هغه پاکستان ضروري ګڼي؛ نو د دې وجې نه دې پېرنګیان ټول پۀ ټوله فوځ او سول افسران او غړي سره و باله بچه د مسلمانانو اکثریتي علاقو ته واوړي ولې دغه منصوبه د برطانیې د لېبر ډلې وزارت نامنظوره کړله. وېول یو فوځي ؤ. د هغۀ نظر دومره پراخ او لرې نۀ لګېده. پېرنګي سیاستدان پۀ دې پوهه ؤ چې دا نن سبا د فوځي قبضو او فتوحاتو زمانه ده او نۀ فوځ د ټول وخت د پاره پۀ قام سورلي کولے شي. پېرنګي خپل سوچ پوره کړے ؤ.

پېرنګي پۀ دې ښه پوهه ؤ چې د دې تقسیم پۀ نتیجه کښې دواړه مملکتونه کمزوري شوي دي هندوستان اګر چې غونډ مونډ پاتې شو؛ ولې د سټرېټیجي د لحاظه ئې سرحدونه کمزوري دي. هم پۀ شمال مغربي سرحد





او هم پۀ شمال شرقي اړخ یو خوا ئې د قطب اړخ دا ټول غریز سرحد د بولان نه تر خیبره او داسې د چین تر سنکیانګ پورې د ګوټو وخې دې بل اړخ ته به د اسام د اړخه دفاع مشکله شي؛ ولې چې د دغه اړخه د دفاع ټول سرکونه. هوائي مېدانونه. ډاکې. ریلونه او پۀ تېره تېره دریائي لارې ټولې پۀ مشرقي پاکستان کښې پاتې کېږي درې واړه بندرونه چې د دغه دفاع پکار راتلے شي چهالنا. کهلنا او چیټاګانګ هم پاکستان ته اوړي بیا خلیج بنګال باندې هغه بلا شرکت غېرې قبضه هم د هندوستان اوس پاتې نۀ شوله. د دې سرحدي تحفظاتو نه علاوه هندوستان به د یو ډېر لوے فوځي قوت نه محروم شي. څۀ ته چې پېرنګیان پۀ خپله فوځي ژبه کښې پي ایم P.M وائي یعني (پنجابي مسلمان) چې د پېرنګیانو پۀ وېنا دا یو بهترین فوځي قوت دے او پېرنګي د خپلې تجربې نه وائي چې د دنیا پۀ کوم یو ګوټ کښې دغه فوجي د پېرنګي د سلطنت د خورولو د پاره. د هغې د دفاع د پاره او د پېرنګي د پاره خپله وینه نۀ ده توي کړې؟ اقتصادي طور هم مشکلات پېښ شول ولې چې د هندوستان د تقسیم پۀ نتیجه کښې کارخانې یو خوا او بل خوا پاتې شولې. خام مال ئې یو ملک سره او کارخانه ئې بل ملک کښې پاتې شولې؛ منډهی یو خوا او بل خوا وشکېدلې خو لنډه اوږده ئې دا چې پېرنګي هندوستان پۀ کوم حالت کښې پرېښودو. نو دا ئې تسله وه چې مودې به تېرې شي خو هندوستان به د خپلو دغو سیاسي. دفاعي. اقتصادي. معاشي مسئلو او غربت پۀ وجه مجبور وي او د غربي سامراجي قوتونو به موتازه وي

پاکستان خو د دې نه هم زیات نېمګړے ؤ. اوله کمزوري خو ئې جغرافیائي وه، چې مملکت پۀ دوو برخو تقسیم ؤ. د مشرقي او مغربي حصې ترمنځه قابو زره میله فاصله وه او تر منځه هندوستان چې اوس اوس ورسره د تقسیم پۀ وجه داسې شلون شوي وو چې وینه لا روانه وه. بهېدله. نو د



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو برخو تر منځه په تګ راتګ کښې مشکلات هم صرف د هندوستان په مرضۍ او تعاون پورې تړلې وو بل تکلیف دلته هم اقتصادي ؤ. غرونه. شاړې. شود یاري او ریګستانونه د مغربي پاکستان اوچې او ډنډونه د مشرقي پاکستان خاصه وه او چې دا علاقې ابادېږي. کارخانې پکښې لګې او د ننني دنیا ترقي یافته مقام ته رسي نو مودې ځۀ چې پېړۍ به تېرې وي او په دې دوران به پاکستان ببخي او ټول په ټوله نورو قامونو ته موتازه وي او د خواست او خېر کچکول په لاس به ئې هر وخت غزبي طاقتونو ته کونډۍ نیولې وي

د ټولو لویه خبره دا وه چې د ازادۍ د راتللو په وخت کښې هندوستان او پاکستان دواړه یو بل سره داسې په نفرت. کرکې او دښمنۍ ککړ شوي او دومره مرګ ژوبله. سوځېدل پکښې شوي دي او بیا په تېره تېره د دواړو طرفونو دومره په لکهونو خلق د دې فرقه وارانه لېونتوب د لاسه دردېدلي دي چې د دواړو ملکونو کښې یو بل ته نیت صفا کېدو او په روغ نیت او پېرزوینه د یو بل سره د تعاون پېدا کولو په لاره کښې د یو بل نه راغلي مهاجر د ټولو نه لوے خنډ وي ولې چې هغوي سره په یو ملک او بل ملک کښې ځۀ سلوک شوے دے. نو هغه هغوي په ژوند نه شي هېرولے او چې خبره د دوستۍ د دائرې نه وځي او محاذ ارایۍ ته مخامخ شي. نو بیا به د دواړه ملکونه د خپلې وسلې او هرقسمه دفاعي ضرورتونو د پاره هم دغه غربي طاقتونو ته محتاجه ناست وي

د پاکستان په حقله د پېرنګي دا هم تسله وه چې دے به پېرنګي سره دښمني نۀ کوي ولې چې هندوستان کوم سیاسي تنظیم د پېرنګي په خلاف د ملک د ازادۍ جنګ کړے ؤ. پکښې ئې بې حسابه قربانۍ ورکړي وې. نو نن اقتدار او حکومت هغوي لاس ته ورغلے بله دا چې د هندوستان موجوده لېډران او مشران خو د دنیا په سیاست کښې لوېدلي وو او د هغوي په نظر





کښې یو قسم پراختیا وه هغوي د علاقائي او منطقوي سیاست نه علاوه په بین الاقوامي سیاست هم نظر لرلو او د برطانوي سامراج د دسیسو او سازشونو نه ښۀ باخبره ؤ نو هغوي ته پېرنګي چرې هم دا توقع نۀ شوه کولے چې هغه دې په برطانوي سامراجي سیاست کښې د پېرنګي سره ځۀ مرسته وکړي

ولې. د پاکستان په مسله کښې خو پېرنګے په دې مسله وخت د سره پوهه ؤ چې په پاکستان نن د داسې تنظیم او سیاسي جماعت حکومت دے چې هغوي د پېرنګي په خلاف نۀ ځۀ تحریک چلولے دے او نۀ ئې د هغۀ د غلامۍ نه د ځان خلاصولو د پاره قربانۍ ورکړې دي بل خوا په صوبه سرحد کښې اکثریت د یو تنظیم داسې دے چې هغوي د پېرنګي په خلاف پاڅېدلي وو قربانۍ ئې ورکړي دي او هغه خدائي خدمتګار دي ولې پېرنګي ته دا هم معلومه ده چې دغه پېرنګي دښمنان د مسلم لیګ هم دښمنان دي؛ نو د هغوي علاج هم اسان دے پېرنګے په دې پوهه ؤ چې د مسلم لیګ د موجوده مشرانو سره هغه د خپله جانبه څومره نېکۍ کړې دي بل پېرنګے په دې پوهه ؤ چې پاکستان خو یو نوے مملکت جوړېږي؛ نو دۀ ته به په خپلو پښو د ودرېدو د پاره ډېر وخت پکار دے نو په دا شان به دې د پېرنګي امداد او تعاون ته محتاجه وي

بل دا چې پېرنګي دا هم ولیدل چې د پاکستان موجوده حاکمان د هندوستان نه راغلي دي او دلته په پاکستان کښې ئې مثال د مهاجرو دے سیاسي قوت ئې صرف د مسلم لیګ تنظیم دے؛ ولې په تېرو انتخاباتو کښې نور خو پرېږده په پنجاب کښې هم مسلم لیګ ځان له سیاسي قوت پېدا نۀ کړے شو؛ نو تجربه کار پېرنګے په دې پوهه ؤ چې که د مسلم لیګ د دې حکومت په شا یو مضبوط او مخلص تنظیم نۀ وي نو بیا به د دے ټول په ټوله د نوکرشاهۍ په رحم وکرم وي او په دا شان به دې د پېرنګي په امدا



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان ښېنکوي او د پاکستان حکومت هم هغه څهٔ وکړل چې د څهٔ پېرنګي اندازه لګولې وه

د پاکستان د څلورو صوبو د ګورنرانو اعلان چې وشو نو د سندهـ صوبې نه علاوه د نورو درې وارو صوبو ګورنران پېرنګیان وو ؛[35]

- د بنګال ګورنر سرفریډریک بورن (Sir Fredric Bourne)
- د پنجاب ګورنر فرانسس میوډي (Sir Francis Mudie)
- د سرحد ګورنر جارج کننګهم (Cunningham Sir George)
- د بلوچستان ګورنر اے جي جي (انګرېز) (A.G.G. Brition)

د سندهـ ګورنر سرغلام حسین هدایت الله مقررشو. معلومېږي چې چونکې د سندهـ دارالخلافه هم کراچې وه او د پاکستان دارالخلافه دې ته را واوړېده نو د یو پېرنګي ګورنر او د ګورنرجنرل پهٔ یو ښار کښې پاتې کېدل به قابل قبول نهٔ؛ ولې چې شروع هډو د دې نه وشوله چې د سندهـ د ګورنر کور ګورنر جنرل واخستو او سر غلام حسین هدایت الله بل ځاے کښې اوسېدو. د دې نه علاوه د پاکستان د فوځ سربراهان هم ټول پېرنګیان وو ؛

- د زمیني فوځ سربراه، یعني کماندرانچیف جنرل راس میکي General Ross Mackay
- د هوائي فوځ سرلښکر اېر وائس مارشل پېري کین (Air Vice Marshal Perry Keane)
- د سمندري فوځ سر لښکر ریراېډمرل جیفرډ

[35] د وېش نه پس ته د هندوستان اولس مشر پنډت نهرو هندوستاني پوځ کښې د هر لېول کمانډ هندوستاني افسرانو ته پهٔ لاس ورکړو او کرې آپا ئې د آرمي چیف جوړ کړو، خو پاکستان کښې تر 1959 از پورې د ائي اېس ائي چیف یو انګرېز رابرټ کاوتهم ؤ او د ارمي چیف جنرل ډګلس ګرېسې ؤ چې کشمیر کښې ئې د قبائلي مرستې د پاره د یو برېکېډ پوځ لېږلو د جناح صاحب حکم نه سر غړاوے کړے ؤ خو دې انکار نه پس هغهٔ ته جناح صاحب ترقي ورکړه او لېفټننټ جنرل نه ئې کرنل جنرل جوړ کړو





Rear Admiral Jefferd

دا شان د پاکستان پهٔ مرکزي حکومت کښې پینځهٔ سکرټریان پېرنګیان وو داسې پهٔ فوځ او نورو محکمو کښې هم پېرنګیان پهٔ ډېرو اهمو چوکو موجود ناست وو. سکندر مرزا پهٔ خپل خود نوشت کښې د دې انګرېزانو دومره صفتونه کړي دي چې دې پېرنګیانو څنګه شپه او ورځ پهٔ ځان یوه کړلو چې پاکستان مضبوط او مستحکم کړي او پهٔ خصوصیت سره ذکر د یو جنرل راس میکي کوي چې هغهٔ ته د پاکستان د فوځ تنظیم ور پهٔ غاړه ؤ. دا شان د دوو پېرنګیانو افسرانو ذکر سکندر میرزا کوي چې هغوي پهٔ شمالي علاقو کښې ګلګت د پاکستان د پاره قبضه کړو ؛

In the most northern sectors, things went well " we were able to take over Gilgit Agency or Skardu. Here a rising of the Gilgit Scouts was organized by the two British officers with the Scouts, who were pro-Pakistan.

ترجمه: پهٔ انتهائي شمالي سکټر کښې هر څهٔ ښهٔ وو. مونږ د دې جوګه شولو چې ګلګت ایجنسي او سکردو واخلو دلته برطانوي افسرانو د ګلګت سکاوټس هغه سکاوټان چې د پاکستان پهٔ حق کښې وو، یو بغاوت منظم کړو.

سکردو ئې ونیو، ولې چې دوي دواړه پېرنګیان افسران د پاکستان ملګري وو. لازمي خبره وه چې چونکې صوبه سرحد د دې صوبه ؤ چې هلته د پېرنګي د ټولې منصوبې نازک، حساس او مرکزي مقامات وو او هلته هم هغه خدائي خدمتګار وو، د چا د لاسه چې پېرنګي ته ډېر مشکلات پېښ وو او صوبه سرحد چونکې د پېرنګي دښمن ؤ څکه چې د هغهٔ پهٔ سیاسي او فوځي منصوبو کښې نهٔ ځائیدو، نو دا شان د مسلم لیګ دښمن ؤ څکه چې اګر چې دلته د مسلمانانو اکثریت 93% ؤ، خو بیا هم دلته مسلم لیګ هغه قوت نهٔ ؤ. پروسږنو انتخاباتو دا خبره څرګنده کړې وه نو د دې وجې نه اوس



Scanned by CamScanner

چې په جمهوري طریقو دا صوبه مسلم لیګ نهٔ شي قبضه کولې. نو نورې لارې چارې راوبستل پکار دي. دا به هغه وخت وئیلي کېدل چې جناح صاحب ته دا خبره چا په غوږ کښې اېښې ده چې پښتانهٔ بې د پېرنګي نه په بل چا نه قابو کېږي نو د دې وجې نه پاکستان د جوړېدو نه پس هم دلته پېرنګیان په دومره ګڼ تعداد کښې او په دومره اهمو او ذمه وارو عهدو قائم پاتې شول چې دا هېڅ د چا یقین نهٔ کېده چې ګنې پېرنګے تللے دے او مونږه اوس ازاد یو. د صوبې ګورنر پېرنګے چیف سکرټري پېرنګے. نور سکرټریان پېرنګیان د پولیس جرنیل پېرنګے، نور خو پرېږده چې د پي ډبلیو ډي (P.W.D) او بجلۍ د محکمې سېکرټري هم پېرنګے ؤ.[36] پېرنګیان دومره په ګڼ تعداد او اهمو محکمو ساتلو کښې د پېرنګي غرض دا ؤ چې د نور چا نه علاوه په قبائلو دا تاثر واچوي چې پېرنګي د پاکستان سره په پره کښې کلک ولاړ دي او نور څهٔ چې په خپله د ټول فوځ واک اختیار د پېرنګي ؤ. بله دا چې اوس به دا قبایل د خپل الخاق فېصله کوي. د پېرنګي سره کړې معاهدې پرتې دي نو اوس به د وي بیا د سره د پاکستان د حکومت سره خپلې فېصلې کوي نو پېرنګے په دې پوهه ؤ او په دې خبره ئې د پاکستان واکداران هم پوهه کړي وو چې ترڅو پورې د دغو معاهدو فېصله د پېرنګي په موجودګۍ او د هغهٔ په لاس ونهٔ شي، نو دا کار د پاکستان د حاکمانو، لا په بله ژبه د پاکستاني دلالانو د لاسه د کېدو نهٔ دے؛ بلکې پېرنګي او صرف پېرنګي دا قبایل په دې قایله کولے شي چې

[36] د وېش نه پس چې باچا خان جناح صاحب سره روغې جوړې د پاره کوم شرطونه اېښي وو. هغې کښې دا دوه شرطونه هم وو چې پاکستان به د کامن وېلتهـ یونین نه بهر راوځي او چې څومره انګرېزان افسران عهدېداران دي، دا ټول به وباسلے شي نو خواب کښې ئې هغه ګرفتار کړو دې ګرفتارۍ د پاره یو نوے پبلک سېفټي آرډر د ګورنر جنرل جناح صاحب دستخط ته زیارت بلوچستان ته ولېږلے شو خو بیا د هغې انتظار په ځاے په پېنځلسم جون 1948 از د اېف سي آر د تور قانون لاندې بندیوان کړو





پاکستان چونکې د پېرنګي د حکومت قانوني وارث دے نو د دې وجې نه قبائل دې هم په هغو شرطونو او هغو معاهدو د دې نوي حکومت سره خپل تعلق جاري وساتي او دا پرې لا د پاسه زیاته چې نن کافر پېرنګے د ے مسلمانانو قبایلو ته په هغو معاهدو د دستخط د پاره واني چې دوي یو کافر او غېر قام سره کړې وې. ولې نن خو د خدا ے په فضل د مسلمانانو خپل حکومت دے.

د دې صوبې اهمیت. بیا د قبائلو سره د حکومت پاکستان د اننده تعلقاتو او معاهدو فېصله په بله وجه هم د پېرنګي په موجودګۍ کښې ضروري وه ولې چې اخوا د افغانستان حکومت په رویه به هم د دې اثر پرېوتو. د پېرنګیانو دا منطق او دلیل ؤ چې چونکې پاکستان د حکومت برطانیې وارث دے؛ نو ټولې هغه معاهدې چې پېرنګي د هر چا سره کړي دي اوس د پېرنګي په ځاے پاکستان ته دغه معاهدې په وارثت کښې پاتې شوي دي او د دغې وجې نه په دغو معاهدو ترلې نورې ډلې هم د دې پابندې دي. بل دلیل دا ؤ چې چونکې پاکستان اوس د برطانوي دولت مشترکه غړے دے نو د دې وجې نه په واضحو ټکو کښې پېرنګي د افغانستان حکومت ته ووې چې د پېرنګي او افغانستان تر منځه کومه سمجهوته شوې وه او د هغې په نتېجه کښې د ډیورنډ کرښه د برطانوي حکومت او افغانستان تر منځه یو بین الاقوامي سرحد ؤ نو هم دغه کرښه نن د پېرنګي د تللو نه پس اوس د پاکستان او افغانستان ترمنځه بین الاقوامي سرحد دے او ورسره به ئې دا هم زیاتوله چې چونکې پاکستان اوس په دولت مشترکه کښې شامل دے نو دا د افغانستان او دولت مشترکه سرحد ګڼلے کېدے شي او د دې په دفاع او تحفظ کښې حکومت برطانیه ځان شریک ګڼي.

د افغانستان حکومت به هم د پېرنګي دې دلیل او منطق ته حیران ؤ ولې چې یا هغه وخت ؤ چې کله جرمني به شوروي اتحاد حمله وکړله او شوروي



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتحاد ئې راپه مخه کړلو؛ نو د پېرنګي دا تسله وشوله چې جرمني ټول يورپ پۀ مخه فتح کړلو او چې څنګه پۀ يوه مخه ئې شوروي اتحاد ختمه شوله او بيا چې کله جاپان برما واخستو او پۀ کلکته ئې بمباري وکړه نو پېرنګے پوهه شو چې اوس زما هم خېر نۀ شته نو داسې ويلے شي چې هغه د خپله جانبه د افغانستان حکومت ته دا تجويز پېش کړو چې هغوي دې د صوبه سرحد او بلوچستان د دې علاقو باقاعده مطالبه د حکومت برطانيې نه وکړي ولې چې نن چې شوروي اتحاد جرمني لۀ ماتے ورکړو او جاپان هم شکست وخوړو، نو نن هم د هغه پېرنګي سترګې بدلې دي او بيا ئې هغه خپله کړې خبره هېره کړې ده او د ډيورنډ کرښې د تقدس او بېن الاقوامي معاهدو ذکر کوي او د وراثت پۀ زور دا حق د پاکستان د پاره د افغانستان نۀ اخلي ولې حقيقت دا دے چې پېرنګے دا هر څۀ د خپلو مفاداتو د تحفظ د پاره او خپلې بېن الاقوامي سامراجي پاليسۍ د مخکښې بوتلو د پاره کولو. دا ئې يقين ؤ چې پاکستان به مقابلتاً د افغانستان نه زيات پۀ ښۀ طريقه د هغو مفاداتو تحفظ وکړے شي نو د دې وجې نه ئې خپله رويه بدله کړه او دا دے هر چا وليدل چې نن اګر چې پاکستان ازاد دے، نو بيا هم د سرحداتو او معاهدو د فېصلو د پاره پېرنګي پۀ خپله موجود دے. دا چرې څوک تصور هم نۀ شي کولے چې ګنې سبا لۀ افغانستان پېرنګي لۀ دا اجازه ورکړي چې هغه دې د هغه د معاهدو فېصله نورو قامونو سره کوي.

د وراثت دا هم عجبه مسئله ده، دلته پۀ صوبه سرحد کښې چې کله د مسلم ليګ پۀ نامه يوه سياسي ډله مېدان ته را ووته نو اګر چې نوم خو د اسلام ورپورې ؤ؛ خو د سياست پۀ اخلاقو او ادابو کښې ئې بعضې لېډران د سړيتوب د دائرې نه هم وتل.[37] د اسلام خو ډېر اوچت مقام دے او چونکې د

---

[37] د ماونټ بېټن د اوومې جولايۍ 1947 د ياداشت حواله ډاکټر منظور احمد هم د ورځپاڼې نوا ے وقت د پينځويشتم اګست 2008 ليک کښې ورکوي چې د لارډ ماونټ بېټن د ليک لۀ رويه د





خدائي خدمتګارو پۀ خلاف ورسره هيڅ څۀ معقول دليل نۀ ؤ نو بس د کانګرس سره د خدائي خدمتګارو د ملګرتيا پۀ دې خبره پورې ئې ښتي وو او هم هغه د ګورنر سرجاج کننګم مجربه نسخه ئې استعمالوله چې هندو اهل کتاب نۀ دے، کافر دے نو نن چې خدائي خدمتګارو د جابر او سامراج حاکم پېرنګي پۀ خلاف د خپلې ازادۍ د پاره کانګرس سره پۀ شريکه مورچې ته کوز شوي دي نو دا ملګرتيا کافر پېرنګي ته د کفر سره ملګرتيا ښکارېده مسلم ليګ هم دغه فتوي خپله کړې وه او بعضې داسې ډېرو هغه وخت ذمه وار لېډرانو به پۀ خپلو تقريرونو کښې د کفر پۀ دې فتوي اکتفا نۀ کوله بلکې پۀ خپلو تقريرونو، اخباري بيانونو کښې به دا خلاقو د دائرې نه هم بهر ته ووتل او خدائي خدمتګاروته به ئې د نورو کنځلو نه علاوه دا هم وې چې دا د هندوانو بچي دي، ولې چې کله د دې صوبې نه هندوان او سکهان وخغلولے شول او د هغوي بنګلې، کورونه، دوکانونه، کوټې جائيدادونه او تجارتونه پاتې شول، نو هغه بيا هم دې د مسلم ليګ لېډرانو قبضه کړل، حق ئې خپل ګڼلو. نو ما به دا خبره کوله چې عجيبه کار دے چې کله د ملک د ازادۍ د پاره د قربانۍ ورکولو وخت وي او خدائي خدمتګار او کانګرس پۀ شريکه مورچې لۀ ځي، نو دا بې همته مسلم ليګيان خدائي خدمتګاروته د هندوانو بچي وائي؛ ولې نن چې د هندوانو نه دا د کروړونو روپو جائيدادونه وروستو پاتې شول، هغه خو ټول مسلم ليګ قبضه کړل ما به وې چې د دنيا دا قانون دے چې د پلار جائيداد خامنوته پاتې کېږي نو راځئ چې نن وګورو چې د هندو نه کوم جائيداد پاتې شوے دے هغه چا

---

منځني لوېديځ د تېلو د ذخيرو دفاعي منصوبه بندۍ د پاره سندهـ، لوېديځ پنجاب او بلوچستان ارزښت لري او د شوروي روس د مقابلې د پاره د کراچۍ بندرګاه به نړلو هوادونو سره د تماس لاره او دفاعي سنګر هم ؤي. ولې د هغه اوچو لارو د ژغورنې ضمانت هم ورکوي چې چرته روسي فوځونه کوزېدے شي. د برطانيه او امريکا د پاره منځني مشرق کښې پاکستان د تحفظ ضمانت دے



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره دے؟ او چې چاسره د هندو جائیداد وخوت. نو پۀ حقیقت کښې به هم دغه د هندو د جائیداد حقیقي وارث وي. او چې د قربانۍ وخت وي نو بیا خو خدائي خدمتګارو باندې دا الزام لګي چې دا د هندوانو بچي دي خو چې کله د دغو هندوانو د جائیداد د وراثت سوال پېدا شي. نو بیا مسلم لیګ وائي نه! د دې جائیداد حقیقي وارثان مونږه یو او چونکې جائیداد صرف د پلار نه وراثت کښې پاتې کېږي، نو دا فېصله اوس پۀ مسلم لیګیانو ده چې د هندوانو بچي هغوي دي کۀ خدائي خدمتګار؟

هم دغه شان د پېرنګي د وراثت دا مسئله هم قابو دغه شکل لري چې اخېر د مسلم لیګ حکومت پۀ کوم قانون ځان د پېرنګي نه وروستو پاتې جائیداد وارث ګڼي او چې کله به مونږ دې د مسلم لیګ کارکنانو سره پۀ ټوقو وشتو کښې بحثونه کول، نو دا د هندوانو بچي د پېغور پۀ ځواب کښې به ورته مونږ وې چې دا نن ستا سو د پېرنګي سره څۀ رشته ده چې هغه داسې ستاسو د پاره هر څۀ کولو ته تیار دي؟ خو دغه مسئله هم دې اعلان حل کړله چې ووئیلے شو چې پاکستان حکومت د پېرنګي حقیقي وارث دے او د خاورې نه علاوه ورته پۀ وراثت کښې هغه ټولې معاهدې هم را رسېدلي دي چې کومې پېرنګي لا د قبائلو سره او لا حکومت افغانستان سره کړې وې. د مسلم لیګ دغو زلمو به وې چې ولې داسې خو کانګرس هم د پېرنګے د جائیداد وارث دے. نو مونږ به ورته وې چې هلته یو بنیادي فرق دے. پۀ لکھونو نر، ښځې د ازادۍ پۀ دې جنګ کښې شریکې وې او پۀ زرګونو نارینه ؤ او زنانه ؤ د خپلې وینې او د سر قرباني ورکړې ده. نو هغوي خو د خپل پلار نیکۀ جائیداد د پېرنګي نه پۀ زور او خپل قوت او بې کچه قربانو اخستے دے نو هلته خو د وراثت سوال نۀ پېدا کېږي. وایه خو د مسلم لیګ؛ چې د پېرنګي بر خلاف ئې چرته قچې ګوته هم نۀ ده خوږ کړې او تجریک او جدوجهد خو پرېږده. د پېرنګي پۀ خلاف ئې د خولې نه اواز هم





نه دے ویستلے. د وطن د ازادۍ د پاره ئې د پېرنګي پۀ خلاف یو تجویز قدرې هم نه دے پاس کړے. نو چې د کوم جائیداد د پاره یو سړے نۀ د سر او مال قرباني ورکولے شي او نۀ د دغه جائیداد د خپلولو د پاره د غاصب او جابر حاکم ګرېوان ته لاس اچولے شي او سبا لۀ چې دغه جابر او غاصب حاکم د بل چا د لاسه پۀ جائیداد پرېښودو مجبور شي نو پۀ دغه جائیداد حق بیا لا د هغه چا وي چې دا جائیداد ئې پۀ قربانۍ او جدوجهد ګټلے وي او لا بیا د قانون پۀ دایره کښې دننه د وراثت د حقدار دعوي کولے شي. نو چونکې دلته هم مسلم لیګ دا نۀ شي وئیلے چې هغه د دې جائیداد د ګټلو د پاره څۀ قربانۍ ورکړې دي، نو د هغۀ حېثیت هم صرف د وارث کېدے شي او چونکې دا خبره انګرېز پۀ خپله کوي چې زما د همه وروستو پاتې جائیداد او معاهدو وارث د مسلم لیګ حکومت دے نو د دې وجې نه دا سوال پېدا کېږي چې ایا د دې مطلب دا شو چې د قانون لۀ مخې چونکې صرف د پلار د جائیداد د وارثت دعوي یو بنیادم کولے شي نو پۀ دا شان مسلم لیګ هم دې تسلیمولو ته غاړه ږدي او د بابا پېرنګي د پاتې جائیداد د وارثت دعوي کوي.

دا قېصه به هم دې ځاے پرېږدو. مخکښې به بیا تاریخي دستاویزاتو او رښتوني حقېقتونو پۀ رڼا کښې د دې معلومولو کوشش کوو چې د پېرنګي او مسلم لیګ شریک مخالفې ډلې د خدائي خدمتګارو سره څۀ عمل وشو او بیا پۀ دې هم غور کوو چې څنګه اوس جنګ خپلي او شکست خوړلي پېرنګي پۀ ډېرې مجبورۍ ځان د بېن الاقوامي سامراجي پالیسیو نه رابېکۀ او د دغو پالیسیو د مخکښې بوتللو د پاره او د دغو منصوبو د کامیابولو د پاره هغۀ هر څۀ اوس امریکې ته حواله کړل نو پۀ راتلونکي کتاب کښې به انشاء الله د بېن الاقوامي سیاست پۀ رڼا کښې د پاکستان د حکومت پۀ کردار، پالیسۍ ځان د پوهولو کوشش وکړو. دا ډېره د تسلۍ خبره ده چې



Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه نن د پېرنګي هغه زاړه خفیه او د راز دستاویزات مېدان ته راوتي دي نو هم دا رنګې د امریکې دغه د راز او خفیه دستاویزات هم هغوي ازاد کړي دي نو د امریکې او پاکستان په تعلقاتو د رڼا اچولو د پاره دغه ډېر اهم دي او د تاریخ او سیاست د طالب علم د پاره انتهائي ضروري ګڼل کېږي.

پای





## توضیحات

1. هندوستان:
د کتاب په لیکدود کښې ځکه (هندوستان) استعمال شوے دے چې هم دا شکل ئې اوس عام شوے دے. په لره پښتونخوا کښې (هندوستان) لیکل کېږي. اما (هندوستان) تلفظ کېږي. (انډیا)، (هند)، (بهارت) هم ورته وائي. د (هندوستان) نه مطلب (د هندیانو وطن) چې پکښې د هندوانو نه علاوه مسلمانان، سکهان، پارسیان، عیسایان او د نورو بېلا بېلو مذهبونو پېروان اوسېږي

2. انډین نېشنل کانګرس:
د ټول هندوستان د ازادي بخښونکے نهضت لار ښوونکے ګوند چې په 1885 کال په بمبئ کښې تاسیس شو او د ګاندهي جي تر لارښوونې لاندې ترې نه عوامي تحریک جوړ شو. اوس هم د هند حاکم ګوند دے.

3. وائسرا ے Viceroy:
د 1858 کال نه مخکښې په هندوستان کښې د برطانوي استعمار نمائنده د ګورنر جنرل په نوم یادېدو مګر په دغه کال د (شرق الهند شرکت) East India Company رسماً په برطانوي تاج Imperial Crown کښې مدغم شو او هندوستان ایغ په نېغه د برطانوي ملکې د تسلط لاندې راغے. ملکه د انګلستان په ډول د هندوستان ملکه هم شوله نو ځکه ګورنر جنرل ته د وائسرا ے لقب عطاء شو.

4. وزیر هند:
د انګلستان د استعماري حکومت په کابینه کښې به د هندوستان د چارو چلولو د پاره یو وزیر ؤ چې هغه به ئې Secretary of State for India وې. هندوستان کښې د برطانوي امپراطورۍ نمائنده وائسرا ے به هغهٔ ته ځوابده ؤ او هغه به برطانوي کابینې ته

5. والیان ریاست State Rulers
په مستعمره هندوستان کښې ډېرې برخې داسې وې چې پېرنګیانو هلته ایغ په نېغه استعماري اداره جوړه کړې نهٔ وه بلکې دغه برخې چې ریاستونه Princely States



Scanned by CamScanner

نومېدل. د راجه ګانو، مهاراجه ګانو يعني د واليانو د لاړې اداره کېدل او پۀ حقيقت کنبې پۀ داخلي څېنو امورو کنبې د خود مختارۍ نه علاوه د برطانيې تر تسلط لاندې وو لکه د کشمير، حيدراباد، جوناګړ، پټياله، سوات، بهوپال او داسې نور رياستونه

6. سر Sir

انګرېزي استعمارچيانو به خپل وفادار خدمتګاران نازول او پۀ دې ترڅ کنبې چې بۀ ئې چا زيات خدمتونه وکړل نو هغوي ته به ئې د سر، نواب، نواب زاده، نواب بهادر، خان بهادر، رائے بهادر وغېره لقبونه ورکول. سر د (صاحب) معنې لري.

7. سر سيد احمد خان (1817-1898)

د ډيلي د يوې فيوډالي سپين روبي کورنۍ سره ئې تعلق درلود. د کانګرس تر جوړېدو پورې د هندو، مسلمان د اتحاد عملبردار ؤ خو وروسته ئې مسلمانان برطانوي تاج ته د خدمت پۀ روحيه روزل شروع کړل. دے د علي ګړه مسلم کالج چې اصلاً د پېرنګيانو پۀ ابتکار او مرسته جوړ شو. د موسسينو څخه ؤ. نن ورته پاکستان کنبې مرتجعين د "دوه قومي نظريې" اولنے مفکر وائي.

8. دوه قومي نظريه:

د هند د ازادۍ بخښونکي تحريک د توټې کولو او پېرنګي استعمار بې اتفاقي واچوه حکومت وکړه يا (بېل ئې کړه، اېل ئې کړه) پاليسۍ ته د خدمت کولو لۀ پاره ارتجاعي نظريه وه. مبتکرينو ئې دا ادعا کوله چې ګويا هندوستان کنبې دوه قومونه (ملتونه) يعني هندوان او مسلمانان ژوند کوي چې بېخي متخاصم مذهبونه او کتلورونه لري نو څکه يوځاے نۀ شي اوسېدې.

9. د مارلې مېنتو اصلاحات، چمسفورډ اصلاحات او د 1935 کال ايکټ Morley. Minto Reforms, Montagu – Chelmsford Reforms & 1935 Act

د خارجي او داخلي عواملو تر فشار لاندې استعمار هندوستان ته پۀ بېلابېلو وختونو کنبې بېلې بېلې قانوني ضابطې. چې ورته يو ګونه ائينونه (اساسي قانونه) هم وئيلے شو، ورکړو، دغه ائينونه او ائيني طرحې پۀ حقيقت کنبې د امپرياليزم او ملي ازادي بخښونکي جنبش د جنګ شکلونه، د جنګ پرله پسې مرحلې او مېدانونه دي چې پۀ خپل ذات کنبې د جنګ بنيادي ستېنج نۀ جوړوي، مګر پۀ هندوستان کنبې د ازادۍ د روانې جګړې اشباح دي. پۀ دې ترڅ کې د 1909 کال د هندوستان د شوراګانو قانون Indian Councils Act چې "د مارلې منتو پۀ اصلاحاتو" باندې هم شهرت لري، اولنے اساسي قانون ګڼل کېدے شي. دغه قانون د لارډ مورلې (وزير هند) او لارډ منتو





(وانسراے) لۀ خوا اعلان شو. دا يو فرقه پرسته ارتجاعي ائين ؤ. دې کنبې د صوبائي قانون سازو شوراګانو او د وانسراے قانون سازو شوراګانو واک ډېر زيات محدود ؤ. دا لومړے اساسي قانون ؤ چې بې اتفاقي واچوه حکومت وکړه. فرقه وارانه سياست ته ئې رسمي شکل ورکړو او د انتخاباتو جدا ګانه طرز ئې قانوني کړے ؤ يعني مسلمانانو به مسلمانانو ته او هندوانو به هندوانو ته رائې ورکولې. اولسونه د يو هند سوچ نه منحرفول او هغوي پۀ خپلو فرقو کنبې مصروف ساتل د ټول هند واحد ملي سوچ مخنبوي کول او تحريک پۀ مذهبي کرښو لېږدول وو.

د مونتيګو چمسفورډ Montagu – Chelmsford Reforms (پۀ انګرېزي تلفظ کنبې د نامه (ل) نۀ لوستل کېږي) اصلاحات چې پۀ هند کنبې پۀ اصطلاح د "ذمه وار حکومت" جوړولو پۀ غرض پۀ 1917 کنبې د مونتيګو اعلان نامې تر نامه لاندې اعلان شول او بيا وروسته 1919 کنبې د ګورنمنټ اف انډيا ايکټ Government of India act 1919 پۀ شکل کنبې څرګند شول. دويمه ائيني طرح وه چې استعمارچيانو وړاندې کړه. د دې لۀ مخې څېنې فرعي او ضمني صوبائي اختيارات منتخبو نمائندګانو ته ورکړل شوي وو. البته د انتخاباتو طريقه هم پکښې هغه زړه پۀ زړه فرقه وارانه پۀ ځاے ساتل شوې وه. د 1935 کال ګورنمنټ اف انډيا ايکټ Government of India act 1935. ته درېم اساسي قانون وېل کېدے شي. د دې د تدوين مقصد د حکومت خودي Self Government طرح عملي کړي.

د دې ائين عملي اطلاق 1937 کنبې پۀ داسې حال کنبې وشو چې صوبائي برخه ئې عملي شوه مګر وفاقي برخه ئې ناتطبيقه پاتې شوه. دې کنبې هم د څينو ډموکراتيکو محدودونو غوښتنو نه علاوه هر څۀ د پۀ خوا پۀ شان پاتې کړل شوي وو او د انتخاباتو طرز هم زوړ جداګانه ساتل شوے ؤ. دلته بايد دا ابهام کۀ پېدا شي لۀ منځه لاړ شي برطانوي هند کنبې انتخابات هېڅ چرې عمومي او د هر بالغ شخص د رايو پۀ اساس نۀ کېدل بلکې جائيداد لرونکي مخصوصې حلقې ته اجازت ؤ چې خپل کانديدان ودروي او ووټونه ورکړي. د مثال پۀ ډول د 1919 کال پۀ اساسي قانون کنبې 2,8% خلقو ته ووټ حق حاصل ؤ. برطانوي استعمار پۀ دې توګه کوشش کولو چې د هند بهرني قشرونه د ځان پۀ خوا ورودوي او خپل اقتدار ته دوام وبخښي

10. پان اسلاميزم Pan Islamism

د نولسمې پېړۍ پۀ اخېر او د شلمې پېړۍ پۀ اوايلو کنبې مسلمانانو را پېدا شوي د

مذهبي احياء پسندۍ په نهضت ؤ چې هدف ئې د اسلام تر نامه لاندې د نړۍ ټول مسلمانان په يو پلاټ فورم راغونډول وو. اوايلو کښې د پېرنګي استعمار په ضد تماميدو، مګر بيا وروسته ئې ارتجاعي خاصيت رابرسېره شو او د امپرياليزم د لاس الهٔ وګرځېده.

11. مسلم لیګ

د مسلمانانو فيوډالانو، بيوروکراټانو او کمپراډورانو يو ارتجاعي فرقه پرست ګوند چې په 1906 کښې د پېرنګي په ابتکار جوړ شو لومړنے هدف ئې برطانوي امپراطورۍ نه په مسلمانانو کښې د وفادارۍ د احساساتو او جذباتو پيداوري کول اعلان کړو او وروسته پېرنګي هغه د کانګرس په ضد تشويق کړو او په دې ترڅ کښې ئې د جناح نه کار واخستو چې د هند د ازادۍ بخښونکي نهضت د ټوټې کېدو، د هند د وېش او د پاکستان د راپېدا کېدو باعث شو. د پاکستان د جوړېدو سره هغه د ملک تر ټولو ستر ګوند په حېث څرګند شو خو په 1948 کښې د جناح د مرګ نه پس ټوټې ټوټې او وپاشل شو.

12. مخلوط انتخابات Joint electorate:

د فرقې، ذات، مذهب، نسل، رنګ او عقيدې د امتياز او فرق نه غېر د انتخاباتو ډيموکراټيکه طريقه چې پکښې ټول اوسېدونکي، په خپله خوښه هر چا ته چې ئې زړهٔ وغواړي رائې ورکولے شي.

13. هريجن Herijan:

ذات پات (کاسټ) کښې وېشل شوې هندي ټولنه کښې تر ټولو مظلوم او خپل شوے ذات چې په اصل کښې د اچهوتو په نوم يادېدل. ګاندهي جي ورته د هريجن (خداے خوي) نوم ورکړو او په دې مشهور شول.

14. اے.ډي.سي (Aide.de.camp) A.D.C:

ياور، مصاحب داسې ياور چې د خپل امر د محافظت نه علاوه د نورو شخصي چارو او د سکرټريټ د ځېنو وظايفو د اجر، مکلفيت لري.

15. کميونل اېوارډ Communal Award

په 1932 کښې رامزي ميکډونالډ Ramsay Macdonald (برطانوي وزيراعظم) له خوا اعلان شو. د هغې نه مقصد فرقه وارانه وېش او نفرت ته لمن وهل وو. په دې کښې ئې د هندوانو نه علاوه نور ټول خلق اقليتونه اعلان کړل؛ مسلمانان، سکهان، هريجن،





وروستي پاتې طبقات، هندي عيسايان، پېرنګي، هنديان (انګلو انډينز Anglo-Indians)، اروپايان، تاجران، سرمايه داران، زميندارن، مزدوران وغيره ټول د داسې اقليتونو په حېث وپېژندل شول چې انتخاباتي حوزې ئې بېلې بېلې اعلان شوې او د جدا ګاه طرز انتخاب د لارې به هغوی فقط د خپلو خپلو فرقو کانديدانو ته ووټونه ورکول. هندو اکثريتي صوبو کښې ئې د مسلمانانو څوکۍ د هغوي د استحقاق نه پورته ور زياتې کړې او مسلمان اکثريتي صوبو کښې ئې د مسلمانانو څوکۍ د ناروا حد پورې راکمې کړې. دا قانون د ځېنو تعديلاتو نه وروسته د 1935 ايکټ برخه وګرځېده.

16. خاکسار: عجزو انکسار والا، (خاورې غونډې) د مسلمانانو يو نيمه نظامي فاشيستي رسنه تنظيم ؤ چې په 1931 کښې په پنجاب کښې د علامه عنايت الله خان مشرقي له خوا جوړ شو.

17. احرار: د عربي (حُر) کلي څخه راوتلې کلمه ده چې لغتاً د (ازاد) معني لري احرار د مسلمانانو ګوند ؤ چې په 1931 کښې په پنجاب کښې د مظهر علي خان او عطاء الله شاه بخاري له خوا تاسيس شو. د دې ګوند اکثر طرفداران زياتره د خلافت د نهضت حمايت کوونکي وو او تر ډېرو کلونو پورې د کانګرس د چپ اړخ سره ملاتړ وو.

18. ډومېنين حېثيت Dominion Status:
خپلواکه مستعمره په برطانوي پارليماني او ائيني اصطلاحاتو کښې يوه داسې مبهمه او مجهوله اصطلاح ده چې د هندو د ازادۍ په بېلا بېلو وختونو کښې ئې انګرېزانو مختلف او متضاد تاويلونه کړي دي لکه برطانوي امپراطورۍ کښې دننه د داخلي خود مختار حکومت نه واخلې تر خپلواکه هنده پورې خو په هند کښې ازادي غوښتونکو رهبرانو ترې نه (ازادي) مطلب ؤ، يعني د استراليا او کېنېډا غونډې په برطانوي دولت مشترکه British Commonwealth کښې دننه ازاد او خپلواک هند.

19. هندو مهاسبها:
په 1923 کښې تاسيس شوې د هندو احياء پسندۍ ارتجاعي فرقه پرست سازمان ؤ او له کانګرس نه په دې خوابدے ؤ چې هغه مسلمانان خوشحالوي. دغه سازمان د پېرنګي فرقه وارانه سياست د پاره مرستندوی ؤ. د دې ګوند تر ټولو بانفوذه لېډر وي



(c) ketabton.com: The Digital Library

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. سوارکار ؤ چې د هندو احیاء غوښتنې مفکر وګرځېدو

20. یونینسټ پارټي Unionist Party:

د پنجاب د صوباني اشرافیت،جاګیردارو، پېنشني بیوروکراټانو او کلیوالو مراعات یافته عناصرو ګوند چې مسلمانانو باندې سر بېره سکهانو او هندوانو پکښې هم ګډون درلود او د 1930 کال په شاوخوا کښې د فضل حسین (لاهور کښې وکیل مدافع) له خوا جوړ شو. څه موده پس ئې پېرنګي ته د دوستۍ لاس ور وغزولو او د هغه د سرپرستۍ نه برخورداره شو.

21. ساتیاګراها Satyagraha:

ستیه ګرا یعني د عدم تشدد د لارې د عمومي عدم اطاعت جنبش چې پکښې به خلقو د حکومت نه هر راز بائیکاټ کولو.

22. نوبتي څوکۍ:

په غریبانانو خلقو او ملکانانو په نوبت سره د خپل کور، کلي او پټي څوکۍ کولې او دا څوکۍ به اجباري وې.

23. محکمه Subject:

دلته ترې نه د واک او اختیار د ساحې معني اخستل کېږي لکه د دفاع، مواصلاتو، خارجه چارو، خارجي تجارت او داخلي چارو او داسې نورو ساحې.

24. سیکیولریزم Secularism:

یوه غربي اصطلاح ده. په لاطیني کښې د سیکولم Seculum لغوي معني (نړۍ) ده. په منځنیو پېړیو کښې د عیسوي کاتولیک مذهب کشیشان (پادریان) دوه ډوله وو؛ یو هغه چې د کلیسا د دود د ستور سره سم په کلیسا او خانقاګانو کښې اوسېدل. بل هغه چې د عامو خلقو غونډې ئې عام ژوند تېرولو. دغه دوهم ډول ئې د سیکیولر کشیشانو په نامه یادېدل او هغې ټولې موسسې او ادارې چې د کلیسا تر تاثیر لاندې نه وې، سیکیولر نومېدې. نن سبا چې سیاست او دولتي چارې او انتظام د مذهب څخه بېل دي، نو دې ته سیکیولریزم وائي. د سیکیولریزم د عقیدوې سره سم مذهب باید په سیاست کښې او سیاست په مذهب کښې ګوتې ونه وهي. مذهب باید د هر انسان د شخصي عقیدې پورې محدود وساتل شي.



Scanned by CamScanner

ولي خان بابا د خدائي خدمتګارانو او د نوي نسل تر منځ د يوې فکري، علمي او عملي رابطې حېثيت لرلو. هغهٔ د نوي کهول سياسي او سماجي تربيت پهٔ داسې خيرکتيا سره وکړو چې د ژوند يو نوے، پراخه او زورور شعور ئې ورکړو. رښتيا ئې ورته زده کړل او جرأت ئې ورته وښودو. دا نن چې د دومره سېلابونو او جاکړونو باوجود هم عوامي نېشنل پارټي ښکاره جاره ولاړه ده او څوک چې ئې ختمول غواړي، هغه ئې ځان پورې حېران کړي دي؛ نو دا هم دغه د ولي خان بابا د سياسي او سماجي تربيت نتيجه ده.

دا کتاب 'رښتيا رښتيا دي' د انګرېز استعمار د تاريخ احاطه کوي. دې کتاب کښې د تاريخي دستاوېزاتو او ثبوتونو پهٔ بنياد د يوې داسې سياسي فېصلې پس منظر، د هغې پهٔ شا موجود مقاصد او د هغې نتيجې او اثرات ښودلے شوي دي چې يو اځې د هندوستان، پاکستان او افغانستان اولس نهٔ بلکې ټوله اېشياء ئې يو مستقل جنګ سره مخ کړې ده.

ولي خان بابا دا سياسي عقيده لرله چې کهٔ نن هم د اقتدار فېصله اولس ته ورکړې شي، کهٔ نن هم جمهوريت ته لاره ورکړې شي، کهٔ نن هم ادارې خپل دائره کار او دائره عمل وپېژني، کهٔ نن د سنسني خېزۍ پېدا کولو پهٔ ځاے د اعتدال پېدا کولو فېصله وکړې شي، کهٔ نن هم د ګاونډي هېوادونو سره موجودې شخړې د سنجيده مذاکراتو پهٔ لاره د هوارولو کوشش وکړے شي او نن هم د خپلو معروضي حالاتو پام کښې ساتلو سره داخله او خارجه تعلقاتو د پاره پهٔ پاليسيو نظرثاني وکړې شي نو دې ټوله خطې کښې خوره شوې بې چېني به ختمه شي.

دا کتاب مونږ ته ولي خان بابا د يو مدلل، بېباک او رښتوني مؤرخ پهٔ حېثيت معارفي کوي او د پرون، نن او سبا تر منځه د تاريخي شعور واضح ساتلو د پاره دا کتاب د ولي خان بابا يو احسان دے.

مياں افتخار حسېن
جنرل سېکرټري، عوامي نېشنل پارټي

باچا خان ټرسټ رېسرچ سنټر
BAACHA KHAN TRUST RESEARCH CENTRE
Pajaggi Road, Peshawar
Ph: 091-2246851-3, Fax: 091-2246225

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**